بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

# شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

درېمیاشتینۍ خپرونه

( ټولنیز علوم )

د ۱۴۰۴ل (۱۴۴۷ ق) کال دویمه ګڼه، وږی ــ پرله‌پسې ۳۹مه ګڼه

۳۹

# شیخ زاید پوهنتون

# علمي څېړنو معاونیت

# علمي مجلې آمریت

# علمي مجلې عمومي مدیریت


**د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون**

**مسؤول مدیر: پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب**

**علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي**

**علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل**

**برېښنالیک: journals@szu.edu.af**



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع ګل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهنمل ګوهرشاه ګوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |



**پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان**

**۰۰۹۳۷۷۷۹۱۶۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانگه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۲) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لپاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه گيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمگړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرگنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري ليندیو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۵۰۰۰ - ٦۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (**Bahij Zar**) ، د دری لهپاره(**Bahij**) فونټونه، د عربي لهپاره (**Traditional Arabic**) او د انګلیسي متن لهپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (**Abstract**) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

## ټولنیز علوم


| ګڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د پښتو ادب په دویمه دوره کې د اوو تنو شاعرانو په شعر کې سېمبول | پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب | ۱ |
| ۲ | د آزادۍ د سلبېدلو پړاوونه | پوهنوال امان الله ځدراڼ | ۱۷ |
| ۳ | په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو تعارض او د هغې حل لارې | پوهنوال محمد شفیق مندوزی | ۳۵ |
| ۴ | د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو کې د غړونو د چارونو (نقشونو) څېړنه | پوهنوال میاولي شاه میاخېل | ۴۹ |
| ۵ | د قران کریم د جلا جلا نزول حکمتونه | پوهنوال سیدکمال شاه بنوري | ٦۳ |
| ٦ | د مظنون او متهم د سکوت حق | پوهنوال امان الله ځدراڼ | ۷۷ |
| ۷ | په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د احالې پیژندنه او د هغې ډولونه | پوهنوال محمد شفیق مندوزی | ۹۷ |
| ۸ | د  جرمونو نړیوالې محکمې  بي پریتوب ته یوه کتنه | پوهندوی دوکتور احمدجاوید شکیب | ۱۱۱ |
| ۹ | د کالم لیکنې مسلکي ځانګړنې | پوهندوی نقیب الله عطیش | ۱۲۱ |
| ۱۰ | په اسلامي فقه کې د امیر شرطونه | څېړندوی محمد طاهر شرر | ۱۳۳ |
| ۱۱ | د صحابیاتو د صحي خدمتونو  فقهي ارزونه | څېړندویه مرسل نسیمي | ۱۴۹ |
| ۱۲ | د انګلیسي ژبې مهارت لوړولو کې د ټولنیزو رسنیو رول | پوهنمل محمد نواب شینواری | ۱٦۱ |
| ۱۳ | په تېیو کې د قومي مرکې اصول | پوهنمل مشفق اصولي | ۱۷۵ |
| ۱۴ | د ازموینې اضطراب (اغېزې، نښې، ډولونه او دکمولو درملیزې لارې) | پوهنمل دوکتور احسان الله احسان | ۱۸۷ |
| ۱۵ | پکتیا ولایت ته داخلېدونکې وربځې، د اورښت اندازه او د هغې د لاملونو څېړنه ( ۱۹۹٦ - ۲۰۲۵ م ) | پوهنمل عصمت الله زیار<br>پوهنیار نظیرګل صدیقي<br>پوهنمل سیف الله غروال | ۲۰۳ |
| ۱٦ | په برېښنا یي بازار موندنه کې د منځګړي رول | پوهنمل شرف الدین شرف | ۲۲۹ |
| ۱۷ | د بیموي سکتور تأثیرات د افغانستان په اقتصاد باندې | پوهنمل ګل ولي محمدزی | ۲۴۵ |
| ۱۸ | د قرآن کریم لغوي اعجاز | پوهنیار مسعود قائد | ۲۵۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹ | د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو د PNPI، SIAP او Pi شاخصونو له مخې د اوربنت کچه | پوهنیار نظیرگل صدیقي | ۲٦۹ |
| ۲۰ | د کوچنیو کاروبارونو لەپاره د تجارتي پلان اهمیت | پوهنیار توریالی سنگین | ۲۸۵ |
| ۲۱ | کم مهر د اسلام له نظره | مفتي سیدالرحمن سعید | ۲۹۷ |
| ۲۲ | تفاوت میان تصوف و عرفان اسلامی با تصوف نو ظهور و کاذب | محمد فرید محمدي | ۳۰۹ |

# د پښتو ادب په دويمه دوره کې د اوو تنو شاعرانو په شعر کې سېمبول

پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب، شيخ زايد پوهنتون، ژبو او ادبياتو پوهنځی، پښتو څانګه.
**برېښناليک**: subhanullah.shahab1364@gmail.com

**لنډيز**

په دغه څېړنه کې ښودل کېږي چې سېمبول د نښې يا علامې په معنا دی، چې له ځان پرته د يوه بل څېز يا پديدې څرګندونه کوي. په ژبه، ادب او بيا په شعر کې هغه ويی (لغت) دی، چې د اصلي او ټاکلې معنا پر ځای يې يوه بله معنا راخپله کړې وي، لکه: د سپينې کوترې څخه چې د سولې معنا اخېستل کېږي، د لمر څخه د يوې موضوع روښانتيا او له زمري څخه د توريالي او تکړه معنا اخېستل کېږي، له دې څرګندونو څخه هدف دا دی، چې سېمبول داسې يوه نښه ده، چې په شعر کې د يوې ذهني مجموعې استازيتوب کوي او کله چې په يوه کلمه کې ورسره مخامخېږو؛ نو له هغه څخه د هغو معناوو درک اخلو، چې دغه کلمه يا مفهوم د هغو د نښې (سېمبول) په توګه ټاکل شوې ده. په دې توګه وينو چې سېمبول د شاعرانه انځورونو بشپړوونکی دی، چې د همدې لپاره شاعران له سېمبولونو څخه کار اخلي د دويمې دورې د څو تنو شاعرانو شعرونو ته سر ورښکاره شوی دی، چې په اشعارو کې يې سېمبولونه کارولي دي. د دغې مقالې هدف د پښتو ادب په دويمه دوره کې د سېمبول کارېدنې معلومول دي، په دې څېړنه کې د تشريحي مېتود څخه استفاده شوې ده او ډول يې کتابتوني دی، د دې څېړنې په بشپړولو کې دې نتيجې ته ورسېدو چې سېمبول د پښتو ادب په دويمه دوره کې هم شاعرانو په خپلو شعرونو کې کارولی دی.

**کليدي کلمې**: ادب، دويمه دوره، سېمبول، شاعر، شعر.

## سریزه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

سیمبول ته په عربي کې علامت، په فارسي کې نماد او په پښتو کې ورته نښه یا نښان وایي، په مجموعه کې هغه څیز یا پدیده ده، چې له ځانه پرته د یو بل څیز یا پدیدې ښکارندویي کوي، سېمبول په نړیواله کچه په شعري او نثري ادب کې ځان ثابت کړی دی.

د یادونې وړ ده چې د سېمبول معنا او مفهوم غربي او مشـرقي لیکوالانو او پوهانو د خپل وس او توان په اندازه بیان کړی دی؛ خو په دغه پوهانو کې څوک لږ او څوک ډېر بریالي شوي دي او څه په کې بیا ښېخي نه دې توانېدلی، علت یې دا دی، چې د استعارې، تشبیه، اشارې او سېمبول ترمنځ فاصله د وېښته په څېر نرۍ ده.

په پښتو شاعرۍ کې پښتانه شاعران په سېمبول کارونه کې یو څه برلاسي ښکاري او دا کار یې په ډېر ښه مهارت سره کړی دی، دوی وایي سېمبول او سېمبول جوړونه یوازې په لیدني هنرونو کې نه؛ بلکې په شعر او ادبي آثارو کې هم د پام وړ کار دی، چې بېلګې به یې په وروسته متن کې روښانه شي. په دې لیکنه کې هڅه شوې ده، چې د دویمې دورې د شاعرانو شعرونه تر مطالعې لاندې ونیسو، تر څو هغه اشعار په نښه کړو، چې د سېمبول له کارونې څخه په کې ګټه پورته شوې ده او د مقالې د لیکلو اهمیت هم په دې کې دی، چې لوستونکي او د ادب شاګردان به پر دې پوه شي، چې په پښتو اشعارو کې د سېمبول ارزښت څومره خوندور دی او سېمبول په پښتو ادب کې له پخوا زمانې څخه په شاعرۍ کې په ښه مهارت سره کارېدلی دی او د دویمې دورې شاعرانو هم په دې برخه کې خپل استعداد ازمایلی دی، د دې تولو خواوو سره په څنګ کې د دویمې دورې ځینې شاعران هم په لنډه توګه معرفي شوي دي، د دوی په اشعارو کې په کارېدلي سېمبولونو بحث شوی دی.

## موخې

۱. په شعر او شاعرۍ کې د سېمبول ارزښت
۲. په دویمه دوره کې د شاعرانو په اشعارو کې د سېمبولونو په نښه کول

## کړنلاره او کار توکي

د دې څېړنې مېتود تشـــــریحي دی او ډول یې کتابتوني دی، چې لومړی د موضوع د ښې روښانتیا په موخه د سـېمبول په هکله معلومات وړاندې شـوي او بیا د پښـتو ادب د دویمې دورې په اشـعارو کې سـېمبولونه په نښـه شوي او لنډ بحث پرې شوی دی.

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښـت په دې کې دی، د دویمې دورې په شـاعرۍ کې چې کوم سـېمبولونه کارول شـوي دي، د هغوی د استعمال ځایونه او د شاعرانو هدف او غایه ښودل شوې ده، له دې مخکې داسې کومه څېړنه په نظر نه ده راغلې، چې د علمي مقالې په شـکل وړاندې شـوې وي، کوښـښ شـوی چې لنډ مثالونه وړاندې شي او په مقاله کې د سیمبول هدف ښودل شوی دی.

### تېرو آثارو ته کتنه

سېمبول په شاعرۍ کې هغه کلمې دي، چې هر لوستونکی ترېنه د خپل فکر پر بنسټ خپل مطلب اخېستلای شي. سېمبول یوازې د یوې معنا لەپاره نه راوړل کېږي او نه کارول کېږي؛ بلکې له هغه څخه ګڼې معناوې مرادېدلی شي، ځینې وایي سېمبولېزم هغه سبک ته وایي چې هر څوک پکې یو شی ویني، سېمبولیک شعر بایـــد داسې وي، چې د عامو وګړو له پوهې څخه لرې وي، فقط یو څه اندازه د هغه په معنا پوه شي (همکار، ۱۳۹٦ ل).

د سېمبول اصطلاحي معنا د یو شي کردار، یا د یوې واقعې په مجازي توګه د خپل ځان څخه لرې د یو بل شي نمایندەګي کولو ته سېمبول وایي؛ ځکه چې د یوې کلمې مجازي مفهوم علامتي یا سېمبولي مفهوم وي، لکه: شمع د علم سېمبول دی، تله د عدل او انصاف سېمبول دی، پروانه د عشق سېمبول دی، ګنده بوټی د ملک دښمنه او اسلام دښمنه کسانو سېمبول دی.

د لغوي معنا پر خلاف په اصـــطلاحي معناوو کې ســـېمبول لویه معنا ښـــندي، چې زیات مفهوم افاده کوي، هر څوک ترې د خپلې پوهې په اندازه مطلب اخلي، که په لنډه توګه وواېو په اشـــعارو کې د ســـېمبول ښـــکلا څو چنده زیاتېږي او یوه لویه موضوع په لنډو الفاظو کې راتلی شي (صلاح الدین، ۲۰۱۹ م، ص. ۸).

له نېکه مرغه چې په دویمه ادبي دوره کې د زیاتره شاعرانو د شعر دېوانونه موږ ته په لاس راغلي دي، چې د دې دورې د شـــاعرانو د ژوند حالات، واقعات، او معلومات موږ ته د دوی د دېوانونو، پښـــتو ادب تاریخونو، پښـــتو تذکرو او د دوی اړوند چې کومې علمي مقالې لیکل شوې دي په لاس راغلي دي.

د لرغوني ادب نه وروسته چې اول د کومې دورې د شاعرانو دېوانونه په لاس راغلي دي، هغه د بایزید روښان د وخت شـــاعران دي، چې روښـــاني نهضـــت هم ورته ویلی شـــو. په دې ډله شـــاعرانو کې ارزاني، دولت لواڼی، میرزاخان انصاري، علي محمد مخلص، کریمداد او واصل روښاني نومونه د یادولو وړ دي. د دغې ډلې څخه د څو تنو شاعرانو د اشعارو نمونې د بېلګې په توګه را اخلو چې په خپله شاعرۍ کې یې سېمبول کارولی دی.

### ملا ارزاني خوېشکی

ملا ارزاني خوېشـکی د روښـاني ډلې په شـاعرانو کې اوچت شـاعر تېر شـوی دی، د پښـتو ژبې لومړی دېوان لرونکی شاعر یې ګڼلی شو، د پښتو ژبې سربېره په فارسی، عربي او هندي ژبو هم پوهېده، ارزاني خوېشکي په سړبن کې سترګې غړولې دي، د بایزید همزولی یې ګڼلی شو (بریکوټی، ۱۹۹۵ م، ص. ۱۵٦).

د ارزاني خوېشـکي په شـاعرۍ کې د بایزید روښـان د تعلیماتو تبلیغ شـوی دی، د خپل پیر تعلیمات او تصـوفي طریقه یې په خپله شاعرۍ کې خلکو ته وړاندې کړې ده.

" دا جوته ده چې د ارزاني په شاعرۍ د روښاني تصوف رنګ غالب دی، د هغه شاعري د پیر روښان د تصوفي مسلک، عقایدو او تعلیماتو ترجماني ده، ارزاني د خپل دور د پښتو شاعرۍ له ټولو نه لوی صوفي شاعر دی، د څېړنې په اساس ویلی شو چې له ده نه مخکې د بل کوم شاعر په شاعرۍ کې دومره پختګي، سادګي، رواني، مقصدیت، جامعیت او سېمبول کارونه نه دي تر سترګو شوي (افریدی، ناچاپ، ص. ۵۹).

**میرزاخان انصاري**

د روښاني دورې هغه شاعر دی چې په پښتو شعر کې د تصوف او سلوک علمبردار او د علم او تصوف کان بلل کېږي (ربښتین، ۱۳۷۷ ل، ص. ۳۹).

د میرزاخان انصاري د اشعارو زیاته برخه تصوفي ده. د پیر روښان چې کومې تصوفي طریقې او تعلیمات دي، هغه میرزاخان انصاري پخپله شاعرۍ کې په ډېر ښه انداز سره بیان کړي دي او تر څنګ یې په شاعرۍ کې سېمبولونه هم په ښه شان سره کارولي دي.

د میرزاخان انصاري شاعري د عرفاني اسرارو او رموزو نه ډکه ده، پښتو کې یې د معرفت باریکي او د اسرارو نازکي ورګډ کړي دي (حبیبي، ۱۳۲۰ ل، ص. ۷۲).

د غزل هر بیت یې له معنویاتو څخه ډک دی، دا لاندې بیت یې ښه بېلګه ده:

د میرزا کلام رموز دی ــ او معنا یې په څو بابه

(حبیبي، ۱۳۲۰ ل، ص. ٦۲)

په دې هکله عبدالحی حبیبي وایي: "دی ټول د وحدت په سر کې لګیا شوی دی، او د دنیا ټولو موجوداتو ته د عدم په سترګه ګوري د ده په کلام کې د تصوف او د سلوک مشکل مسایل په داسې انداز پراته دي، چې د ډېرو خلکو له فهمه هم پورته دي (حبیبي، ۱۳۲۰ ل، ص. ٦۲).

**خوشحال خان خټک**

خوشحال خان خټک پښتو ژبې او ادب ته ډېر خدمت کړی دی، دی څو بعدي شخصیت دی، د ژوند په هره خوا یې قلم پورته کړی دی، په اشعارو کې یې سېمبول په ښه مهارت سره کارولی دی، د خپلو خلکو تر څنګ په بهرنیو کې هم د ښه شهرت څښتن و، چې ده ته د یورپ خلکو د ملي قومي لوی شاعر خطاب کړی دی (ربښتین، ۱۳۷۷ ل، ص. ۴۷).

خوشحال خان خټک په حقیقي معنا د پښتو شاعرۍ ستوری دی، د خوشحال خان خټک څخه، نه مخکې او نه وروسته دومره لوی شاعر پښتو کې پیدا شوی دی (رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۱۱۵).

**رحما ن بابا**

د کلاسیکې دورې په شاعرانو کې یو ستر نوم د رحمان بابا دی، رحمان بابا په قوم سړبنی، په سړبن کې غوریاخېل او په غوریا خېلو کې مومند دی، مېجر راورټي یې کلی هزار خوانۍ او پادري هیوز یې بیا د بهادر کلي بولي (خټک، ۲۰۰۳ م، ص. ۱۴).

راج ولي شاه خټک وایي: "د پټې خزانې د مؤلف په مطابق د رحمان بابا د زیږېدنې او مړینې نېټه (۱۱۲۸ـ۱۱۱۸ـ۱۰۲۲) هجري کلونه دي، دوست محمد کامل مومند یې د زیږېدو نېټه ( ۱۰٦۳ هـ ق) اټکل کړې ده، د عقاب خټک نتیجه (۱۰۷۵ ـ ۱۱۲۴ هـ ق) کلونه راوځي (خټک، ۲۰۰۳ م، ص. ۱۵).

"د زېږدېنې پــــه باب يې له ټولو وروستي تحقيق د قلندر مومند دی، هغه د رحمان بابا زېږېدنې او مړينې نېټه (۱۰۸۱ ـ ۱۱۶۳ هـ ق) ګڼي" (خټک، ۲۰۰۳ م، ص. ۱۵).
په اشعارو کې يې هم سېمبولونه په وضاحت سره راوړي دي، چې ډېر پېچلتيا نه غواړي.

**حميد مومند**

حميد مومند د پښتو د کلاسيکې دورې نازک خياله شاعر دی. خوشحال خان خټک او رحمان بابا نه ورسته په ښو شاعرانو کې ولاړ دی، چې ځانته لار لري، مېجر راورټي ورته د پښتو سعدي وايي (خټک، ۱۹۹۱ م)
د پښتو د شعر کره کتونکي ورته د فارسي سبک ته د نږدېوالي له امله د پښتو بېدل وايي او د خپل عصر شاعرانو ورته د نازکخيالی او باريک‌بينی په وجه موشګاف ويلی دی، د ده شاعري د صنايعو، بدايعو او نورو ګڼو ادبي تلازماتو، لکه تشبيهاتو او استعاراتو او سېمبولونو په لحاظ ډېر لوی مقام لري (حبيبي، ۱۳۲۰ ل، ص. ۱۲۳).

**کاظم خان شيدا**

کاظم خان شيد د پښتو کلاسيک ادب نازک خياله او بارکبين شاعر دی. له هندي سبک نه ډېر متاثره دی او په ټولو رموزو يې پوه او اګاه دی، له حميد مومند نه په عمر کې کشر دی؛ خو د هغه د نازکخياله سبک پيروي يې کړې ده، د شکل او منځپانګې له مخې يې پښتو شاعرۍ ته نوی روح ورکړی دی؛ خو له بده مرغه د کاظم خان شيدا چې کوم ادبي مقام دی تر اوسه شاعرانو په هغه صف کې نه دی ودرولی (خټک، ۱۹۹۱ م، ص. ۱۹۹).
د وخت په تېرېدو سره به د کاظم خان شيدا د شعر او شاعرۍ ارزښت لا زيات شي، د زېږېدنې کال يې د زياتو څېړونکو د څېړنو پر اساس (۱۱۳۵ ــ ۱۱۴۰ هــ ق) شاو خوا ياد شوی دی، تر (۱۱۹۶ هــ ق) پورې ژوندی و، د هند په رامپور کې وفات شوی دی (رښتين، ۱۳۷۷ ل، ص. ۸۸).
اقبال نسيم خټک د حمزه بابا په حواله دکاظم خان شيدا پېژندګلي داسې کوي :
" کاظم خان شــيدا د توريالي (خوشــحال خان کړوســی، د اشرف خان لمســی او د افضــل خټک زوی و، افضل‌خان د تاريخ مرصع مؤلف دی (خټک، ۱۹۹۱ م، ص. ۲۰۴).

**علي خان**

علي خان هم د همدې دورې ښه شاعر او د نازکخيالی ځلانده ستوری دی، د حميد مومند پيروي يې کړې ده او د هندي ســبک د شــاعرانو په قطار کې ولاړ دی، د ژوند حالات يې اوس هم په تياره کې پراته دي؛ ځينو څېړونکو د اټکل له مخې د ده د زېږېدنې کال (۱۱۵۰ هــــ ق) ښــودل دی او د هغه د يو تاريخي بيت نه دا څرګندېږي چې د (۱۱۸۰ هـ ق) پورې ژوندی و. د ده له دېوان څخه معلومېږي چې پوره نوم يې علي احمدخان و، د تنګي چارسدې سره نږدې د جيندي سيند په غاړه په يو کلي کې زېږېدلی دی (خليل، ۲۰۲۱ م، ص. ۱۵۰)

**پایله**

د دې مقالې په لیکلو سره به د ادب مینوال وپوهېږي چې سېمبول په شاعرۍ کې څومره زیات ارزښت لري او په دې به هم وپوهېږي چې سېمبول د دویمې دورې شاعرانو په خپلو شعرونو کې کارولی دی، یعنې مخینه یې ډېره پخوانۍ ده، د د دویمې دورې د ځینو شاعرانو شعرونه لوستل شوي او بیا په هغې کې هغه شاعران انتخاب شوي دي، چې په شاعرۍ کې یې د سېمبول څرک تر سترګو کېږي، بیا همغه شعرونه په نښه شوي او په مقاله کې ځای پر ځای شوي دي، په هره بېلګه کې کې د استعمال ځای، هدف، تاریخي پسمنظر او وضاحت ورکړل شوی دی، چې په لاندې توګه پرې بحث کوو:

**د ارزاني خوېشکي** په اشعارو کې د سېمبول څو نمونې د بېلګې په توګه راوړو، چې د ارزاني د شاعرۍ مقام او ارزښت ترې په ډاګه کېږي، د خپل پیر بایزید روښان د نظر په تایید کې وایي :

چې یې ګانده یې په طمع
ده څخه اب حیات دی
هم دی جام لري له جمه
د ده دل لوح محفوظ دی
خوله یې نون دی له قلمه
که د ده په امر چار کړي
ستا کجي به کړه دی سمه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ م، ص. ۳۱۳)

د ارزاني خوېشکي په دغه بیتونو کې "اب حیات" د ټول عمر ژوندي پاتې کېدو سېمبول دی. " جام له جمه " د ټولې دنیا څخه د معلوماتو لرو لهپاره سـېمبول کارېدلی دی. "لوح محفوظ" د راز او نیاز یعنې د خیر او شر ښکاره کولو لهپاره سېمبول استعمال شوی دی.

د فقیر پښتو خبره
لکه سپینه ملغلره
ارزاني افغان وکښلې
د خپل زړه له تصوره

دلته ملا ارزاني په خپل شعر کې د « فقیر » لفظ د سېمبول په توګه راوړی دی، چې له فقیر نه یې هدف د هغه عارف حال بیانول دي، چې خپل اضافي وجود یې فنا کړی وي او له خواهشاتو نه ازاد وي.
ملا ارزاني په خپله شاعرۍ کې د تصوفي افکارو نه علاوه هم ښکلي سېمبولونه کارولي دي، لکه چې وایي:

د خپل عقل پر میزان کې
دا غزل یې دی تللی

کـل چـیـده چـیـده گـلـونـه
پـه پښـــتـو هـار یـې پـیـلـی
(خلیل، ۲۰۰۸ م، ص. ۳۲)

ارزاني په پورته بیت کې " د عقل میزان" د پوهې هنر لەپاره کارولی دی.
په دویم بیت کې یې "گلونه " په پښـتو ژبه کې د خبرو لەپاره د سـېمبول راوړی دی، یعنې په پښـتو کې خبرې کول د گلونو سره تعبیروي.
د میرزان خان انصاري په اشعارو کې د سېمبول کارېدنه گورو:

د خلیل کعبه به ووینې په کور کې — که په زړه د جم و جام ورته وخېژې
(خلیل، ۱۹۵۹ م، ص. ۵۲)

په دې بیت کې ((جام وجم)) د سېمبول په شکل راوړل شوي دي. د جام وجم نه یې هدف دا دی، چې په هغې کې هر څه ښکاري، دغه رنگ شاعر وایي که د یو صوفي زړه سپین او صفا شي د دغې جام په څېر به په خپل زړه کې د خدای د کور ننداره کوي.

سر په سر جامه هاله و بله ورشي — چې زیاتی کمی یې وسکني خیاط
(خلیل، ۱۹۵۹ م، ص. ۲۵)

په دې بیت کې "جامه " د مریدی لەپاره سـېمبول راوړل شـوی دی. په مقابل کې یې "خیاط" د پېراو مرشـد په توگه سېمبول کارول شوی دی.

زه څـرگـنـد د مـحـبـت پـه ښــه بـنـیـاد یـم
لـه نـېسـتـی هـم پـه دا هسـتـی ابـاد یـم
پــه ازل مــې دا اقــرار پــه ژبــه اووې
تــر ابــده وفــادار پــه خــپـل مـعـیـاد یـم
امـانـت چـې اســمان زمـکـې وړی نـه شـو
اوس یـې شــه پـه دا عـا جز صــورت عـماد یـم
پـه اخـتـیـار مـې هسـې ظـلـم پـه ځـان وکـړو
لـه دې قصــده د جـهـول پـه نـامـه یـاد یـم
کـه د جـهـل بـار مـې لـرې شي لـه ســترگـو
بــې گــومــانــه د صـــفـــي ادم اولاد یـــم
(انصاري، ۱۳۵۴ ل، ص. ۸۹)

عبدالغفور لېوال د میرزا خان انصاري د غزل سېمبولیک مفهوم په دې توگه بیانوي:
((انصاري د څو سېمبولونو په مرسته ټوله کیسه تمثیلوي. دا له الله ج سره د بنده (انسان) د عشق او مینې صفت و، چې د هستۍ باعث شـو. الله ج انسـان د دې لەپاره هسـت کړ، چې خپل خالق یکتا وپېژني او عبادت یې وکړي او له نېستۍ څخه یې هستۍ ته راتلل، انسان په ازل کې له خپل رب سره تعهد کوي چې د خپل ژوند تر

پایه بـــه د ده بندګي کوي او د لوی خدای ج حکمت، د هغه کلام او احکام چې پر ځمکه، اسـمان، غرونو او دښتو کې یې د ساتلو او زغملو وس نه درلوده، انسان (د حضــــرت ادم ع اولادې) د هغه د منلو ژمنه وکړه او دا ژمنه یې په خپل اختیار وکړه، ګواکې نه پوهېده چې دومره ســتر مســؤولیت په غاړه اخلي، دلته د جبر او اختیار پېچلي فلسفې ته اشاره کوي)) (لېوال، ۱۳۹۵ ل، ص. ۸۹)
میرزاخان انصاري وایي چې د حضرت ادم ع اولاد کله ځان دومره ناپوه وښئ، چې خپل ازلي عهد او پیمان هېر کړي؛ هغه عهد، چې په خپله خوښه یې کړی او د خدای ج د بندګۍ لوی مسؤولیت یې په خپل ځان منلی دی، (زه) د ټول بشـــــریت سـېمبول دی، دلته هدف د (زه) څخه یوازې میرزاخان انصـاري نه دی؛ بلکې له ادم ع څخه تر دې دمه له ټول بشـریت استازیتوب کوي، دا داسې غړ دی، چې په سېمبولیکه بڼه د میرزاخان انصاري په شعر کې ځان څرګندوي (لیوال، ۱۳۹۵ ل، ص. ۹۰)
د پښتو ادب د دویمې د کلاسیکې دورې په شاعرانو کې د خوشحال او د هغه له کورنۍ نه علاوه، رحمان بابا، حمید مومند، کاظم خان شیدا، علي خان او کامګار خان خټک نومونه د شاعرۍ په اول صـف کې راځي. چې د دوی په شاعرۍ کې بېلابېل ادبي صنعتونه پیدا کېږي؛ په دې هکله عبدالغفور لېوال وایي:
"په کلاسـیکي شـاعرۍ کې خوشـحال خټک، حمید مومند او کاظم خان شـیدا هغه شـاعران دي چې کلاسـیک سېمبولستان یې بللی شو (لیوال،۱۳۹۵ ل، ص. ۷۷).
د خوشحال په شاعرۍ کې د سېمبول کارېدنه د ستاینې وړ ده، نمونې یې دلته ګورو:

د بلبلې قدر هم زده کړه اې ګله ــ که هر څو یې په دا خپل حسن زیبا
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۱۵)

خوشـحال په دې بیت کې "بلبل" د مبین او "ګل" د محبوب لپاره د سـېمبول په توګه کارولی دی، دی وایي که ته هر څومره ښکلی یې، د خپل مبین قدر وکړه ځکه چې ته د هغه په سترګو ښکلی یې، بل ځای وایي:

د اسمان له عاشقانو سره قصد دی ــ هر زمان یې په هجران سره غمناک که
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۱۵)

په دې بیت کې "اسـمان" څخه هدف د الله پاک ذات دی، په سـېمبولیک انداز یې په‌کې د الله تعالی ذات ته اشاره کړې ده؛ همدارنګه وایي:

ما د مزکې په مخ ولیدو مهتاب ــ چې خجل ترې دا مهتاب دی هم افتاب
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۳۶)

د دې بیت په لومړي نیم‌بیتي کې "مهتاب" نه هدف ښــکلی یار، جانان او معشــوقه ده، چې بره په اســمان کې افتاب او مهتاب ورته په مخکې خاورې خځلې دي.

چې مثال یې د جمال راته ښکاره کړ ــ بیا به ما باندې پتنګ کا هغه یار
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۷۷)

په پورته بیت کې د "مشال" نه د حسن جلوه مراد ده، "مشال " د محبوب د حسن او " پتنگ" د عاشق او مین لهپاره سېمبول راوړل شوی دی. شاعر وایي که د جمال رڼا دې زما پر سترگو ولگېده، زه به د پتنگ په څېر درپسې گرځم.

دا لا څه په هندوستان توره تیاره ده
په هر ځای د ده د خویه اه دی
لکه مخ د پاسه تور سیاه لیده شي
اندرون یې هغه هسې تور سیاه دی
که و نیت و ته یې گورې یو یزید دی
که طاعت و ته یې گورې اهل الله دی
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ٦۹٥)

د لومړي بیت په لومړي نیمبیتي کې "توره تیاره " د سېمبول په توگه د جبر، ظلم او زیاتي په معنا کې استعمال شوې ده، په دویم نیمبیتې کې "اه" د بې وسۍ او مظلومۍ په معنا کې د سېمبول په توگه راغلې ده.
د دویم بیت په دویم نیمبیتي کې "تور سیاه" د ظالم د علامت په توگه راوړل شوی دی "تور سیاه " د ظالم، ناترسه او د بې احساسه سېمبول په توگه راوړل شوی دی.
په دریم بیت کې "یزید" د سېمبول په توگه استعمال شوی دی، "یزید " دلته د ظالم په سېمبولي معنا سره راوړل شوی دی، همدارنگه وایي:

ښه فرزند د پلار په خونه چراغ بل شي — بد فرزند د پلار په خونه کې تورتم دی
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ٦٥۷)

په دې بیت کې " چراغ" د خوش بختۍ او خوشحالۍ او " تورتم " د غم او خفگان سېمبول دی، په یو بل بیت کې وایي:

یا د لیچو زور پکار دی یا د زرو — خوار هغه شو چې په دواړو دی کمزوری
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ٦٥۲)

په دې بیت کې د "لېچو"نه هدف قوي او زور سړی دی، مطلب دا چې په دې دونیا بایـد سړی باید په متو زورور وي او یا دولتمند وي، که په دې دواړو کې ورسره یو هم نه و؛ نو په دنیا خوار او زار دی، دلته (زور) نه هدف مال او دولت دی، چې په شعر کېي یې د سېمبول په توگه کارولی دی.
خوشحال خان ختک په خېبر کې د مغلو د شکست په اړه د خپلې" قصیدې په اخري بیت کې وایي:

مستجاب مهمند که چرګه د مغل ده ــ زه خوشحال خټک خو باز يم ځای مې غر
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۴۰)

په دې بيت کې " چرګه " د کمزوري، ډارن او بزدله سـړي لهپاره د سـېمبول په توګه کارولی شـوی دی، د دې برعکس بيا " باز" د زړور، جنګيالي او ننګيالي لهپاره د سېمبول په توګه راوړلی شوی دی.

که په نورو توره شپه ده ــ په خوشحال يې سپين سبا کړ
(رسا، ۲۰۰۹ م، ص. ۳۹۱)

په دې بيت کې شـاعر " توره شـپه" د غم او خفګان لهپاره د سـېمبول په معنا کې اسـتعمال کړی دی او "سـپين سبا" يې د خوشحالی لهپاره د سېمبول په توګه راوړی دی.

رحمان بابا يو لوی صوفي شاعر دی، د ده اشعار ساده، عامفهمه دي، ټولو لوستونکو او اورېدونکو ته د منلو وړ دی، شـاعري يې له وعظ، نصـيحت، عشـق او مينې څخه ډک دي، د رحمان بابا په شـاعرۍ کې هم ډېره برخه سېمبولي ده، لکه چې وايي:

څو د عشق په ميخانه يې داخل نه کړم ــ پخته نه دی دغه عقل خام زما
(کامل، چاپ کال نه لري، ص. ۴۷)

په صوفيانه شاعرۍ کې ميخانه د مرشد او خانقاه لهپاره تصور کېږي، ځکه چې د عرفان شراب او عشقي شراب د دغه ځای نه پيدا کېږي، رحمان بابا هم په خپل شـعر کې "مېخانه " د پير او مرشـد د خانقاه لهپاره سـېمبول کارولی دی او وايي چې څو زه خپل عقل د پير او مرشد په مرسته پوخ نه کړم تر هغې به زما عقل خام وي، بل ځای وايي:

پس له دې به دې په نام د فرښتو بولم ــ هم په دا چې نشته دا رنګه بشـر
(کامل، چاپ کال نه لري، ص. ۸۷)

رحمان بابا په دې بيت کې " فرښته " د سېمبول په توګه کارولې ده، " فرښتې "نه نېک انسان، انتهايي نرم مزاجه، دردېدلی، بې ازاره، عبادت کوونکی، رېښتينی او امانت ساتونکی انسان هدف دی، په دويم نيمبيتي کې "بشـر" د پېغمبر (ص) سېمبول استعمال شوی دی.

ساقي! جام و باده راوړه چې بې خود شم ــ خدای څوک مه کړه په خوديه کې محبوس
(کامل، چاپ کال نه لري، ص. ۱۵۵)

متصوف شـاعران حقيقي عشـق د شرابو سره تشبه کوي، ځکه چې په عشـق کې هم سرور او هم کيف، رحمان بابا " سـاقي " د پير او مرشـد لهپاره د سـېمبول په توګه کارولی دی " جام" او " باده "يې د مرشـد د پوهولو لهپاره سېمبولونه استعمال کړي دي.

هيڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي ــ چې چراغ په نظر کېښوځي پتنګ
(کامل، چاپ کال نه لري، ص. ۱۲۲)

په دې بیت کې "چراغ" د عاشـق، یا د عاشـق د حسـن او "پتنگ" د مېین او عاشـق لهپاره د سـېمبول په معنا استعمال کړي دي. په يو بل بيت کې وايي:

که مې ونمانځي ساقي په يوه جام ــ تر دا پورته به نور څه وي احترام
(کامل، چاپ کال نه لري، ص. ۱۳۱)

رحمان بابا په دې بیت کې "ساقي" د الله پاک د ذات لهپاره د سېمبول په توگه کارولی دی. "جام" د کائنات هغه ذره ده چې د هغې څخه د معرفت شراب څښــل کېږي او عارف بې خوده کوي، "جام" د معرفت لهپاره سېمبول کارول شوی دی، همدارنگه وايي:

ما رستم د دهر وليده په سترگو ــ د خپل يار له جوره ژاړي لکه کونډه
رحمان، ۱۳۸۴ ل، ص. ۲۷۳)

په دې بیت کې "رسـتم" د ایران رسـتم پهلوان ته اشـاره ده، چې مطلب يې لوی پهلوان، طاقتور انسـان دی، چې شاعر په خپل شعر کې د سېمبولېه توگه راوړی دی.
حمید مومند د نازکخیالۍ، تشبیهاتو، استعاراتو او سېمبولیکو اشعارو له امله په ادبي دنیا کې ډېر شهرت لري. د نمونې په توگه يې څو داسې بيتونه را اخلو چې سېمبول يې پکې کارولی وي، لکه:

له خونخوارو سترگو څه شفقت غواړې ــ مقرر چې وي په زړه اهل قصاب سخت
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ۹۷)

په دې بیت کې حمید مومند "خونخوارې سـترگې" د سـېمبول په توگه راوړي دي، دلته هدف ترې بې رحمه عاشق دی، "قصاب" د ظالم او بې ترسه عاشق لهپاره د سېمبول په توگه کارول شوی دی.

ښکلي نه درنوي غوږ په نورو درو ــ چې په غوږ کاندي حميده ستا ياقوت
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ٦۲)

په دې بیت کې "درو" د قیمتي خبرو لهپــــاره سـېمبول دی، چې د دې په مقابل کې یقوت هم ډېر قیمتي گڼل شـوی دی، شـاعر هم خپلو خبرو ته د سېمبول په انداز يقوت وايي. يعني خپلې خبرې قېمتي گڼي. يوه بل بيت کې وايي:

زه يې خر د ډېرانه گڼم په حال کې ــ دا چې ناست دی بې پروا په تخت دراج
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ٦۸)

په دې بیت کې "خر د ډېرانه" يې د بادشاه لهپاره کارولی دی، "خر" د کم عقل، نالايقه او بېپروا انسان لهپاره د سېمبول په توگه راوړل شوی دی، چې د شعر ښکلا يې پرې په سېمبوليکه توگه زياته کړې ده.

د ژونـدون د نـفـس بـاد دی چې پـرېـباسي
د مـقصـــود پـه ايـيـنـه غـبـار د روح

کـه سـم سـم نور پـه رکـاب کې د یـار تلی
چې مې تللی دی پـه پښـتو کې خـار د روح
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ۷۱)

په لومړي بیت کې "د نفس باد "د خواهشاتو لهپاره "د مقصود ایینه "د صفا زړه او "غبار" د گناهونو لهپاره د سېمبول په توگه راغلي دي. ځکه چې د دنیا خواهشات یا نفسـي خواهشات که موږ وگورو بې گناه او صفا زړه د گناهونو په لاره بیایي، په دوېم بیت کې "خـــار د روح" د زور، طاقت لهپاره د سېمبول په توگه راوړل شوی دی.

که منډي درسره څوک په هر طعام کې — د نفس سپی دې مردار خوره نه کا چخ
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ۷٦)

په دې بیت کې "د نفس سپی " نه هـــدف د وږي خوی والا دی، چې حلاله او مرداره نه گوري، خو چې څه ورته پیدا کېږي هغه خوري، دا مشهوره اصطلاح ده چې د مردار خور سړي خوی ډېر وږی وي. "د نفس" سپی په یادو معناوو کې د سېمبول توگه راوړل شوی دی. په یو بل بیت کې وایي:

خدای دې خط د یار له مخه لرې لېرې — په اسلام باندې برمه شه لاس د کفر
(مومند، ۱۹۸۳ م، ص. ۹۹)

حمید بابا پـــه دې بیت کې "اسـلام "د یار د مخ او د دې برعکس یې "کفر" د خط یا وېښـتو لهپاره سـېمبول کارولی دی.

کاظم خان شیدا د پښتو شاعرۍ د غزل بڼ بلبل و، د تشبیهاتو، نادرو استعارو او سېمبولونو استعمال یې په دومره فنکارۍ او مهارت سره کړی چې سـړی ورته په سـوچ او فکر کې لاړ شي، د ده شـاعرۍ څو بیتونه د نمونې په توگه را اخلو چې سېمبول یې پهکې کارولی دی:

چې کبـاب یې پـه گرمۍ زمـا ځیگر شي
د لالـه غونـدې پـه جام می جوشـــان را
مـا شــیدا کړه د یثرب لـه جارو کښـــو
و تدفین و ته مې خـــاک د پاک استان را
(خلیل، چاپ کال نه لري، ص. ٦۲)

په لومړي بیت کې شیدا خپل محبوب ته مخاطب دی، ورته وایي چې د "لاله" په شان "جام می (سرې شونډې راکړه) "لاله "د سره رنگ سېمبول دی او "جام می "د شونډو سېمبول دی، چې ځیگر زما کباب شي، "کباب "د وریت یا سوي سېمبول دی، په درېیم بیت کې "یثرب "د حضـــرت محمد ص د روضې لهپاره د سېمبول په

توگه راوړل شــوی دی، " خاک د پاک اســتان " نه هدف د مدینې منورې خاوره یا ځمکه ده چې شــاعر یې د خپل تدفین لهپاره ارماني دی.

تار په تار چې په ســپین مخ مشــکین گېســو کا
رانـه یـار د چـار چـمـن گـل شـــب بـو کـا
اراســـته جمال یې درســـت د چین تصـــویر شي
تـورې زلـفې یـې چې هـم د مشـــکین مـو کـه
زه بـلـبـل د هـغـه بـاغ یـم بـاور وکـړه
چې نرگس یې هـــــم چشــمې د شــوخ اهو کـا
(خلیل، چاپ کال نه لري، ص. ۳۵)

لومړي بیت کې " چارچمن گل " د پوره مخ او پوره څهرې " شــب " تورو زلفو "بو" د زلفو د خوشــبویي لهپاره سېمبولونه کارول شوي دي.
دویم بیت کې د " چین تصویر " د ختن د غزالو د نافې نه وتلي مشکو ته د سېمبول اشاره ده. شاعر یې په جمال او ځوړندې زلفې د ختن د غزالو سره تعبیروي.
دریم بیت کې "بلبل" د مین په معنا، "باغ" د یار د مخ او " شـوخ اهو" د لکۍ دار وریځو لهپاره سـېمبول راوړل شوي دي.
علی خان یو روماني شاعر دی، زیاتره اشعار یې د حسن او عشق په خوږو لړلي دي، د عشقي اشعارو تر څنگ یې اخلاقي شاعري هم کړې ده.
علي خان په خپله شاعرۍ کې د استعارو، تشبیهاتو او نورو شعري تلازماتو سربېره سېمبولونه هم کارولي دي، د ده شاعري د سېمبولونو یوه لویه ذخیره ده، چې د نمونې په توگه یې څو بیتونه را اخلو:

رقیب ستا په کوڅه تېر شو عجب کار دی — چې خناس په دغه لاره د جنت لاړ
(حسرت، ۲۰۱۵ م، ص. ۴۱۶)

علي خان په دې بیت کې " خناس " د رقیب لهپاره د سېمبول په توگه راوړی دی، د " جنت لار" یې د عاشــق د کوڅې لهپاره د ســېمبول په توگه کارولی دی، په عامه معنا د عاشــق کوڅه د جنت سره تعبیروي، په بل بیت کې وایي:

عالم ورک کړه د دلدار ول ول کاکلو — دا گوار گوار مهم له دې اسلام لاړ
(حسرت، ۲۰۱۵ م، ۴۳۱)

په دې بیت کې علي خان د محبوب « ول ول زلفې » د کفر سره تشــبیه کوي او د یار شــکلی مخ په ســېمبولیکه بڼه د " اسلام " سره تشبه بل ځای وایي :

د طبیب په در کې پرېوځه علي خانه — گوندې وي چې تریاق درکاندي خالص
(حسرت، ۲۰۱۵ م، ص. ۴۳۲)

په دې بیت کې د شاعر هدف له "طبیب" څخه خپل یار دی. شاعر ځان مخاطب کوي هغه وایي که د یار سره میلاوېدل غواړې؛ نو د یار په کوڅه کې پرېوځه، تر څو یې د محبوب په کوڅه کې پیدا کړې، چې په ډېر مهارت یې سېمبول کارولی دی.

سور کافر هم په مومن دا هسې نه کا ـــ لکه ما دي ناکردۍ وړي د خط
(حسرت، ۲۰۱۵ م، ص. ۱۳۲)

په دې بیت کې هم " خط " د تور کافر په سېمبولیکه معنا کې برېښي، "خط " په مخ د تازه بریرې راتلل د سېمبول په توګه کارېدلی دی.

دا علمي مقاله به د ادبیاتو شاګردانو، استادانو او عامو لوستونکو ته یو فکر ورکړي، چې په شاعرۍ کې د سېمبول کارول یو ارزښتمن کار دی او له دې سره په څنګ کې به د دې مقالې په لوستلو سره د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلان او عام لوستونکي سېمبول وپېژني او د دویمې ادبي دورې د شاعرانو د شعرونو په دې برخه کې به هم پوهاوی تر لاسه کړي.

**وړاندیزونه**

۱. د دویمې ادبي دورې د شاعرانو په اشعارو کې په فکري لحاظ ډېرې داسې خواوې شته، چې سپړنې او شننې ته یې اړتیا لیدل کېږي، نو وړاندیز مې دا دی چې ادبپوهان او شعر پوهان یې سپړلو ته توجه وکړي.
۲. د پښتو څانګې استادان دې محصلانو ته د دویمې ادبي دورې د شاعرانو په پېژندنه او د دوی د اشعارو په بېلابېلو اړخونو کورنۍ دندې ورکړي، تر څو هغه خواوې چې سپړل شوې نه دي، وسپړل شي.
۳. دا چې په پښتو ادب کې د سېمبول په برخه کې دومره زیات کار نه دی شوی، د پښتو څانګې استادان دې کنفرانسونه، علمي مقالې او د ترفیع لهپاره پرې کار وکړي.

# The Use of Symbols by Several Poets in The Second Era of Pashto Literature

Associate professors Dr. Subhanullah Shahab, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department.
Email: subhanullah.shahab1364@gmail.com

Abstract

A symbol is a mark or sign that represents something else, conveying the meaning of another object, concept, or phenomenon beyond itself. In language, literature, and especially poetry, it is a word that, instead of conveying its original and literal meaning, adopts another meaning. For example, the white dove symbolizes peace. The sun symbolizes clarity on a subject, while the lion represents bravery and strength. The purpose of these explanations is to clarify that a symbol is a sign that represents a conceptual idea in poetry. When we encounter it within a word, we interpret it based on the meanings that the word or concept has been designated to symbolize. In this way, we see that the symbol completes poetic imagery, which is why poets use symbols. For this reason, poets have utilized symbols, as observed in the poetry of several poets from the second era. They incorporated symbols into their poems. The purpose of this article is to identify the use of symbols in the second era of Pashto literature. This research employs a descriptive method and is bibliographic in nature. Upon completing this study, it was concluded that symbols were indeed utilized by poets in the second era of Pashto literature within their poetry.

**Keywords:** Literature, Second Era, Symbol, Poet, poem

**مأخذونه**

افریدی، محمد ایاز. (ناچاپ). د امیر حمزه خان شینواري علامتي شاعري.

بریکوټي، شېر افضل. (۱۹۹۵ م). د پښتو شعر و ادب تاریخ.

حبیبي، عبدالحی. (۱۳۲۰ ل).پښتانه شعراء. کابل: علومو اکاډمي.

حسـرت، محمد زبېر. (۲۰۱۵ م). د علي خان، ژوند او فکر. چارصده: پښتونخوا مطالعاتي مرکز.

خټک، اقبال نسیم. (۱۹۹۱ م). د رنګ اوبو قافله. پېښور: اداره علمو ادب پاکستان صوبه سرحد.

خټک، راج ولي شاه. (۲۰۰۳ م). د رحمان بابا په شعر. پېښور: پښتو اکېډیمي.

خلیل، همېش. (چاپ کال نه لري). د کاظم خان شیدا دېوان. پېښوربی د پښتو ادبي مرکز.

خلیل، حنیف. (۲۰۲۱ م). پشتو زبان و ادب کی تاریخ. پېښور: ادب ستي ټاور کابلی بازار.

خوېشکی، پروېز. (۲۰۰۵ م). د ارزاني خوېشکي کلیات. پېښور: جدون پرنټنګ پرېس.

رحمان بابا. (۱۳۸۴ ل). د رحمان بابا دېوان. سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

رسا، سېد رسول. (۲۰۰۹ م). ارمغان خوشحال. پېښور: یونیورستي بک ایجنسي.

رښتین، صدیق الله. (۱۳۷۷ ل). د پښتو ادب تاریخ. (دویم چاپ)

صلاح الدین (۲۰۱۹ م). پښتو جدید غزل کې علامت نګاري. پېښور: پېښور یونیورسټي.

کامل مومند، دوست محمد خان. (چاپ کال نه لري). د رحمان بابا کلیات. پېښور: پرنټرز.

لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹۵ ل). شعري سېمبولونه. کابل: صدف مطبعه.

مومند، عبدالحمید. (۱۹۸۳ م). د عبدالحمید مومند دیوان. کابل: علومو اکیډیمي.

همکار، محمدابراهیم. (۱۳۹٦هـ ش). بیان پوهنه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

همېش، خلیل. (۲۰۰۸ م). پښتو شعري ادب. پېښور: پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

# د آزادۍ د سلبېدلو پړاوونه

پوهنوال امان الله ځدراڼ، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو څانګه.
برېښنالیک: amanullah.zadran@gmail.com

**لنډیز**

په دې موضوع کې د آزادۍ د سلبېدلو پر پړاوونو او د آزادۍ د سلب پر ځایونو باندې بحث شوی دی. شخصي آزادي یو مطلق او پرته له قیدو او شرطه حق نه دی، د نړۍ په ډېرى هېوادونو په تېره بیا افغانستان کې آزادي د جزایي اجراأتو په پړاوونو کې د یو اصل په توګه پېژندل شوي ده او د آزادۍ سلب یې د وروستۍ لارې چارې په توګه په استثنایي توګه د قانون پر بنسټ د شکلي او ماهوي ضمانتونو سره په رسمیت پېژندلی دی. د آزادۍ د سلب ځایونه هغه دي، چې آزادي په کې سلب وي او یا تنګ، قید، د محاصرې ځای ته وایي، محدوده احاطه هم ترې مفهوم ده. کله چې د یو انسان آزادي سلبېږي، هغه درې مرحلې لري: ۱ـ د ظـن (نظارت) مرحله، ۲ـ د اتهام (توقیف) مرحله ۳ـ او د جرم(حبس) مرحله ده. د نوموړي موضوع د بنې څېړنې لهپاره مې د آزادۍ سلب پړاوونه، څېړلي دي. په دې مقاله کې چې کتابتوني (توصیفي ـ تحلیلي) څېړنیزه مقاله ده، دې پایلې ته ورسېدم، چې د آزادۍ سلب مرحلې که دا مؤقتي دي (لکه د مظنونیت په حالت کې په نظارت خانه کې او هم د متهمیت په حالت کې په توقیف خانه کې) او که دا د سلب آزادي دایمي وي لکه د مجرمیت په حالت کې په زندان کې وي، قانوني بڼه لري او پرته له دې د افرادو د آزادۍ سلب به غیرقانوني او جرم وي.

**کلیدي ټکي**: د آزادۍ سلب، برائت الذمه، توقیف، نظارت، محبس.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

انسان آزاد متولد شوی دی او الله تعالی انسان آزاد خلق کړی دی. ټول پیغمبران او صالحان د دې معنا متضمن دي. آزادي د انسان د طبیعي او ذاتي حقوقو یوه برخه ده. دا چې د وګړو آزادي د بشر حقوقو اساسي مصادیقو څخه ګڼل کېږي. په ټولو عرصو کې په تېره بیا په جزایي عدالت کې ډېر اهمیت لري. پر دې بنسټ افراد د جزایي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې له هر ډول تعرض څخه خوندي دي او په آسانۍ سره نشي کولای چې د دوی آزادۍ محدوده او یا سلب کړي؛ اما کله چې له یوه پلوه د مظنونینو او متهمینو د تېښتې، پټېدلو او د جرم د آثارو او مدارکو د ورکېدلو او له بله پلوه دلایل او قرینې خاص شخص ته متوجې وي، د قضایي رسېدنې او د جزایي عدالت د ښه اجراء لهپاره د اشخاصو د آزادۍ د تحدید او سلب امکان برابرېږي.

نو پر دې بنسټ، دې موضوع اهمیت ته په کتو سره په دې څېړنه کې هڅه کېږي، چې د آزادۍ د سلب پړاوونه تر څیړنې لاندې ونېول شي. نظارت، د جرم د کشف او تحقیق لهپاره د احتیاطي قدم په توګه په مؤقت ډول د شکمن شخص د آزادۍ سلبول دي، چې د جرم د کشف او تحقیق مؤظفینو لخوا د جزایي اجراآتو د قانون او د نورو اړوندو تقنیني سندونو حکمونو سره سم نېول کېږي. نظارت خانه هم هغه ځای ته ویل کېږي، چې د دولت لخوا د شکمنو اشخاصو د ساتنې په مقصد مشخص شوې ده.

توقیف د جرم د کشف او تحقیق په بهیر کې د احتیاطي اقدام په توګه د تورن د آزادۍ سلبول دي، چې د قانون سره سم ترسره کېږي. شکمن یا تورن د قانون د حکمونو سره سم تر نظارت یا توقیف لاندې نېول کېږي. توقیف ځای هغه ځای دی چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص هلته ساتل کېږي. توقیف د تحقیق او د عدلي تعقیب په مرحله کې د څارنوال یا محکمې په امر په هغه ځای کې چې د قانون د حکم پر بنسټ ټاکل شوی دی، د مظنون یا متهم له مؤقتي ساتنې او د آزادۍ له سلبېدو څخه عبارت ده او توقیف ځای هغه ځای دی، چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص د تحقیق د تکمیلولو په موخه هلته ساتل کېږي او توقیف د واکمنې مرجع لخوا د قانون د احکامو پر بنسټ په ټاکلي ځای کې د شخص د مؤقتې آزادۍ سلب ته وایي؛ نو کله چې قانون د توقیف لهپاره ځای او واکمن اشخاص معلوم کړي وي؛ نو هغه کسان چې د توقیف صلاحیت نلري او یا هغه ځایونه چې د توقیف لهپاره قانوناً نه وي ټاکل شوي، ناقانونه دي.

محبس هغه ځای دی چې هلته هغه اشخاص چې د محکمې په وروستني حکم محکوم علیه ګڼل شوي دي، ساتل کېږي. په همدې بناء باندې پدې لیکنه کې په ټولو هغه موضوعاتو باندې بحث کوم چې د آزادۍ په سلبولو او د آزادۍ د سلب په ځایونو پورې تړاو لري.

حبس هغه مجازاتو ته وايي، چې د قضايي تصميم او د موضوعه قوانينو او مقرراتو پر بنسټ، د فرد آزادي د يوې محدودې مودې لهپاره سلب کېږي. محبس يا زندان هغه ځای ته ويل کېږي، چې آزادي په کې سلب وي او يا تنګ، قيد، د محاصري ځای ته وايي، محدوده احاطه هم ترې مفهوم ده او محبوس د حبس له محبسونو څخه په يوه کې، چې د دولت لخوا په دې منظور اختصاص شوی دی، د محکمې په قطعي حکم د محکوم عليه له زنداني کولو څخه عبارت دی.

نظارت، توقيف او حبس د قانون په حکم سره د آزادۍ سلب په معنا دي. نظارت د کشف په مرحله کې د پوليسو لخوا پر مظنون په مؤقت ډول نظر درلودل په هغه ځای کې چې د قانون پر بنسټ ورته مختص شوی دی او نظارت خونه هغه ځای دی، چې مظنون شخص د آزادۍ د سلب په مکان کې په مؤقت ډول ساتل کېږي.

د افغانستان د جزا کود، غير قانوني د آزادۍ سلب يې جرم ګڼلی دی. غير قانوني د آزادۍ سلب جرم په عادي شرايطو کې، ډېری وخت د عامه خدماتو د مؤظفينو له خوا ترسره کېږي. غېر قانوني د آزادۍ سلبېدل په افغانستان کې جرم ګڼل کېږي او مرتکب لهپاره مجارات تاکل شوي دي؛ نو هر هغه شخص چې د قانون د حکم خلاف او له صلاحيت پرته، د انسان آزادۍ سلب کړي، د غېر قانوني عمل مرتکب ګرځېدلی دی.

له بله پلوه قانون ګذار د آزادۍ د سلب پړاوونه نظارت، توقيف او حبس معرفي کړي دي، چې ترتيب يې د کارونې او اهميت پر اساس دی ؛نو له دې امله د آزادۍ د سلب مرحلې د څېړنې مهم والی احساسېږي، چې دلته به مونږ د آزادۍ د سلب مرحلې او هم د آزادۍ غير قانوني سلبېدل وپېژنو، ورپسې به د آزادۍ د سلب ځايونه مطالعه کړو.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د آزادۍ د سلبېدلو پړاوونه او د آزدۍ د سلب ځايونه وپېژنو او د دوی ترمنځ توپيرونه وپېژنو؛ ځکه په دې مرحلې کې د افرادو آزادۍ يا په مؤقتي ډول او يا هم په دايمي ډول سلب کېږي.

د څېړنو د موخو څخه يوه د موضوع جذابيت دی او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د آزادۍ د سلب موارد او د آزادۍ د سلب ځايونه خلکو ته معرفي کړم.

**کړنلاره او د کار توکي**

دا مقاله کتابتوني ( توصیفي ـ تحلیلي ) څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منــابعو څخه استفاده شوي ده، چې په نړیوالـــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي. او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبیات په نظر کې نېول شوي دي او هم په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.

کوشش مې کړي دی هره موثقه مرجع چې د خپلې موضوع د تکمیل په خاطر په لاس راغلي ده، ما ترې په قسم د اقسامو استفاده کړیده، دا معنا چې خپل انساني نهایي کوشش مې کړی دی؛ ترڅو موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکې یې په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي.
او اوس د آزادۍ د سلبېدلو مرحلې او د آزادۍ د سلبېدلو ځایونه په لاندې ډول توضیح کوو:

**د آزادۍ د سلبېدلو مرحلې**

کله چې د یو انسان آزادي سلب کېږي، هغه درې مراحل لري:
**۱ـ د ظــن(نظارت) مرحله:** په دې مرحله کې د نظارت لاندې شخص ته مظنون وایي، دا هغه موده ده، چې په اول قدم کې مظنون د پولیسو له خوا نېول کېږي او پولیس مکلف دی، چې په (۷۲) ساعتونو کې د مظنون په هکله مشتبهي اسناد او شواهد ټول، محضر ترتیب کړي او موضوع اړوند څارنوالۍ ته وسپاري، په دې (۷۲) ساعتونو کې مظنون د پولیسو په نظارت خانه کې ساتل کېږي ( دانش، ۱۳۹۸ ل، ص. ۸۴ ).

**۲ــ د اتهام (توقیف) مرحله:** د پولیسو د اجراآتو وروسته تر هغه چې مربوطه څارنوال دعوه اقامه کوي او (د جنحې په جرم کې تر ۷ ورځې او د جنایت په جرم کې تر ۱۵ ورځو پورې) خپله دعوی مربوطه محکمې ته وسپاري؛ خو که ضرورت شي؛ نو دا موده تجدیدای شي، د څارنوال د دعوې د اقامې څخه د شخص د محکمې تر فیصلې ( نهایي او یا قطعي حکم ) پورې متهم بلل کېږي او هغه باید په توقیف خانه کې اوسي. (علم ستانکزی ۱۳۹۳ ل، ص. ۱٦۰ ).

**۳ــ د جرم (حبس) مرحله:** کله چې په متهم باندي د محکمې وروستی یا قطعي حکم صادر شي او شخص ګنهګار ثابت شي، دې ته مجرم ویل کېږي. چې دا معینه مرحله به په حبس کې تیروي. په محبسونو کې د حبس د مجازاتو عملي کول د محبوسینو د اصلاح کولو ټولنیز ګټور کار ته د هغوی د چمتو کولو د اسلامي شریعت او قوانینو، دودونو، د ټولنیز اخلاقي او انساني ژوندانه نورو معیارونو ته درناوی وي. د هغوی مراعت کولو او جرم ترسره کولو ته د نه ستنېدو په مقصد صورت مومي. د محبس اداره باید د حبس د مجازاتو په تعلیق کولو کې د داسي عمل ترسره کولو څخه په کلکه ډډه وکړي، چې د محبوسینو د انساني کرامت پرخلاف وي.

شخصي امنيت او د آزادۍ حق يو له مهمو حقوقو څخه ګڼل کېږي، چې په بين المللي حقوقو او د بشر حقوقو او د ډېرې هېوادونو په اساسي قوانينو کې د هغې له جملې څخه د افغانستان په حقوقو کې په رسميت پېژندل شوي دي، پر دې بنسټ آزادي اصل او سلب يې استثناء ده، چې يوازې په ځانګړي مواردو کې چې په قوانينو کې صراحت لري او د قضايي مراجعو په دستور، د اړتيا په صورت کې، چې بله چاره يې نه وي، ترسره کېږي او دا اړتياوې عبارت دي له نظارت، توقيف او حبس څخه. ( ستانکزی، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۰۷ ).

**نظارت: د نظارت تعريف:** ( د جرم د کشف په پړاو کې د کشفي ارګانونو لخوا د مظنون مؤقتي ساتنې او تر نظر لاندې ساتلو ته، په هغه ځای کې چې د دولت لخوا د قانون د حکم په اساس ځانګړی شوی وی ). دې تعريف ته په پام سره، بايد ووايو لومړی دا چې د ساتنې کلمه چې نظارت احتياطي توقيف نه دی؛ بلکې په ځانګړي مکان کې د مظنون مؤقت ساتل دي او د احتياطي توقيف په څېر د آزادۍ سلب يو ډول دی، چې په يو خاص مکان کې چې نظارت خانه نومېږي ترسره کېږي.

**د نظارت په مرحله کې د آزادۍ د سلب ځای:**

نظارت خانه: ( نظارت خانه د آزادۍ د سلب هغه ځای دی، چې د جرم د کشف په پړاو کې د مظنونينو مؤقتي ساتنې لەپاره د دولت لخوا ځانګړی شوی دی )؛ نو لومړی دا چې يوازې مظنونين په نظارت خانه کې ساتل کېږي، نه متهمين. دوهم دا چې نظارت خانه هغه ځای دی، چې مظنون په مؤقت ډول د جرم د کشف په پړاو کې په هغه ځای کې ساتل کېږي. دريیم: پر مظنونينو باندې نظارت د دولت دنده ده او خصوصي برخې ته نه سپارل کېږي. بلاخره دولت د نظارت خانې په جوړولو او ترميم باندې مکلف دی او بايد د ورځې له معيارونو سره سم برابر او جوړ کړي؛ کتابتون او وړکتون هم بايد ولري. ( رسولي، ۱۳۹۴ ل، ص. ٦۳ ).

نظارت خانې د جرم د کشف مسؤلينو لەپاره ډول ډول دي. د کورنيو چارو وزارت، د ملي دفاع وزارت، د ملي امنيت رياست، د ماشومانو د اصلاح او تربيې مراکز. د نظارت لاندې شخص هغه څوک دی، چې د نظارت په موده کې د نوموړو نظارت خانو په يوه نظارت خانه کې د نظارت لاندې وي او په هيڅ صورت څوک نشي کولای چې شخص په بل ځای کې د نظارت لاندې ونيسي، کله د کار په دفتر کې، کله د پوليسو په اداره کې، کله جزو تام او داسې نورو ځايونو کې نظربند مظنون په خپل کور کې تر مراقبت لاندې نېول او هغې ته د کور څخه بهر ته د وتلو د اجازې نه ورکول، او يا د مظنون د ګشت او ګذار لەپاره د مشخص ځای ټاکل دي.

د نظارت موده: فردي امنيت او د آزادۍ اصل چې د برائت الذمې اصل پر بنسټ پېژندل شوي دي، تر ډېره بريده هڅه کېږي، چې دا موده لنډه وي، دا موده د افغانستان په حقوقو کې په عادي جرمونو کې حد اکثر تر ۷۲ ساعتونه

او په تروریستي، داخلي او بهرني امنیت پر وړاندې جرمونو کې تر ۱۵ ورځو پورې پېښ بیني شوي دي او د مظنون د نیونې له لحظې څخه پیل کېږي.( زماني، ۱۳۹۴ ل، ص. ۳۵ )

**مظنون:** مظنون د جزايي اجراآتو قانون په څلورمه ماده ۱۱ بند کې په لاندې تعریف شوی دی:
« مظنون هغه شخص دی، چې د جرم د ارتکاب په نسبت د بد ګمانۍ ( سؤظن ) پر بنسټ تر اشتباه لاندې راغلی وي یا دا چې هغه ته د تور ( اتهام ) له نسبت ورکولو د مخه، د ده په هکله احتیاطي تدابیرونه نېول شوي وي ».
( د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ ل، ماده، ۴، فقره، ۱۱. ص ٦ )

**د نیونې په پړاو کې د مظنون حقوق:**

د نېونې په پړاو کې مظنون یو لړ حقوق لري، چې دا حقوق عبارت دي له د برائت الذمې اصل له حق څخه برخمن کیدل، د تحقیقي کړنو او د مظنونینو د هویت ثبتول، د اظهاراتو د ورکولو د خبرتیا حق، د ذاتي کرامت او حیثیت ته د احترام حق، د دلیل د تحصیل د برخمند کیدلو حق، د دفاع حق، د اتهام د تفهیم حق، کورنیو ته د اطلاع حق، د طبي معایناتو حق، مناسبې او سالمې غذا ته او د خوب د ځای ته لاس ر سي حق، د سکوت حق، ترجمان ته د لاس رسي حق، د خسارې د جبران د غوښتلو حق. ( دانش، ۱۳۹۸ ل، ص. ۷۰ )

**توقیف**

توقیف د آزادۍ د سلبېدو یو مورد او یو احتیاطي تدبیر دی چې د تحقیق او محاکمې په پړاوونو کې د اړتیا له مخې د مظنون یا متهم پر ضد عملي کېږي، هغوی د توقیف په واسطه د تحقیق او حقیقت موندنې د پړاو د تکمیل یا د محاکمې د پړاوونو د بشپړتیا په موخه له آزادۍ څخه بې برخې کېږي.

**د توقیف تعریف**

توقیف د تحقیق او د عدلي تعقیب په مرحله کې د څارنوال یا محکمې په امر په هغه ځای کې چې د قانون د حکم پر بنسټ ټاکل شوی دی، د مظنون یا متهم له مؤقتي ساتنې او د آزادۍ له سلبېدو څخه عبارت ده.

په پورتني تعریف کې د تحقیق او عدلي تعقیب په مرحلو کې د مظنون یا متهم مؤقتي ساتنه د دوو ارګانونو ( څارنوالي او محکمې ) په امر ترسره کېږي. له دغو دوو ادارو پرته چې قانون واضح کړې دي، نور ارګانونه د مظنون یا متهم د توقیف صلاحیت نه لري، د پورته تعریف له مخې قانون دا هم واضح کړې ده، چې د مظنون او د متهم توقیف په هر ځای کې جواز نلري؛ اما پرته له هغه ځایونو څخه چې د توقیف لپاره مختص شوي دي.
( رسولي، ۱۳۹۷ل، ص. ۳۵۵ )

**د توقيف په مرحله کې د آزادۍ د سلب ځای:**

د آزادۍ د سلب منع د اساسي قانون پر بنسټ تصريح شوي ده؛ ځکه آزادي يې د انسان طبيعي حق ګڼلی دی؛ تر هغې دا حق سلب کيدی نشي؛ ترڅو چې د نورو حق يې نه وي سلب کړی. د جزايي اجراآتو قانون لاندې ځای يې د توقيف په مرحله کې د آزادۍ د سلب مکان لەپاره ټاکلی دی. ( غلامي، ۱۴۰۰ ل، ج، ۲، ص. ۸۸ )

توقيف خانه: توقيف ځای هغه ځای دی، چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص د تحقيق د تکميلولو په موخه هلته ساتل کېږي او توقيف د واکمنې مرجع لخوا د قانون د احکامو پر بنسټ په ټاکلي ځای کې د شخص د مؤقتې آزادۍ سلب ته وايي ( علامه، ۱۳۹۸ ل، ص. ۱۴۹ ).

د محابسو او توقيف خانو په قانون کې د ( ۷ ) مادې د ( ۱ ) فقرې له مخې توقيف خانه د ټاکلي ځای په معنا په لاندې ډول کارول شوي دي.

« توقيف خانه هغه ځای دی چې محاکمې ته د انتظار په حال کې متهم کسان په کې ساتل کېږي.» کله چې قانون د توقيف لەپاره ځای او واکمن اشخاص معلوم کړي وي؛ نو هغه کسان چې د توقيف صلاحيت نلري او يا هغه ځايونه چې د توقيف لەپاره قانوناً نه وي ټاکل شوي، ناقانونه دي.

که چيرې قانون د باصلاحيته اشخاصو د تعريف په ترڅ کې توقيف روښانه کړي وي، همدارنګه د توقيف ځای يې هم ياد کړی وي؛ نو هغه توقيف چې د باصلاحيته اشخاصو له خوا يا له هغه ځايه په بل ځای کې چې پورته تعريف شو، د مظنون يا متهم کس توقيف او ساتل ناقانونه دي. ( د محبسونو او توقيف ځايونو قانون، ماده، ۷، ص. ۴۹ ).

**د توقيف شرطونه**

څرنګه چې معلومه ده يوازې د څارنوال او يا د قاضي لخوا د مظنون او متهم لەپاره د توقيف د امر صدور د شرايطو لاندې ترسره کېدی شي. د څارنوال او د قاضي صلاحيت د توقيف د امر په صادرولو کې مطلق نه دی؛ بلکې د دوی دا واکونه مقيد دي او دا شرايط په لاندې ډول دي:

۱- جرم، بايد جنحه يا جنايت وي.

۲- د جنايت د جرم د ترسره کولو پربنسټ د اثبات د دليلونو د موجوديت په صورت کې.

۳- د څرګندې جنحې جرم يا د څرګند جنايت جرم د اجراء کولو په صورت کې.

۴- په هغه حالت کې چې د مظنون يا متهم هويت معلوم نه وي.

۵- په هغه حالت کې چې په جرم د مظنون یا متهم کس د ورکېدو یا د فرار ډار موجود وي.
٦- په هغه حالت کې چې د جرمي اسنادو او مدارکو د ضایع کېدو یا د تغییر کیدلو ډار موجود وي.
۷- په هغه حالت کې چې مظنون یا متهم په مربوطه حوزه کې دایمي استوګنځای و نه لري:

څارنوال او قاضي کولای شي د پورته ذکر شوي شرایطو د شرطونو یا شرط د شتون په صورت کې مظنون او متهم تر توقیف لاندې ونیسي او د آزادۍ د سلبېدو احتیاطي تدبیرونه د توقیف پر بنسټ صادر کړي. ( غلامي، ۱۴۰۰ ل، ج، ۲، ص. ۸۹ ).

**د تحقیق او محاکمې په پړاوونو کې د توقیف مودې**

د تحقیق او محاکمې په هره مرحله کې د توقیف وخت او موده توپیر لري، همدارنګه کله چې مظنون یا متهم پر کوم جرم باندې مرتکب شوی وي، د هغې جرم شدت او خفت ته په کتو سره، په قانون کې د توقیف موده او مهال یې مختلف یاد شوی دی. د افغانستان د ۱۳۹۳ هـ ش کال د جزایي اجراآتو قانون په ۱۰۰ او ۱۰۱ ماده کې د تحقیق او د درې ګونو محاکمو په مرحلو کې د توقیف او د هغې د تمدید مودې یې په لاندې ډول دي.

د جزایي اجراآتو قانون په ۱۰۰ ماده کې بله مهمه موضوع توضیح شوې ده، چې هغه د مظنون او متهم د توقیف په هکله د څارنوالۍ او د محاکمو ده.

« (۱) څارنوال کولای شي چې د مظنون له تسلیمۍ وروسته د دغه قانون د نهه نویمې مادې د ( ۳ ) فقرې د لیکلو دلیلونو د شتون په صورت کې د هغه د توقیف امر د جنحې په جرم کې د ( ۷ ) ورځو لپاره او د جنایت په جرم کې د حالت له مخې د ( ۱۵ ) ورځو لپاره صادر کړي.

( ۲ ) هر کله چې تر توقیف لاندې کس یا د هغه مدافع وکیل یا حقوقي مرستندویه د توقیف د دوام پر ضد اعتراض ولري، یا څارنوال د توقیف تمدید د دغه مادې د ( ۳ ) فقرې د حکم له مخې وغواړي، څارنوال باید تر توقیف لاندې کس د توقیف د مودې د تمدید د قرار د صادرولو په موخه حاضر کړي. متهم، د هغه مدافع وکیل یا حقوقي مرستندوی د تصمیم نیونې په وخت کې د حضور او د اعتراض حق لري.

( ۳ ) هر کله چې د جنحې په جرم کې د ( ۷ ) ورځو موده او د جنایت په جرم کې د ( ۱۵ ) ورځو موده د تحقیق د پوره کېدو او د صورت دعوې د ترتیبېدو لپاره بس نه وي، څارنوال کولای شي چې د دغې مادې ( ۲ ) فقرې د لیکلو مراتبو په پام کې نېولو سره د متهم د تمدید وړاندیز د حالت له مخې په لاندې ډول لومړنۍ اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

الف – د جنجې په جرم کې موده تر ( ۱۰ ) ورځو.
ب – د جنايت په جرم کې موده تر ( ۳۰ ) ورځو.
( ۴ ) هر کله چې د متهم د توقيف اړتيا د توقيف د مودې له پوره کېدو مخکې لرې شي، د حالت له مخې د توقيف امر د مالي کفالت د قيد له مخې يا له هغه پرته د هغه د خوشې کيدو خنډ نه گرځي.

( ۵ ) هر کله چې څارنوال د دغې مادې د ( ۳ ) فقرې په ليکلي موده کې په دې و نه توانېږي چې تحقيق پوره او صورت دعوی وړاندې کړي او د متهم د توقيف د تمديد اړتيا د دغه قانون د حکمونو له مخې لازمه وي، لومړنۍ محکمه د څارنوالۍ په وړانديز د څارنوال د دليلونو او د متهم د څرګندونو له ارزولو وروسته کولای شي چې د هغه توقيف د جنحې په جرم کې تر ( ۱۰ ) ورځو او د جنايت په جرم کې تر ( ۳۰ ) ورځو تمديد کړي. متهم، د هغه مدافع وکيل او حقوقي مرستندوی د تصميم نيونې په وخت کې د حضور او اعتراض حق لري.

( ٦ ) د متهم د توقيف د تمديد موده په هيڅ ډول د لومړنۍ محکمې له خوا په مجموعي ډول د جنحې په جرم کې له ( ۲۰ ) ورځو او د جنايت په جرم کې له ( ٦۰ ) ورځو ډېر نه شي صادريدای». ( د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ ل، ماده، ۱۰۰، ص. ۹۲ ).

د جزايي اجراآتو د قانون ۱۰۱ ماده د متهم د سرنوشت د موضوع د ټاکلو په هکله بحث کوي، يعنې کله چې د محکمې لخوا د قضېې تسليمي وشي.

« ( ۱ ) تر توقيف لاندې د متهم کس د برخليک ټاکل محکمې ته د قضېې له سپارلو وروسته د هغه په غاړه ده او کولای شي، د قضايي رسيدنې په پړاوونو کې په لاندې ډول د متهم د توقيف قرار صادر کړي.
۱. په لومړنۍ محکمه کې د قضېې د رسېدنې په جريان کې تر ( ۳۰ ) ورځو.
۲. په استيناف محکمه کې د قضېې د رسېدنې په جريان کې تر ( ۳۰ ) ورځو.
۳. په ستره محکمه کې د قضېې د رسېدنې په جريان کې تر ( ٦۰ ) ورځو.
( ۲ ) هر کله چې قضيه د محکمې له خوا په تحقيق کې د نيمګړتياو له مخې څارنوالۍ ته مسترده شي، محکمه مکلفه ده؛ ترڅو د متهم د سرنوشت د دغې مادې د ( ۱ ) فقرې د ليکلو صلاحيتونو له مخې وټاکي.
( ۳ ) د محاکمې په ټولو پړاوونو ( لومړنۍ، استيناف او ستره محکمه ) کې د توقيف ټوله موده له ( ۱۲۰ ) ورځو څخه ډېره نه شي کيدای». ( د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ ل، ماده، ۱۰۰، ص. ۹۳ ).

**د برائت پر حکم باندې د اعتراض د رسېدنې په موخه توقیف**

هغه اتهام چې پر متهم باندې د څارنوال لخوا پورې شوی دی او محکمه د متهم د دې اتهام پر وړاندې دوه ډوله تصمیمونه نیسي:

۱. محکمه په هغه صورت کې د متهم پر برائت حکم صادروي چې د الزام کافي دلایل موجود نه وي.

۲. محکمه په هغه صورت کې چې پر متهم باندې د الزام کافي دلایل موجود وي، د هغې پر الزامیت باندې حکم صادروي.

اوس دلته پوښتنه مطرح کېږي چې کله محکمه د متهم پر برائت باندې حکم صادر کړي، آیا د دې امکان شته چې متهم فوراً ژر خوشی شي؟ د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجراآتو قانون د **۱۰۲** مادې د حکم پر بنسټ کله چې متهم د جنایت په جرم کې د ابتدائیه محکمې لخوا برائت حاصل کړي او اړوند څارنوال د ابتدائیه محکمې حکم چې د متهم پر برائت باندې صادر شوی وي نیوکه او اعتراض وکړي او هغه پوښتنه چې دلته مطرح کېږي عبارت له دا ده چې آیا د برائت د حکم په نظر کې نېولو سره او دا چې برائت الذمه اصلي حالت دی او دا اصل د محکمې لخوا د دلایلو په ذکر سره بیا ځلې د بیا کتنې لاندې ونېول شي آیا بیا هم کولی شو د دې لهپاره چې څارنوال اعتراض کړی دی محکوم له تر توقیف لاندې ونیسو؟ په دې رابطه د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجراآتو قانون په **۱۰۲** ماده کې داسې تجویز اتخاذ شوی دی، چې کله ابتدائیه محکمې د جنایت په جرم کې د برائت حکم صادر کړی وي او پر هغې باندې څارنوال اعتراض کړی وي، د ښکتنۍ محکمې لخوا د متهم د توقیف د دوام موضوع پورتنۍ محکمې ته وړاندې کېږي. پورتنۍ محکمه یا د استیناف محکمه مخکې لدې چې قضیې ته رسېدنه وکړي، د محکوم له د توقیف دوام او یا د هغې د خلاصون موضوع په عاجل ډول تر غور لاندې نیسي او د هغې د توقیف یا خلاصون په رابطه تصمیم نیسي. کله چې پورتنۍ محکمه د څارنوال د اعتراض د محکوم له د توقیف پر بنسټ د دلایلو سربیره، د ۱۵ ورځو په جریان کې د توقیف د تمدید امر صادر نه کړي، متهم فوراً خوشی کېږي.

قانون جوړونکي د دې لهپاره چې د متهم حقوق خوندي پاتې شي، دا حکم په نظر کې نېولی دی؛ ځکه په قانون کې د متهم د توقیف موده قید شوې ده او دغه مودې په سم ډول برابرې او تنظیمې شوې دي؛ ترڅو له یوې خوا متهم بې دلیله او بې موجبه تر توقیف لاندې رانشي او له بله پلوه د پورتنیو محاکمو له پړاوونو څخه د متهم د فرار په خاطر احتیاطي تدابیر برابر نشي (علم ستانکزی، ۱۳۹۳ل، ص. ۱۶۶).

**تبصره:** دا موضوع هم ځینې ګټې او هم ځینې نیمګړتیاوې لري، په دې معنا هغه شخص چې د جنایت په جرم باندې مرتکب شوی وي او د دلایلو په راټولو کې همدارنګه د تحقیق او د تعقیب پړاوونه په پوره دقت او پام

سره ترسره شوي وي، که چیرې شخص د ابتدائیه محکمې په نتیجه کې بري الذمه وپېژندل شي او شخص له توقیف څخه خوشی شي کومه ستونزه نه رامنځته کېږي؛ اما که چېرې شخص د ابتدائیه محکمې د حکم پر بنسټ بري الذمه پېژندل شوی وي او شخص له توقیف څخه خوشی شوی وي او د هغې حاضرول به بیا په استیناف محکمه کې د ستونزو څخه خالي نه وي؛ ځکه که د اعتراض او د استیناف غوښتنې په نتیجه کې شخص بېرته محکوم علیه وپېژندل شي او پر اوږدو یا دوام لرونکي حبس مجازاتو باندې محکوم شي. دا ستونزه ډېرې په هغو حالاتو کې رامنځته کېږي چې د دلایلو په راټولو کې همدارنګه د تحقیق او د تعقیب پړاوونه په پوره دقت او پام سره نه وي ترسره شوي او امید دی چې د قانون د ځینو موادو د تعدیل پر مهال دا ستونزه تر بحث لاندې ونېول شي او حل لاره ورته ولټول شي.

**لنډ مهاله خوشي کول**

کله چې مظنون او متهم د قانون د احکامو پر بنسټ تر توقیف لاندې ونېول شي، د دې په خاطر چې توقیف د احتیاطي تدابیرو له ډلې څخه ګڼل کېږي او هر کله چې د مظنون او متهم د توقیف اړتیا احساس نشي؛ نو لازمه نه ده چې توقیف خانې له خلکو څخه چې هغه هم د احتیاطي تدبیرونو په حالت کې وي ډکې کړو؛ نو په دې حالت کې قانون اجازه ورکوي؛ ترڅو هغه شخص چې په توقیف کې وي او د نوموړي شخص د محاکمې او تحقیق اړوند اجراآت تکمیل شوي نه وي، او په دې حالت کې توقیف ته هم اړتیا و نه لیدل شي؛ نو متهم د لاندې دوو دلایلو پر بنسټ د مؤقتي خوشي کېدنې څخه ګټه پورته کولی شي.
۱- مالي کفالت، ۲-احتیاطي تدبیرونه ( علم ستانکزی، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱٦۷ ).

**غیر قانوني توقیف:** د افغانستان د جزا کود، غیر قانوني توقیف یې جرم ګڼلی دی. غیر قانوني توقیف جرم په عادي شرایطو کې، ډېری وخت د عامه خدماتو د مؤظفینو له خوا ترسره کېږي. غېر قانوني توقیف په افغانستان کې جرم ګڼل کېږي او مرتکب لهپاره مجارات ټاکل شوي دي؛ نو هر هغه شخص چې د قانون د حکم خلاف او له صلاحیت پرته، د انسان آزادۍ سلب کړي، د غېر قانوني عمل مرتکب ګرځېدلی دی.

د جزا کود ۵۸۵ ماده صراحت لري: « هغه شخص چې بل یو ګرفتار یا یې آزادي په غیر قانوني ډول سلب یا محدوده کړي یا د بل د آزادۍ د سلب یا محدود ډولو ته د هغې د قانوني مودې له ختم وروسته ادامه ورکړي، د ګرفتارۍ، د توقیف یا د آزادۍ د تحدید د جرم مرتکب شوي، د دې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.» ( د جزا کود، ماده، ۵۸۵، ص. ۴۷۰ ).

د جزا کود ٥٨٦ ماده صراحت لري: «د گرفتارۍ، د توقیف یا ممانعت د جرم مرتکب، په متوسط حبس، محکومېږي.»

د جزا کود ٥٨٧ ماده صراحت لري: «د گرفتارۍ د توقیف یا د آزادۍ د تحدید د جرم د ارتکاب په یوه لاندې حالاتو کې مشدده گڼل کېږي، مرتکب تر اوو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي:
۱- په هغه صورت کې چې جرم د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه مرتکب شوی وي.
۲- په هغه حالت کې چې جرم په جبر، اکراه، تهدید په قتل یا تهدید په بدني اذیت ارتکاب شوی وي.
۳- په هغه حالت کې چې جرم له رسمي جامو (لباس) څخه په استفادې، له هغو څخه د استفادې د حق له درلودلو پرته، په کاذب صفت په متصف کولو سره صورت موندلی وي.
۴- په هغه حالت کې چې د دولتي واکمن په عنوان له تزویري امر څخه په استفادې مرتکب شوی وي.
۵- په هغه حالت کې چې د غیر قانوني توقیف موده له یوې میاشتې څخه زیاته وي.» (د جزا کود، ماده، ٥٨٥، ص. ۴۷۱).
د جزا کود ٥٨٩ ماده وایي: «(۱) که چیرته پولیس یا د ملي امنیت مؤظف، څارنوال، قاضي یا د آزادۍ د سلب د ځایونو مسؤول یو شخص له قانوني موعد څخه له یوې ورځې زیات تر نظارت، توقیف، حبس یا حجز لاندې ونیسي، په قصیر حبس یا د هرې ورځې په وړاندې د دریو زرو افغانیو په نغدي جزاء محکومېږي.

(۲) که چیرې عمل له سؤنیت سره صورت موندلی وي، او یا په مکرره توگه ترسره شوی وي، مرتکب په متوسط حبس، محکومېږي.» (د جزا کود، ماده، ٥٨٥، ص. ۴۷۲).

**د آزادۍ سلبولو دریېمه مرحله**

**حبس:** عربي کلیمه ده، چې په لغت کې ضبط کولو او زنداني کولو ته وایي او په اصطلاح کې حبس هغه مجازاتو ته وایي، چې د قضایي تصمیم او د موضوعه قوانینو او مقرراتو پر بنسټ، د فرد آزادي د یوې محدودې مودې لهپاره سلب کېږي (جعفري لنگرودي، ۱۳۷۸ ل، ص. ۲۰۸).

**د حبس په مرحله کې د آزادۍ د سلب ځای**

د جزایي اجراآتو قانون لاندې ځایونه یې د آزادۍ د سلب لهپاره مکانونه ټاکلي دي.
**محبس:** په لغت کې د زندان هغه ځای ته ویل کېږي، چې آزادي په کې سلب وي او یا تنگ، قید، د محاصرې ځای ته وایي، محدوده احاطه هم ترې مفهوم ده. همدارنگه محبس په یو ځای کې د یو شخص بندي کول او منع کول دي، که دغه په کور، مسجد او یا هم په بل ځای کې وي.

محبس په اصطلاح کې هغه ځای دی، چې هلته هغه اشخاص چې د باصلاحیته محکمې په قطعي یا وروستي حکم محکوم علیه ګڼل شوی وي، ساتل کېږي او حبس، له محبسونو څخه په یوه کې چې د دولت لخوا په دې منظور اختصاص شوی دی د محکمې په قطعي حکم د محکوم علیه له زنداني کولو څخه عبارت دی. ( د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، ۱۳۸۷ل، ص. ۲۵۵ ).

**محبوس:** د جزا کود ۱۶۴ ماده تصریح کوي، چې: « حبس له محبسونو څخه په یوه کې، چې د دولت لخوا په دې منظور اختصاص شوی دی، د محکمې په قطعي حکم د محکوم علیه له زنداني کولو څخه عبارت دی.» ( د جزا کود، ماده، ۱۶۴، ص. ۱۰۱ ).

**د حبس ډولونه:** د جزا کود ۱۶۵ ماده تصریح کوي، چې: « حبس د لاندې ډولونو لرونکی دی:

۱- قصیر حبس.

۲- متوسط حبس.

۳- اوږد حبس.

۴- دوام حبس.

۵- ابد حبس. ( د جزا کود، ماده، ۱۶۵، ص. ۱۰۱ ).

**د حبس مودې:** د جزا کود ۱۶۶ ماده تصریح کوي: « د حبس مودې په لاندې ډول دي:

۱- قصیر حبس له شپږو میاشتو څخه تر یوه کاله پورې.

۲- متوسط حبس له یوه کاله څخه زیات تر پینځه کاله پورې.

۳- اوږد حبس له پینځو کالونو څخه تر شپاړسو کاله پورې.

۴- دوام حبس له شپاړسو کلونو څخه زیات تر شلو کلونو پورې.

۵- ابد حبس له شلو کلونو څخه زیات تر دیرشو کلونو پورې ( د جزا کود، ماده، ۱۶۶، ص. ۱۰۲ ).

**د حبس د مودې محاسبه:** د جزا کود ۱۶۷ ماده تصریح کوي: « ( ۱ ) د حبس د جزا محاسبه له هغې ورځې څخه پیل کېږي چې شخص ګرفتار او تر نظارت لاندې نېول شوی وي.

( ۲ ) د توقیف او نظارت موده د محکوم بها د حبس په موده کې محاسبه کېږي » ( د جزا کود، ماده، ۱۶۷، ص. ۱۰۲ ).

د حبس د تیرولو ځای: د جزا کود ۱۶۸ ماده تصریح کوي: « محبوس په محبس کې خپله د حبس موده، د محبوسونو او توقیف ځایونو په قانون کې له درج شوو حکمونو سره سمه تیروي.» ( د جزا کود، ماده، ۱۶۸، ص. ۱۰۳ ).

**پایله**

د دې علمي مقالې په اوږدو کې دې پایلو ته ورسیدو چې: شخصي آزادي یو مطلق او پرته له قیدو او شرطه حق نه دی، د نړۍ په ډېرو هېوادونو په تېره بیا افغانستان کې آزادي د جزایي اجراآتو په پړاوونو کې د یو اصل په توگه پېژندل شوی دی، او د آزادۍ سلب یې د وروستۍ لارې چارې په توگه په استثنایي توگه د قانون پر بنسټ د شکلي او ماهوي ضمانتونو سره په رسمیت پېژندل شوي دي. کله چې د یو انسان آزادي سلبېږي، هغه درې مرحلې لري:

د آزادۍ د سلب ځایونه هغه دي، چې آزادي په کې سلب وي او یا تنگ، قید، د محاصري ځای ته وایې، محدوده احاطه هم ترې مفـهـوم ده. کله چې د یو انسان آزادي سلبېږي، هغه درې مرحلې لري: ۱ـ د ظـن (نظارت) مرحله، ۲ـ داتهام (توقیف)مرحله ۳ـ او د جرم(حبس) مرحله ده.

نظارت د جرم د کشف او تحقیق لهپاره د احتیاطي قدم په توگه په مؤقت ډول د شکمن شخص د آزادۍ سلبول دي، چې د جرم د کشف او تحقیق مؤظفینو لخوا د جزایي اجراآتو د قانون او د نورو اړوندو تقنیني سندونو حکمونو سره سم نېول کېږي. نظارت خانه هم هغه ځای ته ویل کېږي، چې د دولت لخوا د شکمنو اشخاصو د ساتنې په مقصد مشخص شوې ده.

توقیف د جرم د کشف او تحقیق په بهیر کې د احتیاطي اقدام په توگه د تورن د آزادۍ سلبول دي، چې د قانون سره سم ترسره کېږي. شکمن یا تورن د قانون د حکمونو سره سم تر نظارت یا توقیف لاندې نېول کېږي. توقیف ځای هغه ځای دی چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص هلته ساتل کېږي. محبس هغه ځای دی چې هلته هغه اشخاص چې د محکمې په وروستنې حکم محکوم علیه گڼل شوي دي، ساتل کېږي.

نظارت، توقیف او حبس د قانون په حکم سره د آزادۍ سلب په معنا دي. نظارت د کشف په مرحله کې د پولیسو لخوا پر مظنون په مؤقت ډول نظر درلودل په هغه ځای کې چې د قانون پر بنسټ ورته مختص شوی دی او نظارت خونه هغه ځای دی، چې مظنون شخص د آزادۍ د سلب په مکان کې په مؤقت ډول ساتل کېږي.

توقیف د تحقیق او د عدلي تعقیب په مرحله کې د څارنوال یا محکمې په امر په هغه ځای کې چې د قانون د حکم پر بنسټ ټاکل شوی دی، د مظنون یا متهم له مؤقتي ساتنې او د آزادۍ له سلبیدو څخه عبارت ده او توقیف ځای هغه ځای دی، چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص د تحقیق د تکمیلولو په موخه هلته ساتل کېږي او توقیف د واکمنې مرجع لخوا د قانون د احکامو پر بنسټ په ټاکلي ځای کې د شخص د مؤقتې آزادۍ سلب ته

وایي؛ نو کله چې قانون د توقیف لەپاره ځای او واکمن اشخاص معلوم کړي وي؛ نو هغه کسان چې د توقیف صلاحیت نلري او یا هغه ځایونه چې د توقیف لەپاره قانوناً نه وي ټاکل شوي، ناقانونه دي.

حبس هغه مجازاتو ته وایي، چې د قضایي تصمیم او د موضوعه قوانینو او مقرراتو پر بنسټ، د فرد آزادي د یوې محدودې مودې لەپاره سلب کېږي. محبس یا زندان هغه ځای ته ویل کېږي، چې آزادي په کې سلب وي او یا تنګ، قید، د محاصرې ځای ته وایي، محدوده احاطه هم ترې مفهوم ده. او محبوس د حبس له محبسونو څخه په یوه کې، چې د دولت لخوا په دې منظور اختصاص شوی دی، د محکمې په قطعي حکم د محکوم علیه له زنداني کولو څخه عبارت دی.

د افغانستان د جزا کود، غیر قانوني د آزادۍ سلب یې جرم ګڼلی دی. غیر قانوني د آزادۍ سلب جرم په عادي شرایطو کې، ډېری وخت د عامه خدماتو د مؤظفینو له خوا ترسره کېږي. غېر قانوني د آزادۍ سلبېدل په افغانستان کې جرم ګڼل کېږي او مرتکب لەپاره مجازات ټاکل شوي دي؛ نو هر هغه شخص چې د قانون د حکم خلاف او له صلاحیت پرته، د انسان آزادۍ سلب کړي، د غېر قانوني عمل مرتکب ګرځېدلی دی.

که چیرې شخص د تحقیق په جریان کې او د دلایلو د نشتون پر بنست د څارنوال د قرار پر بنسټ او یا د محکمې د حکم پر اساس شخص برائت ترلاسه کړي او یا د جزایي دعوې د نه اقامې پر لزوم حکم صادر شوی وي؛ نو د محکوم علیه د حبس د مجازاتو د مودې محاسبه له هغې ورځې څخه محاسبه کېږي، چې نېول شوي وي او یا تر نظارت لاندې راغلی وي. د شخص د نظارت او د توقیف موده د شخص د حبس د مجازاتو په موده کې محاسبه کېږي. که چیرې متهم هغه موده چې په نظارت، توقیف خانه کې د تحقیق پر مهال یا د محاکمې پر مهال چې کومه موده تیره کړي وي او د الزام کافي دلایلو د نشتون په صورت، متهم برائت حاصل کړي، هغه موده چې نوموړي په نظارت خانه او توقیف خانه کې تیره کړې وي، د دولت لخوا د خسارې جبران ورکول کېږي. که چیرې شخص معین شغل ولري، د هغې د ورځې د مزد په تناسب د هرې ورځ په بدل کې ټاکلې مبلغ ورکول کېږي. د دې مبلغ اندازه د واکمنې محکمې لخوا سنجش او ټاکل کېږي. د جزایي اجراآتو قانون د دې حکم تر ډېره بریده د اساسي قانون ۵۱ مادې د حکم پر بنسټ متکي ده، چې په هغې کې ذکر شوي دي: « هر شخص چې له ادارې څخه بې مؤجبه زیانمن شي، د خسارې د جبران مستحق ګڼل کېږي او کولای شي چې د حصول لەپاره یې په محکمه کې دعوی اقامه کړي.»

**وړاندیزونه**

۱- د شخص نیونه او توقیف باید قانوناً د توجیه وړ وي. په بل عبارت باید قانون دا اجازه ورکړې وي.

۲- هر ډول نظارت او توقیف باید د شرایطو او حالاتو سره سم ترسره شي، په دې معنا چې نظارت او توقیف په هغه صورت کې مجاز ده چې د جرم د شرایطو او اوضاع او د هغې مرتکب سره سم وي.

۳- نظارت یا توقیف په هغه صورت کې تجویز شي، چې اتخاذ یې ضروري وي او د نورو د حقوقو د ساتنې لهپاره او عامه ګټې هغې ته اړتیا ولري.

۴- د محاکمې څخه په مخکښې پړاو کې د تحقیق او تعقیب مودې باید سره جلا او تفکیک شي، په دې معنا چې د تحقیق او تعقیب لهپاره موده باید په جلا ډول په نظر کې ونیول شي، پرته له دې به د تحقیق او د تعقیب څارنوال ترمنځ ستونزې رامنځته شي.

۵- دا چې کله کله په تیره بیا په ښاري محاکمو کې د قضیو حجم زیات وي او په قانون کې په نظر کې نیول شوي موده کمه ده، ممکن د کیفیت په لحاظ سمه رسیدنه ورته ونشي؛ نو وړاندیز کېږي چې د قانون د تعدیل پر مهال دا موده زیاته په پام کې ونیول شي.

۶- هغه شخص چې د جنایت په جرم باندې مرتکب شوی وي او د دلایلو په راټولو کې همدارنګه د تحقیق او د تعقیب پړاوونه په پوره دقت او پام سره ترسره شوي، که چیرې شخص د ابتدائیه محکمې په نتیجه کې بري الذمه وپېژندل شي او شخص له توقیف څخه خوشی شي کومه ستونزه نه رامنځته کېږي؛ اما که چیرې شخص د ابتدائیه محکمې د حکم پر بنسټ بري الذمه پېژندل شوی وي او شخص له توقیف څخه خوشی شوی وي او د هغې حاضرول به بیا په استیناف محکمه کې به د ستونزو څخه خالي نه وي؛ ځکه که د اعتراض او د استیناف غوښتنې په نتیجه کې شخص بیرته محکوم علیه وپېژندل شي او پر اوږدو یا دوام لرونکي حبس مجازاتو باندې محکوم شي. دا ستونزه ډېری په هغو حالاتو کې رامنځته کېږي چې د دلایلو په راټولو کې همدارنګه د تحقیق او د تعقیب پړاوونه په پوره دقت او پام سره نه وي ترسره شوي او امید دی چې د قانون د ځینو موادو د تعدیل پر مهال دا ستونزه تر بحث لاندې ونیول شي او حل لاره ورته ولټول شي.

# The Stages of Freedom Deprivation

Associate professors Amanullah Zadran Law and Political Science Faculty،Department of Political Science and International Relations at Sheikh Zayed University, Khost - Afghanistan.
**Email:** amanullah.zadran@gmail.com

**Abstract**
This topic discusses The Stages of Freedom Deprivation and the places where it is deprived. Personal Freedom is not an absolute and unconditional right. In many countries of the world, especially in Afghanistan, Freedom has been recognized as a principle in the stages of criminal proceedings and deprivation of Freedom has been recognized as a last resort, exceptionally, with formal and substantive guarantees based on the law. Places of deprivation of liberty are those in which freedom is deprived, or confined. When a person's Freedom is deprived, there are three stages: 1- the stage of detention (surveillance), 2- the stage of accusation (arrest). 3- and the stage of crime (imprisonment). In order to better understand this issue, I have studied the stages of deprivation of liberty. In this study, I came to the conclusion that the stages of deprivation of liberty, whether temporary (such as in a detention center in the case of suspicion or in a detention center in the case of accusation) or permanent (such as in prison in the case of guilt), have a legal form, and without this, the deprivation of liberty of individuals would be illegal and a crime.
**Keywords:** Acquittal, Detention, Freedom Deprivation, prison, surveillance.

**مأخذونه**

جعفري لنگرودي، محمد جعفر. ( ۱۳۷۸ هـ ش ). ترمینولوژي حقوق. ( چ،۱۰ ). تهران: کتابخانه ملي ایران.
دانش، حفیظ الله. ( ۱۳۹۹ هـ ش ). د وجایبو حقوق. ج.۱. ( چ،۱ ). جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.
رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۴ هـ ش ). شرح و توضیح قانون اجراآت جزایي. ( چ،۲ ). کابل: انتشارات سعید.
رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۷ هـ ش ).اصول محاکمات جزایي. ( چ، ۱ ). کابل: انتشارات سعید.
زماني، یوسف.( ۱۳۹۳ هـ ش ). د جزایي محاکماتو اصول. ( چ،۱ ). ګردیز: خپروونکی، علمي خپرندویه ټولنه.
ستانکزی، پرویز. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). اصول محاکمات جزایي. ( چ،۱ ). کابل: انتشارات نوی مستقبل.
ستانکزی، نصرالله. واصل، عبدالاقرار. نجیب، ظل الرحمن. رامز پور، ابوالاحرار. فریده، قادري. حکیمي، بریالی.( ۱۳۸۷ هـ ش ). د حقوقي اصطلاحاتو قاموش. (چ،۱ ). کابل: پروژه عدلي و قضایي افغانستان.
عدلیې وزرات. ( ۱۳۸۴ هـ ش ). د محبسونو او توقیف ځایونو قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۳۲۱۹.
عدلیې وزرات. ( ۱۳۹۳ هـ ش ). د جزایي اجراآتو قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۱۳۲.
عدلیې وزرات. ( ۱۳۹۶ هـ ش ). د جزا کود. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۲۶۰، د عامه اړیکو او د نشراتو ریاست.
علامه، غلام حیدر. ( ۱۳۹۸ هـ ش ). اصول محاکمات جزایي افغانستان. ( چ،۳ ). کابل: ناشر، دانشګاه ابن سینا.
علم ستانکزی، محمد ظریف.(۱۳۹۳هـ ش). د جزایي اجراآتو او د محاکماتو اصول. ( چ،۱ ). کابل: خپرندوی، حامد رسالت ټولنه.
غلامي، حمیدالله. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). شرح قانون اجراآت جزایي. ج.۲. (چ،۱ ). کابل: مؤسسه انتشارات مدیقصو.

# په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو تعارض او د هغې حل لارې

پوهنوال محمد شفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
بریښنالیک: shafiqmandozy@gmail.com

**لنډیز**

د قوانینو تعارض د نړیوالو خصوصي حقوقو د بحث له موضوعاتو څخه مهمه موضوع ده، چې د نړیوالو خصوصي حقوقو د قضیو په حل کې مهمه ونډه لري او د دعواوو حل د قوانینو په اساس پای ته رسېږي، که چېرې د ټولو هېوادونو داخلي قوانین یو شان وی او یا د هېوادونو د اتباعو ترمنځ اړیکې نه وای او یا د هر هېواد اوسیدونکي په خپل هېواد کې ژوند کولی او مسافرت هم یوازې د هېواد په داخل کې صورت نیولی د تعارض د حل لهپاره هېڅ قواعدو ته ضرورت نه پیدا کېدو ، مګر واقعیت دا دی، چې د یوه پلوه د هېوادونو داخلي قوانین د یو او بل څخه متفاوت دي او له بله پلوه په مجرد د دې چې یو فرد د خپل هېواد د سرحد څخه د بل هېواد خاورې ته داخلېږي، د نوي قوانینو سره مخامخ کېږي او بل دا چې د یوه هېواد د اتباعو لهپاره په خپل هېواد کې پاتې کېدل غیر ممکن دي. همدارنګه د نړۍ په پرمختګ او ترقی سره د هېوادونو ترمنځ اړیکې زیاتې شوي دي، نن ورځ نشو کولای د یوه ملت د یوازیتوب تصور وکړو . هر هېواد د دې علاقه لري، چې د نړۍ په سطحه په نړیوالو اړیکو کې د خپلو اتباعو لهپاره د قوانینو اسانتیا رامنځته کړي او همدارنګه د نورو هېوادونو د وګړو لهپاره چې د نورو قوانینو په مخامخ کېدو سره د مشکلاتو مخنیوی وشي؛ نو د دې مسئلو د حل او فصل لهپاره په دې څېړنیزه کتابتوني مقاله کې په اجمالي ډول د قوانینو تعارض او د حل لارې د مطالعې لاندې نیول شوي دي.

**کلیدي کلمې:** بهرنی عنصر، تعارض، حقوقي معامله، قواعد، نړیوالې اړیکې

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين .**

د قوانينو د تعارض او حل قواعدو مفهوم دا دی، چې کله په يوه حقوقي رابطه کې خارجي عنصر په مختلفو شکلونو سره داخل شي، مثلاً هغه شی چې حقوقي معامله وربانديې اجرا کېږي په خارج کې واقع وي، يا حقوقي عمل په بهر کې وي او يا هم کېداى شي، هغه سند چې د هغې په اساس حقوقي عمل تنظيمېږي په خارج کې تنظيم شي او د دې اړتيا پيدا شي، چې په حقوقي معامله کې کومه قاعده پلي شي (کاظمی، ۱۳۸۳، ص.۱۱۶).

که چېرې په يوه حقوقي رابطه کې بهرنی عنصر نه وي؛ نو د قوانينو تعارض نه مطرح کېږي يعنې که د حقوقي معاملې اړونده طرفونه په داسې ډول باندې وي، چې بهرنی عنصر په کې وجود ونه لري؛ نو پدې مسئله کې په هېڅ صورت سره د قوانينو تعارض نه واقع کېږي، د قوانينو په تعارض او د قواعدو په تطبيق باندې هغه وخت بحث او ضرورت پيدا کېږي، چې په حقوقي معامله کې بهرنی عنصر داخل شي. يا د قوانينو د تعارض مسئله هغه وخت مطرح کېږي چې د خصوصي حقوقو يوه رابطه، د يو يا څو بهرني عواملو د دخالت پر اساس، په دوو يا څو هېوادونو پورې تړاو پيدا کړي، په دا قسم موادو کې مونږ بايد د قوانينو تعارض تشخيص او د حل قواعد ورته پيدا کړو.چې ذکر شوې برخې به مونږ په دې څېړنيزه کتابتوني مقاله کې د قوانينو تعارض پېژندنه د قوانينو د تعارض د پيدايښت لاملونه، د قوانينو د تعارض اساسي قاعدې او د حل لارې عنوانونو د مطالعې لاندې ونيسو.

**د څېړنې موخې:** د دې څېړنې موخه په نړيوالو خصوصي حقوقو کې د قوانينو تعارض او د حل لارو پيژندل دي او لوستونکي به وپوهېږي، چې د اشخاصو اړيکې په داخلي او نړيواله سطحه وجود لري، چې د داخلي اړيکو څخه را منځته شويو مسئلو او دعواوو ته د هېواد داخلي قواعد او قوانين راسيده گې کوي او نړيوالو مسئلو ته چې په هغه کې د قوانينو تعارض موجود وي، نړيوال قواعد راسيده گي کوي.

لوستونکي به په دې وپوهېږي، چې حقيقي او حکمي اشخاص له نړيوالو خصوصي قواعدو پرته په نړيواله سطحه اړتياوې نه شي پوره کولای؛ نو د دې اړتياوو د پوره کولو په خاطر بايد دولتونو تر منځ نړيوال اصول او قواعد وجود ولري؛ تر څو په هغه مسئلو او دعواوو کې چې بهرنی عنصر وجود ولري د حل لار پيدا کړي.

همدارنگه د دې کتابتوني مقالې په اساس به لوستونکي په نړيوالو خصوصي حقوقو کې د قوانينو تعارض او د حل لارو د باصلاحيته قانون تشخيص، د باصلاحيته رسمي مقاماتو تشخيص او د باصلاحيته محاکمو تشخيص وپيژني، چې په نړيوالو خصوصي حقوقو کې د قوانينو په تعارض او د هغې په حل کې مهم دي.

### د کار مواد او میتود

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منــابعو څخه په کې استفاده شوي ده، چې په نړیوالـــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي. او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبیات په نظر کې نیول شوي دي او هم په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.

څرنګه چې زما د لیکنې موضوع (په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو تعارض او د حل لارې یې) ده؛ نو کوشش شوی دی؛ تر څو په ډېره لنډه توګه په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو تعارض او د حل لارو، چې د داخلي او بهرنیو اشخاصو لەپاره اړین وي، په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

### د قوانینو تعارض پېژندنه

په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو د تعارض د حل لارې موضوع د هغه قاعدو مطالعه ده چې د هغې په اعمال سره کولای شــو، چې د هغې قضــیې په باره کې کوم چې په بهرني قانون پورې اړونده وي، د تطبیق وړ قانون پیدا کړو.

یا په بل عبارت د قوانینو تنازع د هغې مسئلې څخه عبارت ده، چې د خصوصي حقوقو یوه موضوع د یوه یا څو خارجي عواملو د دخالت په واســطه سره په دوو یا څو دولتونو پورې ارتباط پیدا کړي. په مجموع کې د قوانینو تنازع د هغه حالت څخه عبارت دی، چې د یوې حقوقي مسئلې په هکله د دوو یا زیاتو هېوادونو د قوانینو ټکر یا تنازع یا تناقض وجود ولري ( عبدالله، ۱۳۸۸، ص. ۲۹۷ )
همدا قســم د قوانینو تعارض او د حل لارې د نړیوالو خصــوصي حقوقو د موضــوعاتو له جملې څخه دی ، د قوانینو د تعارض او د محاکمو د تعارض د حل قواعدو معرفي کول او د هغوی څخه په عمل کې اســتفاده کول په نړیواله سطحه د اشخاصو مسئلو او دعواوو مشکلاتو حل ته راسیدنه کوي .
هغه تدابیر، چې د هر هېواد د قانون ګذارۍ مرجع په دغه لار کې پر مخ وړي هماغه د تعارض د حل لار ده دغه لارې او تدابیر باید د ټولنې د مصالحو، سیاسي تمایلاتو او په عین وخت کې د هېواد قدرت ، حاکمیت او استقلال په نظر کې ونیول شي. که چېرې د یوه هېواد عالي قـدرت د دې اجازه ورکړي، چې یو خارجي قانون د سرحد په داخل کې تطبیق شي په دې فکر کې دی چې د لوړ مصــلحت څخه یې ملاتړ کړی دی ځکه چې ځینې نور هېوادونه هم دېته اجازه ورکوي تر څو د هغې بعضې قوانیونو ته د اجرا قدرت ورکړي.

دغه رویه، چې د هر هېواد د قانون جوړونکو لخوا نســبت نورو هېوادونو ته صــورت موندلی دی، د معاصرې دورې او هر اړخیزې اوسنۍ نړۍ محصول دی. بهرني اقتصادي فعالیتونه، علمي تحرکونه او صنعتي پرمختګونه

دغه طریقو او تدابیرو د رامنځته کېدو لهپاره لاره هواروي او هغه اصـل چې مخکې موجود وو، چې قوانین باید د هېواد په قلمرو کې تطبیق شي له منځه ولاړل او د محاکمو د محل قانون نشيــ کولای، چې مطروحه مســئلې حل و فصل کړي او باید د نورو قوانیونو څخه استفاده وکړي چې دغسې حالت کې د قوانینو تعارض مسئله او د حل لارې مطرح کېږي ( کاظمی، ۱۳۸۳، ص،۱۱٦).

**د قوانینو د تعارض د پیدایښت لاملونه**

په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د قوانینو د تعارض رامنځته کېدل فوري او تصادفي نه دي، بلکې تعارض د یو شمېر لاملونو په اساس را منځته کېږي، چې لاندې یې په لنډ ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

**الف- اقتصادي لامل**

له کله راهیسې، چې د هېوادونو د وګړو ترمنځ اقتصادي راکړې ورکړې زیاتې شوي دي؛ نو انسانان اړشول، تر څو د سوداګریزو چارو د سمون په موخه نورو هېوادونو ته سفر تر سره کړي او هلته تړونونه لاسلیک کړي؛ نو داچې د هر هېواد کورني قوانین په دې برخه کې بیلا بیل صراحتونـــه لري، نوموړي وګړي په بېلا بېلو هېوادونو کې د ســـوداګریزو تړونونو د غوټه کولو پر مهال د بېلابېلو قوانینو سره مخ کېدل، چې دغه د اقتصـــادي اړیکو پراختیا په حقیقت کې د قوانینو د ټکر لومړنی لامل ګڼل کېږي ( ناصح، ۱۳۹۷، ص،۹۵).

**ب ـ حقوقي لامل**

د هېوادونو قوانین یو د بل سره توپیر لري، چې له همدې امله د وګړو د معاملو پر وخت د دغو قوانینو ترمنځ تعارض رامنځ ته کېږي. ولې که په یوه حقوقي اړیکه کې د هېوادونو د کورنیو قوانینو ترمنځ توپیر شتون ونه لري؛ نو په دې صورت کې د قوانینو د ډلې څخه مناسب قانون بې مفهومه کار دی او په دې صورت کې د قوانینو ټکر اصلاً نه رامنځ ته کېږي، یعني د قوانینو تعارض حقوقي لامل دا دی، چې هېوادونه د خپلو مصلحتونو او ګټو ته په کتو سره قوانین را منځته کوي، چې نوموړي مصلحتونه او ګټې د یوه هېواد د بل هېواد سره توپیر لري او په نتیجه کې د قوانینو واحد والی له منځه ځي او د قوانینو تعارض واقع کېږي (اخونزاده، ۱۳۹۳هـ ش،ص.۱٦،۱۷).

**جـ سیاسي لامل**

د قوانینو د تعارض د رامنځ ته کېدو بل لامل دا دی، چې د هېوادونو ملي قانون جوړوونکي مني، چې په ځینو وختونو او موضوعاتو کې بهرنی قانون په خپله خاوره کې پلی کړي، ولې که چېرې ملي قانون جوړونکي یوازې خپل ملي قوانین د ټولو کورنیو او بهرنیو وګړو لهپاره په مطلق ډول د پلي کیدو وړ وګڼي؛ نو د قوانینو تعارض

مفهوم نه ورکوي، نو په دي اســاس ســیاسي او اجتماعي کړنو ته په کتو قاضي مکلف دی، چې د قوانینو د تعارض په صورت صالح قانون پیدا او تطبیق کړي (ابراهیمي، ۱۳۸۳، ص. ۳۸، ۳۹).

**د قوانینو د تعارض په وخت کې د قانون، رسمي مقاماتو او د محکمو د صلاحیت تشخیص**

لکه چې مخکې وویل شول، چې د قوانینو په تنازع کې، د رسمي مقاماتو او د محکمو د صلاحیت د تشخیص مسئله مطرح ده، چې دغه د صلاحیت تشخیص عملاً د دریو جهاتو په نظر کې نیول کېږي چې عبارت له، د قانون له لحاظه، د رسمي چارو له لحاظه او د محکمې له لحاظه، چې هر یو یې مختصراً شرحه کوو.

الف - د صلاحیت تشخیص د قانون له مخې: د قوانینو په تنازع کې تر ټولو د مخه په یوه حقوقي اړیکه کې د پلي کېدلو وړ قانون پیژندل لازم او ضروري دی، مثلاً یو فرد غواړي چې په یوه هېواد کې ازدواج وکړي نو دغه ازدواج به د کوم قانون مطابق وي، مثلاً د عقد د محل قانون، د متبوع هېواد د قانون، د اوسیدنې د محل قانون او که دکوم بل قانون ؟

ب - د صلاحیت تشخیص د رسمي مقاماتو ( چارواکو ) له مخې: پدې اړه غواړو هغه رسمي چارواکي وپېژنو کوم چې د یوې حقوقي رابطې په هکله د واک ( صلاحیت ) لرونکي وي د بېلګې په توګه یو بیګانه ( پردی ) سړی غواړي، چې په افغانستان کې د یوه کس لەپاره وصیت وکړي نو غواړو پوه شو، چې د دې وصیت نامې د تنظیم لەپاره کوم رسمي چارواکي ( مقام ) ته مراجعه وشي ؟ آیا د دې وصیت کوونکي د متبوع هیواد قونسل ګیري ته، یایې سفارت ته او که د محل محکمې ته مراجعه وشي؟ نو په دې ځای کې د رسمي چارواکو ترمنځ تنازع پېښیږي او مونږ باید هغه تعیین کړو ( عبدالله، ۱۳۸۸، ص.۳۰۱).

ج ـــ د محکمې له لحاظه د صلاحیت تشخیص: د تنازع دریمه نمونه عبارت ده د محکمې د تعین څخه، چې کومه محکمه د دعوې د هوارولو ( حل و فصل ) صلاحیت لري کومه چې د نړیوالو اړیکو په پایله کې منځته راغلي، د بېلګې په ډول غواړو پوه شو، چې ایا په افغانستان کې چې کوم بهرني وګړي میشت دي او د هغې ترمنځ څه اختلافات رامنځته شي یا داسې یوه دعوه کې چې د افغانستان څخه بهر د یوه مال پر سر وي ( مندوزی، ۱۴۰۲، ص. ۱۷۹).

## د قوانینو د تعارض اساسي قاعدې او د حل لارې

په خصـــوصي نړیوالو حقوقو کې قوانین او مقررات د هغه قواعدو د ټولګې څخه دي، چې په یوه ټاکلي موضـوع باندې د پلي کېدلو وړ وي، د بېلګې په توګه کله چې د شـخصي ـ احوالو د اصـطلاح څخه په نړیوالو

خصــوصي حقوقو کې کار اخلو؛ نو د دې څخه مطلب هغه قواعد دي، چې د حقوقي اهلیت، مدني حالت او شخصي اړیکو یعنې د فامیل حقوقو او د مېراث د حقوقو په اړیکو پورې اړوند مسایل اداره او تنظیموي.

دلته مونږ هغه عمده قوانین تر څېړنې لاندې نیسو، چې په زیاتو قضیو کې کار ترې اخیستل کیږي، چې عبارت دي له: انتخاب شــوی قانون، د قرارداد د محل قانون، د قرارداد د محل اجراء قانون، ملي قانون، د اوســیدنځي قانون، د محکمې د مقر قانون، د جرم د وقوع د محل قانون، پولې قانون، د کار د محل قانون، اصــلي علت ته د مراجعې قانون، د شي د موقعیت قانون او د قانونګذارۍ او قضــایي صــلاحیت. چې هر یویې په اجمالي ډول د مطالعې لاندې نیسو.

۱:- انتخاب شــوی قانون: نوموړی قانون هغه وخت د بحث وړ دی، چې په یوه حقوقي اړیکه کې چې د بهرني عنصرــ لرونکي وي د اړخونو ترمنځ د قانون د پلي کېدلو په مورد منازعه رامنځته شي او د حل لهپاره یې قانون مخکې له مخکې غوره شــوی وي، مثلاً: څلور نفره مختلف التابعیت کســان د (الف) په هېواد کې قرارداد کوي او یوه تصـدي تاسیسـوي او د قرارداد اړخونه د قرارداد په یوه ماده کې یادونه کوي چې که چېرې کومه ستونزه او شخړه پیدا شوه د هغې د حل لهپاره به د (ب) هېواد قانون د پلي کېدلو وړ وي ( ناصح، ۱۳۸۷، ص. ۷۹).

۲:د هغه محل قانون چې هلته قرارداد منعقد شوی وي: د نوموړي قانون څخه هغه مهال کار اخیستل کېږي چې د شــخړې د حل لهپاره مخکې قانون نه وي تعین شــوی یعنې انتخاب شــوی قانون نه وي موجود. په دې قســم حالاتو کې هغه قانون د پلي کېدو وړ دي، چې هلته قرارداد منعقد شوی وي. د افغانستان د مدني قانون په (۲۷) ماده کې هم نوموړی مطلب ذکر شوی دی ( صافی، ۱۳۹۷، ص.۱۶۹).

۳: د قرارداد د اجراء د محل قانون: نوموړی قانون هغه مهال د پلي کېدلو وړ دی چې یو شــخص د بل شــخص سره په یوه محل کې قرارداد وکړي او حقوقي اغېزې یې په بل هېواد کې ظاهرېږي، د بېلګې په توګه یو هندي سوداګریز شرکت د یوه جاپاني شرکت سره قرارداد کوي چې څو موټر هندي سوداګر ته سپاري که په نوموړي حالت کې یو د اړخونو څخه خپله وجیبه سرته ونه رسوي او مقابل لوري د خسارې غوښتنه وکړه نو په د صورت کې که چېرې مخکې قانون نه وي ټاکل شــوی؛ نو په دغه حالت کې د هندوســتان قانون د پلي کېدو وړ دی ځکه چې د قرارداد د اجراء محل هندوسـتان دی، البته که په قرارداد کې د هغه محل قانون چې په هغه کې عقد منعقد شوي وي تعیین کړي؛ نو بیا برعکس د هغه محل قانون پلي کېږي ( ناصح، ۱۳۹۲هـ ش، ص.۱۰۵).

۴: ملي قانون: نوموړی قانون یو مهم قانون دی، چې د خصــوصي نړیوالو حقوقو په ډله کې راځي او د نړیوالو خصوصي حقوقو ډېرئ قضیې د نوموړي قانون په واسطه سره حل و فصل کېږي، ملي قانون د شخص د متبوع دولت د قانون څخه عبارت دي، د بېلګې په توګه په یوه بلژیکي وګړي باندې باید د بلژیک قانون پلی شي ځکه همدا د نوموړي متبوع قانون دی. دلته پوښــتنه پیدا کېږي، چې که چېرې یو شــخص مضــاعف تابعیت ولري په نوموړي حالت کې کوم قانون د پلي کېدلو وړ دي؟ په ځواب کې باید ووایو چې هغه ملي قانون پرې پلی کېږي کوم چې د نوموړي لەپاره ډېر اغیزمن وي.

۵: د استوګنځي (اقامتګاه) قانـــــون: د ملي قانون تر څنګ یو بل عمده قانون چې اکثرا د نړیوالو خصـوصي حقوقو قضیې په هغه کې حل وفصل کیږي د استوګنځي د قانون څخه عبارت دی، چې شخص هلته اوسیږي او اقامت ولري، همدا ډول د هغه هېواد د قانون څخه عبارت دي، چې شخص په هغه کې په مؤقتي او یا دایمي ډول ژوند کوي (نصیری، ۱۳۸۳ هـ ش، ص. ۱۴۴).

٦: د محکمې د مقر قانون: په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د مقر قانون مفهوم دا دی، چې په ځینو وختونو کې د یوې حقوقي موضـوع د حل وفصـل په مورد قانون معین او معلوم نه وي پداسې مواردو کې باید د هغه هېواد قانون پلي شي، چې د هغه هېواد په محکمه کې نوموړي قضیه (دعوا) پکې تر جریان لاندې وي.

په عملي ډګر کې د نړیوالو خصـوصي حقوقو ډېرئ موضـوعات په نوموړي قانون کې شامیلیږي، سربېره پردې د شکلي قوانینو او د محکمو د اصولو له لحاظه هم باید نوموړي ډول موضوعات د محکمې د مقر د قانون تابع وي. دلته باید یادونه وکړو، چې د محکمې د مقر قانون او داخلي قانون یو د بل سره منطبق نه دي. په نوموړو حالاتو کې محکمه هغه قانون نه پلی کوي چې هغه د محکمې داخلي قانون وي، د بېلګې په توګه ځینې منقول اموال په بهر کې واقع دي اما قضیه یې په افغانستان کې مطرح کیږي او دعوا په افغانستان کې جریان پیدا کوي دلته د افغانستان قضات خپل داخلي قانون پلی کوي بلکې د هغه محل قانون په نظر کې نیسي-چې چېرته مال موقعیت لري، چون دعوا په افغانســتان کې جریان پیدا کوي د محکمو د اصـولو له نګاه څخه د محکمې د مقر قانون پلی کېږي، باید یادونه وکړو چې محکمې د شــکلي قوانینو د اړخه هېڅ کله بهرني قوانین نه پلي کوي بلکې د تل لەپاره د خپل هېواد قوانین په نظر کې نیسي.

۷: د هغه محل قانون چې جرم هلته واقع شـوی وي: د جزایي نړیوالو حقوقو په سـاحه کې نوموړي اصــل منل شــوی دی او نړیواله بڼه یې غوره کړې ده. (جرمونه د هغه محل د قانون تابع دي چې په هغه محل کې یې

صـورت نيولی وي ) د بېلګې په توګه که چېرې د (الف) هېواد وګړي په (ب) هېواد کې د جرم مرتکب شي په نوموړي شخص باندې د (ب) هېواد قانون پلی کيږي ( صافی، ۱۳۹۷ هـ ش، ص. ۱٦۱،۱٦۲).

۸: د يوه واحد او معين پول ( پيســو ) قانون: د نوموړي قانون څخه منظور دا دی، چې که چېرې يو جاپاني شرکت او يو امريکايي شرکت د امتعې د ليږد (انتقال) په خاطر قرارداد منعقد کړی وي او جاپاني شرکت ونه شي کولی چې خپله وجيبه اجراء کړي او مقابل اړخ ته ترېنه ضرر متوجه شي نو جاپاني شرکت مکلف دی چې جبران خساره د هغه پيسو په اساس ورکړي چې د قرارداد په مهال مروجې وي يعنی ډالر تاديه کړي ( ناصح، ۱۳۹۲هـ ش. ص.۱۰۷).

۹: د کار د محل قانون: د نوموړي قانون څخه هغه مهال کار اخيســتل کيږي چې شــخړه ( منازعه) د کار د هغه حقوقو په ساحه کې وي چې بهرني عنصر ـ ولري د بېلګې په توګه يو فرانسـوي په هالنډ کې کار کوي او دلته د کارګرو او کارفرما ترمنځ د کار د حقوقو په مورد شـخړه رامنځته شي نو دلته د هالنډ قانون پلی کيږي څکه، چې فرانسوی عملاً په هالنډ کې په کار بوخت دی؛ نو بايد د هالنډ حقوق شخړه هواره کړي.

۱۰: اصلي علت ته د مراجعې قانون: که چېرې د نړيوالو خصوصي حقوقو په يوه موضوع کې د موضوع د حل وفصـل لهپاره نور قوانين ونه موندل شي په نوموړي صـورت کې اصلي علت ته د مراجعې قانون د پلي کېدو وړ دی، مثلاً يو افغاني شرکت د آلماني شرکت سره قرارداد منعقد کوي اما وروســته يو د اړخونو څخه خپله وجيبه نه اجراء کوي او مقابل اړخ ته زيان اوړي، د دې قانون په بنسټ په نوموړي صورت کې بايد هغه اصلي علت ته مراجعه وشي چې د هغه په اساس نوموړی شرکت خپله دنده سرته نه رسوي (صافی، ۱۳۹۷ هـ ص.٦٣، ٦٤ ).
۱۱: د هغه محل قانون چې شــی هلته واقع وي: نوموړی قانون د هغه د محل د قانون څخه عبارت دی، چې هغه مال چې شـخړه پرې پيدا شـوي ده هلته واقع وي. د افغانسـتان د مدني قانون ( ۲٦ ) ماده نوموړی قانون په عيني او مالي حقوقو باندې د پلي کيدو وړ بولي.
۱۲: د قانونګذاری او قضايي صلاحيت:- د متعارضو قوانينو صلاحيت د قانونګذاری په لحاظ عبارت دی د هغه قانون د تشــخيص څخه چې په اړونده ( مربوطه) معينه موضــوع باندې حکومت کوي او قضــايي صــلاحيت عبارت دی د هغه محکمې د تشخيص څخه چې نوموړي موضوع ته د رسيدګی صلاحيت ولري.
۱۳: داخلي يا درون مرزي قانون: په خصــوصي بين المللي حقوقو کې داخلي قانون د هغه قانون څخه عبارت دی، چې پر هر کس او شي باندې چې د سرحداتو په داخل کې واقع وي د تطبيق وړ وي، د دې ښــه مثال جزايي قوانين دي چې د هر هېواد جزايي قوانين داخلي يا درون مرزي دي يا د غير منقولو په هکله د هېوادونو قوانين درون مرزي دي.
۱۴: خــارجي يا بيرون مرزي قانون: کله چې د يوه هېواد قوانين د دې اجازه ورکړي، چې د يوه بل هيواد قوانين په يوه خاصه موضـوع کې اعمال شي؛ نو دغه د بل هيواد قانون ته بهرنی يا بيروني قانون وايي، مثلاً د خارجيانو

د شخصي-احوالو په هکله د افغانستان او ایران قوانین بهرني یا بیرون مرزي دي او ځکه ورته بهرني وایي، چې د یو بل هېواد قوانین د افغانستان یا د ایران په خاوره کې عملي کېږي.

۱۵- شخصي قوانین: عبارت د هغه قوانینو څخه دي، چې موضوع یې هغه حقوق وي، چې یو انسان یې د اهلیت او وضعیت له لحاظه لري.

۱۶: ذاتي قوانین: عبارت له هغه قوانینو څخه دي، چې موضوع یې مالي حقوق وي ( نصیری،( ۱۳۸۴ هـ ش، ص، ۱۴۳،۱۴۴).

## د قوانینو د تعارض د حل طریقې

د متنازعو قوانینو د حل لهپاره یا په بل عبارت د هغه قاعدې د تعینولو لهپاره چې د هغو په واسطه سره په نړیوالو اړیکو کې د قوانینو د تنازع مسئله حل و فصل کېږي په عمده ډول دوه لارې او طریقې وجود لري چې عبارت دي له اصولي، حقوقي او منتخبې طریقې شتون لري، چې هر یو په لاندې ډول د مطالعې لاندې نیسو

### الف ـ اصولي طریقه

ددې روش پیروان د قوانینو د تنازع د حل لهپاره مخکې له مخکې یوه قاعده او اصل په مسلم ډول قبلوي ( قبول کوي ) او خپل ټول نظریات د هغه په اساس عیار وي او بیا د نوموړي اصل په اساس او د هغه په رڼا کې هغه احکامو ته چې په ځانګړو مواردو کې ورته اړتیا پیدا کېږي لاسته راوړي او کته ترې پورته کوي، د نوموړي روش پیروان عقیده لري، چې خصوصي نړیوال حقوق په بشپړ ډول حقوقي بڼه لري او نوموړي حقوقي رشته د سیاست د عواملو تر تاثیر لاندې پداسې ډول قرار لري چې د دې حقوقو موخه د حقوقو له مخې د یوه بهرني حکم او عدالت خوندي کول په واقعي صورت سره نه وي بلکې د سیاسي ملاحظاتو په اساس حقوقي لاسته راوړنې یې د خپلو وړانګو لاندې راوستي دي؛ نو په دې اساس پدې برخه کې د قوانینو د تنازع د حل اصلي او اساسي لاره یواځې د نوموړو حقوقو سیاسي خصوصیات ( ځانګړتیاوې ) دي، نو دغه پورته ذکر شوی روش ( اصولي روش ) د هغه پیروانو لهپاره د قوانینو د تنازع اساسي لار ده ( ارفع، ۱۳۸۹، ص. ۵۳).

### ب ـ حقوقي طریقه

حقوقي روش د اصولي روش د پیروانو برعکس د قوانینو د تنازع د حل لهپاره د عملي نظریاتو او ټولو قبلي او ړومبنیو فرضیو څخه په قطع نظر سره د هغه حکم د پیدا کولو لهپاره پلټنه او هڅه کوي، چې د قوانینو د تنازع د حل لهپاره مساعد وي، د دې مکتب پیروان د یوې معینې حقوقي قضیې سره د مخامخ کېدو په صورت کې لکه د نسب، ازدواج او قراردادونو په صورت کې د هر مملکت ځانګړي منافع په نظر کې نه نیسي- بلکې د یوه

مناسب او وړ قانون د موندلو هڅه کوي خلاصه دا چې د سیاسي عواملو څخه صرف نظر کېږي او د دولت د اتحاذ شویو اصولو په خاطر د مساعدو او نامساعدو حالاتو څخه ډډه کوي، د بېلګې په ډول د دې روش پیروان د یوه تحقیق څېړنې په پایله کې که چېرې دې هدف ته ورسېږي، چې فرضاً په فلانی مسئله یعنې په شخصي-احوالو باندې باید ملي قانون پلی شي، نو په همدې خبره عمل کوي او دېته نه ګوري چې مملکت مهاجر قبلوونکی دی او که مهاجر لېږدوونکی؟. په هر صورت باید دغه قاعده پلي شي چې په د اساس په حقیقت کې د دې روش پیروان ځانونه د یوه فوق ملي قانونپوه په حیث ګڼي، چې ګویا قانون د ټولو لهپاره وضع کوي نه یواځې د خپل ملت لهپاره وضع کوي (الماسی، ۱۳۸۵، ص. ۵۵،۵۴).

**ج ـ منتخبه طریقه**

د قوانینو د تنازع د حل (اصولي او حقوقي) لارې تحلیل شي؛ نو لیدل کېږي، چې په ذکر شویو طریقو کې یو ډول له حده زیاتوال او کموالی وجود لري، په داسې حال کې چې ځینې مسایل له سیاسي مسایلو سره تړاو لري او ځینې نور یوازې حقوقي اړخ لري. له دوو میتودونو څخه یوازې د یو په غوره کولو کې باید تېروتنه ونه شي، بلکې یوه منځمهاله طریقه غوره کړو او د سیاسي ګټو او حقوقي اړخ په رعایت دواړه مسایل په ګډه په پام کې ونیسو او له خورا مهم څخه تر ټولو مهم انتخاب کړو. موږ پوهېږو چې ځینې مسایل لکه تابعیت ډېر سیاسي اړخ لري او په دې برخه کې باید قوانین د سیاسي ملحوظاتو په پام کې نیولو سره جوړ شي؛ خو د ملکیت او قراردادونو په مسئله کې موږ سیاسي اړخ نه شو لیدلی، بلکې د سیاسي ګټو په پر تله د شخصي ګټو شتون ډېر وي او دلته باید د حقوقي مقرراتو اطاعت وشي او باید د مقرراتو د تنظیم کولو پر مهال سم حقوقي قاعده غوره شي. دا ټکي کله ناکله د دې سبب کېږي چې ډېری مسایل نسبي وي او ممکنه ده چې نن ورځ یوه مسئله پیاوړې سیاسي بڼه ولري، مګر یو څه وخت وروسته برعکس واقع کېږي. له همدې امله، دا اړینه ده چې انتخاب شوي مناسبه طریقه د نړیوالو خصوصي حقوقو د موضوعاتو په حل کې په نظر کې ونیول شي، چې په دې سره به موږ وکولی شو تر څو د سیاسي یا حقوقي طریقو له حده زیاتوالی او کموالي د منځته راتلو مخه ونیسو (مندوزی، ۱۴۰۲، ص. ۲۴۳، ۲۴۴).

**پایله**

د نوموړي کتابتوني څېړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته ورسـیدم، چې د نړیوالو حقوقو او خصـوصًـا د نړیوالو خصـوصي حقوقو په کتابونو کې د قوانینو د تنازع د تاثیراتو څخه ډېره یادونه کېږي، چې په نړیوالو حقوقو کې د قوانینو تنازع کوم حقوقي اثارات منځته راوړي، او د حل په مورد کې یې دولتونه، نړیوال سـازمانونه، نړیوالې اتحادیې، نړیوال شرکتونه او افراد تر یوه حده توانیدلي دي.

همدارنګه د نړیوالو حقوقو د منازعاتو پیدا کوونکي علتونه او عوامل، چې هېوادونه په زیاتو برخو کې د قوانینو د تنازع سره مخامخ دي، بعضې هېوادونه صرف په شخصي احوالو کې د قوانینو د تنازع سره لاس او ګریوان دي، په ځینو هېوادونو کې د قوانینو د تنازع په خاطر د قوانینو مادي جوړښت ته ضرورت واقع کېږي او په بعضو هېوادونو کې د قوانینو د هماهنګۍ لهپاره د معاهداتو امضاء کول اړین دي او له بله پلوه د دې مسایلو د حل لهپاره بعضې حقوقي ارګانونه وجود لري چې نوموړو مسایلو د حل لهپاره رسیدګي کوي.

همدا قسم په نړیوالو حقوقو کې د قوانینو د تنازع مربوطه موضوعات په اوسني وخت کې په داخل د هېوادونو او هم په نړیوال نظام کې د اساسي او مهمو موضوعاتو څخه دي، دولتونه او نړیواله ټولنه د قوانینو تنازع پېژندګلوي د اجرا د مرحلې په اساس تشخیصوي، له بله پلوه د قانون وجود چې د انسان ژوند ته سرو سامان ورکوي او د هغې د سعادت تضمین کوي؛ نو باید چې دولتونه د قوانینو د تصویب په وخت کې د نورو هېوادونو قوانین د خپلو ملي منافعو په نظر کې نیولو سره تر یوې اندازې پورې د قوانینو د تنازع څخه په کې مخنیوی وکړي؛ نو په هغه صورت کې قانون کولی شي، چې د دولتونو او افرادو د حمایت په مورد کې تاثیرات ولري؛ هغه بنسټ یا سازمان چې د قوانینو د تطبیق او اجرا او د ټولنو امورو اداره په غاړه لري دولت نومول کېږي، چې د بشر د ژوندانه له ضرورتونو څخه ګڼل کېږي او پرته د دولت، او قانون څخه انساني ټولنه د هرج و مرج سره مخامخ کېږي او د نابودۍ او زوال لاره به تعقیبوي، څرنګه چې انسان ټولنیز موجود دی او له بله پلوه د ژوند د ادامې ورکولو لهپاره د نورو وګړو او جامعې ته ضرورت لري، ترڅو چې خپلې اړتیاوې پوره کړي، نو د دې مسایلو د حل لهپاره باید هر شخص ځانګړی قانون ولري، کچېرې کوم شخص ځانګړی قانون ونه لري، نو د هغې شخص لهپاره به معین هېواد وجود ونه لري او د هغې موضوعاتو ته به کوم هېواد او دولت رسیده ګي ونه کړي او یا هم که یو شخص د یوه هېواد څخه اضافه قوانین ولري، د هغې موضوعاتو ته رسیده ګي هم د مشکلاتو څخه خالي نه ده، نو په دې اساس ویلی شو چې په نړیوالو حقوقو کې د قوانینو تنازع یوه مهمه او اساسي موضوع ده، د دولتونو په منځ کې، چې بغیر د دې موضوع څخه د ژوند کولو ډېر امکانات له منځه ځي.

**وړانديزونه**

۱ـ د قوانينو تعارض د مخنيوي لهپاره د دولتونو په منځ کې بايد معاهدات اوتړونونو ترسره شي؛ تر څو چې هر هېواد د قوانينو د تصويب په وخت کې د نورو هېوادونو سره د قوانينو مادي او ماهيتي يو شان والی ولري.

۲ هېوادونه د نړيوالو حقوقو د تعارض په اړه خپل داخلي قوانين داسې تنظيم کړي، چې د قوانينو د تعارض په صورت کې يوه معين قانون ته ترجيح ورکړل شي؛ ترڅو ټول اشخاص د نوموړي قانون څخه استفاده وکړي.

۳ـ د قوانينو د تعارض لهپاره بايد په نړيواله سطحه عمومي قواعد او اصول شتون لري او د تطبيق لهپاره يې په نړيواله سطحه اجرايوي تضمينونه د هېوادونو ترمنځ وجود ولري.

۴ـ هېوادونه بايد د قوانينو تعارض د حل لهپاره داخلي قوانين د نړيوالو اصولو سره برابر او همغږي کړي.

# Conflict of laws and their resolution in private international law

Associate Professors Mohammad Shafiq Mandozai, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Administration and Diplomacy Department.
Email: shafiqmandozy@gmail.com

**Abstract**

Conflict of laws is an important topic of discussion in private international law, which plays an important role in the resolution of private international law cases, and the resolution of disputes ends on the basis of laws, even if the internal laws of all countries were the same, or if there were no relations between citizens of countries, or if the residents of each country could live in their own country. And since travel only takes place within the country, there is no need for any rules to resolve the conflict, but the reality is that, on the one hand, the internal laws of countries are different from each other, and on the other hand, simply because an individual enters the territory of another country from the border of his country, he is faced with new laws, and on the other hand, it is impossible for citizens of one country to remain in their own country. Also, with the development and progress of the world, relations between countries have increased. Every country is interested in creating legal convenience for its citizens at the global level and in preventing problems for citizens of other countries when facing other laws; therefore, in order to solve and resolve these problems, this research bibliographic article has been comprehensively studied on the conflict of laws and the solutions.

**Keywords:** Conflict, rules, international relations, legal transaction, external element.

## منابع

ابراهیمي، نصر الله. (۱۳۸۳ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی،( چ.۱)، تهران: نشرسمت.

اخونزاده، عبیدالله. (۱۳۹۳هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق.چ۱: (ب.ځ) .

ارفع نیا، بهشید. ( ۱۳۸۹هـ ش). حقوق بین الملل خصوصي،جلد دوم: انتشارات بهتاب.

صافی، شمس الاسلام شمس. (۱۳۹۷). خصوصي بین المللی حقوق، ( چ۲). جلال اباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

عبد الله، نظام الدین (۱۳۸۸ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی، (چ.۱)، افغانستان.کابل: نشرسعید.

کاظمی، سید علی (۱۳۸۳هـ ش) .حقوق بین الملل خصوصی، ( چ۱)، تهران: نسل نیکان.

الماسی، نجاد علی(۱۳۸۵ هـ ش).حقوق بین الملل خصوصی،( چ . ۴)، تهران: نشرمیزان.

مندوزی، محمد شفیق(۱۴۰۲ هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق،(چ.۱): یار خپرندویه ټولنه

ناصح، ولی محمد (۱۳۹۷هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی،کابل: انتشارات سعید؛

ناصح، ولی محمد(۱۳۹۲هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی، کابل: انتشارات سعید

نصیری، محمد(۱۳۸۳ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی، ( چ ۱۰) . تهران: نشرآگاه

نصیری، محمد(۱۳۸۴ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی،(چ.۱۱). تهران: نشرآگاه

# د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو کې د غبرونو د چارونو (نقشونو) څېړنه

پوهنوال میاولي شاه میاخېل، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد.
برېښنالیک: miawalishah@gmail.com

**لنډيز**

د دغې مقالې په لوستلو سره موږ کولی شو، چې ووایو، ژبه له آره له غبرونو جوړه ده، چې د ژبې بسټ اولیه ماده جوړه وي؛ خو په دې کې ټول نه، یوازې ژبني غبرونه راځي، ځکه چې دا غبرونه مانیز توکي جوړوي او له همدې امله د غبرنو ځینې ځانګړنې هم، چې مانیز بدلون راولي، پر دې بحث ورګډېږي، له یو بل سره د غبرنو پیوستون، بدلون او ځانګړنې تصادفي نه دي، بلکې د یوه نظام تابع دي او پر دې بنسټ ویلای شو، چې د کلمې، عبارت، فقرې او جملې په کچ د ماناوو او ویناوو تولید د اولیه مادې له انسجامه راپیداکېږي. اوس به موږ د پښتو ژبې د غبرونو پر نقشونو پوه شو، دا غبرونه(زنځیري، نازنځیري) په مانیزه پروسه کې یوازې بنسټي نه، بلکې فعال نقش لوبوي او هم د اوب له مخې ډول ډول چارونه سرته رسوي، دغه څېړنه کتابتوني ده، د څېړنې مواد او وسایل معتبر، باوري او نوي چاپ شوي کتابونه او برېښنایي پاڼې دي، چې ګټه ترې اخېستل شوې ده. په چارواله ژبپوهنه کې د غبر خصوصیات په پام کې نیول کېږي او د لوړ، ټیټ، قوي او دوامداره غبر، چارواله ژبپوهنه هغه وخت پر غبر خبرې کوي، چې په وینا کې نقش ولري او په وینایيز بهیر کې بېلا بېل ډولونه لري. د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو کې د غبرونو د چارو(نقشونو) څېړنه تر سرلیک لاندې مقاله کې د چاروالې ژبپوهنې پیوهنې تیوري په پښتو ژبه کې تطبیق شوې ده او هم یې په دغو مواردو بحثونه شوې، لکه: د غبرونو(زنځیري، نازنځیري) پېژندنه، وګړمنځی برچار، په وګړمنځي برچارکې د وګړیو نقش، اهنګ د وګړمنځي برچار د فقرې په نقش کې، د اهنګ مانیز چارونه، اهنګ د اوب پر بنسټ بېلا بېل چارونه، د خج مانیز چارونه، د بېلتون او پیوستون مانیز چارونه، غبریز ژبنی اوب او یو شمېر نور موضوعات بحث شوي دي.

**کلیدي کلمې:** غبرونه، مانیز نقش، نقش، وګړمنځی برچار، وینایيز بهیر.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمد الله رب العلمین والصلوت والسلام علی سیدالمرسلین واعلی آله واصحابه اجمعین بعده!**

د البقرة سورت ۳۱ ایات کې الله تعالی فرمایي: وعلم آدم الاسماء کلها ثم عرضهم علی الملایکة فقال انبوني باسماء هولاء ان کنتم صادقین! ژباړه: خدای تعالی آدم ته د اسماوو علم او د ژویو نومونه وروښودل، بیا یې پرښتو ته وړاندې کړ او ویې ویل: که رښتیني یاست، نو د دې شیانو نومونه راوښیئ (البقرة سورت ۳۱ ایات).

د پورته ایات شریف نه مالومېږي، چې ژبه انسان ته د خدای له خوا ورکړل شوه، نو طبعي ده چې قواعد یې هم الهي ورکړه وه، چې ادم ته وشوه. ژبه له اره له غږونو جوړه ده، چې د ژبې بنسټ یا اولیه ماده جوړوي، خو په دې کې ټول نه، یوازې هغه غږونه چې مانیز توکي جوړه وي، د مطالعې وړ دي، له همدې امله د غږونو ځینې ځانګړنې هم، چې مانیز بدلون راولي پر دې بحث ورګډېږي څرنګه چې ژبه د یوه غږیز نظام او جوړښت په توګه موجوده ده، چې د انسانانو د اړیکو د ټینګښت سبب کېږي او د یوې ټولنیزې ښکارندې په سترګه کتل کېږي، د انسانانو ترمنځ بېلا بېل نقشونه لري. چارواله ژبپوهنه عموماً پر نقش خبرې کوي، کله چې وینا رامنځته کېږي یا افهام او تفهیم کېږي، دې کې کوم شیان نقش لري، چې یو له هغو غږونه دي، همدا غږونه  په ژبه یا ویناییز بهیر کې ډېر اهمیت لري، په چارواله ژبپوهنه کې د غږ خصوصیات په پام کې نیول کېږي او د لوړ، ټيټ، قوي او دوامداره غږ، چارواله ژبپوهنه هغه وخت پر غږ خبرې کوي، چې په وینا کې نقش ولري او په وینایيز بهیر کې بېلا بېل ډولونه لري. د دغې څېړنې اړتیا او ستونزه په دې کې وه، چې موږ ځان ته معلومه کړو، چې چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ د غږونو چارونه وپېژنو، څکه یو شمېر مواردو کې یې د چارونو تر منځ فرق او بیلتون ستونزمن کړی و او زه یې دغه څېړنې ته وهڅولم او د هغو لوستونکو سره به مرسته وکړي چې په اړوندو برخوکې یې ستونزې لرلې، او همدرنګه د دې څېړنې اهمیت په دې کې و، چې په وګړمنځي برچار کې یا د وګړو ترمنځ د غږ پر تعامل، ماهیت او څرنګوالي پوه شو او دندې یې وپېژنو او هغه پیچلتیا چې په یاده برخه کې موجوده وه، د څېړنې په جریان کې هغې ته ځواب وویل شو او اړوند موارد په روښانه ډول معلوم شوي دي، دغه څېړنه کتابتوني ده، د څېړنې مواد او وسایل معتبر، باوري او نوي چاپ شوي کتابونه دي، چې ګټه ترې اخېستل شوې ده.

## موخې

( ۱ ) د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو غږونو نقشونو پېژندل، (۲) وګړمنځي برچار پېژندل، (۳) په وینایيز تعامل کې د وګړیو ترمنځ پر نقش پوهېدنه ، (۴)، د غږونو تر منځ به پر مانیز نقش پوهېدنه (۵) د غږنو دندې او بېلا بېلو نقشونو پېژندل.(٦) غږیز ژبنی اوب کې د غږونو پر نقش پوهېدنه.

**د څېړنې تګلاره**

د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو کې د غږونو د چارو(نقشونو) څېړنه تر سلیک لاندې د مقالې مېتود تشریحي او ډول یې کتابتوني دی ، د موضوع د بشپړې روښانتیا له پاره هڅه شوې، چې د یاد سرلیک اړوند معلومات له بېلا بېلو نویو او د باور وړ منابعو څخه راټول شي، له تحلیل او تشریح څخه وروسته لوستونکو لەپاره ټول هغه موارد په ګوته کوي، چې د ژبې د غږونو په برخه ونډه لري.

**تېرو اثارو ته کتنه**

چارواله ژبپوهنه عموماً پر نقش خبرې کوي، کله چې وینا رامنځته کېږي یا افهام او تفهیم کېږي، دې کې کوم شیان نقش لري، یاده ژبپوهنه نقش ته د ژبنیو توکیو تر خپلمنځي اړیکو لو مړیتوب ورکوي،څرنګه چې چارواله مانا ته د ژبې پر نورو اړخونو لومړیتوب ورکوي او د ژبې موخه د مانا لېږد بولي؛ ځکه نو نقش هم له مانا سره برابر بولي، په اصل کې هره مانا د یوه ځانګړي ژبني نقش ښکارندوی ده، په ژبه کې زنځیري او نازنځیري غږونه ډېر اهمیت لري، په غږپوهنه کې د غږ خصوصیات په پام کې نیول کېږي او د لوړ، ټیټ، قوي او دوامداره غږ خصوصیات د فزیک په مرسته کېږي، موږ دمتن په جریان کې د غږونو نقشونه له پامه نه شو غورځولی، هدارنګه پارا لینګویستکي(para linguistics) توکي هم د پاملرنې وړ دي، چې په ژبني بهیر کې بېلا بېل نقشونه لري، چارواله ژبپوهنه هغه وخت پر غږ خبرې کوي، چې په وینا کې نقش ولري او په وینايیز بهیر کې بېل ډولونه لري.

**غږ** (phoneme): په ژبپوهنه کې یوازې او یوازې یو وییز غږ ته فون ویل کېږي، فونیټکس په فون باندې بنا دی او د فونیټکس لەپاره خام مواد دي. که په لنډ ډول ووایو: فونیم تر ټولو کوچنی غږیز یا فونولوژیکي واحد ته ویل کېږي ، چې په جلا توګه مانا نه ورکوي، خو کله چې سره یو ځای شي مانا لرونکي الفاظ جوړوي او په مانیزو توکو کې مانیز تو پیر راولي.

لکه: /ا/، / و/، (او)، / ر/ په جلا توګه هیڅ مانا نلري، خو کله چې سره یو ځای شي د (اور) کلمه ترې جوړېږي یا که د (پور) کلمه په نظر کې ونیسو او د (پ) توری یې په(م) سره تغیر کړو، نو د (مور) کلمه به ترې جوړه شي، پس ثابته شوه، چې فونیم په مانا لرونکي الفاظ یا کلمې جوړوي او په مانا لرونکو توکو کې مانیز توپیر راولي.

**زنځیري غږونه** (**Segmental phonemes**): زنځیري غږونه د یوې ژبې اساسي عناصر دي، چې د وینا په وخت کې پرلپسې او پیوست راځي، که وینا یا ګړهار موږ یو زنځیر وګڼو، نو زنځیري واحدونه پکې د بېلا بېلو کړیو په څېر په پرلپسې پیوست راځي؛ چې په دې کې خپلواک، ناخپلواک، نیمواک او غبرګغږونه مطالعه کېږي (وحدت، ۱۳۹۸ ل، ص . ۴۰).

د ژبې بنسټ له فزيکي پلوه په غږ کې دی، لومړنی ماده د ژبې غږ دی، په طبعيت کې هر ډول غږونه شته؛ خو په ژبه کې چې کوم غږونه کارېږي، هغه مانيز توکي جوړوي او ژبني غږونه بلل کېږي. همدا ډول د ژبې توري د موسيقی له ليکني سيستم سره فرق لري. ژبني غږونه د ژبې په نظام کې د ننه دي، هاليډی له غږونو واخله تر متن پورې ټول په مانا کې ښکېل ګڼي، د نوموړي په اند د ژبې موخه د مانا لېږد دی . ژبني غږونه، وييونه، ګرامر او متن د دې مانا د لېږد په خدمت کې دي ، له دې نه معلومېږي، چې د هاليډی په تيوری کې مانا په اساس کې ده؛ خو ګرامري جوړښتونه هم بې اهميته نه دي، ژبه له آره له غږونو جوړه ده، چې د ژبې بسټ اوليه ماده جوړه؛ خو په دې کې ټول نه، يوازې ژبني غږونه راځي، ځکه چې دا غږونه مانيز توکي جوړوي او له همدې امله د غږونو ځينې ځانګړنې هم، چې مانيز بدلون راولي، پر دې بحث ورګډېږي، له يو بل سره د غږنو پيوستون، بدلون او ځانګړنې تصادفي نه دي، بلکې د يوه نظام تابع دي او پر دې بنسټ ويلای شو، چې د کلمې، عبارت، فقرې او جملې په کچه د ماناوو او ويناوو توليد د اوليه مادې له انسجامه راپيداکېږي. د غږيز نظام دنده د غږيزې مادې د ځانګړنو، بېلونو او په يوه نظام کې يې اوډون دی. په ژبه کې ټولې غږيزې ځانګړنې اهميت نه لري. ژبه له غږيزې مادې استفاده کوي؛ خو ټولې ځانګړنې يې نه رانغاړي، يوازې هغو ځانګړنو ته يې پام کوي، چې مانيز نقش لوبوي او په همدې دليل ورته توپيروونکی وايي. د بېلګې په توګه دوه کسه يوه جمله د فزيکي ځانګړنو له پلوه يو ډول نه ادا کوي يا يو شخص يوه کلمه په يو ډول نه تکراروي، پر دې بنسټ، که اوښتونکي د مانيز نقش څښتن وي، د جملې مانا هم بدلېږي،لکه: په پښتو کې (غر، ښکر، سر، زر ) کلمې يو له بله بېلې دي، ځکه چې ماناوې يې سره بېلې دي. وروستي دوه غږونه په دې څلورو واړو کلمو کې ګډ دي، تو پير يې په لومړي غږکې دی(غ) او(ښ) دواړه زېرځي له پلوه تالويز او د زېږډول له پلوه موښلي دي؛ خو توپير يې دا دی، چې(غ) غږن او (ښ) ناغږن کلستېر دی او پر همدې بنسټ دا دواړه له يو بله نه توپيرېږي، د کومو غږنو د ادا په وخت کې چې د حنجرې تارونه وخوځېږي، هغې ته غږن او چې ونه خوځېږي، ناغږن ورته وايي؛ خو پر غږنتيا او ناغږنتيا يې په وييز چاپېريال کې مخني يا وروستني غږونه اغېز پرېباسي او غږن يا ناغږن کوي يې.

همدا توپير په /س/او /ز/ کې وينو دواړه د زېرځي او زېږ ډول له مخې ورته دي؛ خو /س/ ناغږن او /ز/ غږن دی، دې فزيکي توپير د دې دواړو په مانا کې توپير پيدا کړی، پر دې بنسټ په پښتو کې له نورو تضادونو نه هم استفاده کېږي، چې دې يادو ټولو غږنو ترمنځ توپير وکړي، په دې تضادو کې يو تم موښلی دی، دلته /غ/ او /ښ/ موښلي دي. /ز /او /س/ دواړه اوريز او /غ /او /ښ/ دواړه تالوييز دي. په پښتو کې يو غږ د دريو ځانګړنو له مخې له نورو څخه بېلېږي: زېرځی، زېږډول او غږنتيا ( ښکلی، ۱۴۰۱ ل، ص. ۱۰۸).

ژبني توکي په خواناستۍ او ځايناستۍ کې د رياضي د اعدادو د ترکيب غوندې دي، اعداد هم د خواناستۍ او ځايناستۍ چورليځ لري، ځايناستۍ يې د لسو بېلا بېلو غوراويو شونتيا ښيي: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ٦، ۷، ۸، ۹، ۰، دا لس نښې د بنې او ارزښت له پلوه مختلفې او لس واړه د غوراوي جوګه دي، د اعدادو غوندې ژبني توکي هم په يو بل پسې راځي او ژبني غږونه په يو بل پسې له غږيزو غړيو راوځي. د اعدادو د ترکيب درې اصله د ژبې په غږيز سيستم کې هم کارېږي:

۱ – تر يوه د زياتو نښو درلودنه: نښې ژبني غږونه دي، چې په پښتو کې يې شمېر شاوخوا (۴۷) ته رسېږي.

۲- د يوې نښې د تکرار امکان: غږونه د خواناستۍ پر چورليځ تکرارېږي؛ لکه: نن، ترور...

۳- په بېلا بېل ډول د نښو د ترکيب امکان: غږونه په بېلا بېل ډول له يو بل سره اوډون مومي؛ لکه: ستاسې، ساتې، ستايې، ټول، لوټ...

**نازنځيري (Supra segment phonemes) غږونه**

دا تضاد يا اختلاف په نازنځيري(Supra segment phonemes) غږونو کې هم شته، يعني له يوې نه يې بلې ته په لېږد يا دځای په بدلون سره د کلمې په مانا کې بدلون راځي، لکه: (غوټه) کلمه کې که خج پر لومړۍ څپه وي، د ګنډې يا دانې او که پر وروستۍ څپه وي د ډوبېدو يا غوپا کېدو مانا لری. همدا راز د بېلتون او پيوستون له مخې په دغو جملو کې توپير وګورئ: موږ/ ټول کار کوو، موږټول کار کوو.

پورته توضيحات مو د موضوع روښانتيا په خاطر وړاندې کړل، د دې لهپاره چې موضوع ته د خپل چېنل له لارې داخل شو، نو د پورته توضيحاتو روړل ضروري وو، او د ژبې د پوهاوي راپوهاوي په چاره کې رسره مرسته کوي، له دې نه دې پايلې ته رسيږو، چې انسان د غږونو په مټ خبرې کوي؛ خو دا غږونه په مانيزه پروسه کې يوازې بنسټي نه، بلکې فعال نقش لوبوي او د وينا په بهير کې د مانا په توليد کې لاس لري. اوس به د چاروالۍ ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو ژبه کې د غږونو پر نقش او د همدې ژبپوهنې د اصولو په رڼا کې خبرې پرې وکړو.

**وګړمنځی برچار څه دی؟**

په يوه ټولنه کې د حاضرو وګړيو تعامل ته وايي دا برچار په وينا کې د شريکو کسانو متقابل عمل ښيي او دغه ځانګړنې لري: ۱ –ژبه په دې نقش کې د وګړيو ترمنځ د اړيکې او تعامل دنده لري. ۲- دا نقش د فقرې په وجه کې راښکاره کېږي. ۳- د شريکو کسانو متقابلې ژبنۍ کړنې ښيي. ۴- په دې چار کې مهمه دا ده، چې ويناوال او مخاطب په تعامل کې او د معلوماتو او خدمتونو په راکړه ورکړه کې له کومو راغښتونو استفاده کوي.۵- د فقرې د منځپانګې په اړه د ښکلېلو لوريو ذهنيت وي. لږ تر لږه دوه کسان پکې ښکېل وي:

۱- ويناوال/ ليکوال، ۲- مخاطب د وګړيو تر منځ د معلوماتو او خدمتونو راکړه ورکړه وي.

### وګړمنځۍ برچار او وجهي نظام

د ژبې وګړمنځی برچار د چاروالي ژبپوهنې اصل دی، په دې اصل کې د فقرې د وجهي لومړنی چار مخاطب ته د خبر یا معلوماتو لېږد معمولا اخباري او کله کله التزامي هم وي، له خبر او وینایي چارونو ور هاخوا په مستقیم ډول د وړاندیز او غوښتنې لهپاره هم کارېږي، خج یې په پای کې لوېږي. دغو ټولو سرسره موږ باید د وګړمنځي برچار څانګړنې او دندې وپېژنو او بیا یې وروسته د پښتو نازنځیري غږونو کې تطبیق برخې ته لاړشو ( ښکلی، ۱۴۰۳ ل، ص. ۱۹۲).

### په وګړمنځي بر چار کې د وګړیو نقش

په وګړمنځي بر چار کې وګړي دوه لویې دندې تر سره کوي: ۱- څه ورکوي(giving): شیان او خدمتونه/ معلومات، که معلومات وي، د ورکړې دنده په خبري او راکړې هغه په پوښتني وجه کې وړاندې کېږي. که شیان او خدمتونه وي، بیا ورکړه د وړاندیز او راکړه په غوښتنه کې وي. د وګړیو په تعامل کې: مثلا: وینااوال د پوښتنې فردي چار تر سروي، پر وړاندې یې مخاطب د معلوماتو د ورکړې فردي رول. یو فرد له بل سره د تعامل په پایله کې څلور ژبني نقشونه تر سروي: خبرونه، پوښتنه، د خدمتونو وړاندیز او امر، چې د فعل په وجه کې او نورو کې ځان ښیي.

### نازنځیري غږونه

**اهنګ – د وګړمنځي برچار پر بنسټ د فقرې نقش کې: اهنګ: (intonation):** اهنګ د نازنځیري فونیمونو له ډلې مهم توک دی، چې په سمې کارونې سره یې مکالمه او یا متن صحت پیدا کوي، اهنګ له خج سره مخامخ اړیکې لري، کله چې خج له خپلې پولې څخه واوړي، نو پر اهنګ بدلېږي، په جمله کې د غږ د ټیټوالي او لوړوالي توپیر ته اهنګ وایي؛ د اهنګ د تګلوري بدلون د مانا د تغیر سبب کېږي او اهنګ د وینایيزې بنې حتمي خصوصیت دی او بې له اهنګه وینا ممکنه نه ده او وینا بې له اهنګه مطلوبه مانا نه افاده کوي.

**د اهنګ مانیز چارونه:** هر وګړمنځی چار فقره کې راښکاره کېږي او یوه وجه(مخ) ورکوي: ۱- غوښتنه: د پوښتنې په وجه کې وړاندې کېږي: درس ته مې ورتلی شې؟ ۲- اخباري یا پوښتني چار په خبري یا پوښتنې وجه کې وړاندې کېږي: درس وایي. درس وایي؟ ۳- که تکلیف درته نه وي، یوځل راشئ، له دې پرته په فقره کې د ښکېلو لوریو لېوالتیا او عواطف، (وړاندیز، مخاطره، واټن، درناوی) هم وړاندې کېږي.

پورته فقرې د اهنګ پر بنسټ د افکارو، احساساتو و اشخاصو د ارادې په څرګندولو کې فعاله ونډه اخلي او په وګړمنځي برچار کې موږ یوازې د آهنګ په مرسته په دې پوهیدای شو، چې فقره یا جمله پوښتني(استفهامي)، امري، ندایي، تعجبي او که احساساتي ده. یا د اهنګ په بدلیدو سره پرته له دې، چې د فقرې یا جملې په ترکیبي

اجزاوو کې کوم بدلون راشي د جملې معنا بدليدای شي، لکه: ۱- *زمری راغی.* (خبري)، ۲- *زمری راغی.* (پوښتني) ۳- *زمری راغی.*( تجبي، بلني، گوماني، احساساتي). ۴- انور مې وليد: دی خوشحاله ښکاريده، ږيره يې پاکه خرېيلي وه، او کله چې يې راته وخندل، له کلونو وروسته مې يو ځل بيا د خولې کونجانو ته نږدې، تربغورو لاندې لاندې ځايونه وليدل. د خبري فقرې ياجملې اهنگ هوار پيلېږي او بيا غورځېدلی پروت پای ته رسېږي، لکه: لومړی جمله. يا لکه دا جملې: ملالی ليک ليکي. ستا ليک نه دی راغلی. ، دلته څوک کار نه کوي. يا لکه: انور په دويمه ورځ يو ادرس راکړ، ماهم ځای په اسانی ومومند او په هماغه ورځ د يوې دوې پوړيزې ودانۍ په دروازه کې څوکيدار شوم. د پوښتنې فقرې يا جملې اهنگ ټيټ پيل مومي او بيا نيغ شوی پروت پای ته رسېږي. لکه: دويمه جمله. يا لکه دا جملې: ورور يې وويل: بياواوره پيل شوه؟، ما وويل: زما لەپاره چای نه راوړې؟، ما وو يل: ښه نو د انور خبره دې ومنله؟ د تعجبي، بلني، گوماني او احساساتي فقرو او جملو اهنگونه کابو يو راز راځي او هغه دا چې ټيټ پيلېږي بيا پورته ځي او په پای کې رېب پای ته رسېږي، لکه: درېيمه جمله. يا لکه دا جملې: شېرينو هم د پاستو په پخولو کې تکړه وه! ، دې به د کاغذ غوندې نري پاستي پخول! ، دومره سوتره، چې يو ټکی سوځېدل به هم نه په کې موندل کيده! (احمدي، ۱۴۰۰ ل، ص. ۷۰).

**اهنگ د اوب پر بنسټ بېلا بېل چارونه تر سره وي**

**نامستقيم، وړانديز په نقش کې غوښتنه:** ۱- ساعت ته وگوره، ۲- دروازه دې خلاصه پرېښې ده. ۳-موټر چلان دی. ۴- باران ورېږي.

پورته مثالونه د فرهنگي اوب پربنسټ بېلا بېل چارونه يا نقشونه تر سره کوي: ۱- څو بجې دي؟ ۲- دروزه بنده کړه. ۳- موټر بند کړه، باران ودرېدلی کنه؟ ۵- نور بې وسه شوم. موږ گورو چې د اوب پر اساس يې د متن اوشرايطو پر اساس يې مانا روښانه شوه او هغه چاپېريال، چې (افغاني) دی موږته يې په گوته کړو، چې نوموړي جملې يکې ايجاد شوي او موږ ته معلومه شوه چې ژبه پرځان پورې منحصره او محدوده نه ده، بلکې په ټولنه پورې اړوند ده او د اوب پر مټ مو دقيق تفسير تر لا سه کړو

**اهنگ پر اساس د وجهې او وجهيت چارونه** - پوښتني وجه: لومړنی او سيده چارېي: د معلوماتو غوښتنه ده. د فعل وجه ښايي اخباري يا التزامي وي. دغه دوه ډولونه لري: ۱- هو، نه اثبات او نفي حالت پوښتي او ترې غواړي، چې مشخص کړي:

**غوښتنه د پوښتنې په وجه کې وړاندې کول:** درس ته مې ورتلی شې؟ کورته را سره تلای شې؟ ...

**خبري د پوښتنې په وجه کې :** مور دې مړه ده؟ هو زويه، مور مې نه په زړه کېږي، زه ډېر کوچنی وم، چې هغې پور پرې کړ.(احمدي: ۲۱)

۲- مثال: ټول افغانان برابر حقوق لري، مريتوب منع دی، مطبوعات آزاد دي، هر چاته بايد د کار او کسب د زده کړې زمينه برابره شي، بيګار ختم دی.... (احمدي، ۱۳۹۹ ل، ص. ۳۳)

**امري وجه**: امر، د مخاطب د عمل مديريت، اغېزمنول او مجبورول، وړانديز څرګندوي، لکه –۱ ورور مې وويل: يوه بړستن در سره راوړه! خدايد پرې ورچيغه کړه: له خولې سره دې پام کوه!

مه کوی! داځای د ساعتيرۍ نه دی! له کتابونو لېرې ګرځئ! (احمدي، ۱۴۰۰ ل، ص. ۲۸).

**تعجبي وجهيت**: څومره ښه، څه بده ييښه: ۱-انوره! زه دې څومره بېوسې کې پرېښودم! ۲- څه کارونه يې ونکړل!، څومره ښې ورځې وې!

۳- ميرګل يو دم چيغه کړه! وغړمبېده!، له خولې يې لاړې باد شوې! ځان يې له ځمکې سره وويشت! حاجي ناټک يې پر پښو ورپرېوت!، ما يې لاسونه کلک ونيول! (احمدي، ۱۳۹۹ ل، ص.٦٦).

۴- مثال: واده ته ډېر خلک راغلي وو، د هوټل مصرف، زيورات او... دې ټولو له اخه- ټوخه وايستم!

**خج- (stress accent):** خج يو نازنځيري فونيم دی، چې تغير يې په کلمه، عبارت اوجمله کې د بدلون سبب کېږي يا خج په يوه لفظي چاپېريال کې له دوو يا څو څپو څخه د يوې څپې پر واول باندې د صوتي غړو له خوا د هوا فشار ته وايي. يا په بل عبارت خج د ژبې غبريز توک دی، په تنهايي صورت مانا نه لري، مګر په مانيزو توکونو کې د موقيعت تغير د مانا سبب کېږي.

**د خج مانيز چارونه**: اوس د خج په اساس ځينې بېلګې وړاندې کوو، لکه: ۱- ته کورته ځې، ۲- ته کورته ځې، ۳- ته کورته ځې. يا لکه په دغه پښتو لنډۍ کې: خاونده کوم يو په کې خوښ کړم – مرګی بېلتون راته جوړه راغلي دينه. يا د کاروان يو بيت: راشه چې لاسونه د شغلو کړو له يو بل نه تاو –راشه ځو جوړه، جوړه آسمان ته شهابونه شو(درمل،۱۴۰۱ ل، ص.۳۸۹ ). که چېرې د لومړۍ جملې په لومړني(ته) ضمير باندې خج راشي دا جمله تعجبي يا هيښني چار سرته رسوي. که په دويمه جمله کې د (کور) په کلمه خج راشي، نو داجمله بيا خبري يا بياني چار سرته رسوي، همدارنګه که په درېيمه جمله کې د (ځې) پرکلمه خج راشي، نو دا جمله بيا د پوښتنې چار سرته رسوي. د (جوړه) کلمې که په لومړي سيلاب خج راشي، نو د روغې او پوخلاينې مانا ورکوي او په

دویم سیلاب راشي، نو بیا د جفت، دوو، غبرگ، ملگري مانا ورکوي.  پس روښانه شوه، چې په یوه ټولنه کې یې د حاضرو وگړیو تعامل څرگند کړ، څکه وگړمنځی برچار په وینا کې د شریکو کسانو متقابل عمل ښيي او دغه ځانگړتیا یې د خج پر بسنټ رامنځته کړې ده او په بېلا بېلو وجهي بر چارونو کې یې خپلې دندې سرته ورسولې. په وگړمنځي برچار کې مهمه دا ده، چې ویناوال او مخاطب په تعامل کې او د معلوماتو او خدمتونو په راکړه ورکړه کې له کومو راغښتونو استفاده کوي، نو اوس موږ په پورتنیو بېلکو کې بېلا بېل رغښتونه مشاهده کولی شو.

**په وگړمنځي برچار کې د بېلتون او پیوستون نقش:** که چېرې د متن دوه مورفیمونه، غونډونه او جملې سره پیوستې او بې له ځنډه ولوستل شي، پیوستون او که برعکس وي بېلتون ورته وایي، نو داسې تغیرات هم د مانا د بدلون سبب گرځي او مفاهمه ستونزمنه کوي،  بېلتون او پیوستون په وینگ کې د سم لوستلو یعني په ځنډ او یا پیوست لوستلو له مخې معلومېږي (وحدت، ۱۳۹۸ ل، ص. ۸۶).

**بېلتون او پیوستون  مانیز چارونه:** په متن (لیکلي، نالیکلي) کې د حج، اهنگ غونډې خپل نقش لري، چې د متن اصلي اوسمه بڼه ده او په وگړمنځي برچار کې خپل نقش لري، د بېلگې په ډول:

کـړې کــه بخشش د وصـل رازیاره         زړه ســــوزول پر ما ملنگ ښه دي
بولي دې بې علمه شیخ کافر، زیاره         پتــه د ښه بد خو پر محشر لـــگي

(شیرزاد، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۱۰).

د پورته نیم بیتي دوه رازه کاږو: د لومړۍ مانا له مخې: (کړې که بخشش د وصل راز- یاره!)، دویمې مانا له مخې: (کړې که بخشش د وصل را- زیاره).

بله بېلگه: هغه سر له سبا نه غواړي چې خپل کار پیل کړي. د دې جملې مانا دا ده(هغه سبا له خیره خپل کار پیل کوي) (شیرزاد، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۱۰).

محبوب شاه په خپل اثر (پښتو ژبدود) کې داسې توضیح کوي: بېلتون او پیوستون د نحوي واحدونو په ځنډ اویا پرته له ځنډه لوستلو ته چې مانیز توپیر رامنځ ته کړي بېلتون او پیوستون بلل کېږي (محبوب، ۱۳۹۶ ل، ص. ۴۰).

**زنځیري غږنه:** د چاروالې ژبپوهنې پر اساس زنځیري غږونه هم خپل نقش لري، چې د دوی نقش موږ په اوب کې مشاهده کولی شو، نو لومړی اړ یو، چې د اوب په باره کې څه نه څه مالومات وړاندې کړو:

**اوب:** اوب ته په دري کې بافت، په انګلیسي کې ورته context وايي، اوب د اوبدلو په مانا دی، یعنې د متن او شرایطو اوبدنه ده. په متن کې د ننه، له متنه بهر او متن پورې اړوند اړیکو راټولو ته اوب وايي. د وینا هغه چاپېریال، چې وینا پکې رامنځ ته شوې او د وینا شاوخوا پروت دی اوب بلل کېږي یا اوب خپله یو بل متن دی یا هغه پټ متن دی، چې له ښکاره متن سره ملګرتیا کوي، ځکه ژبه ځان پورې محدوده او منحصره نه ده، بلکې په ټولنه پورې اړوند ده. ژبنی اوب دغه ډولونه لري: غږیز، صرفي، لغوي، نحوي، مانیز، خو زموږ کار د غږیز ژبني اوب له نقش سره دی.

**غږیز ژبنی اوب:** غږیز ژبنی اوب په لیکل شوي یا ضمیمه شوي متن کې د غږ مانا ګوري، غږ په یوازې توګه مانا نه لري؛ خو په ژبني اوب کې غږونه د خواناستي محور په مټ سره یو ځای کېږي او مانا پیداکوي، که: (و، ز، ر) غږونه. دا درې غږونه، هر یو غږ په یوازې ځان مانا نه لري؛ خو دا غږونه په ژبني اوب کې د خواناستي محور په مرسته یو بل پسې داسې کېښودل کېږي، چې مانا پیدا کړي، لکه: ۱- و+ ز + ر= وزر، د مرغانو د بدن غړي په مانا. ۲- ز + و + ر= زور، د قوت په مانا. ۳- ز + ر + و = زرو، د قیمتي غمیو په مانا، لکه سرو او سپینو زرو، یا د جملې په ترکیب کې د(۱۰۰۰) شمېر په مانا، لکه د زرو روپیو شین چای راکړه، همدارنګه(زرو) یو ښځینه نوم هم کیدای شي، لکه زروته غږ کړه. (وزر، زور، زرو) مانا لرونکي کلمې دي؛ نو له کومو غږونو چې مانا لرونکې کلمې جوړېږي مانا لرونکي غږونه دي. غږ هغه وخت مانا پیدا کوي، چې په مانا لرونکې کلمه کې راشي، که غږ په بې مانا کلمه کې راشي غږ مانا نه لري، لکه: ۱- ر + و + ز = روز، په پښتو کې مانا نه لري. ۲- ر + ز+ و = رزو، مانا نه لري. ۳- و + ر + ز = ورز مانا نه لري، ځکه پښتو کې په دې بڼه (ورځ) لیکل کېږي، نو دا کلمې چې له کومو غږونو جوړې شوې دا غږونه مانا نه لري. همداسې د (هـ) غږ دی، چې په یوازې توګه مانا نه لري، کله چې په ژبني اوب کې پرله پسې په تکرار ډول راشي مانا پیدا کوي، لکه: هههههههه د ژبني اوب په وسیله د خواناستي په محور کې د غږ تکرار بر له پسې راغلی، نوموړ د خندا مفهوم ترې اخلو (شاهد، ۱۴۰۳ ل، ص. ۴۹).

**پایله**

ژبه د یوه غږیز نظام او جوړښت په توګه موجوده ده، چې د انسانانو د اړیکو د ټینګښت سبب کېږي او د یوې ټولنیزې ښکارندې په سترګه ورته کتل کېږي، هم د انسانانو ترمنځ بېلا بېل نقشونه لري. څرنګه چې په چارواله ژبپوهنه کې د غږ خصوصیات په پام کې نیول کېږي، لکه: لوړ، ټیټ، قوي او دوامداره غږ، نو چارواله ژبپوهنه هغه وخت پر غږ خبرې کوي، چې په وینا کې نقش ولري او په وینایيز بهیر کې بېلا بېل ډولونه لري.

همدارنګه د دې څېړنې څخه وروسته دې پایلې ته ورسیدو، چې په وګړمنځي برچار کې یا د وګړو ترمنځ د غبر پر تعامل، ماهیت او څرنګوالي پوه شو او دندې مو وپېژندلې او هغه پېچلتیا چې په یاده برخه کې موجوده وه، د څېړنې په جریان کې هغې ته ځواب وویل شو او اړوند موارد په روښانه ډول معلوم شول. یو فرد له بل سره د تعامل په پایله کې څلور ژبني نقشونه تر سروي: خبرونه، پوښتنه، د خدمتونو وړاندیز او امر، چې د فعل په وجه کې او نورو کې ځان ښیي. د غبر په بدلیدو سره پرته له دې، چې د فقرې یا جملې په ترکیبي اجزاوو کې کوم بدلون راشي د جملې معنا بدلیدای شي. غبر هغه وخت مانا پیدا کوي، چې په مانا لرونکې کلمه کې راشي، که غبر په بې مانا کلمه کې راشي غبر مانا نه لري. دا را ته مالومه شوه، چې د ژبې بنسټ له فزیکي پلوه په غبر کې دی او لومړنۍ ماده یې غبر ده، په طبعیت کې هر ډول غبرونه شته، خو په ژبه کې یوازې هغه غبرونه د مطالعې ځای لري، چې مانیز توکي جوړ کړي او په مانا کې خپل ځانونه ښکېل کړي؛ له همدې امله د غبرونو ځینې ځانګړنې هم چې مانیز بدلون راولي، پر دې بحث ورګډېږي. د چاروالي ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو غبرونو نقشونه و پېژندل شو، هم مو وګړمنځي برچار و پېژندلو او د دې سره په څنګ کې په وینايیز تعامل کې د وګړیو ترمنځ پر نقش پوه شو اوهم ، (۴)، د غبرونو تر منځ پر مانیز نقش پوه شو، په وستیو کې د غبرنو غبریز ژبنی اوب کې د غبرونو پر نقش پوهېدنه.

په پای کې دې پایلې ته رسېږو، چې انسان د غبرونو پر بنسټ خبرې کوي، خو دا غبرونه(زنځیري، نازنځیري) په مانیزه پروسه کې یوازې بنسټي نه، بلکې فعال نقش لوبوي او هم د اوب له مخې ډول ډول چارونه سرته رسوي، په بېلا بېلو وجهو او وجهیتونو کې خپل نقش څرګندوي، چې د ویناوال او مخاطب په تعامل کې د مالوماتو، راکړه ورکړه کې خپله فعاله ونډه او دنده پر مخ وړي او هم په وګړمنځي برچار کې یا د وګړو ترمنځ د غبر پر تعامل، ماهیت او څرنګوالي پوه شو او دندې مو وپېژندلې.

**وړاندیزونه**

۱ – ژبو او ادبیاتو پوهنځی په ځانګړي ډول پښتو څانګه دې سیمینارونه جوړ کړي او هغه موارد دې په ګوته کړي، چې د ژبې د غبرونو نقشونه د چاروالي ژبپوهنې له مخې ښکاره کړي.

۲- استادان دې په اړونده برخه کې محصلینو ته کورنۍ دندې ورکړي، تر څو محصلین ښه پوهه تر لاسه کړي.

۳- د ژبو او ادبیاتو پوهنځی اړونده څانګو استادان دې هم په یاده برخه کې خپل معلومات راټول او د مقالو په بڼه دې یې چاپ کړي.

# The Functional Analysis of Sounds in Pashto within the Framework of Structural Linguistics

Associate Professor Mia Wali Shah Miakhel, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
**Email**: miawalishah@gmail.com.

**Abstract**

Language is fundamentally composed of sounds, which form the primary material of its structure. However, not all sounds are included—only the linguistic sounds—because these sounds create meaningful units. Therefore, certain features of sounds that bring about semantic changes are also discussed here. The connection, alteration, and characteristics of sounds are not random; rather, they follow a systematic order. Based on this, it can be said that the production of meanings and expressions at the level of words, phrases, clauses, and sentences arises from the coherence of this primary material. By reading this article, we can now understand the roles of sounds in language. These sounds (both sequential and non-sequential) not only serve as a fundamental part of the semantic process but also play an active role, performing various functions based on their nature. This study is library-based, and its materials and resources include credible, reliable, and recently published books as well as electronic sources that have been utilized. Under the title *"An Analysis of the Functions of* Sounds in Pashto Based on Structural Linguistics*,"* this article discusses various topics within the framework of structural linguistics, such as: the identification of sounds (sequential and non-sequential), intersegmental functions, the role of segments within intersegmental functions, the role of intonation in the semantic function of a phrase, the semantic functions of intonation, various functions of intonation based on types, the semantic functions of pause, the semantic functions of separation and connection, phonological structures, and several other related topics

**Keywords:** Sounds, Role, Intersegmental Function, Semantic Role, Discourse Process Sounds.

**ماخذونه**

القرآن الکریم.

احمدي. نصیر احمد.(۱۴۰۰). بوډا او د لېوانو پلونه(ناول). ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

احمدي. نصیر احمد.(۱۳۹۹). ډېویډ جونز (ناول). ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

در مل. احسان الله.(۱۴۰۱). شعرستان. کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

شاهد، سمیع الله.(۱۴۰۳). د هالیډې د چاروالې نظریې پر بنسټ د اوب څېړنه. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

شېرزاد. محمد اقا.(۱۴۰۰). پښتو نحوه . کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل. (۱۴۰۱). د ژبپوهنې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل. (۱۴۰۳). چارواله ژبپوهنه(لیکچر نوټ، ناچاپ) کابل: ژبواو ادبیاتو پوهنځی.

محبوب. محبوب شاه.(۱۳۹۶). پښتو ژبدود. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

حمیدزی. راحله. (۱۳۹۸).گذار از مقوله ومیزان به دستور نقش گرای نظام مندی. کابل: کابلستان.

وحدت. عبدالسمیع.(۱۳۹۸). تولیدي فونولوجي. کابل: پکتوس کتابپلورنځی.

# د قران کریم د جلا جلا نزول حکمتونه

پوهنوال سید کمال شاه بنوري د شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
برېښنالیک: saidkamalshah.banuri.18@gamil.com

**لنډیز**

الله جل جلاله د انسانو د هدایت لهپاره عظیم الشان کتاب قران کریم رالېږلی دی، د قرآن کریم نازلیدل په تدریجي ډول، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړه د قوت او ډاډ لهپاره و. الله تعالی د قرآن آیتونه په هر وخت کې د پېښو او اړتیاوو پر بنسټ نازل کړل. دا پروسه د څو حکمتونو سره تړلې وه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم لهپاره زړه تسکین، د قرآن کریم د فهم او حفظ اسانتیا، د پېښو سره همغږي، د تدریج سره د امت روزنه، د قرآن اعجاز او د هغه د حقیقت ښودنه، له دې سره، د قرآن کریم ورو ورو نزول د خپل وخت د واقعاتو او اړتیاوو سره سم د مسلمانانو لهپاره یو لوی حکمت او فایده درلوده. په دې مقاله کې د قرانکریم تدریجي نزول، اهمیت او موخې بیان شوي دي؛ د مقالې په لیکلو کې د قران کریم، نبوي احادیثو، پخوانیو او اوسنیو علماؤ له کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده. ترڅو مسلمانان د قران کریم په مفاهیمو پوه شي او د دارینو سعادت مو نصیب شي.

**کلیدي ټکي:** تعریف. اړتیا، تدریجي نزول، حکمتونه، ګټې

**سریزه**

**بسم الله الرحمنن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و الصلوه والسلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین.**

الله رب العزت د انسانانو د هدایت او لارښوونې لهپاره خپل عظیم کلام قران عظیم الشان په عظیم الشان رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې په عظیم الشانه میاشت رمضان او په عظیم الشانه شپه لیلة القدر کې دنیا ته نازل کړ؛ الله عزوجل فرمایي: {إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ } [الدخان: ۳]

ژباړه: بېشکه مونږ دا قران په مبارکه شپه کې نازل کړی دی.

{إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ} [القدر: ۱] ژباړه: بیشکه مونږ دا قران دقدر په شپه کې نازل کړی دی.

الهي حکمت د دې غوښتنه کوله چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم وحې ورو – ورو نازلېده او هره ورځ یو نوی شی ور ښودل کیدو، همدارنګه هغوی له رشد او هدایته برخمن کیدل د او هغوی ډاډ و ثبات هم زیاتېدو. ورسره صحابه کرامو هم له الهي وحې ګټه اخیستله او د هغې په رڼا کې یې خپل اخلاق، خویونه، حالات او واقعات اصلاح کول، د وحې احکام او مسائل پر دوی په یو ځل او له انتظار پرته نه راتله. په دې ډول وحې تل د دوئ له حالاتو سره په یوه رنګ او یو ډول وه، د دې یو رنګۍ لویه وجه دا وه چې وحې ورو – ورو او د حاجت او ضرورت پر مهال نازلېده. کله به پنځه ایاتونه نازلېدل، کله لس او یا تر دې کم او زیات د افک په واقعه کې د لسو ایاتونو نزول په صحیحو احادیثو ثابت دی. ( د ځینو پوهانو په اند د قرآن کریم پنځه – پنځه ایاتونه نازلېدل؛ تر څو یې یاد اسانه شي، دوی یې په ثبوت کې څو روایات وړاندې کوي؛ امام بیهقي له خالد بن دینار څخه روایت کړی چې ابو العالیه مونږ ته وویل : د قرآن پنځه – پنځه ایاتونه یادوئ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم له جبریل علیه السلام څخه پنځه – پنځه ایاتونه تر لاسه کول. ابن عساکر چې له ابو نضره څخه کوم روایت کړی هغه هم دې ته ورته دی. حضرت علي رضی الله عنه ته دا قول منسوب دی: چې له سورة الأنعام پرته د قرآن پنځه – پنځه ایاتونه نازل شوي دي؛ څوک چې پنځه – پنځه ایاتونه یاد کړي هېڅکله به یې هېر نه کړي خو امام سیوطي دا قول ضعیف بللی او وایي: د صحت په صورت کې د دې وینا مطلب دا دی چې جبریل علیه السلام به نبي علیه السلام ته پنځه ایاتونه اورول، کله چې به یې یاد شول نو بیا به یې نور پنځه ورته اورول. دا مطلب یې نه دئ چې جبریل علیه السلام صرف پنځه ایاتونه راوړل.[۱]

په سورة النور کې له یوولسم نمبر ایت څخه تر یوویشت پوري لس ایاتونه دي په دې، کې الله جل جلاله د عائشې صدیقې رضی الله عنها د پاک لمنۍ اعلان کړی و، د افک واقعه د احادیثو، سېرت او تفسیر په کتابونو

۱ ـ ( الاتقان ۱ / ۷۳ )

کې مشهوره ده. همدارنګه د سورة المؤمنين د لومړنيو لسو اياتونو يو ځايي نزول هم په دلائلو ثابت شوی ( له قد افلح المؤمنون څخه تر الذين يرثون الفردوس هم فيهاخالدون )پورې ټول لس اياتونه دي؛ خو بل لور ته په يوه وحې کې يوازي غير اولی الضرر الفاظ نازل شول ( د سورة النساء د ۹۵ ايت پوره الفاظ دا دي... **لاَّ يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ** ...) حال دا چې دا بشپړ ايت نه دی بلکې د يو ايت برخه ده، همدارنګه يو ځل د ان خفتم عيلة الفاظ تر پايه نازل شول ( سورة التوبة : ۲۸، پوره ايت دادی : **يا ايها الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلاَ يَقْرَبُواْ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا** – لومړنۍ برخه يې تر دې وړاندې نازله شوې وه.)

قرآن کريم همداسي ټوټه ، ټوټه نازلېدو څو يې صحابه کرام په تدريج ولولي، هر وخت چې به پېښې او واقعات را منځ ته کېدل يا به فردي و اجتماعي خوښي را منځ ته کېده نو د قرآن کريم يو څه برخه به له هغې موقع سره سمه نازله شوه. له صحيح قول سره سم تر ( ۲۳ ) کالو د وحې لړۍ روانه وه؛ ځکه د يو بل قول له مخې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر رسالت وروسته په مکه کې ديارلس کاله تېر کړل، تر کومه ځايه چې په مدينه کې د اوسېدو خبره ده نو د تاريخ پوهانو په اتفاق هغه موده ( ۱۳ ) کاله وه. له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په څلوېښت کلنی کې نبي شو، ديارلس کاله په مکه کې و وحې پرې نازلېده، بيا يې تر هجرت وروسته لس کاله په مدينه کې تېر کړل او د ( ۶۳ ) کالو په عمر په مدينه کې وفات شو.

د امام شعبي په وينا د قرآن د نزول پيل په ليلة القدر کې و، تر دې وروسته په بېلابېلو وختونو کې ټوټه ټوټه نازلېدو. له دې قرآني اياته {**انا انزلنه فی ليلة القدر** } څخه دا مفهوم اخيستل کېږي چې قرآن کريم په يوه ځل د قدر په شپه کې نازل شو مګر له دې بل ايت { **وقرآنا فرقنه لتقرأه علی الناس علی مکث** } څخه معلومېږي چې د قرآن نزول ورو، ورو و. د امام شعبي په پورته ياد شوي قول کې په ښکاره د دې دوو متضادو اياتونو تر منځ د تطبيق هڅه کړې، همدارنګه په يوه بل ايت کې ويل شوي چې ( **انا انزلنه فی ليلة مبارکة** ) په دويم کې يې ويلي چې ( قرآن مو دقدر په شپه نازل کړ ) خو د درې واړو اياتونو تر منځ هېڅ تضاد نشته؛ مطلب دا چې د قرآن لومړی نزول د قدر په شپه و چې مبارکه شپه هم بلل کېږي. دا شپه د روژې په مياشت کې راځي ځکه نو د درې واړو اياتونو مفهوم يو شو د نزول تر پيل وروسته قرآن کريم د ځای، وخت، پېښو او واقعاتو په غوښتنه ورو- ورو نازلېده.

۱ـ قرآن کريم يو ځل لوح محفوظ ته نازل شو .

۲ ـ بيا له لوح محفوظ څخه د لومړني اسمان بيت العزت ته.

۳ـ بیا له لومړي اسمان څخه د اړتیا پر مهال ورو – ورو نازل شوی.

داچې علمي امانت مو مراعات کړی وي، اړینه ده چې هغو جهودو اوکوښښونو ته اشاره وکړم کوم چې د دې موضوع څخه مخکې لیکل شوي دي، کله چې ما د دې موضوع د لیکنې لپاره کتابونو ته مراجعه وکړه ، په دې اړوند ډېر اوږده بحثونه موجود وو؛ خو د یوې مختصرې مقالې په شکل په پښتو ژبه کې مې کومه مقاله تر سترګو نه شوه؛ نو ومې غوښتل چې په دې موضوع باندې مستقل بحث وکړم اګر که زما د قاصر علم مطابق به د موضوع حق اداء نه شي، اما حتی الوسع کوشش کوم چې د موضوع اړوند ټول جوانب وڅېړم د الله رب العزت څخه غواړم چې دغه لیکنه خپل اهداف په لاس راوړي.

## د لیکنې موخې

دا لیکنه په لاندی اهدافو مشتمله ده.

۱ـ په دې پوهیدل چې د اسلام مبارک دین شامل اوکامل دی، هېڅ شی پکې پټ نه دي پاتې، شپه یې د ورځ په څېر روښانه ده، د هرڅه وضاحت او بیان پکې شته.

۲ـ الله جل جلاله په دې امت باندې اساني را ولي.

۳ـ د ځانګړو پېښو په رڼا کې د آیتونو ښه تشریح.

۴ـ د مسلمانانو د ژوند لپاره د لارښوونو وضاحت.

## دڅېړنې تګلاره او مېتود

دا چې څېړنه کتابتوني ده، نو د دې څېړنې په بشپړولو کې به د بشري توان مطابق د لاندې تګلارې څخه ګټه واخیستل شي.

الف ـ د څېړنې په اوږدو کې لومړی له اصلي مراجعو څخه ګټه اخیستنه.

ب ـ د نبوي سنتو په سرچینو کې له معتمدو او باوري سرچینو څخه ګټه اخیستنه.

ج ـ د لیکنې په اوږدو کې ماخذونه د (APA) سیستم مطابق کارول.

د ـ دا چې لیکنه په پښتو ژبه ده نو د پښتو ژبې ټولو معیارونو لحاظ ساتل.

## د قرآنکریم د جلا جلا نازلیدو حکمتونه

له لومړي اسمان څخه دنیا ته دقرآن کریم توټه توټه او جلا جلا نزول د یو لړ حکمتونو او فوائدو له مخې صورت نیولی دی چې علماؤ دغه حکمتونه په لاندې ډول په ګوته کړي دي:

**۱) د رسول الله( صلى الله عليه وسلم )د قلبي پياوړتيا، ډاډ او اطمينان له‌پاره**

ځرنگه چې د رسول الله(صلى الله عليه وسلم) دعوت او بلنه داسې قوم ته متوجه ده چې ډېر سخت زړي، کينه گر او جفاکار وو، هميشه به يې د رسول الله(صلى الله عليه وسلم) د دعوت په وړاندې خنډونه او ستونزې راولاړولې، هغه ته به يې تکليف او ضررونه رسول ترڅو د خپل دعوت څخه لاس په سر شي؛ سره د دې جې رسول الله(صلى الله عليه وسلم) د دغه قوم د هدايت له‌پاره زيات ليوال او حريص ؤ الله رب العالمين په دې اړه فرمايلي دي: **{فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا }** ۲

ژباړه: ښايي چې ته (اى محمده صلى الله عليه وسلم) خپل ځان د دې قوم د عمل له کبله هلاک کړې، که دوى په دې خبرو (قرآن)باندې ايمان رانه وړي].

نو ددغه ټولو ستونزو او مشکلاتو په وړاندې د صبر او ټينگښت په خاطر الله رب العالمين پر خپل رسول باندې په جلاجلا ډول وحي رالېږله تر څو زړه يې ددغه نا خوالو او ستونزو په وړاندې پياوړى او کلک شي او وخت په وخت دخپل رب له خوا ورته ډاډ ورکول کېده چې صبر کوه او ورخطاء کېږه مه؛ ځکه چې الله رب العالمين ستا نصرت او مرسته کوي.

په دې اړه کفارو داسې نيوکې کولې:**{وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا}**۳

ژباړه: او کافران وايي چې دا قرآن ولې په يو ځل ټول نه دى نازل کړى شوى؟ الله پاک وايي: همدغه راز(جلاجلا) مې ددې له‌پاره نازل کړ چې (پيغمبره)ستا زړه ورباندې غښتلى کړم او تاته مو په کراره سره ولوست.

**۲) ـ د قرآنکريم د فهم او حفظ داسانتيا په خاطر**

دا حقيقت دى چې د دومره يو عظيم الشان کتاب په يو ځل نازليدل او هغې په مفهوم باندې پوهيدل يو گران او مشکل کار دى او د دې تر ځنگه د هغې حفظ او يادول خو له دې څخه هم مشکل دي، بيا د داسې رسول له‌پاره چې امي و او ليک او لوست يې هم نه وو کړى نو ځکه جلا جلا نارل شو.

له بله پلو عرب هم نالوستي او اميان وو، د ليک ا لوست سره اشنا نه وو، د ليکنې او لوست وسايل هم ورسره موجود نه وو، نو دغه راز قوم ته يو غټ کتاب په يو ځل نازليدل او د هغې زده کول يو نا شونى او مشکل کار

[2] ـ [الكهف: ٦]

[3] ـ [الفرقان: ۳۲]

و، الله رب العالمین فرمایلي دي: {هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} [٤]

ژباړه: الله رب العالمین هغه ذات دی چې په نالوستي خلکو کې یې پیغمبر راولیږه، چې هغوی ته د الله رب العالمین آیاتونه لولي او له شرک او ګناه څخه یې پاکوي، هغوی ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي، اګرکه هغوی مخکې له دینه په ښکاره ګمراهۍ کې وو.

نو د دې لپاره چې د قرآن حفظ په آسانۍ سره وشي، په آیاتونو کې یې پوره فکر او سوچ وشي او دهغې وروسته یې په احکامو پوره عمل وشي بناً ددغه موخې او هدف د لاسته راوړلو لهپاره غوره طریقه همدا وه چې د قرآنکریم نزول په جلاجلا شکل ترسره شي

**۳ ـ حوادثو او پېښو سره مطابقت او همنوایي**

څرنګه مو چې وویل: زیاتره قرآن د حوادثو، پېښو او دغه راز د پوښتنو د حل او ځواب په اساس نازل شوی دی، یعني هرکله چې به کومه واقعه پیښه شوه یا به د کومې مسئلې یا قضیې په اړه اصحابو د رسول الله (رضی الله تعالی عنه) څخه پوښتنه وکړه او حکم به ورته معلوم نه و، نو ددغه حوادثو دحکم یا د پوښتنو د ځواب په هکله به په بیلا بیلو وختونو کې احکام نازلیدل، چې د حوادثو مطابق حل، یا د پوښتنو ځواب به پکې ورکړل شوی و او دا راز نزول به په خپل وخت کې اغیزمن او ګټور هم تمامیده.

**۴ ـ د امت په روزنه او تربیه کې د تدریج او پړاویز حالت مراعات**

د عربي ټاپووزمې اوسیدونکو د اسلام څخه د مخه جاهلیت په زمانه کې د مطلقې آزادۍ اباحت او مطلق العنانۍ په حالت کې ژوند کاوه.

یعني د شرابو څښل، د سود خوړل، قتل او وژنه، د لورګانو ژوندۍ ښخول، غلا او چور چپاول، جنګونه او شخړې، د بتانو عبادت او د هغې سره مینه او داسې نورې ناخوالې د هغوی د ژوند عادت او خوی ګرځیدلی وو؛ چې د دغه راز خوی او عادت ته په یو ځل او ناڅاپي ډول په بشپړه توګه تغیر ورکول په هغوی سخت او مشکل تمامیدل او د دې خبرې زیات امکان لیدل کیده چې د اسلام دین سره به ټکر او مخالفت کې واقع شي، نو ددغه ملحوظاتو او اسبابو په اساس او د الله رب العالمین د پوره حکمت او علم له مخې شرعي احکام په تدریجي ډول او په پړاویزه توګه نازل شول.

---

[٤] ـ [الجمعة: ٢]

دمثال په توګه د شرابو د تحريم په اړه چې کوم تدريجي حالت په نظر کې نيول شوی دی، الله رب العالمين دې موضوع ته داسې اشاره کوي {يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا} ۵ ژباړه:[پوښتنه کوي له تا نه پيغمبره! دشرابو او قمار په باره کې، ورته ووايه په دې دواړو کې غټه ګناه ده او د خلکو لپاره په کې څه ګټې هم دي مګر ګناه د دې دواړو له ګټې څخه لويه ده]

په دې آيت کې فقط دشرابو او جوارئ د ضرر او ګټې ترمنځه يوه مقايسه او مقارنه واضح شوي ده، ځکه چې د شرابو په څښلو سره انسان ته يو موقتي سکون او تازګي ورپه برخه کيږي يا دا چې د شرابو په تجارت سره ورته څه مالي ګټه لاسته ورځي، مګر له بله پلوه يې د هغوی پام دې ته هم را اړولی دی، چې د شرابو څښل لويه ګناه ده ځکه چې بدن او عقل ته غټ زيان رسوي، او دغټو غټو جرائمو او بدکاريو لامل کيږي؛ نو له دې کبله يې د هغوی په زړونو کې د نفرت او کرکې اچولو احساس پيدا کړ، بيا يې د پورتني ايت په تعقيب د شرابو د تحريم په اړه داسې وفرمايل: { ياايهاالَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ} ۶

ژباړه:[ای مؤمنانو تاسې د نشې (سکر) په حالت کې لمونځ مه ادا کوئ، تر هغې پورې چې په هغه څه پوهه شئ چې کوم تاسې وايئ]

د دې آيت څخه دا معلوميږي چې خلک يې د لمانځه په وخت کې د شرابو څښلو څخه منع کړل ځکه چې د شرابو د نشې اغيزه د لمانځه تروخته پورې پاينښت مومي او بيا د دې خبرې امکان ډېر ليدل کيږي، چې د نشې په حالت کې د لمونځ په جريان کې نور څه ووايي او همدغه راز پيښه واقع شوي هم ده.

داصحابو څخه يو تن د شرابو د حرمت نه مخکې د نشې په حالت کې د لمانځه د امامت لپاره مخکې شوی ؤ چې نا څاپي ډول يې بې اختياره داسې الفاظ ولوستل: قُلْ يَا ايها الْكَافِرُونَ (۱) أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (۲)

ژباړه[ورته ووايه (محمده)ای کافرانو، زه عبادت کوم دهغه څه چې تاسې د هغې عبادت کوئ]يعنې معنا يې غلطه شوه.

وفي هذا الحديث فائدة كثيرة وهي أن الخوارج تنسب هذا السكر ، وهذه القراءة إلى أمير المؤمنين علي بن أبي طالب دون غيره وقد برأه الله منها فإنه راوي هذا الحديث.

يادونه: خوارج د دې نشه او د دې قرات نسبت حضرت علي کرم الله وجهه ته کوي خو د حاکم په روايت دا خبره صحيح نه ده ځکه چې امير المؤمنين رضی الله عنه په خپله د دې حديث راوي دی.

---

۵ ـ [البقرة: ۲۱۹]

۶ ـ [النساء: ۴۳]

په دې آیت کې ورځخه د (لا)حرف په (لا اعبد)کې پاتې شو، او له همدې کبله يې معنی غلطه شوه، نو دا ایاتونه نازل شول چې:{ يا ايها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ} [7]
داحکامو د تدریجي نزول یا د یو شمېر شیانو د تدریجي تحریم په اړه پر قرآن سربېره احادیث هم رانقل کړای شوي دي، چې د مثال په ډول لاندې یو څو بېلګې ذکر کوو:
ژباړه: د عائشې (رضی الله تعالی عنها) څخه روایت دی چې فرمایلي يې دي: ترټولو سورتونو لومړی سورة چې نازل شوی دی، په هغې کې د جنت او دوزخ یادونه شوي ده، تر دې چې خلک اسلام ته راوگرځیدل، نو حلال او حرام پکې را نازل شول، که چېرته اول دا نازل شوي وای چې شراب مه څښئ نو خلکو به حتماً ویل چې مونږ خو شراب څښل هېڅکله هم نه پرېږدو، دغه راز که قطعاً داسې ویل شوي وای چې زنا مه کوئ نو خلکو به حتماً ویل چې مونږ هیڅکله هم د زنا پرېښودلو ته تیار نه یو..

**۵ - دقرآن د اعجاز د اثبات او تحقق لهپاره**

سره ددې چې قرآن کریم په جلاجلا وختونو ځایونو کې په مختلفو مناسبتونو کې نازل شوی دی، او په دې ترڅ کې يې مشرکانو ته د مقابلې کولو چېلنج ورکړی دی؛ په لومړي ځل يې د قرآن په څیر د مکمل کتاب، او په دویم ځل يې د لس سورتونو راوړلو او په دریيم ځل يې د یو سورت د راوړلو چېلنج ورکړی دی.
مشرکان د خپل پوره بلاغت او فصاحت سره سره د دغه کار څخه عاجز شول او ویې نه شول کولی چې د قرآنکریم په څېر یو کتاب یا لس سورتونه او یا هم لږ تر لږه یو سورت جوړ کړي چې دا کار د قرآن په اعجاز دلالت کوي او دا جوته وي چې قرآن دالله رب العالمین معجز کلام دی او هیڅوک نشي کولای ددې کتاب په څېر کتاب جوړ کړي.
دغه راز د قرآنکریم د کلماتو او جملاتو په اسلوب، ترکیب، فصاحت او بلاغت کې هېڅ ډول خلل او نقصان نه لیدل کېږي، سره له دې چې د درویشتو کلونو په اوږدو کې په جلا جلا ډول ټوټه ټوټه نازل شوی دی چې دا د قرآنکریم د اعجاز بل دلیل دی.
په لومړي ځل يې د مکمل کتاب د راوړلو چېلنج ورکړی دی او داسې يې فرمایلي دي {قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا} ۸

[7] ـ [النساء: ۴۳]

[8] ـ [الإسراء: ۸۸]

**ژباړه:** ورته ووایه محمده!که چیرته انسانان او پیریان په دې راټول شي چې د قرآنکریم په څیر بل قرآن راوړي نو دا کار دوی نه شي کولای، اگر که په خپلو منځونو کې یو شمېر د نورو ملاتړ او مرسته هم وکړي.]

دغه راز په بل آیت کې یې دلس سورتونو راوړلو چېلنج ورکړی دی او فرمایلي یې دي:**{أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ }٩**

ژباړه:آیا دا مشرکان وایي چې (محمد)دا قرآن له ځانه جوړ کړی دی، ورته ووایه چې تاسې د دې قرآن په څېر لس سورتونه له ځانه جوړ کړئ او رایې وړئ او د دې کار لهپاره مو چې څومره وس وي، پرته له الله تعالی څخه نو هغوی هم ورته را وغواړئ که تاسې رښتیا وینا کوونکي یاست.

دا کار یې هم ونه کړای شو بیا یې ورته د یو سورت د راوړلو چېلنج ورکړ:**{وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (٢٣)}**

ژباړه:[که تاسې (ای مشرکانو) دهغه کتاب په اړه په شک کې یاست چې مونږ پر خپل بنده(محمد)باندې نازل کړی دی. نو د دې کتاب په څېر یو سورت راوړئ او راوبولئ(ای مشرکانو)مددگاران خپل بې له الله څخه که یئ تاسې رښتیا ویونکي.]

نو د پورتنیو آیاتونو څخه په ډاگه دا معلومیږي چې عرب خپل پوره فصاحت او بلاغت سره د قرآن په څېر د یو مکمل کتاب، لس سورتونو او یا هم د یو سورت له جوړولو او راوړلو څخه عاجز او ناتوانه شول چې دا د قرآنکریم اعجاز ثابتوي.

**٦ ـ د ناسخ او منسوخ تر منځ فرق او توپیر لهپاره**

په قرآنکریم کې د ایاتونو ترمنځ یو شمېر ناسخ او یو شمېر نور یې منسوخ دي،که چېرته قرآنکریم ټول په یو ځل رانازل شوی وای، نو د ناسخ او منسوخ ترمنځ فرق نه شوکیدای، ځکه چې د ناسخ د پېژندلو لهپاره دا شرط دی، چې باید د منسوخ څخه په نزول او تاریخ کې وروسته وي، نو ددې لهپاره چې ناسخ او منسوخ وپیژندل شي، او په وروستي حکم باندې عمل وکړای شي، دهمدې حکمت په بناء قرآنکریم جلاجلا نازل کړای شو تر څو انسانان د یو شمېر احکامو په اړه په تشویش او مشکل کې واقع نه شي، دهمدې هدف له مخې قرآنکریم جلا جلا نازل کړای شو.

---

[٩] ـ[هود:١٣]

## پایلې

د دې بحث په اخر کې مونږ لاندې پایلو ته رسیږو:

**۱ .تدریجي تعلیم**

د قرآن په تدریجي نزول سره مسلمانانو ته وخت ورکړل شو چې آیتونه زده کړي، فهم یې ترلاسه کړي او په خپلو ژوندونو کې یې عملي کړي.

په تدریج سره نزول د شریعت احکامو اسانه تطبیق ته زمینه برابره کړه، لکه د شرابو حرمت چې په تدریجي ډول اعلان شو.

**۲ . د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تقویه او تسکین**

په تدریجي نزول کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه ته ډاډ او تسکین ورکول شوی، په ځانګړي ډول د سختو حالاتو او مخالفتونو پر وخت.

دا ډول نزول د رسول الله صلی الله علیه وسلم لهپاره د الله تعالی ځانګړې مرسته او ملاتړ و.

**۳ . د پېښو او ضرورتونو ځواب**

\د قرآن نزول د وخت د پېښو او د خلکو د اړتیاوو سره سم و. د هغوی پوښتنې، ستونزې او حالات په نظر کې نیول شوي وو.

دا نزول خلکو ته د ژوند په عملي اړخونو کې لارښوونې کولې.

**۴ . د یادولو آسانتیا**

په تدریج سره نزول حافظې ته د آیتونو سپارلو لهپاره آسانتیا پیدا کړه. صحابه کرامو د نازل شویو آیتونو یادولو او عمل کولو لهپاره وخت درلود.

**۵. د قرآني اعجاز څرګندتیا**

په مختلفو حالاتو کې د قرآن نزول د هغه ادبي او معنوي اعجاز ښکاره کولو کې مرسته وکړه. د دې لهپاره چې مخالفین د هغه مثل آیت راوړلو څخه عاجز شول.

**٦ .د امت لهپاره آزموینه**

تدریجي نزول د مسلمانانو صبر او اطاعت و ازمایه، ځکه هغوی مجبور و چې د هر نوي حکم تابع شي او عمل پرې وکړي.

د قرآن کريم تدريجي نزول يوازې د ديني لارښوونې لهپاره نه و، بلکې د انسانانو د اصلاح، تعليم، او د ژوند د ټولو اړخونو د سمون لهپاره يوه الهي حکمت لرونکې پروسه وه.

**وړانديزونه**

مور د قرآن کريم د نزول له پروسې څخه د تعليم تدريجي پروسه او د خلکو د حالت په نظر کې نيول زده کولی شو.

خلکو ته مې وړانديز دی چې د قرآن کريم د نزول تاريخي پس منظر او تدريجي حکمتونه مطالعه کړي او په خپل ژوند کې د تدريجي پرمختګ لهپاره الهام واخلي.

**علماؤ ته مې وړانديزونه:** خلکو ته د قرآن هغه آيتونه تشريح کړي، چې په تدريجي ډول د ژوند ستونزو ته حل وړاندې کوي.

**د قرآن حکمتونه دې بيان کړي**

د نزول د فلسفې او حکمتونو تشريح کولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، لکه څنګه چې تدريجي نزول د انساني ژوند د سمون لهپاره غوره پروسه وه.

**عملي لارښوونې وکړئ**

خلکو ته وښاياست چې څنګه د قرآن تعليمات په خپلو ورځنيو ستونزو کې پلي کړي.

**ځوان نسل ته توجه وکړئ**

په ځانګړي ډول ځوانانو ته د تدريجي پرمختګ اهميت بيان کړي او د هغوی ديني پوهاوی زيات کړي.

**محصلينو ته وړانديزونه**

**د قرآن مطالعه د زده کړې برخه وګرځوئ**

د قرآن کريم هغه آيتونه زده کړئ چې د انساني ژوند هر اړخ ته لارښوونه کوي او هڅه وکړئ چې په خپل ژوند کې يې عملي کړئ.

**د تدريجي پرمختګ اصل زده کړئ**

د قرآن کريم د تدريجي نزول څخه درس واخلئ او پوه شئ چې د هر مهارت يا پوهې زده کړه تدريجي پروسه ده.

**د زده کړې او عمل توازن وساتئ**

لکه څنګه چې قرآن يوازې د زده کړې لهپاره نه دی، تاسو هم هڅه وکړئ چې هغه زده کړي څه چې په ژوند کې عملي کولای شئ.

**عامو خلکو ته وړاندیزونه**

**د قرآن عملي لارښوونې زده کړئ**

هڅه وکړئ چې د قرآن کریم د نزول حکمتونه او لارښوونې په خپل ورځني ژوند کې عملي کړئ.

**صبر او تدریجي پرمختګ غوره کړئ**

د ژوند ستونزې تدریجاً حل کړئ او د قرآن د نزول د حکمت پر بنسټ هرې ستونزې ته مناسب وخت ورکړئ.

**د قرآن تلاوت او تدبر وکړئ**

یوازې د تلاوت لەپاره بسنه مه کوئ؛ د قرآن معنا او پیغام درک کړئ او په ورځني ژوند کې یې تطبیق کړئ.

**د علم او عمل پل جوړ کړئ**

د قرآن هغه پیغامونه ومنئ چې یوازې دیني ژوند نه، بلکې د ټولنیزو، اقتصادي، او اخلاقي ژوند لەپاره هم ګټور دي.

**عمومي وړاندیزونه**

**د قرآني تعلیماتو سره اړیکه ټینګه کړئ**

په تدریج سره د قرآن زده کړه او فهم د ژوند مهمه برخه وګرځوئ.

د قرآن د تدریجي نزول فلسفه یو مهم پیغام لري: ژوند کې پرمختګ تدریجي وي او د هر څه لەپاره حکمت شتون لري ، دا روښانه کوي چې څنګه قرآن کریم یوازې د عبادت لەپاره نه دی، بلکې د ژوند ټولې برخې لەپاره لارښود دی.

# The Wisdom Behind the Gradual Revelation of the Quran

Asst.Prof. Said kamal shah Banuri, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Jurisprudence Department.
**Email:** saidkamalshah.banuri.18@gamil.com

**Abstract**

The Quran was revealed gradually to provide strength and reassurance to the heart of the Prophet Muhammad (peace be upon him). Allah revealed its verses according to the events and needs of specific times. This process carried several profound wisdoms: Comfort for the Prophet Muhammad (peace be upon him): When the disbelievers troubled the Prophet in response to his message, Allah comforted him by gradually revealing the Quran, giving him solace and strength. Ease of Understanding and Memorization: If the Quran had been revealed all at once, it would have been difficult for Muslims not only to understand but also to memorize. Therefore, it was revealed in parts to make it easier for comprehension and retention. Alignment with Events: The Quran was revealed in accordance with the incidents and circumstances of its time, addressing the questions and needs of the companions as they arose. Gradual Training of the Ummah: The gradual revelation of legal rulings made it easier for people to adapt, as their lives during the pre-Islamic period were deeply entrenched in ignorance, and sudden changes would have been challenging. Demonstration of the Quran's Miraculous Nature: Despite being revealed gradually, the Quran remained a miracle in its eloquence and evidence, proving its divine origin. The disbelievers were unable to produce anything like it, even in parts. Thus, the gradual revelation of the Quran was a profound blessing and wisdom tailored to the needs and realities of the time, providing immense benefit to the Muslim community.

**Keywords:** Gradual Revelation، Necessity، Wisdoms ، Benefits

## ماخذونه

**قرآنکریم**

**الحاكم، أ. ع. (١۴١١هـ) .المستدرك على الصحيحين .بيروت: دار الكتب العلمية.**

**البخاري، أ. ع. م. ب. (١۴٢٢هـ) .الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله ﷺ وسننه وأيامه .بيروت: دار طوق النجاة.**

**تهانوي، أ. ع. (کال نه دی ذکر شوی) .الاتبيان في علوم القرآن .لاهور: مكتبه شيخ الهند.**

**ابن أبي حاتم، أ. م. ع. ر .(1997) .تفسير القرآن العظيم .سعودي عرب: مكتبة نزار مصطفى الباز.**

**صافي، ع. غ. (کال نه دی ذکر شوی) .قرآن پوهنه .جلال آباد: اسحاق زی مارکيټ.**

**السيوطي، ج. د .(1993) .الدر المنثور في التفسير بالمأثور .بيروت: دار الفكر.**

**السيوطي، ع. ر. (کال نه دی ذکر شوی) .لباب النقول في أسباب النزول .بيروت: دار إحياء العلوم.**

**الطبراني، أ. ق. س .(1983) .تفسير القرآن العظيم .موصل: مكتبة العلوم والحكم.**

# د مظنون او متهم د سکوت حق

پوهنوال امان الله ځدراڼ شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، د سیاسي علومو څانګې استاد.
**بریښنالیک:** amanullah.zadran@gmail.com

**لنډیز**

د سکوت یا د چوپتیا حق د نورو حقونو څخه یو جلا حق نه دی؛ بلکې د دوی یو ترکیب دی. کله چې له سکوت حق څخه خبرې کېږي، د برائت الذمې اصل، د څارنوال د جرم اثبات مکلفیت او د اطلاتو د ترلاسه کولو او د اقرار اخیستلو لهپاره د متهم د شکنجې منع، د انسان ذهن ته واردېږي. په دې موضوع کې د مظنون او تورن له حقونو یو مهم حق څخه چې په وخت د تور (اتهام) واردېدلو کې ورته ورکول کېږي، بحث شوی، چې هغه د تورن د چپوالي حق دی. کشفي ارګانونه، عدلي او قضايي ارګانونه د نیولو، د تحقیق او د محاکمې په وخت کې مکلفیت لري، چې د جرم مرتکب باید له ټولو حقوقو څخه خبر کړي، بیا په ځانګړي توګه د سکوت حق حتماً ورکړل شي؛ ځکه په دې حق سره که چیرته ورنه کړل شي کیدای شي هغه څه بیان کړي، چې دی یې مرتکب شوی نه وي؛ نو حق یې ضایع کېږي؛ نو پدې لیکنه کې په ټولو هغه اصولو باندې بحث کړی، چې د تورن د سکوت حق پورې تړاو لري او په دې موضوع کې موږ د سکوت حق تعریف، ډولونه، په اسلامي شریعت کې د سکوت  حق. په دې مقاله کې چې کتابتوني ( توصیفي ـ تحلیلي ) څېړنیزه مقاله ده، دې پایلې ته ورسېدم، چې د سکوت حق په ملي قوانینو کې او هم بین المللي اسناد کې تسجېل شوی دی او د هغې پر بنسټ مظنون او متهم کولای شي، هر وخت چې وغواړي ترې ګټه پورته کړي او د مطروحه پوښتنو د ځواب له ورکړې څخه ډډه وکړي.

**کلیدي ټکي:** برائت الذمه، تورن، د اثبات مکلفیت، شکمن، متهم.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و الصلوه والسلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین.**

دانسان د حقوقو او د هغه سره په انساني چلند او کرامت باندې ډېر زیات ترکیز شوې دی، اسلامي شریعت، د افغانستان اساسي قانون، عادي قوانین او نړیوال اسناد ټول په دې باندې صراحت لري چې انسان د یولړ حقوقو څخه برخمن دی، حتی که یو انسان مجرم هم ثابت شي؛ حقوق باید ورته ورکړل شي، اسلامي شریعت له پخوا څخه هرچاته او د هرې طبقې وګړي ته ولَوْ که یو فرد مجرم هم وبلل شي حقوق ورکړي او ورته مایل دی، له همدې وجهې دولتونه هم کوشش کوي، چې داسې قوانین وضع کړي؛ ترڅو په وخت د ارتکاب د جرم کې د فرد ساتنه وشي او د هغه د ازادۍ درناوی وشي؛ نو لازمه ده چې د تورن حقوق باید رعایت شي او له ټولو حقوقو څخه ګټه واخلي ځکه اصل برائت دی. د تورن له حقوقو د جملې څخه یو هم د هغه د سکوت او چپوالي حق دی چې اسلامي شریعت، د افغانستان اساسي او عادي قوانین او نړیوال اسناد ټولو درباندې صراحت کړی دی او د تورن له دغې حق یې څخه یادونه کړې ده، او دا یې لازمه کړې چې تورن ته د تحقیق په وخت کې د هغه د سکوت حق ورکړل شي، پر دې بنسټ ما هم وغوښتل چې د عدلي او قضايې ارګان مؤظفینو او امنیتي مؤظفینو لەپاره چې کله یو شکمن کس د جرم د ارتکاب په نسبت نیسي او وروسته تورن معرفي کېږي؛ هغوی ته روښانه شي چې د یو شکمن کس او تورن سره باید څه ډول چلند وشي، کوم حقوق ورته ورکړل شي، بیا په ځانګړي توګه په هغه حالت کې چې کله د امنیتي مؤظفینو لخوا د شکمن کس څخه بیانات اخیستل کېږي او د څارنوال لخوا د تحقیق په وخت کې له هغه څخه د استجواب غوښتنه کېږي، دوی باید په دې پوه شي چې په داسې حالت کې یو تورن له کوم حق څخه برخمن کېدای شي؛ نو د دې موضوع په جریان کې به روښانه شي چې شکمن او تورن کس ته باید د استنطاق او استجواب په وخت کې د سکوت حق ورکړل شي، لازمه ده چې د شکمن او تورن کس د سکوت له حق څخه په تفصیلي او مقایسوي توګه یادونه وکړم.؛ نو د مظنون او متهم د سکوت حق د څېړنې مهم والی احساس کېږي، چې دلته به د سکوت حق مفهوم، د مظنون او متهم د سکوت حق بنسټ، په بین المللي اسنادو کې د مظنون او متهم د سکوت حق، د څارنوال او قاضي لخوا د پوښتنو مطرح کول، د مظنون او متهم سکوت کول د قضیې صحت نه ګڼلو په معنا ده، او دا ټول موضوعات به په لاندې ډول انشاء الله مطالعه کړو.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د څېړنې موخه د سکوت حق د جزايي دعوی لوریو ته په سم ډول ورپیژندل او په عملي ډګر کې ورڅخه ګټه پورته کول دي، همدارنګه د جزايي اجراآتو په درې ګونو پړاوونو کې د مظنون او متهم د سکوت

حق باندې پوهېدل دي. د سکوت حق د متهم اصلي حقوقو له جملې څخه ګڼل کېږي او هيڅوک د مدعي العموم په ګډون نشي کولای، چې د جبر او زور او فريبانه وسايلو په کارولو سره متهم مجبور کړي؛ ترڅو د ځان پر وړاندې شهادت اداء کړي او يا په قضيه کې ځان مقصر او مسؤول وګڼي؛ نو له دې امله دې حق ته د خپل ځان د ملامت ګڼلو منعې په نوم هم يادېږي. مدعي العموم مکلف دی، چې د تحقيق په جريان کې مظنون او متهم له دې حق څخه خبر کړي، چې که نه غواړي پوښتنو ته له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي. که چېرې له متهم څخه د هغې له رضا او رغبت پرته اظهارات ترې واخيستل شي، که څه هم دا اظهارات د زور او فشار له طريقه په لاس راغلي وي او يا دا چې مستنطق د اظهاراتو د لاسته راوړلو لپاره د حيلې او فريب په وسيله او يا هم د وعدې او وعيد له طريقه متهم اظهاراتو ته مجبور کړي، څارنوال نشي کولای چې جرم د اثبات د دليل په حيث ترې ګټه پورته کړي.  د څېړنو د موخو څخه يوه د موضوع جذابيت دی او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د مظنون او متهم د سکوت حق خلکو ته معرفي کړم.

**کړنلاره او د کار توکي**

دا کتابتوني څېړنيزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منــابعو څخه استفاده شوي ده، چې په نړيوالــــه او داخلي کچه د اعتبار څخه برخمن دي او بله دا چې زما ليکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبيات په نظر کې نيول شوي دي او هم په دې ليکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.
کوشش مې کړي دی هره موثقه او دقيقه سرچينه مې چې ترلاسه کړي ده، په يو نه يو ډول مې د خپلې څېړنې په بشپړولو کې ګټه ورڅخه پورته کړي ده، دا معنا چې خپل انسانې نهايي کوشش مې کړي دي؛ ترڅو موضوع له هره اړخه وڅېړل شي او لوستونکې ورڅخه بشپړه ګټه پورته کړي. د سکوت حق مفهوم په لاندې ډول توضيح کوو:

**د سکوت يا د چوپتيا حق پېژندنه**

سکوت په لغت کې خاموشي، خبرې نه کول،آرام کيدل، دکلام ترکول، سکون،چپوالي، همدارنګه د مرګ په معنی سره هم راغلی دی.
**په اصطلاح کې سکوت:** د هغې شخص حالت ته وايي، چې اراده يې په صريح ډول نه وي څرګنده کړي او هم يې کوم کار يې نه وي ترسره کړي، چې له رفتار څخه يې د هغې اراده استنباط کړو.
همدارنګه د مظنون او د متهم سکوت داسې هم تعريف شوی: د وينا په نه بيانولو کې د متهم په کامله توګه آزادۍ ته سکوت وايې.
معنی دا کله چې يو شخص په يو تور باندې تورن شي کولی شي سکوت اختيار کړي او له خبرو کولو څخه منع راوړي.

د سکوت په هکله کلي قاعده دا ده، چې: « لا ینسب الی ساکت قول » ژباړه: یعنې ساکت شخص ته د نسبت قول نه راجع کیږي. لومړی کس چې دا قاعده یې بیان کړه هغه امام شافعي رحمه الله دی. ( تأیب، ۱۳۹۴، ص. ۲۰۲ ) د سکوت حق په دې مفهوم دی، چې مظنون او متهم حق لري؛ ترڅو د کشفي، عدلي او قضایي ارګانونو پوښتنو ته د ځواب له ورکولو څخه ډډه وکړي. په داسې مواردو کې کشفي، عدلي او قضایي ارګانونه نشي کولای چې مظنون او متهم ځواب ورکولو ته مجبور کړي. نوموړي ارګانونه دنده لري، که چیري مظنون او متهم د دوی پوښتنو ته ځواب ورنکړي، نوموړي ارګانونه به موضوع په محضر کې ثبتوي؛ نو په داسې مواردو کې د تحقیق ارګانونه کولای شي، چې د اثبات نورو دلایلو پر بنسټ د متهم جرم په اثبات ورسوي.

د سکوت حق په واقعیت کې د افرادو او اشخاصو د شخصیت او کرامت ته احترام کول دي؛ نو پر اشخاصو باندې د ناروا تور لګول په حقیقت کې د انسان پر کرامت او شخصیت باندې تیری دی. پر هغه شخص باندې چې د جرم د تور ارتکاب واردیږي، باید نوموړي ته لازم فرصت او موقع برابره شي، چې له ځانه دفاع وکړي او له ځانه وارده تور دفع کړی؛ ځکه برائت الذمه، اصل او د تور لګول د دې امر استثناء ده؛ نو ځکه نشو کولای، چې یوازې د تور په واردولو سره او د څرګندو دلایلو او مدارکو له وړاندې کولو پرته، چې وروسته د تحقیق په جریان کې په لاس راځي، مظنون او متهم د ځواب ورکولو ته مجبور کړو. د څارنوال لخوا د اتهام د واردولو په صورت کې؛ باید شخص د بشپړ امنیت، اطمینان او آزادۍ په فضا کې، اتهام رد کړي، او باید هیڅ ډول محدودیت او فشار پر متهم وارد نشي، چې د هغې اراده سلب کړي. (هاشمي، ۱۳۹۳، ص. ۲۸ )

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره، ویلی شو، چې د سکوت حق د متهم اصلي حقوقو له جملې څخه ګڼل کیږي او هیڅوک د څارنوال په ګډون نشي کولای، چې د جبر او زور او فریبانه وسایلو په کارولو سره متهم مجبور کړي؛ ترڅو د ځان پر وړاندې شهادت اداء کړي او یا په قضیه کې ځان مقصر او مسؤول وګڼي؛ نو له دې امله دې حق ته د خپل ځان د ملامت ګڼلو منعې په نوم هم یادیږي.

څارنوال مکلف دی، چې د تحقیق په جریان کې مظنون او متهم له دې حق څخه خبر کړي، چې کولی شي له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي. که چیرې له متهم څخه د هغې له رضا او رغبت پرته اظهارات واخیستل شي، که څه هم دا اظهارات د زور او فشار له طریقه په لاس راغلي وي او یا دا چې مستنطق د اظهاراتو د لاسته راوړلو لپاره د حیلې او فریب په وسیله او یا هم د وعدې او وعید له طریقه متهم اظهاراتو ته مجبور کړي، څارنوال نشي کولای چې جرم د اثبات د دلیل په حیث ترې ګټه پورته کړي. (علامه، ۱۳۹۸، ص. ۱۶۰ )

په واقعیت کې یو له هغو مواردو څخه چې د شخص آزادي او امنیت ته تعرض وګڼو، د ټولنې پر افرادو بې بنیاده او بې اساسه د اتهام منسوبول دي او که چیرې په عمل کې داسې کړنه ترسره شي، چې دا وارده اتهام چې اصلاً وارد نه دی، د متقلبانه وسایلو په کارونې سره په اثبات ورسېږي، انسانیت او انساني کرامت اصل د تعرض او تجاوز لاندې راځي، د عدالت پر پیکر باندې خدشه واردېږي.

له یوې خوا متهم په هغه اوضاعو او احوالو کې چې قرار نیسي، ممکن هغه په داسې حالاتو کې تر تهدید لاندې راشي ونیسي، له بله پلوه په داسې حالت کې خپله تورن د دې حالاتو کې تر تاثیر لاندې راځي، یعنې کله چې پر متهم باندې تور وارد شي، متهم یو ډول روحي تزلزل او د عدم امنیت احساس کوي او له بله پلوه د هغې انساني کرامت، شخصیت او حیثیت تر پښتنو لاندې راځي. په دې حالت کې د متهم د سکوت حق په رسمیت پیژندل او د هغې سره د متهم ګټې په نظر کې نیول، متهم ته د دې فرصت او موقع برابروي، چې په خپل حال کې وي او اطمینان او آرامی سره تصمیم ونیسي. د دې یوه بیلګه په هغه مدافع وکیلانو او حقوقپوهانو کې لیدلی شو، چې په داسې حالاتو کې د علمیت او حقوقي پوهې با وجود، د دې لهپاره چې کومه تیره وتنه ونکړي، د ځان لهپاره بل مدافع وکیل ټاکي (رسولي، ۱۳۹۷، ص. ۱۸۱).

**د سکوت حق مخینه**

د سکوت حق په واقعیت کې د بشر حقوقو نوي لاسته راوړنه ده، چې د حقوقو علماو د یو لړ هڅې او مبارزې په نتیجه کې ترلاسه شوي دي. څرنګه چې په ابتدا کې دا حق په رسمیت نه پیژاندل کیده، د ځینو قضاتو او د حقوقو پوهانو نظر پر دې اصل باندې ولاړ و، چې که چېرې متهم د څارنوال او قاضي پر وړاندې پوښتنو ته له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي، دا امر په واقعیت کې د عدلي او قضایي ارګانونو پر وړاندې یو ډول سرکشي او نافرماني ګڼل کیده؛ نو د متهم سکوت نه یوازې د هغې د برائت سبب نه کېږي؛ بلکې د قضایي او عدلي ارګانونو پر وړاندې تمرد او سرکشي دلیل او قرینه ګڼل کیده او هغې لهپاره به د مجازاتو په برخه کې مشدده حالت هم په پآم کې نیول کیده.

کله چې په لومړي ځل د سکوت حق څخه یادونه وشي، په ۱۸۳۶ م کال کې د فرانسې هیواد دیوان په خپله صادره پریکړه کې د سکوت حق په رسمیت نه پیژني او دا حرکت یو ډول د قانون د احکامو رعایت څخه یو ډول سرغړونه ګڼله او په قضایي جلسه کې د حضور څخه د ډډه کولو په معنا پیژندله کیده. د وخت په تیریدو سره د فرانسې د محاکمو دا پریکړه د فوستن هیلي لخوا تر شدید انتقاد لاندې راشي. نوموړي عالم داسې استدلال کاوه چې، د دې دوو موضوعاتو ترمنځ څرګند توپیر شتون لري؛ ځکه د سکوت حق څخه ګټه پورته کول یو

معنوي عمل دی او په قضايي جلسه کې د متهم عدم حضور يو مادي عمل او د مؤجه عذر او معقول عذر له شتون پرته د قوانينو او عدالت څخه سرغړونه ده. نوموړی په دې تړاوو داسې نظر څرګندويي: « پوښتنو ته ځواب نه ورکول، د دفاع حق د اجراء يوه برخه ده، بل مفهوم نلري. د دې حق پر بنسټ متهم کولای شي، چې څه ډول لازمه ګڼي پوښتنو ته د ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي او يا هم پوښتنو ته ځواب ورکړي. آيا متهم ملزم دي، چې متهم شي. آيا هر هغه څه چې هغې ته نسبت ورکول کيږي، پر هغې اقرار وکړي؟ په داسې حال کې چې هر هغه څه چې نوموړي ته نسبت ورکول کيږي، له هغې څخه انکار وکړي؛ نو ولي ونشي کولای چې متهم سکوت وکړي او ممکن د هغې اظهارات ناسم وي، ولي ونشي کولای، چې دا حق ولري؛ ترڅو اصلاً څه اظهار ونکړي.»

د دې عالم دې نظر څرګندول په هغه وخت کې د نوموړي په مقابل کې غبرګونونه درلودل. د هغې له ډلې څخه يو هم سزار بيکاريا، د دې نظر پر وړاندې د ټولنې د ګټو په خاطر استناد کړی دی او دا کار يې د عامه ګټې خلاف ګڼلی دی او د مجازات د ګټې د نظريې پر بنسټ، د دې طرفدار دی، چې پر داسې شخص باندې د عدلي او قضايي ارګانونو پر وړاندې سکوت کوي بايد شديد مجازات تطبيق شي.

اخلاق پالوونکي بيا داسې نظر لري، چې متهم کولای شي، د قانون له منګولو څخه تيښته وکړي پرته له دې چې نورو ته زيان ورسوي، د څارنوال پوښتنو ته له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي. (رسولي، ۱۳۹۳، ص. ۱۸۹ )

**د مظنون او متهم د سکوت حق بنسټونه:**

د سکوت د حق لهپاره عمدتاً څلور بنسټونه ذکر کولای شوو:

۱- د برائت الذمې اصل: د متهم د سکوت حق تر ټولو اساسي ترين بنسټ، د متهم د سکوت حق اصل دی. د دې اصل اهميت په دې کې دی، چې د مظنون او متهم سره؛ ترڅو چې د محکمې په قطعي حکم محکوم عليه پيژندل کيږي، بايد د شخص په حيث د مظنون او متهم سره د جزايي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې بايد د بيګناه شخص په حيث چلند ورسره وشي.

د دې اصل پر بنسټ، د متهم د مقصر ګڼلو لهپاره او همدارنګه پر هغې د مجازاتو تطبيق يوازې هغه وخت ممکن دي، حکم قطعي او يا نهايي شي او له بله پلوه د جرم د اثبات مسؤوليت د څارنوال پر غاړه دی، چې د متهم جرم ثابت کړي او متهم د خپلې بې ګناهې د اثبات رسولو کوم مکلفيت نلري. د جزا په حقوقو کې برائت د متهم بې ګناهي يو اصل دی؛ مګر دا چې د هغې مخالف دليل وجود ولري. د دې اصل پر بنسټ متهم ملزم نه دی، چې خپله بې ګناهي په اثبات ورسوي او په نتيجه کې کولای شي، چې سکوت اختيار کړي؛ نو له متهم شخص څخه

هر ډول پوښتنه ، د هغې له رضايت پرته غیر مؤجه او ناسم امر ګڼلی کېږي او که چیرې متهم مایل نه وي چې پوښتنو ته ځواب ورکړي، نشو کولای، چې دې عمل ته يې مجبور کړو.

۲- د ارادې او اختیار د آزادي اصل: د سکوت حق دوهم بنسټ هغه د انسان آزادي ده او ترڅو چې شخص په خپله اراده او د بشپړې آزادۍ په درلودلو سره په عمل باندې اعتراف او اقرار ونکړي، له متهم څخه د هر ډول اعتراف او اقرار ترلاسه کول جبري او قانوني اعتبار او ارزښت نلري او نشو کولای چې دا ډول اعتراف او اقرار د جرم د اثبات لهپاره دلیل وګڼوو:

۳- د البینه علی المدعی اصل: یو اصل وجود لري، چې د هغې پر بنسټ البينه علی المدعي دی. د دې اصل پر بنسټ، د اثبات دنده د هغې چا پر غاړه ده، چې دعوی کوي او په جزايي قضاياوو کې اصل دا دی، چې د اثبات دنده د څارنوال پر غاړه دی؛ نو متهم مکلف نه دی؛ ترڅو خپله بې ګناهې په اثبات ورسوي او یا د خپلې بې ګناهۍ لهپاره دلیل ذکر کړي.

۴- څلورم اصل، چې په دې رابطه وجود لري، دا دی، چې هیڅوک په دې مجبور نه دي، چې پر خپل ځان باندې دلیل وړاندې کړي یا په بل عبارت خپل ځان مجرم ثابت کړي. ( رحمدل، ۱۳۸۵، ص. ۱۹۰ )

**د سکوت حق ډولونه**

سکوت حق پر دوه ډوله دی.

۱- طبیعي سکوت: طبیعي سکوت هغه دي، چې مظنون او متهم کوڼ یا کونګ وي او یا په محکمه کې چې محاکمه کېږي، د هغې په ژبه باندې نه پوهېږي. که مظنون او متهم په لیکلو او کتابت باندې پوهېږي، بیا کومه ستونزه نشته؛ خو که په لیکلو او کتابت باندې نه پوهېږي بیا دولت مکلفیت لري، چې د دوی لهپاره ژباړن وګماري؛ ترڅو د دوی دا ستونزه حل شي او د بې وزله مظنون او متهم لهپاره ژباړن د دولت په لګښت نیول کېږي.

۲- عمدي سکوت: عمدي سکوت د جزایي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې د کشفي، عدلي او قضايي ارګانونو له پوښتنو څخه د مظنون او متهم ډډه کولو ته عمدي سکوت وايي، چې زمونږ د بحث اصلي موضوع هم عمدي یا قصدي سکوت دی.( شینواري، ۱۳۹۹، ص. ۳ )

**په اسلامي شریعت کې د مظنون او متهم د سکوت حق دلایل**

۱- په اسلامي شریعت کې په خپله شارع د جرم اعتراف کوونکي ته له اعتراف څخه د ګرځېدلو او رجوع سپارښتنه کړې ده؛ نو ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه څوک به چې له اعتراف څخه رجوع وکړه، هیڅکله

به په دوی باندې حد نه دی جاري کړی او له دې څخه معلومېږي، چې په اسلامي شريعت کې کشفي، عدلي او قضايي ارگانونه مظنون او متهم نشي مجبورلې چې په جرم اعتراف وکړي.
۲- پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، چې حدود په شبهاتو سره ساقط کړئ؛ ځکه د امام لهپاره دا دي، چې که په عفوه او بخشش کې خطا وکړي نه دا چې د مجازاتو په تطبيق کې اشتباه او تيروتنه وکړي.

نو د اسلامي شريعت او د قوانينو له نظره مظنون او متهم د سکوت حق لري او د مظنون او متهم له رضا پرته په جبر، شکنجه، فريب او داسې نورو غير قوانينو له لارې د اعتراف او اقرار ترلاسه کول باطل گڼل کېږي او جزايي اجراآت که په هر پړاو کې له بطلان سره مخامخ کېږي (شينواري، ۱۳۹۹، ص. ۶۰)

**د متهم د سکوت حق رسميت پېژندنه په بين المللي اسنادو کې**

که څه هم د متهم د سکوت حق د سياسي او مدني حقوقو په بين المللي ميثاق کې او همدارنگه د بشر حقوقو په نړيواله اعلاميه کې، که څه هم د سکوت حق څخه په صراحت سره ترې يادونه نه ده شوي؛ اما د ۱۱ مادې په اول بند کې يې د متهم د دفاع لهپاره له ټولو لازمو تضمينونو څخه په عمل کې تأکيد شوی دی او داسې بيان يې کړی دی، چې: «هر څوک چې د جرم پر ارتکاب تورن شوی وي؛ تر هغې بې گناه گڼل کېږي؛ ترڅو چې په يوه عمومي دعوی کې د هغې د فاع لهپاره لازم تضمينونه تأمين شوي وي؛ نو د هغې تقصير به قانوناً ثابت شي».

د پورته مادې د تعبير پر بنسټ، که چيرې د ټولو تضمينونو تأمين د سياسي او مدني حقوقو بين المللي ميثاق د ۱۴ مادې د ۳ بند د (ز) او همدارنگه د بين المللي جزايي ديوان اساسنامې ۶۷ مادې د (ز) برخې احکامو په نظر کې نيولو سره د متهم د دفاع په رابطه د متهم لهپاره لازم تضمينونه وگڼو، د بشر حقوقو نړيوالې اعلاميې د ۱۱ مادې صراحت پر بنسټ د دې تضمينونو له جملې يو هم د سکوت د حق رعايت گڼل کېږي، چې بايد هغې ته احترام وشي او په عمل کې بايد تطبيق شي.

د سياسي او مدني حقوقو نړيوال ميثاق د ۱۴ مادې د ۳ بند (ز) جز د سکوت حق د رعايت په رابطه تصريح کوي چې: «هر څوک چې د جرم پر ارتکاب متهم شي (د هغې پر وړاندې د هر ډول اتهام د تثبيت په جريان کې) حق لري، چې د لاندې حد اقل تضمينونوڅخه د کاملې تساوۍ سره برخمن شي:

(ز) مجبور نشي؛ ترڅو د خپل ځان پر وړاندې شهادت ورکړي او يا پر مجرم والي باندې اعتراف وکړي».
همدارنگه د متهم د سکوت حق د امريکا د بشر حقوقو ميثاق ۸ ماده، ۲ فقره (ز) بند او د اروپا بشر حقوقو ميثاق ۶ ماده کې هم تسجيل شوي دي.

د جنايي حقوقو بين المللي انجمن د ۱۹۳۹ کال په خپلې مصوبې کې داسې توضيح کوي: « شايسته ده، چې د خپل ځان متهم ګڼلو منعې قاعده (د جرم پر ارتکاب د عدم اقرار حق ) په قوانينو کې په صراحت سره پيش بيني شي او کله چې متهم پوښتنو ته له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي، محکمه نشي کولای چې هغه د محکوميت دليل تلقي کړي».

په همدې ډول د ۱۹۵۳ کال د جزا حقوقو بين المللي منعقده کنفرانس، د خپلو سپارښتنو له جملې څخه په يوه کې ذکر کړي دي، چې:

« متهم بايد پوښتنوته په ځواب ورکولو مجبور نشي او بايد آزاد پريښودل شي؛ ترڅو هغه لاره چې د هغې په مصلحت وي، انتخاب کړي».

د ملګرو ملتونو سازمان د حقوق بشر په کال۱۹٦۲ کال کې سپارښتنه کړي ده، چې: « هيڅوک بايد د خپل ځان پر وړاندې پر شهادت ورکولو مجبور کړی نشي او لازمه ده، چې هر هغه څوک ته چې نيول شوی او يا بازداشت شوی وي، د هر ډول پوښتنو او تحقيق څخه مخکښې بايد هغې ته اعلام شي، چې د سکوت حق لري».

د جزايي بين المللي ديوان اساسنامې ٦۷ ماده تصريح کوي، چې: « متهم د شهادت پر اداء کولو او يا پر مجرميت اعتراف کولو باندې مجبور نه دی او نشي کولای چې سکوت اختيار کړي، پرته له دې چې د هغې سکوت د انکار او يا د اعتراف په شان وګڼل شي».

د ۱۹۸۹ کال د ماشوم حقوقو مصوب ميثاق ۴۰ مادې ۲ بند د ب جز د ۴ برخه د دې موضوع په رابطه له غړو دولتونو څخه غواړي؛ ترڅو د ماشوم د حقوقو د تضمين لهپاره په قضايي مراجعو کې لاندې موضوع په پام کې ولري:

« د شهادت په ورکولو باندې نه مجبورول يا د تقصير اظهارول، د مختلفو شاهدانو بررسي کول او يا د شرکت د اجازې کسبول او يا په مساوي شرايطو کې د هغې د شاهدانو بررسي».

دا يو مسلم اصل دی، چې د مظنون او متهم حقوق او آزادی بايد د جزايي اجراآتو په ټولو پړاونو کې رعايت شي او تر ټولو مهمه موضوع د برائت الذمې اصل دی او دا چې دا اصل متعدد نتايج لري، يوه نتيجه يې د مظنون او متهم پر ځان باندې د شهادت پر ورکولو او په مجرم والي باندې په اقرار باندې به نه مجبوربږي او د مظنون او متهم د ارادې خلاف، په هغه اظهاراتو باندې مجبور شي، چې خپل ځان مجبور کړي. له بله پلوه د جرم د اثبات او الزام دلايلو راټولو دنده د مدعي العموم دنده ده.

د پورته اصولو په پام کې نيولو سره، دا قاعده، چې په بين المللي عرف کې د تأييد وړ ګرځېدلې دی او ټول هيوادونه دا اصول په خپلو قوانينو کې تسجيل کړي دي او له هغې څخه پيروي کوي (رسولي، ۱۳۹۴، ص. ۳۱۶)

**په تطبيقي حقوقو کې د سکوت د حق رعايت**

د تورن د سکوت حق په اوس وخت کې د بين المللي اسنادو احکامو ته پام سره د هيوادونو په اساسي قوانينو کې او د دوی په جزايي قوانينو کې او همدارنګه په قضايي رويو کې تسجيل شوي دي او رعايت يې حتمي دی.

د جاپان د ۱۹۴۶ کال اساسي قانون د ۳۹ مادې پر بنسټ، د متهم د سکوت حق د رعايت په هکله داسې بيان شوی دی، چې: « هيڅوک مجاز نه دی، چې پر ځان باندې شهادت ورکړي، له اجبار، شکنجه، تهديد، د نيونې د مودې اوږدولو څخه ترلاسه شوي اقرارونه، د دليل په توګه نه پيژندل کيږي».

د بلژيک په هيواد کې د متهم د سکوت حق د متهم دفاعي حق په حيث پيژندل شوی دی او هيڅ عدلي مؤظف حق نلري، چې متهم د خپل ځان پر وړاندې په شهادت باندې مجبور کړي.

د آلمان هيواد په جزايي قوانينو کې تصريح شوي دي، چې متهم هيڅ ډول دنده د خپل محکوميت په برخه کې نلري او هيڅ ډول مرسته او همکاري په خپل محکوميت کيدلو کې نشي کولای. د آلمان د جزايي اجراآتو قانون د ۲۴۳ مادې ۴ بند کې او د ۱۳۶ مادې د ۱ بند پر بنسټ، متهم د سکوت حق لري، چې سکوت اختيار کړي. کشفي او عدلي ارګانونه مکلفيت لري، چې متهم د سکوت له حق څخه خبر کړي.

د انګلستان په هيواد کې د متهم څخه استنطاق د پوليسو د قانون پر اساس او د جزايي ادلې پر بنسټ ترسره کيږي. د نوموړي د C مجموعې ۱۱ بند پر بنسټ له متهم څخه په زور او جبر ځواب اخيستل، منع شوي دي، سربيره پر دې پوليس ته دنده سپارل شوي ده؛ ترڅو متهم د اظهاراتود ورکولو او هم له اظهاراتو څخه د ډډه کولو له عواقبو څخه خبر کړي.

د فرانسې هيواد د جزايي اجراآتو په اصولو کې، د سکوت حق په څرګند ډول تصريح شوی نه دی؛ اما په دې هيواد کې اجراآت په دې ډول دي، چې د بين المللي کنوانسيونونو په تبعيت کولو سره په عمل کې دا حق رعايت کيږي.

د امريکې هيواد د ۱۹۶۴ او ۱۹٦٦ په کلونو کې د عالي ديوان دوې صادرې شوي پريکړې پر بنسټ دا حق يې په رسميت پيژندلی دی او هغه يې د متهم د دفاعي حق په حيث پيژندلی دی.

د کاناډا په هيواد کې هم د متهم د سکوت حق په رسميت پيژندل شوی دی، او د هغې پر بنسټ متهم حق لري، چې د مستنطق ته د ځواب له ورکولو څخه ډډه وکړي؛ اما په دې هيواد کې متهم مکلف دی؛ ترڅو د مطروحه پوښتنو پر وړاندې خپل نوم او شهرت بيان کړي.

د ایران هیواد په اساسي قانون کې د متهم د سکوت د حق په ارتباط حکم شتون نلري؛ اما په نورو قوانینو کې دا حق تسجیل شوی دی. څرنگه چې په جزایي امورو کې د انقلاب او د عمومي محاکم د جزایي اجراآتو اصولو په قانون کې توضیح شوي دي، چې: « قاضي په لومړي سر کې د متهم څخه مشخصات او هویت ( نوم، د پلار نوم، فامیل، عمر، شغل، عیال او اولاد، تابعیت ) اوهمدارنگه آدرس ( ولایت، ښار... ) پوښتنه کوي او هم متهم ته وایي چې د خپلو اظهاراتو عواقبو ته یې باید پام وي او وروسته اتهام او د اتهام دلایل په صریح ډول متهم ته تفهیم کوي او وروسته له هغې پر تحقیق باندې شروع کوي. پوښتنې باید مقیدې او واضح وي. تلقیني یا القاح کونکي پوښتنې یا د متهم اکراه او یا اجبار منع دی. څرنگه چې متهم د پوښتنې له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي، د هغې ډډه کول په صورت مجلس کې قید کېږي».

په همدې ډول په قانون کې متهم ته حق ورکړل شوی دی، هغو پوښتنو ته چې شخصي امورو سره ارتباط لري او د ارتکاب شوي جرم سره تړاو ونلري، کولای شي، چې ځواب ورنکړي. دا موضوع د واحده مادې په ۱۱ بند کې په لاندې متن سره تسجیل شوی دی.

« هر متهم حق لري، چې د کشفي او عدلي ارگانونو هغو پوښتنو ته چې د جرم او تعقیب سره ارتباط نلري او د متهم د شخصي او کورني موضوعاتو سره یې تړاو ولري، له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي».

څرنگه چې لیدل کېږي، چې د سکوت حق د ایران په جزایي قوانینو کې په ضمني ډول تسجیل شوی دی. واحده ماده د متهم د کورني او شخصي امورو اړوند د جرم سره سره تړاو ونلري، له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي؛ اما په عام ډول متهم نشي کولای؛ ترڅو د مستنطق هر ډول پوښتنو په مقابل کې سکوت اختیار کړي ( رسولي، ۱۳۹۳، ص. ۱۹۳).

**په داخلي قوانینو کې د متهم د سکوت حق تضمین**

د متهم د سکوت حق د افغانستان په اساسي قانون کې هم په ضمني ډول تسجیل شوی دی، چې پر بنسټ یې د افغانستان د اساسي قانون د بین المللي قوانینو او اسنادو په پیروی، شکنجه یې منع کړې ده. په دې ارتباط د اساسي قانون ۲۹ ماده صراحت لري چې:

« د انسان تعذیب منع دی. هیڅوک نه شي کولای، چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي » ( اساسي قانون، ۱۳۸۲، ماده ۲۹، ص. ۱۲).

د اساسي قانون په ۳۰ ماده کې ذکر شوي دي، چې: «له متهم یا بل شخص څخه په زور ترلاسه شوي څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نلري ». ( اساسي قانون، ۱۳۸۲، ماده ۳۰، ص. ۱۳ )

« په جرم اقرار، د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په کامل رضایت او د عقل د صحت په حالت کې، د واکمنې محکمې پر وړاندې ترسره شوی وي».

د متهم د سکوت حق د جزایي اجراآتو قانون کې په صریح ډول ذکر شوی دی. څرنګه چې د نوموړي قانون ۲۲ ماده کې تصریح شوی دی:

« (۱) تورن د هغې پوښتنې په وړاندې چې له هغې څخه کېږي، سکوت اختیار کړي. سکوت او له ځواب ورکولو څخه ډډه کولو موضوع په محضر کې درجېږي.

(۲) سکوت د هغه د بیان په حکم کې ندی.

(۳) هغه بیان، اقرار او شهادت چې له تورن یا شاهدانو څخه د تطمیع، تهدید، تخویف ( ویرولو ) یا اکراه په وسیله ترلاسه شوی وي، اعتبار نلري.» ( د جزایي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۱۵۰، ص. ۱۳۲ )

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره، په لومړي قدم کې کشفي، عدلي او قضایي مؤظفین مکلفیت لري؛ ترڅو د مظنون او متهم او د هغې وي، جواز نلري.

په دربیم قدم کې، که چیرې دا ډول اظهارات له متهم څخه اوخیستل شي او نوموړی په هغې باندې رضایت ونلري یا په بل عبارت دا د نورو حقوقو د پیژندنې په ضمن کې باید د کشف او تحقیق په پړاوو کې د سکوت له حق څخه هم خبر کړي.

په دویم قدم کې، له مظنون او متهم څخه د هر ډول اظهاراتو او بیانونو ترلاسه کول چې په جبري ډول وي او یا په حیله او فریب سره

اظهارات د قانون خلاف ترلاسه شوي وي، قانوني اعتبار به ونلري او نشو کولای چې د دلیل په توګه د متهم په وړاندې وکارول شي.

په څلورم قدم کې، د عدلي او قضایي ارګانونه نشي کولای، د متهم سکوت، پر هغې باندې د الزام او اتهام دلیل وګرځوي. په دې معنا، که چیرې متهم سکوت اختیار کړي او دوی داسې استدلال وکړي، چې نوموړی د قضیې مسؤول او مقصر دی. څرنګه چې د افغانستان د ځینو ادارو په اجراآتو کې په تېره بیا په څارنوالیو کې دا رویه

سابقه لري. په دې رابطه یو حقوقپوه لیکي چې: «سکوت باید د دلیل په توگه و نه گڼل شي، د مجرمیت او ملامتیا استنباط د شخص د سکوت پر بنسټ منع دی».

په یوه کلام کې که ووایو، نشو کولای، چې متهم مجبور کړو؛ ترڅو پر خپل ځان باندې شهادت اداء کړي. یا دا ډول زمینه مساعده شي، چې؛ ترڅو د متهم د بیانونو په اوریدو سره پر هغو خبرو چې د هغې لهپاره مسؤولیت رمینځته کړي، استدلال وکړو؛ ځکه اصل دا دی، چې په قضایي قضیو کې د دلایل ټولول او د اتهام اثبات د مدعي العموم پر غاړه دی؛ ترڅو د نوموړي په کوښښ او هڅې سره او د علمي روشونو په کارونې سره، د اتهام او الزام دلایل ټول کړي (زیرکسار، ۱۴۰۱، ص. ۹).

**د مظنون او متهم د سکوت حق قلمرو**

د تحقیق ارگانونه او قضیې ته رسیدنه د قضاتو په شمول، باید دا اصل په نظر کې ونیول شي، چې له متهم څخه باید حساب شوي پوښتنې مطرح کړي؛ ځکه دا امکان وجود لري، چې مستنطق د متهم پر وړاندې داسې پوښتنې مطرح کړي، چې دا پوښتنې مشروع وي او یا دا چې دا پوښتنې مشروع نه وي او دا امکان هم وجود ولري، چې د څارنوال لخوا د ځینو پوښتنو مطرح نه یوازې مشروع وي او نه حقیقت ته د رسیدو لهپاره وي؛ بلکې په واقعیت کې د نوموړي پوښتنو مطرح کولو څخه موخه، پر متهم باندې د فشار راوړل وي؛ ترڅو متهم مجبور شي هغه څه ووایي، چې د هغې د ارادې او میل خلاف وي؛ نو پر دې بنسټ متهم حق لري، چې د هر ډول پوښتنو په مقابل کې چې د څارنوال لخوا مطرح کیږي، که چیرې مشروع وي؛ خو خیر او که چیرې مشروع نه وي او که د کوم هدف لهپاره مطرح کیږي، متهم کولای شي، چې د سکوت له حق څخه استفاده وکړي؛ نو هغه پوښتنې چې له متهم څخه مطرح کیږي، باید په داسې ډول وي، چې:
لومړی دا چې پوښتنې باید مشروع وي او له قضیې سره تړاو ولري.

دویم، متهم باید په مکمله آزادۍ سره او په رضایت، اختیار او د ارادې په درلودلو سره پوښتنو ته ځواب ورکړي. د ځوابونو د ترلاسه کولو پر مهال باید هیڅ ډول اجبار او اکراه وجود ونلري.
دریيم دا چې، مطروحه پوښتنې باید څارنوال او قاضي حقیقت ته رهنمایي کړي. (ستانکزی، ۱۴۰۰، ص. ۴۳)
څلورم دا چې، د ځوابونو په ترلاسه کولو کې د هر ډول حیلې او فریب څخه ډډه وشي.

نو د تحقیق ارگان حق نلري؛ ترڅو هر ډول پوښتنه چې وغواړي د ځواب د ترلاسه کولو لهپاره له متهم څخه یې مطرح کړي؛ بلکې هغه پوښتنې مطرح کړي، چې مشروع وي او له ارتکابي جرم سره تړاو ولري. دا امکان هم وجود لري، چې څارنوال له متهم څخه هغه پوښتنې مطرح کړي، چې نه یوازې نامشروع وي؛ خو د پوښتنو له

مطرح کولو څخه هدف حقیقت ته رسیدل نه وي؛ بلکې موخه ترې پر تورن باندې د فشار واردول وي. په داسې مواردو کې د متهم مسلم حق دی؛ ترڅو د دا ډول پوښتنو په مقابل کې د ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي او د خپل سکوت حق څخه استفاده وکړي. د بیلګې په ډول، کله چې یو شخص د مطبوعاتي جرم پر ارتکاب باندې متهم شي، او له هغې څخه پوښتنه وشي، چې آیا د چا سره نامشروع اړیکې لري او که نه؟ او یا د اختلاس د جرم له مرتکب څخه پوښتنه وشي، چې آیا کله د شراب څښلو د جرم په ارتکاب نیول شوی دی او که نه؟ ( رسولي، ۱۳۹۷، ص. ۱۸٦ ).

هغه پوښتنو چې موخه یې د متهم تلقین وي هم د داسې پوښتنو مطرح کول ناسمې ګڼل کېږي، لکه پر یو شخص باندې د سرقت د جرم تور وي؛ خو له هغې څخه دا ډول پوښتنه وشي، چې غلا شوی مال دې چیرته پټ کړی دی؟ او یا دا ډول پوښتنه وشي، چې غلا شوی مال یې پر چا باندې خرڅ کړی دی؟

په همدې ډول د هغو پوښتنو مطرح کول، چې هدف یې د متهم فریب وي جواز نلري. څرنګه چې متهم ته د درواغو وعده وکړل شي، چې که چیرې اعتراف وکړې له مجازاتو څخه به معاف شې او یا په مجازاتو کې به یې کموالی راشي؛ ځکه د دې امکان وجود لري، چې؛ ترڅو متهم د خلاصون په امید، د جرم پر ارتکاب اعتراف وکړي، اصلاً پر هغې باندې نه دی مرتکب شوی. که څه هم د عدلي او قضایي ارګانونه سره د متهم مرسته په ځینو مواردو کې کیدی شي، چې د هغې د مجازاتو د تخفیف سبب وګرځي؛ اما که چیرې هر ډول وعده له متهم سره د مجازاتود تخفیف او یا د هغې د آزادۍ لهپاره د دې لهپاره چې پر جرم ارتکاب وکړي د متهم د فریب په موخه، دا ناسم امر دی.

څرنګه چې له متهم څخه په غیر قانوني توګه د دلیل ترلاسه کول د شکنجې، زور او اجبار په وسیله منع دی، په ورته ډول د تقلب او فریبانه وسایلو کارونه او د تلقیني پوښتنو مطرح کول، د بې هدفه ګمراه کوونکي او له متهم څخه د بې ربطه پوښتنې مطرح کول هم جواز نلري او که چیرې څارنوال د دې طریقو څخه په استفاده پر متهم باندې اتهام وارد کړي، محکمه باید په داسې غیر مؤجه دلایلو باندې استناد ونکړي.

نو مظنون او متهم حق لري، چې څرنګه خپل مصلحت ویني د څارنوال د پوښتنو پر وړاندې ځواب ورکړي، یا دا چې د هر ډول پوښتنو ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي؛ ځکه دوی ملزم نه دي، چې خپل ځانونه متهم کړي. دوی مکلفیت نلري، هر هغه څه چې دوی ته یې نسبت ورکړي، پر هغې باندې اعتراف وکړي، په هغه صورت کې چې د دوی لهپاره د سکوت حق امکان هم وجود ولري، چې ګټه ترې پورته کړي یا دا چې هغه څه اظهار کړي، چې د واقعیت خلاف وي ( رسولي، ۱۳۹۳، ص. ۱۹۷ ).

د مظنون او متهم سکوت د مستنطق د پوښتنو پر وړاندې د جنايي واقعې يا د قضيې د تأييد يا عدم تأييد په معنا نه ده. که چيرې د متهم سکوت د متهم په گټه يا زيان باندې تعبير شي، دا موضوع له متهم څخه د سکوت حق د سلب په معنا ده؛ نو پر دې بنسټ متهم حق لري د نورو اسنادو او شواهدو با وجود، سکوت وکړي؛ نو د متهم سکوت په خپل ذات کې جرم نه گڼل کېږي.

دا موضوع د متهم د مؤقتې آزادۍ د سلب په رابطه هم مهم تاثير لري؛ ځکه يوازې د سکوت د حق څخه گټه پورته کول او د الزامي شوهدو او د نورو دلايلو د نه موجوديت په صورت کې، نشو کولای چې د متهم آزادي سلب کړو. د مؤقت آزادۍ سلب دليل، دا دې، چې د شخص اتهاميت لهپاره کافي شواهدو او دلايلو موجوديت ته اړتيا لري (رسولي، ۱۳۹۷، ص. ۱۸۹).

په دې رابطه د بين المللي جزايي اساسنامې ۶۷ مادې د (ز) بند داسې صراحت لري، چې د سکوت حق په رابطه په دريو پړاوونو کې بايد پام وشي.

يو دا چې، متهم ته به حق او کامله آزادي ورکړل شي؛ ترڅو وکولای شي د مستنطق د پوښتنو په مقابل کې سکوت وکړي.

بل دا چې، که چيرې متهم د مستنطق د پوښتنو په مقابل کې سکوت وکړي، دا سکوت بايد د واقعې د تأييدۍ په معنا نه وي او په دې دليل بايد متهم مجرم و نه گڼل شي.

دريم دا چې، د سکوت حق بايد متهم ته د هغې د استنطاق د دورې يو حق په حيث نوموړي ته توضيح شي يا په بل عبارت د کشف په پړاو کې او د تحقيق پر مهال بايد نوموړی حق متهم ته تفهيم شي.

که چيرې متهم د تحقيق او د محاکمې پر مهال له مطروحه پوښتنو څخه ډډه وکړي، ولو که د متهم سکوت پر هر دليل وي، دا سکوت نشو کولای چې د واقعې د تأييدۍ په معنا تلقي کړو؛ ځکه د سکوت د حق منل د واقعې د صحت د منلو په معنا وي؛ نو دا به په واقعيت کې د متهم د سکوت حق سلب د هغې د اساسي حقوقو د سلب په معنا به وي (رسولي، ۱۳۹۴، ص. ۳۱۷).

نو د پورته توضيحاتو پر بنسټ ويلای شو، چې: د مظنون او د متهم د سکوت حق د اساسي او اصلي حقوقو له ډلې څخه شمېرل کېږي او د عادلانه محاکمې مربوط گڼل کېږي. دا حق په بين المللي اسنادو کې او په تطبيقي قوانينو کې منل شوی دی او د هغې په رعايت تأکيد شوی دی. د هغې په پيروۍ سره دا حق د افغانستان په اساسي

قانون کې په ضمني ډول منل شوی دی او شکلي جزایي قوانینو کې په صریح ډول تسجیل شوی دی ( رسولي، ۱۳۹۳، ص. ۱۹۸).

د متهم د سکوت حق رعایت په رابطه، باید ذکړو کړو چې : کشفي او عدلي ارګانونه د ګرفتارۍ او تحقیق پر مهال مکلفیت لري، چې متهم ته د پوښتنو له مطرح کولو څخه مخکښې تفهیم وکړي، چې دا موضوع د دوی له حقوقو جملې څخه ګڼل کیږي او کولای شي، چې د مطروحه پوښتنو پر وړاندې له ځواب ورکوولو څخه ډډه وکړي. یا دا چې سکوت اختیار کړي، په دې توګه د نوموړي سکوت هیڅ ډول جزایي عواقب هغې ته نه متوجې کوي.

- د سکوت له حق څخه ټول متهمین په تیره هغه متهمین چې مدافع وکیل نلري او کومه حقوقي پوهه او دانش هم نلري، دا یو ضروري امر دی؛ ځکه د تحقیق پر مهال ډېری مظنون او متهم د افکارو د پریشانۍ پر اساس د روحي فشار لاندې واقع کیږي او ممکن د دې او ضاعو او حالاتو لاندې د خپل ځان پر وړاندې اظهارات وړاندې کړي. یا دا چې ممکن اغفال شي او یا د ډار او شک سره مخامخ شي او یا دا تناقضونه ممکن د مظنون او متهم لهپاره درد سر پیدا کړي.

- د نورو اشخاصو لهپاره ولوکه، حقوقي سواد او دانش هم ولري، او یا دا چې رمزونو او د حقوقي قواعدو څخه هم آګاهي ولري، ډېر امکان لري، چې د تحقیق سره د مخامخ کیدلو پر مهال، تر تاثیر لاندې واقع شي. ایجابوي، چې د لازم فرصت په ترلاسه کولو سره، متهم خپله آرامتیا بیا ترلاسه کړي او په ډاډ او کاملې آزادۍ سره او یا د مدافع وکیل له طریقه او د هغې سره په مشوره، هغه څه چې لازم دی مستنطق ته بیان کړي (رسولي، ۱۳۹۷، ص. ۱۹۰).

**د مظنون او متهم د سکوت حق آثار**

د مظنون او متهم د سکوت حق د انساني حقوقو اصولو سره موافق دی. د مظنون او متهم د سکوت حق خلاف استنباطونه د هغوی پر سکوت حق مستقیم تاثیر لري. که چیرې د سکوت حق د مظنون او متهم پر وړاندې تفسیر شي، دا به مظنون او متهم دیته اړ کړي، چې د حق خلاف اظهارات او بیانات وړاندې کړي، او همدارنګه داسې نشو کولای چې مظنون او متهم ته ووایو، چې هم د سکوت حق او هم د دوی د سکوت د دوی پر وړاندې تفسیرکړو. متهم پر خپل سکوت سره د اثبات ټول مسؤولیت د مدعي العموم پر غاړه اچوي؛ نو د جزایي دعوی او د جرم اثبات د مدعي العموم مسؤولیت دی او داسې ویلی شو، چې په جزایي دعوی کې د سکوت آثار انکار دی او په مدني قانون کې سکوت، قسم دی، چې نکول کیږي او دې موضوع ته د مدني محاکماتو اصولو قانون ۲۷۲ ماده صراحت لري. په اصل کې د سکوت حق له مظنون څخه د مادي او معنوي اکراه په وسیله د اعتراف اخیستلو مخنیوی کوي؛ چون نیونه یا ګرفتاري د جرم د کشف مرحله یو له مواردو څخه ګڼل کیږي او د جرم د

کشف مرحله د قضايي پروسې اساس او تهداب جوړوي، که چیرې په مرحله کې اجراآت په قانوني ډول ترسره شي، وروستي اجراآت (تحقيق، تعقيب او محاکمه) چې پر هغې باندې ولاړ وي، په سمه توگه پر مخ وړل کېږي او که چیرې د جرم د کشف پړاوو بنسټ سم کینبودل نشي او وروستي پړاوونه چې د کشف پړاوو پر بنسټ پر مخ وړل کېږي، منحرف کېږي، او د جنایي عدالت موخه چې هیڅ بې گناه بې موجبه محاکمه او مجازات نشي او هیڅ گنهکار پې موجبه د قانون له منگولو څخه فرار و نه کړي، نه ترلاسه کېږي (نیازمند، ۱۳۹۹، ص. ۱۴۴).

**پایله**

د دې کتابتوني علمي مقالې په اوږدو کې دې پایلو ته ورسیدو چې:

۱- کشفي، عدلي، او قضايي ارگانونه په دې وروستیو کې د عدالت د ښه تطبیق لهپاره د مظنون او متهم حقوقو ته ډېر پام کړی دی او ځینې دا حقوق یې د مظنون او متهم له اساسي او بنیادي حقوق گڼلي دي. په دې معنی کشفي، عدلي او قضايي مقامات د جزايي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې د مظنون او متهم اساسي حقوق په تیره بیا د سکوت حق رعایت کړي او د عدم رعایت په صورت کې د مسؤولینو جزايي اجراآت تر پوښتنې لاندې راځي.

۲ – د سکوت حق د عادلانه محاکمې یو له بنیادي اصولو څخه گڼل کېږي، چې د وگړو د حقوقو له جملې څخه یو حق دی، چې د جزايي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې باید رعایت شي. د سکوت حق د مظنون او متهم له نورو حقونو څخه جوړ شوی یو حق دی، لکه د برائت الذمې حق، د شکنجې د منع حق، د انساني کرامت د ساتنې حق.

۳- د سکوت حق پر بنسټ منظنون او متهم د جزايي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې حق لري، چې سکوت اختیار کړي او د کشفي، عدلي او قضايي ارگانونو له پوښتنو څخه د کشف، تحقیق، تعقیب او د محاکمې په جریان کې ډډه وکړي او سکوت اختیار کړي.

۴- کشفي، عدلي او قضايي ارگانونه مکلفیت لري، چې د جزايي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې مظنون او متهم د سکوت له حق څخه خبر کړي او د مظنون او متهم د سکوت په صورت کې د دوی سکوت به په محضر کې درج کړي.

۵- د فقهې او قانون له حیثه د مظنون او متهم د سکوت حق په تعریف کې کوم داسې توپیر نه لیدل کېږي؛ ځکه موخه یوه ده او د مظنون او متهم د خبرو څخه د شخص منع راوړلو او د وینا نه بیانولو ته وایې.

٦- که چیرتې مظنون او متهم گونگ یا کوڼ وي؛ دیته طبیعي سکوت ویل کېږي، او په دې حالت کې په محکمه باندې لازم دي چې ژباړن، خبیر او متخصص شخص ورته وگماري، او عمدي او قصدي سکوت هغه دی: چې

د کشفي، عدلي او قضايي ارګانونو لخوا مظنون او متهم ته پوښتنې راجع کېږي او مظنون او متهم يې له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي.

۵- کشفي، عدلي او قضايي ارګانونه مکلف دي، چې د جرم د اثبات دلايل پيدا کړي او د هغې پر بنسټ د مظنون او متهم باندې تور وارد کړي او يا يې بري الذمه وپيژني.

**وړانديزونه**

۱- د پورته نتيجو پر بنسټ، کشفي، عدلي او قضايي ارګانونو ته وړانديز کېږي، چې مظنون او متهم ته چې کوم حقوق په تيره بيا د سکوت حق په اسلامي شريعت، ملي او بين المللي قوانينو کې په نظر کې نېول شوي دي، د جزايي اجراآتو په مختلفو پړاوونو کې په نظر کې ونيسي؛ ځکه په عمل کې ډېرى وخت ليدل کې چې له مظنون او متهم څخه اعتراف د زور او شکنجې په وسيله اخيستل کېږي، يعنې اصلاً د سکوت حق په پام کې نه نيول کېږي، چې دا معمولاً د کشفي، عدلي او قضايي ارګانونو د علمي، حقوقي او مسلکي کمزوريو له ا مله رامنځته کېږي، چې بايد د دوى په ظرفيت لوړونه کې جدي پاملرنه وشي.

۲- د تحقيق ارګانونو ته وړانديز کېږي؛ ترڅو هغه مسؤلين چې د تحقيق او تعقيب په پړاوونو کې د سکوت حق په پام کې نه نيسي، تر عدلي تعقيب لاندې يې ونيسي او د مجازاتو او د مکافاتو فرهنګ په بنستيز کيدو کې رغنده رول ولوبوي.

۳- قضايي قوې ته وړانديز کېږي، چې دا ډول قضاياو کې چې د مظنون او متهم د سکوت حق په پام کې نه نيسي، او په داسې قضاياو کې شبهه وليدل شي، پر داسې قضاياو کې خپل حکم يا پريکړه صادره نه کړي او همدارنګه کشفي، عدلي او قضايي ارګانونو مسؤلين په خپلو دندو کې غفلت او سهل انګاري کوي، بايد د قانون منګلو ته وسپارل شي.

# The right of the suspect and accused to remain silent

Associate Professor Amanullah Zadran, Shaikh Zayed University, Law and political science Faculty, Department of political science.
**Email**: amanullah.zadran@gmail.com

**Abstract**
The right to remain silent is not a separate right from other rights; rather, it is a combination of them. When talking about the right to remain silent, the principle of innocence, the prosecutor's obligation to prove guilt and the prohibition of torture of the accused to obtain information and confessions come to mind. In this regard, one of the important rights of the suspect and the accused that is granted to them when the charge is filed is discussed. That is, the right of the accused to remain silent. Detective agencies, Investigating bodies and judicial bodies have an obligation during arrest, investigation and trial to inform the perpetrator of the crime of all his rights, especially the right to remain silent; because if this right is not given, he may say something that he did not commit; then his right is lost; So, in this article, we have discussed all the principles related to the accused's right to remain silent. Also, we will discuss the definition of the right to remain silent, its types, and the right to remain silent in Islamic law. In this article, which is a bibliographical (descriptive-analytical) research article, I have come to the conclusion that the right to silence is enshrined in national laws and international documents, and based on it; the suspect and accused can take advantage of it at any time and refrain from answering the questions posed.
**Key words:** Accused, acquittal, burden of proof, defendant, silence right, suspect.

**مأخذونه**

رحمدل، منصور. ( ۱۳۸۵ هـ ش ). حق سکوت. مجله حقوق دادگستری، شماره 56 و57 .
رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۳ هـ ش ). محاکمه عادلانه. (چ،۱). کابل: انتشارات سعید.
رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۴ هـ ش ). شرح و توضیح قانون اجراآت جزایي. ( چ،۲ ). کابل: ناشر، انتشارات سعید.
رسولي، اشرف. ( ۱۳۹۷ هـ ش ).اصول محاکمات جزایي. ( چ، ۱ ). کابل: ناشر، انتشارات سعید.
زماني، یوسف.( ۱۳۹۳ هـ ش ). د جزایي محاکماتو اصول. ( چ،۱ ). ګردیز: خپروونکی، علمي خپرندویه ټولنه.
زیرکسار، حسین شریفي. ( ۱۴۰۱ هـ ش ). جایگاه حقوق متهم در حقوق کیفري افغانستان. تهران: مجله بیشرفت های نوین در روانشناسي علوم تربیتي او آموزش و پرورش سال پنجم.
ستانکزی، پرویز. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). اصول محاکمات جزایي. ( چ،۱ ). کابل: ناشر، انتشارات نوی مستقبل.
شینواري، سمیع الله. ( ۱۳۹۹ هـ ش ). د متهم د سکوت حق له اسلامي شریعت سره پرته له اییزه څیړنه. کابل: نوشته هایی فقهی حقوقی درباره جمهوری اسلامی افغانستان.
http://sarahoqoq.blogfa.com/post/248
صلاح، احمد نژاد. (۱۳۹۱ هـ ش ). بررسی فقهي و حقوقی سکوت در داد رسی مدنی. تهران: مجله علمی- پژوهشي پژوهش های فقهی.
عدلیې وزارت. ( ۱۳۸۲ هـ ش ). اساسي قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۰۳.
عدلیې وزرات. ( ۱۳۹۳ هـ ش ). د جزایي اجراآتو قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۱۳۲.
علامه، غلام حیدر. ( ۱۳۹۸ هـ ش ). اصول محاکمات جزایي افغانستان. ( چ،۳ ). کابل: ناشر، دانشگاه ابن سینا.
غلامي، حمیدالله. ( ۱۴۰۰ هـ ش ). شرح قانون اجراآت جزایي. ج،۱. ( چ،۱ ). کابل: ناشر، مؤسسه انتشارات مدیقصو.
نیازمند، محمد عثمان. ( ۱۳۹۹ هـ ش ). مبنای حق سکوت در افغانستان. کابل: د قضاء مجله، د سترې محکمې نشراتي ارګان.
هاشمي، غازي. ( ۱۳۹۶ هـ ش ). مزایا و نواقص قانون اجراآتو جزایي. چ ۱. کابل: انتشارات سعید.

# په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د احالې پېژندنه او د هغې ډولونه

پوهنوال محمد شفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې استاد.
**برېښنالیک:** shafiqmandozy@gmail.com

**لنډیز**

په اوسني وخت کې اکثره هغه نړیوال موضوعات، چې د قوانینو ټکر په اساس را منځته کېږي او داخلي قوانین ورته رسیدنه نه شي کولی، احاله یې د حل لارو په سر کې قرار لري؛ نو په دې اساس احاله د نړیوالو خصوصي حقوقو د موضوعاتو او مسئلو په حل او فصل کې خورا زیاته مهمه ده، که څه هم اشخاص په یوه محل کې ژوند کوي او د دې محل سره مادي او حقوقي اړیکه لري، همدارنګه د سیاسي والي او حقوقي والي له حیثه له دولت سره تړاو لري؛ تر څو د دغه تړاو په موجب دولت د هغوی له منافعو څخه په بهر کې ملاتړ وکړي او په داخل کې هم نوموړي اشخاص له هغو حقوقو څخه برخمن شي، چې دولت ټولو ته په نظر کې نیولي دي. په عمل کې اشخاص د مختلفو عواملو لکه: ( سیاسي، اقتصادي، جنګي، تحصیلي، طبیعي حوادث او داسې نورو) له امله بهرنیو هیوادونو ته سفرونه کوي، همدارنګه د دولتونو په وسیله د ورود حق په رسمیت پېژندل، ملي قانون منل او د بهرنیو اتباعو په برخه کې د موضوعاتو او مسئلو په حل کې د احالې اړینوالی را منځته کوي.

د اشخاصو په دایمي یا موقتي ډول په بهرني هېواد کې ژوند کول، د دې موجب کېږي چې یاد شوی هیواد د بهرنیو او خپلو اتباعو لهپاره د احالې قبلول او یا نورو هیوادونو ته انتقالول په خپلو قوانینو کې ځای پر ځای کړي؛ تر څو بهرنیو اشخاصو ته په ځینو حقوقو قایل او د ځینو څخه یې محروم کړي، چې په ذکر شوي کتابتوني تحقیقي موضوع کې پرې هر اړخیز بحث شوی دی.

**کلیدي کلمې:** بهرني اشخاص، حقوقي اړیکه، سیاسي عوامل، مادي اړیکه، ملي قانون.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين.**
كله چې په نړیوالو خصوصي حقوقو کې قاضي د يوې قضيې د حل لەپاره د يو بل هېواد قانون غوره کوي، بايد وګوري چې د هغه هېواد د نړیوالو خصوصي حقوقو قواعد څه وايي، که هغه قواعد قضيه بېرته د اصلي هېواد قانون ته يا د بل هېواد قانون ته واستوي؛ نو دې ته احاله وايي.

د مختلفو هيوادونو حقوقي نظامونه پدې موفق شوي دي، چې د متعارضو قوانينو مسئله په هغه محکمه کې چې مطرح کېږي د هغه محکمې قانون يې د يوه صالح قانون په توګه قبول کړی دی، چې په اوسني وخت کې په نوموړې قبوليت هم د هيوادونو له خوا ملاحظات او نيوکې شتون لري او د حل لەپاره يې هلې ځلې جريان لري.

له بلې خوا په اوسني وخت کې به په نړۍ کې داسې هيواد پيدا نه شي، چې د دوی اتباع دې بل هيواد کې نه اوسېږي او يا په هغه هېواد کې د نورو هېوادونو اشخاص ونه اوسېږي، يعنې هرڅومره، چې د يوه هېواد متبوع اشخاص د هر اړخه په يوه ټاکلي ځای کې ژوند کوي د هغه ځای سره مادي او حقوقي رابطه لري. له سياسي او حقوقي پلوه د دولت سره اړيکه لري او د همدغو اړيکو پر بنياد هېوادونه په بهرکې د خپلو وګړو له حقوقوڅخه حمايت کوي او په داخل کې دغه وګړي هم د هغو حقوقو درلودونکي دي، چې يو دولت يې د هغو لەپاره په نظرکې نيسي. په عمل کې ليدل کېږي، چې ډېر اشخاص د مختلفو عواملو او پېښو پر اساس خپل اصلي ځای پرېږدي او په نورو هېوادونو کې ژوند غوره کوي؛ نو د دې لەپاره چې نوموړي اشخاص په يوه بل هيواد کې د خپلو متبوع هيوادونو د قوانينو څخه استفاده وکړای شي او په دې مطمئن شي، چې په شخصي احوالو کې د متبوع هيواد قوانين تطبيق کېږي.

همدا ډول هغه اشخاص، چې غواړي بهرنيو هېوادونو ته لاړ شي او د اړونده هېوادونو سره سياسي، حقوقي او معنوي اړيکې ونه لري او په دغو هېوادونو کې په دايمي اومؤقتي ډول ژوند غوره کوي، د دې باعث ګرځي، چې دولتونه يې د خپلو اتباعو څخه تفکيک کړي، چې پر اساس يې د ځينو حقوقو څخه محرومېږي او سره له دې انساني شخصيت پر دغه امر ملزم دی، چې انسان د هغه حقوقو درلودونکی شي، چې د ژوند لەپاره ورته لازم او ضروري وي؛ نو دولتونو دغه عمل ته په پام د بهرنيانو حقوقو د ساتلو لەپاره احاله په نظر کې نيسي؛ نو په دې اساس احاله او د هغې ډولونو پېژندل د نړیوالو خصوصي حقوقو د بحث يوه مهمه حقوقي موضوع ده، د دې لەپاره، چې د ذکر شوي موضوع په ښه توګه وپېژنو؛ نو په دې څېړنيزه مقاله کې د احالې په پېژندنه او ډولونو باندې بحث کوو.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنيزې مقالې موخې دا دي، چې لوستونکي به وپوهېږي، چې احاله د بشري حقوقو د ملاتړ له حيثه ارزښتناکه ده او بدون له احالې څخه د نړيوالو خصوصي حقوقو موضوعاتو حل ته رسيدنه مشکله ده.

لوستونکي به د احالې په ډولونو باندې وپوهېږي، هغه مسئلو ته چې په هغه کې د قوانينو تعارض موجود وي او د يوه هيواد داخلي قوانين ورته رسيدنه نه شي کولی او د بل هېواد د قوانينو څخه د استفادې او ګټې اخستنې لارې روښانه شي.

د دې مقالې په اساس به لوستونکي په دې وپوهېږي، چې د خاصو شرايطو په اساس بهرني اشخاص د بعضو حقوقو څخه محرومېږي، که چېرته مونږ وغواړو چې بهرنی د خصوصي حقوقو څخه محروم کړو؛ نو نوموړی محروميت داسې مفهوم افاده کوي، چې نوموړي بهرني ته په دې هېواد کې د ژوند کولو اجازه نه ورکول کېږي، ځکه چې په يوه هېواد کې ژوند کول د خصوصي او خصوصا د شخصي احوالو حقوقو څخه پرته ممکن نه دی، چې نوموړی مطلب مونږ د احالې په اساس تر لاسه کولی شو.

## د کار مواد او میتود

دا مقاله د توصيفي څېړنې د نوعې څخه ده، چې د اطلاعاتو او معلوماتو په را ټولو کې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخيستل شوي ده او له هغه مأخذونو او منـــابعو څخه پکې استفاده شوي ده، چې په نړيوالــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي.کوشش مې کړی دی، چې موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکي يې په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي او بله دا چې زما ليکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو دپښتو ژبې ټول ادبيات په نظر کې نيول شوي دي او هم په دې ليکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوې ده.

څرنګه چې زما د ليکنې موضوع (په نړيوالو خصوصي حقوقو کې د احالې پېژندنه او ډولونه) دي؛ د موضوع د ښه وضاحت لهپاره به لومړی د احالې مفهوم او پېژندنه، مثبت تعارض او منفي تعارض، د احالې تاريخي څېړنه، په نړيوالو او د افغانستان په حقوقو کې احاله، د احالې ډولونه، لومړۍ درجه احاله، دوهمه درجه احاله باندې خپله کتابتوني څېړنيزه ليکنه بشپړه کړم.

## د احالې مفهوم او پېژندنه

په نړيوالو خصوصي حقوقو کې د احالې په لغت کې راستنيدلو يا بېرته استولو ته وايي او په اصطلاح کې احاله هغه حالت ته ويل کېږي، چې کله د يوې قضيې د حل لهپاره د يوه بل هېواد د قانون کارول ټاکل کېږي؛ خو د

هغه هېواد د نړیوالو خصوصي حقوقو قواعد بیا دا قضیه بېرته د لومړي هېواد قانون ته یا د بل هېواد قانون ته راجع کوي. په بله وینا، احاله د قوانینو ترمنځ د راجع کولو یو ډول تعامل دی.

یا احاله په لغوي لحاظ حواله کول د کار یا امر بل شخص ته یا راجع کول او لیږدول دي او په اصطلاح کې احاله د یوه حقوقي امر د ارجاع څخه عبارت ده کوم، چې د یوې قانوني حوزې څخه بلې قانوني حوزې ته صورت نیسي ( نظام الدین، ص.۱۱٦).

یا په خلاصه توګه وایو، چې احاله د خصوصي د نړیوالو حقوقو له نظره د یوه حقوقي امر ارجاع کولو څخه عبارت ده، چې د یوه قانون د صلاحیت څخه د بل قانون صلاحیت ته محوله شي (حقوقي قاموس، ص.۷).

باید یادونه وکړو، چې د کار یا امر حواله کول باید د نړیوالو خصوصي حقوقو د صلاحیت په ساحه کې وي. په احاله کې لومړی قاضي دا تعیینوي، چې ایا په مطروحه قضیه کې واک لرونکی دی او که نه؟ د خپل واک د تعیین څخه وروسته د صالح قانون د ټاکنې لهپاره د مطروحه موضوع په توصیف باندې اقدام کوي (چې د دې په وړاندې جزیي اقامه شوې موضوع په کومې حقوقي طبقې پورې اړه لري)، چې باالاخره د قوانینو د تعارض د حل د قاعدې په اساس صالح قانون ټاکي.

د قوانینو د تعارض د حل په نتیجه کې صالح قانون د دوه ډوله قواعدو څخه رامنځته ته کېږي، د نړیوالو خصوصي حقوقو قواعدو او د داخلي حقوقو پورې اړونده قواعد یا متني قواعدو څخه لکه څرنګه چې قاضي د قوانینو د تعارض د حل لهپاره یا د محکمې د مقر هېواد قوانینو او یا هم خارجي صالح قانون ته مراجعه کوي امکان لري یو د دې دوو خالتونو سره مخامخ شي.

لومړی دا، چې آیا د قوانینو د تعارض د حل قاعده د صالح (واک لرونکي) قانون د ټاکنې له مخې د ماهوي قواعدو اعمالو ته تمایل کوي او که نه ؟ لومړی فرض کوو، چې قاضي د بهرني صالح قانون ماهوي قواعدو په اعمال لاس پورې کوي، خو په دویم حالت کې داسې یو وضعیت رامنځ ته کېږي، چې په نړیوالو خصوصي حقوقو کې دغه وضعیت ته احاله وایي (صافی، ص.۲۰۳).

په عمومي ډول کله چې قاضي د یوې قضیې د حل لهپاره د یو بل هېواد قانون ټاکي، باید وګوري چې د هغه هېواد د نړیوالو خصوصي حقوقو قواعد څه وایي(د قوانینو تعارض په کې وجود لري او کنه) که هغه قضیه بېرته د اصلي هېواد قانون ته یا د بل هېواد قانون ته واستوي، نو دې ته احاله وایي. څرنګه چې دلته د قوانینو د تعارض څخه یادونه وشوه؛ نو د پوهیدنې لهپاره لومړی د قوانینو مثبت او بیا منفي تعارضات د بحث لاندې ونیسو.

### د قوانینو مثبت تعارض

په قوانینو کې مثبت تعارض هغه وخت مطرح کیږي، چې د خارجي عنصر د دخالت په اساس یوه موضوع په دوو هیوادونو پورې تړاو پیدا کړي او دواړه هیوادونه علاقه ولري، چې نوموړي موضوع ته رسیدنه وکړي او د قوانینو د تعارض د حل د قاعدې له مخې خپل ملي قوانین واکمن ګڼي. مثلاً: یوه کورنۍ خپل هیواد ترک کوي او یوه بهرني هیواد کې استوګنه غوره کوي، هلته د خاوند او ښځې تر منځ د نفقې په ورکړه باندې دعوا پیدا کیږي، دلته که چېرې د کورنۍ متبوع هیواد قانون کې په شخصي احوالو باندې د متبوع هیواد قانون د تطبیق صراحت وجود ولري او له بله طرفه هغه محل کې چې دوی استوګنه غوره کړې ده، په شخصي احوالو باندې د محل قانون د تطبیق صراحت وجود ولري او دواړه هیوادونه موضوع ته د رسیدنې علاقه ولري او په خپلو قوانینو باندې استناد وکړي، دغې لیوالتیا او استناد ته د په قوانینو کې مثبت تعارض ویل کیږي (صافی، ص.۲۰۴،۲۰۵ ).

### د قوانینو منفي تعارض

په قوانینو کې منفي تعارض هغه وخت واقع کیږي، چې موضوع په دوو هیوادونو پورې تړاو پیدا کړي؛ خو د مثبت تعارض بر خلاف هېڅکله د ذیدخلو هېوادونو (قوانین) د قوانینو د تعارض د حل قاعدې پر بنیاد خپل ملي یا داخلي قانون صلاحیت لرونکی نه ګڼي بلکې غواړي چې د یو بهرني هېواد قانون موضوع ته رسیدګي وکړي. مثلاً- یوه بهرنی کورنی، چې د دوی شخصي احوال د استوګنځي د قانون تابع وي، په افغانستان کې استوګنه کوي او د طلاق دعوی د افغانستان په محاکمو کې غواړي اقامه کړي، قاضي د خپل صلاحیت د تعیین څخه او د دعوې د اصلي عنصر د ماهیت د تعیین څخه وروسته (طلاق)، چې د شخصي احوالو په حقوقي طبقې پورې اړه لري د قوانینو د تعارض د حل قاعدې په اساس واک لرونکی قانون ټاکي، لکه د افغانستان د مدني قانون د (۱۷) مادې د حکم پر بنسټ د مدني حالتونو او شخصي احوالو په مورد کې د بهرني شخص د متبوع دولت قانون د اعمال وړ دی؛ نو په دې قضیه کې صالح قانون بهرنی شمیرل کیږي (مدنی قانون، ص.۳۱).

په همدې مثال کې که بهرنی قاضي د قوانینو د تعارض د حل قاعدې ته مراجعه کوي نو ګوري، چې د دوی د حقوقي سیستم په اساس (د بهرني د حقوقي سیستم په اساس) د شخصي احوالو حقوقي طبقه د شخص د اوسېدو د ځای (استوګنځي) د قانون تابع ګڼل کیږي، یعني په دې ځای کې د افغانستان قانون حاکم ګڼل کیږي، چې د بهرني قاضي دغه حکم د بهرنی د قوانینو د واک سلب ګڼل کیږي.

په پورته مثال کې ګورو، چې د دواړو هېوادونو علماء د قوانینو د تعارض د حل په قاعده او ذکر شوي دعوی کې په دې عقیده دي، چې د دوی ملي قانون صالح قانون نه دی او له دې طریقې د خپلو ملي قوانینو صلاحیت په

نوموړي دعوی باندې نفي کوي؛ نو بناًء د قوانینو د تعارض د حل د قوانینو تر منځ داسې (تعارض) رامنځ ته کیږي، چې د منفي تعارض یا د احالې په نامه یادیږي؛ نو په دې اساس په هر حقوقي نظام کې احاله د دوه ډوله قاعدو د وجود څخه رامنځ ته کیږي، چې یو یې د تعارض د حل قاعده ده او بله یې مادي قاعده ده.

د تعارض د حل قاعده یواځې صلاحیت لرونکی قانون ټاکي، چې د نوموړي هېواد نړیوال قانون هم ګڼل کیږي، چې موضوع مستقیماً نه حل کوي او بله مادي قاعده ده، چې مستقیماً موضوع حل کوي، چې دغه قاعده د هر هېواد د داخلي قانون یوه برخه ده لکه څرنګه، چې پوهېږو د اهلیت، نکاح او میراث پورې اړونده مسئلو کې د افغانستان داخلي قانون تطبیقوي، ولې د بهرنیو اشخاصو په پورتنیو مسئلو کې( د شخصي احوالو مسئلو کې) د متبوع هېواد د قوانینو تابع ګڼي.

په پورته ذکر شوې فرضیه کې که افغانستان د نړیوالو اصولو( د تعارض د حل قاعده) خارجي قانون صلاحیت لرونکی ګڼي یعني د افغانستان محکمه، بهرنی قانون واکمن ګڼي؛ خو د بهرني قانون د اجراء په وخت کې افغانستان محکمې د دې ستونزې سره مخامخ کیږي، چې آیا په اړونده موضوع کې د بهرني هېواد، داخلي قانون (مادي قاعدې) اعمال شي، که د نوموړي هېواد نړیوال قانون (د تعارض د حل قاعده) یعنی د تعارض د حل قاعدې څخه په دې ځای کې هدف دا دی، چې د بهرني هېواد قوانین په مجموعي ډول تطبیق شي یعنی کله، چې د محکمې د مقر هېواد قاضي، د خپل هېواد د قوانینو د تعارض د حل قاعدې پر بنسټ د بهرني هېواد ملي قانون ته مراجعه کوي، چې د دغو حل لارو په موارد کې حقوقدانان دوه ډلې شوي دي.

لومړی ډله حقوقدانان په دې عقېده دي، چې د قوانینو د تعارض د حل د قواعدو څخه یوازینی منظور د بهرني هېواد د مادي یا ماهوي قوانینو اعمال دی او مونږ باید د نوموړي هېواد د قوانینو د تعارض حل قواعد په کلي ډول په نظر کې ونه نیسو، د دې منطق په دې کې دی، چې د قوانینو د تعارض د حل قواعد یوازې مونږ ته په هماغه مطروحه مسئله کې ( هغه جزیي مسئله چې د قاضي په وړاندې اقامه شوي) د خارجي هېواد د قانون د اعمال اجازه راکوي.

دویمه ډله حقوقدانان په دې عقیده دي، چې د حقوقدانانو یا قضاتو له خوا د یوه هېواد د ملي او داخلي حقوقو تر منځ تفیکک ممکن نه دی؛ نو په همدې اساس په شخصي احوالو پورې اړونده مسئلو کې د افغانستان د قوانینو د تعارض د حل قواعد، صالح قانون د بهرنی ګڼي یعنی په دې ځای کې د افغانستان قوانین د بهرنی هېواد بین المللي قانون( د تعارض حل قاعده) قابل د اعمال ګڼي، چې د بهرني هېواد د خپل بین المللي قانون له مخې دغه

موضوع ( د استوګنځی ) د اصل پربنسټ بېرته اولي هېواد ته ارجاع کوي، او په نتیجه کې احاله رامنځته کېږي (صافی، ص. ۲۰۶،۲۰۷).

### د احالې تاریخي څېړنه

احاله په لومړنیو پیړیو کې، چې د قوانینو تعارض موضوع محدوده وه، ځکه چې د روم ستراوکي په یوه واحد قانون اداره کیده او د ملتونو حقوقو له لارې د بهرنیانو لهپاره ځانګړي اصول موجود وو؛ خو د اخالې لهپاره یو واحد اصل موجود نه و، بیا هم ویلی شو، چې په نوموړي دوره کې د احالې لهپاره په راتلونکي ابتدایي فکري زمینه برابره کړه.

په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې د کوچنیو ښاري دولتونو او سلطنتونو ترمنځ د سوداګری او مهاجرت زیاتیدو سره د قوانینو تعارض ستونزه را پیدا شوه او کوشش وشو، چې د قوانینو د تعارض په صورت د محل ځای قانون تطبیق شي، باید وویل شي چې په نوموړي دوره کې هم احاله په رسمي توګه نه وه را منځته شوي؛ خو د بهرني قانون د منلو او بېرته استولو نظر په ځینو قضیو او مسئلو د تطبیق وړ شمېرل شوی وو.

په نولسمه پیړۍ کې د فرانسې په قضایي رویه کې د احالې موضوع د لومړي ځل لهپاره په (۱۸۷۸) میلادي کال کې د فورګو د یو وارث د عوایدو او املاکو د دارایي تر منځ د فرانسې په دیوان کې مطرح شوه، او د (فورګو) د قضیې نوم یې خپل کړو، چې د دې قضیې حل څو کاله داوم وکړو، چې بالاخره د فرانسې د عالي دیوان د حکم پر موجب حل شوه، چې همدغه قضیه د حقوقدانانو له خوا په زیاتو حقوقي مباحثو کې د مطرح کېدو نه وروسته په خصوصي بین المللي حقوقو کې د یوې قاعدي شکل ځان ته غوره کړو او په قراره قراره د ځینو هېوادونو له خوا ومنل شوه.

فورګو یو ماشوم و، چې د نامشروع اړیکو په نتیجه کې دنیا ته راغلی وو، نوموړی پنځه کلن و، چې د خپلې مور سره فرانسې ته راغی نوموړی د باویریا (جرمني) سیمې ته منسوب وو، او تر(۶۸) کلنۍ پورې یې په فرانسه کې اقامت درلود، چې تر دغه مودې پورې د ده استوګنځی په فرانسه کې رسمیت نه درلودو، او د دې قانوني استوګنځی (باویریا) ګڼل کېده، د استوګنځی د نه درلودلو او دې علت د فرانسې د مدني قانون (۱۳) ماده وه، چې د دې مادې پر بنسټ بهرنیانو ته په فرانسه کې د استوګنځي حق نه ورکول کېده.

کله چې په (۶۸) کلنۍ کې وفات شو، نو له ده څخه یو څه منقوله شتمني پاتې شوه، چې د دې د وفات څخه وروسته یواځې د ده ماما او خاله ژوندی وه، د دې دواړو په دې دلیل چې د فرانسې د قوانینو د تعارض حل قواعد

د میراث مسئلې د شخص د استوګنځی د قانون تابع ګڼي او د فورګو تر مرګه پورې د (باوریا) اقامت درلوده، نوموړي(خاله او ماما) د باویریا د قانون په اساس د فورګو مالونه خپل ځان ته منسوبول او د فرانسې د هېواد څخه یې غوښتل، چې دغه مالونه دوی ته وسپاري د فرانسې قانون دغه منقوله ترکه د فورګو یا دایمي استوګنځی (باویریا) د قانون تابع وګڼله د کوم قانون له مخې، چې د نوموړي ماما او خاله د فورګو میراث وړلی شو.

خو په مقابل کې د (باویریا) قانون بېرته موضوع د شخص د عملي استوګنځی( فرانسې) د قانون تابع وګڼله، چې د فرانسې هېواد بالاخره د نوموړي ماما او خاله په رسمیت ونه پېژندل او فورګو یې بې وارثه اعلان کړو او د ده مال د فرانسې د دولت پورې اړیکه پیداکړه.

په (۱۹۱۰) میلادي کال کې یعنې د فورګو د قضیې څخه (۳۲) کاله وروسته د فرانسې عالي دیوان د سولیه ( چې دامریکا د متحده ایالاتو یو تبعه وو) په قضیه باندې چې د فورګو د قضیې سره یې تقریباً مشابهت درلوده، د فورګو د قضیې د حکم په څېر یې حکم صادر کړو یعني د فورګو حکم یې صریحاً تائید کړو.

همدارنګه په (۱۹۳۹) م کال کې د احالې موضوع مجدداً رامنځ ته شوه، (د یو انګلېسي مېړه او ښځې تر منځ د طلاق په دعوی کې)، چې په دغه قضیه کې هم د فرانسې عالي دیوان هغه احکام چې پخوا د میراث په مورد کې صادر کړي وه، یو ځل بیا تائید کړه( مندوزی، ص. ۲۱۶ـ ۲۱۸).

له پورتنیو توضیحاتو څخه معلومېږي، چې فرانسې قضایي رویې لومړې درجه احاله صریحاً قبوله کړېده، خو د دویمې درجې احالې په هکله یې یو لړ اندیښنې درلودلې او د فرانسوي محاکمو د ۲۰ پیړۍ د دویمې نیمایې تر پیل پورې دغه احاله نه ده قبوله کړې، چې د دغې مودې څخه وروسته دویمه درجه احاله هم د فرانسې هېواد قبوله کړه.

په دې ډول د فرانسې قضایي رویې د هغو حقوقدانانو نظر تائید کولو کومو، چې د یو هېواد د حقوقي نظام په نني اصل باندې معتقد وو، که څه هم دغه نظریه د انګلیستان په حقوقو او همدارنګه د المان په حقوقو کې او د فرانسې په پخوانیو حقوقو هم موجوده وه. که په دقیق ډول سره ووایو دغه مسئله د فورګو د قضیې څخه وروسته د فرانسې حقوقي نظام ته داخله شوه او په نړۍ کې یې شهرت پیدا کړو او اکثرو هیوادونو خپلو حقوقي نظامونو ته داخله کړه (صافی، ص.۲۰۹ـ۲۱۱).

### د افغانستان په حقوقو کې احاله

د احالې په اړه د افغانستان په حقوقي نظام او په وضعي قوانینو کې کوم اسناد وجود نه لري، چې د هغې په اساس د احالې مشروعیت او قانوني والی په مستقیمه توگه مستند کړو؛ خو بیا هم په ضمني توگه د افغانستان د ( ۱۳۵۵ هـ ش) کال د مدني قانون په (۳۴) ماده کې یې په ضمني توگه د احاله قبولیت تر سترگو کېږي، چې نوموړې ماده داسې صراحت لري( په هغه مواردو کې چې د باندنیو هېوادونو د قانون د تطبیق پیش بیني شوي وي د ذکر شوي قانون هغه موضوعي حکمونه، چې بین الدول خصوصي قانون پورې مربوط نه وي تطبیق کېږي، که د هغه دولت په قانون کې چې حکمونه یې د تطبیق وړ وي، د دینونه تعدد موجود وي؛ نو د هغه دین حکمونه پلي کېږي چې د هغه دولت قانون ټاکلي وي) (افضلی، رحیمی، ص. ۲۸۷،۲۸۸).

همدا قسم د افغانستان مدني قانون (۳۵) ماده داسې صراحت لري، چې ( د باندني هېواد حکمونه چې د مدني قانون په پورتنیو مواردو کې تصریح شوه په هغه حدودو کې د پلي کیدو وړ دي، چې په افغانستان کې د عمومي ادابو مخالف نه وي).

د ذکر شوي مادې څخه معلومېږي، چې په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو صرف متني قواعد په هغه صورت کې د تطبیق وړ دي، چې د عمومي ادابو خلاف نه وي.

په نتیجه کې ویلی شو، چې د احالې په مورد د افغانستان په حقوقي نظام کې صرف متني یا ماهوي حکمونه هغه هم چې د عمومي ادابو سره ټکر ونه لري د پلي کیدو وړ دي او شکلي حکمونه د بهرنیو هیوادونه په هیڅ صورت نه پلي کېږي(مدنی قانون، ص.۳۸) .

### په نړیوالو حقوقو کې احاله

ټول هېوادونه د حاکمیت اصل او د ملي منافعو په نظر کې نیولو سره د نړیوالو خصوصي قواعد منځته راوړي، بعضې هېوادونه ملي قانون یا د تابعیت قانون د اشخاصو په حقوقي اړیکو باندې د تطبیق وړ بولي او بعضې هېوادونه د اوسیدنې د ځای قانون په حقوقي اړیکو باندې قابل اجرا بولي، چې همدغه اختلاف د قوانینو د تعارض باعث کېږي او دغه تعارض ممکن په بعضو مواردو کې د لویو ستونزو د پیدا کیدو باعث شي. د ذکر شویو ستونزو د حل لهپاره په نړیواله سطحه هم هڅې شوي دي د هغې جملې څخه د ۱۹۵۱م کال د نړیوال خصوصي حقوقو په کنفرانس کې یو مسوده لاسیلک شوه او بالاخره په تصویب ورسیده، تر دې وروسته ۱۹۵۵م کال کې د جون په ۱۵ نېټه د لاهې کنوانسیون د ملي او استوگنځي قانون اړوند د مثبت تعارض د قواعدو او منفي

تعارض تر منځ په (۱۳) مادو کې تصویب شو، چې د نوموړي کنوانسیون د موادو لنډیز په لاندې ډول یادونه کوو (افضلی، رحیمی، ص.۲۵۷).

د نوموړي کنوانسیون د لومړۍ مادې په اساس (هغه وخت، چې د وګړو متبوع هېواد د استوګنځي قانون د هغه په حقوقي اړیکو باندې پلې کړي، مګر د وګړو د اقامت د محل د حقوقو په اساس د تابعیت قانون د هغوی د شخصي احوالو په موضوعاتو باندې تطبیق کړي؛ نو د کنوانسیون ټول غړي دولتونه مکلف دي، چې د استوګنځي قانون په پردیو وګړو باندې تطبیق کړي، لکه څرنګه، چې لیدل کېږي په لومړۍ ماده کې لومړۍ درجه احاله قبوله شوي ده، د وګړو د استوګنځي د مقر قاضي ته د احالې د رعایت واک ورکول شوی دی، دا هم مهمه نه ده، چې دعوی کوم هېواد کې مطرح شوي، یوازې دا کفایت کوي، چې دعوه د استوګنځي په محل کې اقامه شوي وي.

د دویمي درجې احالې منځته راتلل هم محال نه دي ځکه دا هم امکان لري، چې دعوه د شخص په استوګنځي کې نه بلکې په یو هېواد کې اقامه شي او د محکمې مقر د تعارض د حل قواعد د شخص د استوګنځي د محل قانون ته احاله شي لنډه دا چې کنواسیون دویمه درجه احاله نه ده منلي.

همدارنګه د نوموړي کنوانسیون دویمه ماده ( هغه وخت، چې د وګړو متبوع او د استوګنځي د محل هېوادونه د استوګنځي قانون تجویز کړي ټول متعاهد هېوادونه مکلف دي، چې د وګړو د استوګنځي قانون د هغوی په حقوقي اړیکو باندې پلي کړي) په دې ماده کې هم پورتني فرض کړل شوی تصور تر سترګو کېږي او ویلی شو، چې په دغه ځای کې هم دواړه ډوله احاله منل شوي ده یعنی، چې لومړۍ درجه احاله یې په مطلق او دویمه درجه احاله یې په مشروط ډول منلي ده.

همدارنګه د کنوانسیون د دریېمې مادې د حکم په اساس د شخص د متبوع هېواد او د شخص د اقامت د محل د توافق په صورت کې ټول غړي هېوادونه مکلف دي، چې ترڅو د وګړو په شخصي احوالو باندې د استوګنځي د قانون پر ځای ملي قانون پلی کړي، همدا قسم غړي هېوادونه د اوسیدنې د ځای قانون او یا د ملي قانون تطبیق هغه وخت تحقق پیدا کوي، چې د غړو هېوادونو لهپاره هیڅ نوعه تعارض د هغه تطبیقي قوانینو او عمومي عادابو ترمنځ وجود ونه لري.

پاتې د نه وي، چې هغه هیوادونه چې د ذکر شوي کنوانسیون غړیتوب نه لري، د غړیو هیوادونو لخوا د تابعیت او د استوګنې ځای قانون ورباندې الزامي نه دی (افضلی، رحیمی، ص.۲۵۸،۲۵۹).

### د احالې ډولونه

مخکې مو یادونه وکړه، چې احاله د یوه حقوقي امر د ارجاع څخه عبارت ده کوم، چې د یوې قانوني حوزې څخه بلې قانوني حوزې ته صورت نیسي او نوموړې ارجاع باید د خصوصي نړیوالو حقوقو په قلمرو کې وي او په دوه ډول ده، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

### لومړۍ درجه احاله

دا هغه احاله ده، چې د یوه هیواد قانون د یوه بل هیواد په قانون باندې د یوې موضوع د حل او راسیدنې لەپاره استناد وکړي، مګر دا دوهم دولت موضوع دوباره د همغه لومړني دولت قانون ته محوله کړي.

د بیلګې په ډول یوه ښځه او سړی د انګلستان تبعه په فرانسه کې ژوند کوي او په شخصي احوالو پورې اړوند په کومه مسئله کې یې اختلاف رامنځته شي؛ نو د تنازع د حل لەپاره فرانسوی محکمې ته مراجعه کوي؛ خو د فرانسې د قانون له مخې د پردیو خلکو د شخصي احوالو پورې اړوند مسایل د هغې د متبوع هیواد د قانون په اساس حل و فصل کیږي؛ خو د بله پلوه د انګلستان د قانون له مخې د انګلسي وګړو شخصي احوال د اقامتګاه د قانون تابع دي: نو دوباره موضوع د فرانسې هیواد ته احاله کوي، اګر چې کیدای شي چې نوموړې احاله د دواړو هیوادونو ترمنځ په تکراري ډول صورت ونیسي؛ خو څرنګه چې نوموړې احاله یواځې په همغه یوه هیواد کې شوي ده نو لومړي درجه احاله ورته وایي (مندوزی، ص. ۲۱۵،۲۱۶ ).

### دویمه درجه احاله

دوهمه درجه هغه احاله ده، چې د موضوع لیږنه د قانون په اساس یو دریم هیواد قانون ته احاله کوي، چې دغه احاله د دوهمې درجې احالې په نوم یادیږي. د پورته مثال په نظر کې نیولو سره که چیرې د فرانسې هیواد نوموړې موضوع دوباره د انګلستان هیواد ته احاله نه کړي او کوم دریم هیواد قانون ته احاله شي. یعني لومړی د فراسې له لوري انګلیستان ته د متبوع د هیواد د قانون د تطبیق په اساس ولیږدول شي ته او بیا د فرانسې له خوا ایتالیا ته احاله شي، چې دا دوهمه درجه احاله ده، دا هغه وخت امکان لري، چې نوموړې ذکر شوي ښځه او سړی د موقت وخت لەپاره په ایتالیا استوګنه اختیار کړې وي او موضوع په ایتالیا کې رامنځته شوي وي. ( بشلیه....، ص.۱۲۸ـ ۱۳۲ ).

**پایله**

د نوموړي کتابتوني څیړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته ورسېدم ، چې په نړیواله سطحه د موضوعاتو په حل او فصل کې احاله مهمه ونډه لري  او هغه نړیوال موضوعات چې د قوانینو د اختلاف په اساس را منځته کېږي او داخلي قوانین ورته رسیدنه نه شي کولی، احاله د حل لارو په سر کې قرار لري؛ نو په دې اساس احاله د نړیوالو خصوصي حقوقو د هغو حقوقي وسیلې څخه ده، چې د بېلا بېلو هیوادونو د حقوقي نظامونو تر منځ د شخړو د حل لهپاره کارول کېږي. که څه هم یادونه وشوه، چې احاله د شخصي احوالو په قضیو کې چې بهرنی عنصر په کې وجود ولري، د حل او فصل لهپاره د یوه حقوقي سند او قاعدې په حیث  او د قضیې د اړخونو د حقوقو د خوندیتوب وسیله ده؛ خو په ځینو مواردونو کې د پیچلتیا وو او تضادونو او د قضیو د اوږدیدو سبب هم ګرځي، له همدې امله د ځینو هیوادونو حقوقي نظامونه د احالې منلو او قبلولو ته لیوالتیا لري؛ خو بعضې هیوادونه ورته بشپړه لیوالتیا نه لري او یا یې ردوي.

په ټوله کې ویلی شو، چې احاله په نړیوالو خصوصي حقوقو کې د عدالت د تأمین، د نړیوالو اړیکو د همغږۍ او د حقوقي قضیو د منازعاتو د حل او فصل کولو لهپاره یوه حقوقي وسیله ده. باید وویل شي، چې د احالې عملي تطبیق باید د هر هیواد د ځانګړو قوانینو، قضایي رویې او نړیوالو اړیکو سره سم ترتیب او تر سره شي.

**وړاندیزونه**

۱ـ دولتونه ترمنځ قراردادونه او تعاهدات تر سره شي؛ تر څو د احالې د الزام والي او تطبیق زمینه برابره شي.

۲ـ د هر هېواد په حقوقي نظام کې باید په واضحه توګه وښودل شي، چې په کومو قضیو کې احاله منل کېږي او په کومو کې نه منل کېږي؛ څو د قضایي اختلافاتو مخه ونیول شي.

۳ـ د احالې په اړه باید یو ډول نړیواله همغږي یا معیاري قاعده موجوده وي؛ تر څو د هیوادونو ترمنځ د قوانینو تضاد او د قضیو اوږدیدل له منځه یوړل شي.

۴ـ د احالې تطبیق باید معیاري، محدود، شفاف، د داخلي او نړیوالو اسلامي قضایي اړیکو سره همغږي ولري؛ تر څو حقوقي عدالت، د قضیو د اړونده اشخاصو او هیوادونو د ګټو ساتنه په کې شوي وي.

# Definition and types of Renvoi in private international law

Associate Professors Mohammad Shafiq Mandozai, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Administration and Diplomacy Department.

**Email:** shafiqmandozy@gmail.com

**Abstract**

Nowadays, the majority of international issues that arise on the basis of conflict of laws and that cannot be resolved by domestic laws are resolved by renvoi; therefore, renvoi is of great importance in the resolution of issues and problems of private international law, even though individuals live in a specific geographical location and have a material and legal relationship with that location. They are also related to the state in terms of political and legal status; so that, according to this relationship, the state supports their interests abroad and, at home, these individuals enjoy the rights that the state has taken into account for everyone. In practice, individuals travel to foreign countries due to various factors such as: (political, commercial, economic, war, educational, natural disasters, etc.), It also creates the obligation of the state to recognize the right of entry, to adopt national law, and to resolve issues and problems in the field of foreign nationals. The entry and exit of foreign individuals, permanent or temporary residence in a foreign country, causes the said country to include in its laws the acceptance of the right of entry or transfer to other countries for foreigners and its own citizens; To grant certain rights to foreigners and deprive them of others, which has been discussed in detail in the aforementioned bibliographic research topic.

**KeyWords**: Foreign persons, legal relationship, material relationship, national law, political factors

**ماخذونه**

افضلی، عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. (۱۳۹۱هـ ش). حقوق بین الملل خصوصي، چ۱. تهران: سمت.

افضلی، عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. ۱۳۹۲هـ ش). حقوق بین الملل خصوصي، چ۲. تهران : سمت.

افضلی، عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. ۱۳۹۷هـ ش). حقوق بین الملل خصوصي، چ۳. تهران : ګلها.

بشلیه...عبدالبصیر.(۲۰۱۲ م). مباحث اساسي حقوق بین الملل خصوصی،ج۱،(چ.۱): مرکز تعلیمات قضایي ستره محکمه به همکاری انستیتوت بین المللی مطالعات حقوق مقایسوی فرانسه ـ پاریس(IIPEC) وحمایت وزارت امور خارجه فرانسه.

صافی، شمس الاسلام شمس.(۱۳۹۷ هـ ش). خصوصي بین الملی حقوق، چ۲. ننګرهار: مسلم خپرندویه ټولنه.

کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی.(۱۳۸۷هـ ش). د حقوقي اصطلا حاتو قاموس: USAID.

مندوزی، محمد شفیق.( ۱۴۰۲هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق ۱ او ۲. ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه

نظام الدین، عبدا لله.(۱۳۹٦هـ ش). شرح قانون مدنی افغانستان و حقوق بین الملل خصوصی، چ۹ .کابل: نشرسعید.

وزارت عدلیه. ( ۱۳۵۵هـ ش). قانون مدنی جلد اول.کابل: جریده رسمي ۳۵۳.

# د جرمونو نړیوالې محکمې بې پرېتوب ته یوه کتنه

پوهندوی دوکتور احمد جاوید شکیب، شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، ژورنالیزم څانگه.

**برېښنالیک**: javid.shakib@gmail.com یا javid.shakib@su.edu.f

**لنډیز**

جرمونو نړیواله محکمه د روم د اساسنامې په پایله کې اروپا کې تأسیس شوه. د اروپایانو په اساس د دې محکمې هدف په بې پریتوب سره د جدي نړیوالو جرمونو لکه نسل وژنې او جنگي جرمونو تعقیب دی. د دې مقالې موخه دا ده، تر څو معلومه کړې، چې تر کومې کچې پورې په اصطلاح د جرمونو محکمه یوه نړیواله محکمه ده او په خپلو چارو کې د بي پریتوب او شفافیت اصل پلی کوي. د دې څېړنې د بشپړیدو لپاره لیکوال د استقرائی تشریحي میتود څخه استفاده کړې ده. د محکمې د چارو د تعقیب په موخه د نورو لیکوالانو علمي لیکنو څخه گټه اخېستل شوې ده. همدارنگه په دې مقاله کې د محکمې د فعالیتونو په هکله د علامیو او د نړیوالو رسنیو د گزارشونو څخه هم استفاده شوې ده. د علمي مقالو او نړیوالو رسنیو د گزارشونو مشاهدې او تحلیل څخه معلومه شوه، چې د جرمونو نړیواله محکمه نه یوازې یوه نړیواله محکمه نه ده، بلکه محکمه د عدالت د پلې کولو لپاره د بې پریتوب له اصل څخه گټه نه ده اخېستلې، محکمه کې ښکاره سؤ استفادې او تبعیض شتون لري. محکمې تل غربیان او غربي ارزښتونه په نورو غوره گڼلی دي. له محکمې څخه غرب د یوې سیاسي پدیدې په توگه د نورو غیر غربیانو پر وړاندې کار اخلي. نو د دې لیکنې پایله کې په اثبات ورسېده، چې د جرمونو نړیواله محکمه غیر عادله محکمه ده، چې د بې پریتوب اصل نه مراعتوي.

**کلیدي ټکي**: جرمونو نړیواله محکمه، بې پریتوب، تبعیض ، عدالت، غربي ارزښتونه.

## سریزه

**الحمد لله رب العالمین و الصلوه والسلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین وبعد: قال تعالی اعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: فَلا وَ رَبِّکَ لا یُؤْمِنُونَ حَتّی یُحَکِّمُوکَ فیما شَجَرَ بَیْنَهُمْ ثُمَّ لا یَجِدُوا فی أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمّا قَضَیْتَ وَ یُسَلِّمُوا تَسْلیما (الآیة)**

د شپاړسمې پېړۍ څخه را وروسته له کله چې غرب د نړۍ په کچې په سیاسي، نظامي، علمي او اقتصادي برخه کې برتري ترلاسه کړه، د دوی د فلسفې د برخې پوهانو د نړۍ پر کچې د روا او ناروا، ښه او بد، جایز او ناجائز او... لپاره روایتونه هم رامنځته کړل. پر نړیوالۍ کچې د دوی سیاسي، نظامي اقتصادي او فکري برتري له دوی سره مرسته وکړه، چې خپل روایتونو ته نړیوال یا Universal نوم ورکړي. غربیانو د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه په بیلابیلو برخو کې سازمانونه جوړ کړل بیا یې نور هېوادونه هم ورته راوبلل ورکړه، چې د دې سازمان برخه شي او نړیوال نوم یې پرې کېښود. د خپلو منافعو د خوندیتوب په موخه د نورو سازمانونو سربیره اروپایانو په ۲۰۰۲ ز کال کې د هالنډ په هاګ کې یوه محکمه هم تاسیس کړه، محکمې نوم یې د (جرمونو نړیواله محکمه) کېښود.

ډېری وخت د جرمونو نړیواله محکمه د عدالت د نړیوالې محکمې سره مغالطه کېږي. حال دا چې د عدالت نړیواله محکمه چې په انګلیسي کې ورته International Court of Justice – ICJ وایي که څه هم دا محکمه هم د هالنډ په هاګ کې موقعت لري ؛ خو دا محکمه د ملګرو ملتونو اصلي قضایي ارګان دی او د جرمونو نړیوالې محکمې څخه توپیر لري. د عدالت نړیواله محکمه یا ICJ په ۱۹۴۵ کال کې د ملګرو ملتونو د منشور له مخې جوړه شوې، دندې یې د هېوادونو ترمنځ حقوقي شخړې حلول او حقوقي مشورې ورکول دي. په دې محکمه کې مسائل د دولتونو ترمنځ وي او یکې افراد نه محاکمه کېږي. د جرمونو نړیواله محکمه یا نړیواله جنایي محکمه چې په انګلیسي کې ورته International Criminal Court – ICC وایي بیا د روم د اساسنامې Rome Statute له لارې رامنځته شوې ده. د روم اساسنامه Rome Statute اروپایي هېوادونو د ایتالیې په پلازمینه روم کې په ۱۹۹۸ز کال کې تصویب کړه.

## موخه او اهمیت

اروپایي هېوادونه په اصطلاح د جرمونو نړیوالۍ محکمې ته یوه خپلواکه محکمه وایي چې هدف یې د هغو افرادو محاکمه کول دي چې د جدي نړیوالو جرمونو مرتکب وګرځي لکه: نسل وژنه Genocide، جنګي جرمونه War Crime او د تیري یا یرغل جرم Crime of aggression . اوس پوښتنه دا ده، چې د جرمونو نړیواله محکمه واقعاً یوه عادله محکمه ده؟ آیا د دوی اعلامیې معقولي او حقوقي ارزښت لرونکي دي یا هسي د چا

خبره اوتې بوتې دي؟ په دې لیکنه کې لیکوال د مستندو منطقي دلایلو په ذریعه هڅه کوي، چې همدې پوښتنې ته ځواب ووايي. د لیکوال فرضیه دا ده، چې د جرمونو نړیواله محکمه د تبعیض او سؤ استفادې ډکه غیر عادله محکمه ده. د اسلامي امارت د مشرانو پر وړاندې یې اعلامیې او پریکړه لیکونه هسې اوتې بوتې دي. لیکوال د خپلې فرضیې د اثبات لپاره د دې مقالې له بیلابیلو منابعو څخه دلایل وړاندې کړي دي . د دې لیکنې هدف دا دی  تر څو معلومه کړې، چې تر کومې کچې په اصطلاح د جرمونو نړیواله محکمه کې عدالت او د بې پریتوب اصل په نظر کې نیول کېږي. کله چې د محکمې اصلي برخه روښانه شي نوځوان نسل وکولای شي، چې د محکمې اصلي پټ اهدفو باندې پوه شي.

**کړنلاره او کارتوکي**

د دې لیکنې د بشپړولو لپاره لیکوال د  استقرائی تشریحي میتود څخه استفاده کړې ده. د محکمې د چارو د تعقیب په موخه یې د نورو  لیکوالانو علمي لیکنې مرور کړې دي. همدارنګه په دې مقاله کې د محکمې د فعالیتونو په هکله د نړیوالو رسنیو د ګزارشونو څخه هم استفاده شوې ده. د مقالې په لومړۍ  برخه کې په دې بحث شوی، چې څنګه د جرمونو نړیواله محکمه د غیر اروپایانو پر وړاندې تبعیضي پالیسي پر مخ وړي. د مقالې په دویمه برخه کې د عدالت ټینګښت او حق، حقدار ته د سپارلو کې د غرب  پر تاریخي اخلاقي  مشروعیت بحث شوی دی.  د مقالې په وروستۍ برخه کې د محکمې د منابعو د باطل والي باندې بحث شوی دی او د مقالې په وروستۍ برخه کې لیکوال د محکمې په بې پریتوب غږیدلی دی. لیکنه پر پایله بشړ شوې ده.

**محکمه کې  تبعیضي چلند**

که څه هم  اوسنۍ د جرمونو نړیواله محکمه د هغو جرمونو قانوني تعقیب کولای شي، چې د ۲۰۰۲ ز کال د جولای له لومړي نیټې وروسته پیښې شوې دي؛ خو له دې مخکې د دویمې نړیوالې جګړې ګټوونکو هېوادونو هم دې ته ورته یوه محکمه چې نورنبرګ محکمه  Nuremberg Trials یې ورته ویل تاسیس کړې وه. په دې محکمه تبعیض دا وو، چې  یوازې نازي المان او جاپان جنرالان او لوړپوړي چارواکي د جنګي جرمونو، نسل وژنې او بشر ضد جرمونو په تور محکمه شول. د دویمې نړیوالې جګړې  ګټوونکي هېوادونو هغه چارواکي چې په ورته جرمونو تورن و، د عدلي تعقیب څخه مستثنی و (Tusa & Tusa, 2010).

د جرمونو نړیوالې محکمې په ۲۰۱۱ کال کې د افریقا په لویه وچه کې  لاورینټ ګباګو، چې د عاج ساحل مخکنی ولسمشر  و محکمه کړ،  د محکمې په اساس پرې جرمونه ثابت نه شول.  په ۲۰۱۲ کال کې توماس لوبنګا د جنګي جرمونو په تور جولای میاشت کې په ۱۴ کاله زندان محکوم کړ. توماس لوبنګا  د افریقا د لویې وچې کې د کانګو ډیموکراتیک جمهوریت د یوې ملیشې ځواک مشر و.  همدرانګه محکمې په مطلوبو کسانو

کې د افریقا په لویه وچه کې یو کس د یوګانډا د چریکې خوځښت (ایل ار اې) مشر جوزیف کونې ، بل کس د سوډان مخکینی ولسمشر عمر البشیر دی (Du Plessis et al., 2013).

دا چې محکمې یوازې افریقایي وګړي هدف ګرځول؛ نو افریقایي هېوادونو ټولنه متوجه شوه، چې جرمونو نړیواله محکمه په اصل کې د توروپوسته  او غیر اروپایانو  پر وړاندې یو ډول تبعیضي پروسه پرمخ وړي، نو د افریقایي هېوادونو ټولنې یاده  محکمه په  اروپایي تبعیض تورنه کړه.  محکمې دا تورونه رد کړل او په ۲۰۲۳ کال کې یې له اوکراین څخه روسیې ته د ماشومانو د غیر قانوني او جبري لیږد په تړاو د جنګي جرمونو د ترسره کولو په تور د پوټین د نیولو امر  هم صادر کړ.  بل پلو  هغه جرمونه چې اوکریني جنرالانو په اوکرین کې د روسیې وګړو پر وړاندې ترسره کوي،  د بحث موضوع ځکه نه وه چې  د اوکرین او روسیې ترمنځ جګړه کې اروپایې هېوادونه د اوکرین ملاتړ کوي(Bonta, 2023).

د محکمې له لورې د جنګي مجرمینو تعقیب له تبعیض څخه ډک دی. لکه چې پورته یادونه وشوه، محکمې له لورې یوازې هغه افراد تر عدلي تعقیب لاندې نیول شوي دي،  چې افریقایان  دي او یا هم د اسیا د لوی وچې دي. غربیان،  ځانونه د جرم څخه مستثنی ګڼي. حال دا چې په اصطلاح د جرمونو د نړیوالې محکمې له ایجاد سره سم د بشریت پر وړاندې تر ټولو ډېر جرم او جنایت  غربیانو کړی دی. یوه وړه بیلګه یې د بوش او اوباما له خوا په اصطلاح د ترهګري پر وړاندې د جګړې بیلګه ده.  امریکا کې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې د بریدونو په پایله کې ۲۹۹۷ کسان چې په دوی کې ۱۹ بریدګر هم شامل و، ووژل شول. د دې پیښې اصلي ترسره کوونکی لا هم معلوم نه دی. مګر د امریکا د وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش د ۲۹۷۸ کسانو د وژني د انتقام لپاره د شک په اساس د  ترهګری پر وړاندې د جګړې اعلان وکړ، لومړی یې افغانستان اشغال کړ. بیا یې په ۲۰۰۳ کال کې عراق اشغال کړ د دې جګړو په پایله کې د برون پوهنتون د یوې څېړنې په اساس تقریباً څلور نیم میلیونه مسلمانان ووژل او ۳۷ میلیونه نور یې مهاجرت ته اړ کړل. د بشر پر وړاندې دومره ستر جنایت څخه معلومیږي، چې د یوشتمې پیړۍ تر ټولو ستر مجرمین بوش او اوباما دی.  خو د جرمونو نړیوالې محکمې د بوش او یا اوباما د نیولو حکم صادر نه کړ، ځکه د غرب او د غربي محکمې په اساس بوش او اوباما مجرمین نه دي، د هغوی د نیولو حکم به هیڅکله صادر نه شي، ځکه هغوی غربیان دي (Crawford, 2018).

د جرمونو نړیواله محکمه کې د تبعیض او انتخابي عدالت له کبله یو شمیر افریقایي هېوادونه لکه بورکینافاسو، نایجر او مالي خپل غړیتوب له یادې محکمې څخه ختم اعلان کړ.  یادو هېوادونو د یوې ګډې علامیې په ترڅ یادونه وکړه، چې د جرمونو نړیواله محکمه د ((امپریالیزم په لاس جوړ  شوې او د نوي استعماري د جبر یوه وسیله ده.)) له دې څخه مخکې هنګري د جرمونو نړیوالې محکمې غړیتوب پریښئ وو (ISS, 2025).

د ۲۰۲۵ ز کال د جولای په میاشت کې په اصطلاح د جرمونو نړیوالې محکمې پاکستاني الاصله احمدیه ډلې بریتانوي څارنوال کریم اسد احمد خان په مشرۍ د محکمې قضایي خونې یوه حکم کې ویلي دي چې کواکې دوی داسې دلایل موندلي چې د اسلامي امارت ځینې لوړ پوړي مشرانو چلند او تګلارې د ښځو، انجونو او د هغوی له ملاتړو سره د روم د اساسنامې د ۷ (۱) (ه) مادې سره په ټکر کې دی. همدارنګه د محکمې لوی څارنوال کریم خان اسلامي امارت د همجنسبازانو د آزادۍ پر سلب کولو هم تورن کړل. (xEl Abdallah, 2025)

محکمې هغه افراد د ښځو پر وړاندې په تبعیضي چلند تورن کړل، چې هغوی د خپل هېواد خلک ( ښځینه او نارینه) د اشغال څخه وژغورل. تر شلوکلونو مبارزې او بریا وروسته یې خپل ټول دښمنان معاف کړل. کابل ښار، د شپږ میلیونه وګړو ښار یې د یوه کس د مړینې څخه پرته ونیو. په هېواد کې یې څلویښت کلنې جګړې ته د پای ټکی کېښود، د مخدره موادو، کښت او قاچاق یې صفر ته ټیټ کړ او تر یو میلیون پورې په نشه اې توکیو معتاد افغانانو علاج یې وکړ. د غربي روایت په اساس هغه کسان بد خلک دي، چې هغوی د نړۍ په کچې تر ټولو ډېر فاسد هېواد کې اداري فساد محوه کړ او وطن یې د خپلو ټولو اتباعو لپاره امن وګرځول، د ښځو او انجونو پر وړاندې د فحشا او سؤاستفادې مخه یې ونیوله. د نړۍ په کچې داسې شریف خلک پر جنسیتي تبعیض تورنول په اصل کې د اسلام او مسلمان پر وړاندې د غربي محکمې د تبعیض او تعصب څرګندونه ده.

**د محکمې د بنسټګرو غیر اخلاقي مشروعیت:**

د جرمونو د نړیوالې محکمې بنسټګر غړو کې جرمني، فرانسه، بریتانیا، ایټالیا، هالنډ، سویډن، کاناډا سویس، ناروې، بلجیم، استرالیا، جاپان او ارجنټاین شامل دي. تقریباً ټول هغه اروپایي هېوادونه دي، چې د بشر پر وړاندې د جرمونو تور اوږد تاریخ لري. غربیان هیڅ اخلاقي مشروعیت نه لري، چې د جرمونو پر وړاندې بې طرفه او عادلانه محکمه جوړه کړي. ځکه دوی پرون هم د بشریت پر وړاندې په جرمونو کې ښکیل و او نن هم ښکیل دي. غربیان اوس په ۲۱ مې پیړۍ کې هم د نوې استعمار پروسه پرمخ وړي. دوی د غیر اروپایانو په نسل وژنه، سؤ استفادې او تبعیض کې ښکیل دي. له کومې ورځې چې کرستوف کولمپ د امریکا لویې وچې ته سفر پیل او هلته یې د غیر اروپایي بومي خلکو نسل وژنه پیل کړې، له همغې ورځې او له هغې څخه لا مخکې د غیر اروپایانو پر وړاندې د غربیانو د جرمونو سلسلې دوام درلود (Perry, 2008).

تقریباً ټول غربیان د غلاء او سؤاستفادو د یو اغیر اخلاقي جرم مرتکبین دي. دوی له شپاړسمې پیړۍ څخه د شلمې پیړۍ تر نیمایې پورې یې ټوله افریقا د لیبریا او ایتوپیا پرته استعمار کړه. اسلامي نړۍ کې یوازې افغانستان، ایران او ترکیې پرته یې ټوله اسلامي نړۍ مستعمره کړه او تر ۴۵۰ کلونو پورې یې آسیایي، امریکایي او افریقایي هېوادونه څخه سرمایې او منابع د خپلو هېوادونو د آبادولو لپاره د برچې په زور غلا کول. نن هم دوی استثماري

سیاست په اساس افریقا او آسیا منابع غلا کوي. له یوې خوا اروپایان د جرمونو نړیواله محکمه جوړه کړې له بل پلوه دوی د غزې د خلکو نسل وژني کې ښکیل دي. دوی اسرائیلو ته وسلې ورکوي. اسرائیلو د غرب د نظامي، سیاسي او اقتصادي ملاتړ په زور په تیرو دوو کلونو کې تقریباً ۶۰ شپیته زره فلسطینیان په شهادت ورسول. هغه اروپایې هېوادونه چې د فلسطین د خلکو د نسل وژني پر وړاندې مظاهره جرم ګڼي کوم اخلاقي او حقوقي حیثت لري چې د جرمونو نړیواله محکمه تاسیس کړي؟ ، څنګه نسل وژنې او جرم کې ښکیل مجرمین او غله دې د عدالت لپاره د یوې محکمې مؤسسین شي؟ په اصل کې د یوه مجرم له خوا د یوې محکمې تاسیس پر حق او عدالت یو ډول ملنډې او اوتې بوتې دي (Nielsen & Robyn, 2019).

**د محکمې د حکم د ماخذ او منابعو باطل والی**

د جرمونو نړیوالې محکمې د اسلامي امارت د ځینو مشرانو د نیونې حکم د دې لپاره صادر کړ، چې کواکې دوی د ښځو، انجونو او د هغوی له ملاتړو سره چلند د روم د اساسنامې د ۷ (۱) (ه) مادې سره په ټکر کې دی. یو بل ځای کې د جرمونو د نړیوالې محکمې لوی څارنوال کریم خان د اسلامي امارت پر مشرانو په دې تور پورې کړ، چې امارت د همجنس بازانو ( LGBTQI + ) حقوق نه مراعتوي. غربیان له اخلاقي پلوه دومره د ذلالت او پستي هغې کچې ته رسیدلي دي، چې پخواني امتونه ورته نه وو رسیدلي. د غربیانو د خودساخته قوانینو په اساس زنا، لواطت، جنسي تیری او د همجنسبازانو له یو بل سره ودونه کول، نه یوازې دا چې د انسان په لاس جوړ قوانیو کې روا او جایز دی، دوی همدا د انساني کرامت څخه عاري قوانین پر نورې نړۍ بالخصوص اسلامي هېوادونو بیا د افغانستان پرځیر هېواد هم د تطبیق وړ بولي (Dörmann, 2003).

بل پلو کوم څارنوال کریم خان، چې د امارت پر مشرانو د جنسیتي توپیر چلند تور پورې کوي د مسلمان ترنامه لاندې احمدیه ډلې څخه دی، چې پاکستان پارلمان د اسلام له دایرې څخه بهر ګڼلې دي. دې سړي خپله د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په میاشت کې د خپل دفتر یوه ښځینه کارمنده په زور جنسي سؤ استفادې ته اړ کړې وه. د څارنوال کریم خان ورور عمران احمد هم چې برتانیه کې محافظه کارانو د ګوند غړیتوب لري پر جنسي تیري تورن دی. د تعجب ځای دا دی، چې د جرمونو نړیواله محکې په داسي فاسد اشخاصو د امارت د مشرانو د توپیر چلند قضیې تعقیبوي؟ (Davies & Flummerfelt, 2025).

غربي محکمې لا هم دا نه ده درک کړې، چې هر مسلمان ته د ښه او بد، روا او ناروا، حلال او حرام د قانون منبع او ماخذ یوازې او یوازې د الله سبحانه و تعالی کلام قرآن کریم، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحیح احادیث ، د علماوو اجماع او قیاس دی. د مسلمان لپاره د قرآن الکریم او صحیح احادیثو سره په ډکر کې هر بل قانون که هغه د روم د اساسنامې د ۷ (۱) (ه) ماده وي یا روم ټوله اساسنامه، باطله او هسي اوتې بوتې دي.

پوښتنه دا ده، چې د غرب او د غرب په لاس محکمه څه حق لري، چې د خپل ذوق مطابق په خپل لاس جوړ کړي یوه باطل قانون پر نقص د یوه اسلامي هېواد مشران تورن کړي؟

## د محکمې ناخپلواکي

له یوې خوا غربیان وایي،چې محکمه خپلواکه ده، له بل لورې د محکمې لګښتونه کې تر ټولو ډېره برخه بریتانیا، جرمني او فرانسه ورکوي. څنګه ممکنه ده، چې یو څوک دې د لګښت تر شاه پټه اجنډا ونه لري؟ په اصل کې غربي هېوادونه د جرمونو د نړیوالې محکمې څخه د سؤ استفادې او بلک میل کولو یوه پټه اجنډا لري. غربیان په افریقا او آسیا کې مهم شخصیتونه تعقیبوي، که کوم شخص د غربي لیبرالیزم د تاثیراتو څخه ځان خلاص وګڼلي او یا هم هڅه وکړي، چې د غربیانو منافعو ته تاوان ورسوي، نو غرب ورته په شکل د اشکالو توطئه جوړوي، چې له خپل مؤقف او دریځ څخه یې راواړوي، نو ځکه غرب د جرمونو نړیواله محکمه د غرب د استعماري پالیسیو پر وړاندې د بغات کوونکو د ازار او اذیت یوه وسیله ده. نو ځکه پر مسلمان د روم اساسنامه د تطبیق وړ نه ده او نه هم کوم مسلمان ته پکار دی، چې د جرمونو نړیوالې محکمې ته کوم قانوني اعتبار ورکړي. (Wiebelhaus-Brahm & Ainley, 2023)

## پایله

د جرمونو نړیواله محکمه یا نړیواله جنایي محکمه چې د اروپایي هېوادونو پر نړۍ د نرم قدرت د منبع په توګه ایجاد کړه، د غربیانو له خوا تمیولیږي، چې ظاهري هدف یې د هغو افرادو محاکمه کول دي ، چې د جدي نړیوالو جرمونو مرتکب وګرځي لکه: نسل وژنه Genocide، جنګي جرمونه War Crime او د تیري یا یرغل جرم Crime of aggression . که څه هم اروپایان یاده محکمه یوه عادله او بې پرې محکمه ګڼي خو په پاس لیکنې کې شواهدو څرګنده کړه، چې یاده محکمه انتخابي عدالت لپاره کار کوي، د غیر اروپایي، آسیایي او افریقایانو پر وړاندې له توکمپالنې ډک چلند کوي. محکمه د غیر لیبرال هېوادونو او خلکو سره تبعیضي او دوه مخه رویه لري. په نړۍ د بشري حقوقو پر وړاندې تاریخي تیرو ته په کتو د جرمونو نړیوالې محکمې بنسټګر غړي د داسې محکمې د ایجاد او ملاتړ هیڅ اخلاقي مشروعیت نه لري، ځکه دوی نه یوازې په تیر کې د بشري حقوق تر پښو لاندې کړې. اوس هم عملاً د اسرائیلو سره یوځای په غزه کې د نسل وژنې په جرم کې شریکان دي. همدارنګه یاده محکمه پر اسلامي هېوادونو او مسلمانانو ځکه د تطبیق وړ نه ده، چې د محکمې قوانین، اصول او ارزښتونه د لیبرالیزم پر نظریې ولاړ دي. حال دا چې د مسلمانانو لپاره د قوانینو منبع یوازې د الله سبحانه و تعالی کلام قرآن الکریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث دي. د لیبرالیستانو له خوا په لاس جوړ شوي قوانین مسلمان پر ځان نه تطبیقوي.

# An Examination of the Impartiality of the International Criminal Court

Dr. Ahmad Javid Shakib, Shaikh Zayed University, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism.
**Email Add:** javid.shakib@gmail.com or javid.shakib@su.edu.f

**Abstract**
The International Criminal Court (ICC) was established in Europe based on the Rome Statute. According to Europeans, the aim of this court is to impartially prosecute serious international crimes, such as genocide and war crimes. This paper seeks to determine the extent to which the so-called International Criminal Court functions as a genuine international tribunal and upholds the principles of impartiality and transparency in its operations. To achieve this, the author employs an inductive descriptive method, utilizing academic articles of other scholars to track the court's activities. Additionally, the paper draws on reports from international media regarding the court's functions. Through the observation and analysis of scholarly articles and media reports, it indicates that the ICC is not only failing to operate as a true international court, but also does not adhere to the principle of impartiality in administering justice. The court exhibits favoritism and discrimination, often prioritizing individuals of European descent. Furthermore, Western powers utilize the court as a political tool against non-Western entities. Consequently, this study concludes that the International Criminal Court is an unjust institution that does not respect the principle of impartiality.

**Keywords**: International Criminal Court, impartiality, discrimination, justice, West.

**مأخذونه**

Bonta, S. (2023). ICC WARRANT FOR PUTIN. The New American, 39(9), 25–29.

Crawford, N. C. (2018). Human cost of the post-9/11 wars: Lethality and the need for transparency. Costs of War, 1–11.

Davies, H., & Flummerfelt, R. (2025, August 28). Second woman accuses ICC chief prosecutor Karim Khan of sexual misconduct. The Guardian. https://www.theguardian.com/law/2025/aug/28/second-woman-accuses-icc-chief-prosecutor-karim-khan-of-sexual-misconduct

Dörmann, K. (2003). Elements of war crimes under the Rome Statute of the International Criminal Court: Sources and commentary. Cambridge University Press.

Du Plessis, M., Maluwa, T., & O'Reilly, A. (2013). Africa and the International Criminal Court. Criminal Justice, 11(3), 563–570.

ISS. (2025). Unity at any cost? AES states jointly leave the ICC. ISS Africa. https://issafrica.org/iss-today/unity-at-any-cost-aes-states-jointly-leave-the-icc

Nielsen, M., & Robyn, L. M. (2019). Colonialism is crime. Rutgers University Press.

Perry, B. (2008). Silent victims: Hate crimes against native Americans. University of Arizona Press.

Tusa, A., & Tusa, J. (2010). The Nuremberg Trial. Skyhorse Publishing Inc.

Wiebelhaus-Brahm, E., & Ainley, K. (2023). The evolution of funding for the International Criminal Court: Budgets, donors and gender justice. Journal of Human Rights, 22(1), 31–46.

xEl Abdallah, E. A. (2025, July). Situation in Afghanistan: ICC Pre-Trial Chamber II issues arrest warrants for Haibatullah Akhundzada and Abdul Hakim Haqqani. https://www.icc-cpi.int/news/situation-afghanistan-icc-pre-trial-chamber-ii-issues-arrest-warrants-haibatullah-akhundzada

# د کالم لیکنې مسلکي ځانګړنې

پوهندوی نقیب الله عطیش، شیخ زاید پوهنتون، د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالېزم څانګه.
**برېښنالیک:** naqib.atish@gmail.com

**لنډیز**

کالم لیکنه د چاپي رسنیو، ورځپاڼو او مجلو د محتوا یوه مهمه برخه تشکیلوي. کالمونه د لیکوالانو له خوا په ځانګړو موضوعاتو لیکل کېږي، چې هدف یې د لوستونکو پوهه زیاتول، د نظرونو تبادله او د ټولنیزو مسایلو په اړه خبرې کول دي. کالم لیکونکی د خپل تحلیل له لارې د ټولنې مهمې مسئلې مطرح کوي او لوستونکو ته نوي معلومات وړاندې کوي. کالمونه اکثراً د لیکوال د شخصي نظرونو، تجربو یا د ټولنیزو او سیاسي مسایلو په اړه تبصره کوي. د دې څېړنې موخه داده چې د رسنیو عام لوستونکي په دې و پوهوي چې له رسنیو څخه خپرېدونکي مطالبو جوړښت او د وړاندې کولو د هدف له مخې توپیر لري. د خبر په څېر په ځینو ژانرونو کې خبریال  خپلو مخاطبانو ته حقایق او واقعیتونه وړاندې کوي خو په ځینو نورو لیکنو کې لیکوال پېښې تحلیلوي او د ورځینو موضوعاتو او خبرونو په اړه خپل شخصي لیدلوري بیانوي. زموږ په ټولنه کې د ورځپاڼو عام لوستونکي د خبري او تحلیلي لیکونو د موخو او ځانګړنو ترمنځ ډېر توپیر نه شي کولی او په هره رسنیزه لیکنه د خبري مطالبو په څېر چې یواځې د پېښو په اړه حقایق خپروي، باور کوي. ټاکلې مقاله له رسنیزو مخاطبانو سره مرسته کوي، چې د رسنیزو خبرونو په خواکې،کالم چې د تحلیلي لیکونو یو ډول دی وپېژني. په دې مقاله کې د اړوندې موضوع په تړاو د موجوده څېړنو په تحلیل تمرکز شوی او په دې اړه د څېړونکو لخوا د وړاندې شویو نظرونو په رڼا کې کتنه شوې. کالمونه د خلکو د نظرونو او افکارو په بدلولو کې اغیزمن ثابتېدلی شي. موندنې ښیي چې  ښه لیکل شوي کالمونه په لوستونکو اغېز کوي او د هغوی په ذهن کې پاتې کېږي او په دې ډول د مخاطبانو د چلند او باورونو  په بدلون کې مرسته کوي. د کالم لیکنې مسلکي ځانګړنې دا دي چې لیکوال باید په لوستونکو باندې اغېز ولري، خپل نظرونه په واضح او جذاب ډول وړاندې کړي، او د دقیقو معلوماتو، پوره څېړنې او رواني ژبې له لارې خپل رسالت ترسره کړي.

**کلیدي ټکي:** تحلیلي ژانر، د کالم ارزښت، ژورنالیستیک ژانرونه، شنیزې لیکنې، کالم لیکنه

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين.**

د راډيو تلويزيون منځته راتګ او تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته يې چټک پرمختګ او د خبرونو ژر خپراوی، د دې لامل شول چې چاپي رسنۍ د له منځه تللو له ويرې سره مخ شي. له همدې امله د نړۍ مشهورې چاپي رسنۍ، د راډيو تلويزيون د نفوذ د مخنيوي او د خپل مالي ملاتړ او سقوط له وېرې دې ته اړ شوې، چې د دې ستونزې د حل لپاره لارې چارې ولټوي. هغه مهمه لاره چې ورځپاڼو د خپل نفوذ او پايښت لپاره انتخاب کړه، هغه د پېښو په تحليلي ډول وړاندې کول وو. ورځپاڼو هڅه کوله ترڅو د راډيو تلويزيون هغه مخاطبان چې له پېښو خبر شوي، د پېښو د څرنګوالي او لاملونو په ښودلو سره يې، د پېښې له عمق او جزياتو سره اشنا کړي. په دې سربېره، ورځپاڼو د خپل اغېز د زياتولو لپاره له ځينو نورو لارو چارو هم استفاده وکړه، چې په هغې کې د نشراتي برخې انځورول، د بېلابېلو رنګونو څخه استفاده او د ورځپاڼو په چاپ او توزيع کې له سرعت څخه کار اخيستل وو. د ورځپاڼې چلوونکي يواځې د پېښو او خبرونو د راټولو په فکر کې نه وو، ځکه چې په دې برخه کې راډيو تلويزيون د چاپي رسنيو په پرتله مخکښ وو. له همدې امله، چاپي رسنۍ د متخصصو ليکوالانو په لټه کې وې ترڅو خپلو لوستونکو ته ورځنۍ پېښې تفسير کړي. ورځپاڼې له خپلو خبريالانو غواړي چې لوستونکو ته پېښې تحليل او تفسير کړي او دې ته اړتيا ده چې خبريالان خپله تخصصي رشته انتخاب او په ټاکلې برخه کې خپله معلوماتي پانګه زياته کړي. د تحليلي ليکنو څخه يو ډول کالم ليکنه ده، چې ليکوال د ورځنيو مهمو پېښو په اړه مخاطبانو ته تحليل وړاندې کوي. کالم ليکنه په چاپي رسنيو کې له ارزښتمنو هنرونو څخه شمېرل کېږي، چې هر سهار د ورځپاڼې تر چاپ وروسته يې لوستونکي د لوستلو په تمه وي. کالم ممکن په چاپي رسنيو کې د ځانګړې پاڼې پر ځای، د مطلب حجم او محتوا ته په کتو، په مختلفو صفحو کې نشر شي.

**موخې**

۱ .د کالم ليکنې ځانګړنې تشريح کول ترڅو د دې ليکنيز ډول مسلکي ځانګړتياوې په رسنيو کې روښانه شي.

۲ .په مطبوعاتو کې د کالم ليکنې اغېز او اهميت روښانهکول.

۳ .له ځينو نورو ژورناليستيکو ليکنو سره د کالم ليکنې توپير ښودل.

**د کالم پېژندنه**

د ژورنالېزم په اصطلاح کې کالم دوه ماناوې لري. يوه موخه يې د ورځپاڼې هغه برخه ده، چې په عمودي بڼه په څو برخو وېشلې وي، او د کالم ليکنې دويمه مانا بيا هغه ليکنه ده چې په منظم ډول په ورځپاڼه کې خپرېږي.

کالم د فرانسوي ژبې له colonne او د لاتیني ژبې له columnae کلمې څخه انګلیسي ژبې ته راغلی، چې لغوي مانا یې "ستنه" ده. کالم د ژورنالېزم هغه لیکنیز ډول دی چې لیکوال پکې شخصي لیدلوری او تجربې شریکوي. کالم له خبر او راپور سره توپیر لري، ځکه چې په دې ډول لیکنه کې لیکوال خپل نظر څرګندوي او له مخاطب سره د موضوع په اړه خپلې شخصي تجربې او وړاندیزونه شریکوي.

همدارنګه، د لغت له مخې کالم په چاپي رسنیو کې عمودي وېش ته هم ویل کېږي. په *انسایکلوپیډیا برټینکا* کې د کالم لیکوال په هکله لیکل شوي: "په یوه ورځپاڼه کې د لیکوال له نوم سره د یوه خپلواک سرلیک لاندې د باقاعده خپرېدونکې لیکنې لیکوال یا مدیر ته کالم لیکوال وایي، چې په تازه پېښو او حالاتو نظر څرګندولو ته ځانګړې شوې وي (شاهد، ۱۳۸۵،ص.۲۴۴). کالم لیکوال د ټولنې انځور د خپل فکر او خیال له لارې د قلم په وسیله د الفاظو په بڼه څرګندوي او هغه څه چې ګوري، اوري او فکر کوي، د الفاظو په بڼه یې د نورو په ذهنونو کې د ثبتولو هڅه کوي. کالم یوه داسې لیکنه ده چې د لیکوال شخصي نظر، تحلیل، مشوره یا تجربه پکې وړاندې کېږي. دا ډول لیکنه له نورو ژورنالیستي لیکنو توپیر لري، ځکه چې لیکوال پکې کولی شي خپل احساسات، قضاوتونه، او حتی شخصي ژوند شریک کړي (Naveed, 2011). د یو کالم لیکونکي دنده داده چې د باوري او موثقو سرچینو څخه ترلاسه شوي معلومات، د خپلې رایې او نظر په ملتیا عامو خلکو ته په داسې ډول وړاندې کړي، چې د حق او باطل ترمنځ توپیر وکړي. مشهور امریکایي کالم لیکوال والټر لیپ د کالم لیکنې په اړه وایي: "زه د کالم لیکوال رسمي نوم ترڅنګ، سرمقاله لیکوال هم ګڼل کیږم، د لهجې او موادو پربنسټ په ځینو کالمونو او سرلیکونو کې توپیر شونی نه دی، یواځې د لیکوال د نوم په حذفولو سره کالم په اسانۍ سره په ورځپاڼه کې د سرلیکنې پر ځای خپرېدلی شي (ډوګر،۱۳۸۹،ص.۹). کالم تر یو خپلواک سرلیک لاندې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه په دوامداره توګه د لیکوال له نوم سره یو ځای خپرېږي. دغه ډول لیکنې د لوستونکو ذهني سطحه لوړه وي او د موضوعاتو له نوي زاویو او اړخونو سره یې اشنا کوي ترڅو لوستونکي د ړانده تقلید پرځای په حقیقت ولاړه نظریه خپله کړي. کالم لیکنه په حقیقت کې هغه مقاله ده چې د یوې جریدې، ورځپاڼې یا مجلې په ټاکلې برخه کې تر ټاکلې عنوان لاندې او د ټاکل شوي لیکوال لخوا د بېلابېلو سکالو په اړه په دوامداره توګه خپرېږي او په هره ګڼه کې ځانګړې سکالو تر څېړنې لاندې نیسي(ناظم، ۱۳۹۳،ص.۲۷۶). مخلص، هېواد او مسلک ته ژمن لیکوالان د کالم له لارې په ټولنه کې د شته ستونزو او نیمګړتیاو په ښودلو سره، عامه رایه بدلون مومي او د ډېرو خلکو د کړنو د اصلاح لامل کېږي. خپلې عقېدې او هېواد ته ژمن کالم لیکونکی د خپلې شخصي ګټې لەپاره د خپل ضمیر سودا نه کوي او د ټولنې د اصلاح په نیت، په خپله لیکنه کې ښه او بد په نښه کوي. ډېری کالم لیکونکي د بېلابېلو لیکنو له لارې د لوستونکو ترمنځ ځانګړی ارزښت او مقام خپلوي او ورځپاڼې هم د لوستونکو د راجلبولو لەپاره په همدې کالم لیکونکو تکیه کوي. کالم د یوې ورځپاڼې مستقل

برخه وي او زيات وخت د کالم ليکونکي په نوم شهرت لري او  په دې ليکنه کې د ليکوال خپل نظر څرګند وي. د ژورنالېزم نورې ليکنې د کالم نه په دې توپير لري چې دلته په لږو الفاظو يو مضمون ته پام شوی وي او ليکوال د خپلو نظريو له کبله پېژندل شوی وي (حليم، ۱۳۹۱،ص.۸۷).

**د کالم ليکوال ځانګړنې**

په مسلکي لحاظ د ښه او اغېزمن کالم ليکلو لپاره، ليکوال بايد يولړ ځانګړنې ولري، ترڅو ښه معياري ليکل وکړي. ايس ايم شاهد په خپل کتاب « ژورنالېزم مطالعه» کې هغه ځانګړنې يادې کړې دي، چې يو ښه کالم ليکوال يې بايد ولري(شاهد، ۱۳۸۵،۲۵۳).

**پراخه مطالعه او مشاهده لرل**

که ليکوال غواړي چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې ليکل وکړي، بايد په هره برخه کې مطالعه ولري. ليکوال بايد په ادب، ساينس، فلسفه، اقتصاد، سياست او د ژوند په هر اړخ کې پراخه مطالعه او معلومات ولري. که ليکوال يواځې په يوه ځانګړې برخه او څانګه کې ليکل کوي، بايد په دې برخه کې خپل معلومات په دوامداره توګه تازه کړي. ليکوال په دې ډول ليکنه کې خلکو ته لارښوونه کوي، نو که ليکوال خپله له موضوع سره نا آشنا وي، نو نورو ته به څنګه لارښوونه وکړي؟

**د پنځونې وړتيا لرل**

کالم ليکوال د خپلو لوستونکو د پوهې او خوښې لپاره مختلفې وسيلې کاروي. کالم ليکوال ته د پنځونې وړتيا لرل ډېره اهميت لري، ځکه چې ليکوال له دې لارې لوستونکو ته په منظم ډول مرحله په مرحله فکري لارښوونه کوي.

**د ولسي مسئوليتونو څخه خبرتيا لرل**

کالم ليکوال بايد د ټولنې د اړتياوو، ستونزو، او مسئلو څخه خبر وي او د دې مسؤليتونو پر بنسټ خپله ليکنه وړاندې کړي.

**په سختو حالاتو کې هم له حقايقو د پردې پورته کولو وړتيا لرل**

کالم ليکوال بايد د شجاعت او صداقت له مخې په داسې شرايطو کې چې نور ممکن يو څه پټ کړي، دی له حقايقو پرده پورته او خلکو ته يې ښکاره کړي.

**په ژبه برلاسی لرل**

ژبه د کالم ليکوال لپاره يوه اغېزمنه وسيله ده، چې د پيغام د انتقالولو لپاره بايد په هغې کې مهارت ولري. ليکوال چې په کومه ژبه ليکنه کوي، بايد د اړوندې ژبې په قواعدو او باريکيو باندې پوه وي. علاوه پر دې، ليکوال بايد د ژورناليستيکو قوانينو څخه هم باخبره وي، تر څو داسې څه ونه ليکي چې د رسنيو مسئولينو ته سرخوږی جوړ

کړي. کالم‌لیکونکی معمولاً ډېر تجربه‌لرونکی او لوړه مهارت لرونکی کس وي. کالم د یوې موضوع په اړه د لیکوال ژوره پوهه او درک ښیي. کله چې لیکوال د یوه ځانګړي موضوع په اړه کالم لیکي، نو د معلوماتو د ترلاسه کولو له‌پاره له خپلو اړیکو، سرچینو او ټولنیز محیط نه ګټه اخلي(Punn, 2019, p. 1).

**د کالم مهمې ځانګړتیاوې**

د مسئلې تجزیه او تحلیل: په ورځپاڼه کې د کالم له لارې یوه مسئله تجزیه او تحلیل کېږي او لیکوال د خپلې پوهې او تجربو په رڼا کې د اړوندې مسئلې په اړه مخاطبانوته لارښوونه کوي. کالم بېلابېل موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي، له کورني او بهرني سیاست څخه نیولې آن د بشرکوچیني احساسات او ارمانونه رانغاړي، کالم دوه متفاوت عنوانونه لري، چې یو یې ثابت او بل یې بدلون مومي، لیکوال د کالم له‌پاره یو ثابت عنوان ټاکي او ترهغې وروسته د خپل هرکالم له‌پاره موضوع ته په کتو، ځانګړی عنوان غوره کوي.
د کالم لیکوال له‌پاره اړینه نه ده، چې هغه دې د ورځپاڼې کارمند وي خو دېته اړتیا ده چې د ژورنالېزم له اصولو سره بلد وي.

**شخصي نظر**

کالم لیکوال خپل نظرونه او لیدلوري له مخاطبانو سره په آزادانه ډول شریکوي، چې دا د کالم یوه ځانګړی خصوصیت دی او لیکوال د خپل ځانګړي لیدلوري څخه موضوع تحلیلوي.
کالم د لیکوال خپل غږ او فکرونه څرګندوي. د خبرونو د بې پرېوالي پرځای، کالم کې لیکوال خپل احساسات او نظرونه شریکوي. کالمونه اکثره په ټاکلې دوره لکه په ورځنی، اوونیزه یا میاشتني توګه خپرېږي. د کالم ژبه غیر رسمي او د خبرو اترو په شان وي، چې لوستونکي ورسره ښه اړیکه جوړوي. کالم د یوې لویې موضوع تحلیل نه کوي او معمولاً د یوې ځانګړې زاویې یا برخې په اړه لیکل کېږي (PRINT MEDIA, 2023).

**قضاوت او وړاندیزونه**

د خبر لیکنې پر خلاف، په کالم لیکنه کې لیکوال خپل شخصي قضاوت او وړاندیزونه وړاندې کوي. په دې ډول لیکنه کې د پېښو تحلیل یوازې د حقایقو بیان نه وي، بلکه لیکوال د خپلو شخصي نظرونو او وړاندیزونو له لارې د موضوع ژوره څېړنه کوي.
غیر رسمي او جذاب انداز : د کالم ژبه محاوره‌ای او غیر رسمي وي، چې دا د لوستونکو د جذبولو اسانه لاره ده. د کالم لیکوال د جذاب انداز او ساده ژبې له لارې خپل پیغام په مؤثره توګه مخاطب ته رسوي.

**د موضوعاتو تنوع**

کالمونه د مختلفو موضوعاتو لکه طنز، محلي پېښې، بشري کیسې، سیاست، او مالي چارو په اړه لیکل کېږي. دا د کالم یوه بله ځانګړتیا ده چې د هر ډول لوستونکو لهپاره موضوعات مطرح کوي.

**منظم وخت او ځای**

کالم په منظم ډول په ټاکلي وخت او د ورځپاڼې په ځانګړي برخه کې خپرېږي، چې د وفاداره لوستونکو لهپاره یې موندنه اسانه وي.

**د کالم لیکنې موخې**

په رسنیزه برخه کې اطلاعاتي ژانرونه د مهمو پېښو په اړه لوستونکو ته اطلاعات وړاندې کوي، چې له دې ډول لیکنو څخه تر یوه حده د بوختیا، لاربښوونې او ساعت تېرۍ موخې پوره کېږي خو په ورځپاڼه کې کالم د بېلابېلو موخو لهپاره لیکل کېږي چې د لیکنې په دې برخه کې یې د ځینو یادونه کوو:

**د مهمې موضوع د رابرسېره کولو لهپاره**

کالم د یوې مهمې او ټولنیزې موضوع په اړه لیکل کېږي چې خلکو ته نوي مفاهیم او حقیقتونو څرګندوي.

**د خلکو د احساساتو او غوښتنو څرګندونه**

کالمونه د خلکو احساسات او غوښتنې مطرح کوي او د هغو په اړه خبرې کوي (شاهد، ۱۳۸۵،ص.۲۵۰).

**پېښو او حالاتو د شننې له لارې لارښوونه**

کالم د پېښو او حالاتو د شننې له لارې لوستونکو ته لارښوونه کوي او له دې لارې د عامه فکرونو د جوړولو وسیله ګرځي.

**د لیکوال لهپاره د نظر څرګندولو اسانتیا**

کالم لیکوال ته دا اسانتیا برابروي چې د لیکنې په بڼه د خپل نظر په څرګندولو کې برخه واخلي. کله چې ورځپاڼې د خپلې پالیسی له مخې په ځینو موضوعاتو د نظر څرګندولو وړتیا ونه لري، کالم یې یو غوره بدیل دی چې لیکوال ته له دې لارې د موضوعاتو په اړه د نظر څرګندولو فرصت ورکوي.

**د ټولنې د اخلاقی ارزښتونو د لوړولو هڅه**

کالم لیکوال د روانو چارو د شننې له لارې خلک خپلو مسئولیتونو ته متوجه کوي او د ټولنې په منځ کې لوړ اخلاقی ارزښتونه رواجوي.

**د نویو پرمختګونو څخه خبرتیا**

کالم د ځانګړو او تخصصي برخو لکه ساینس، ټکنالوژي، یا ټولنیزو چارو په اړه لیکل کېږي، چې له دې لارې لوستونکو ته د مسلکي ساحو په نوي پرمختګونو او بدلونونو خبر ورکوي.

**د لوستونکو سره د اړیکې پراختیا**

د ورځپاڼې هغه لوستونکي چې په منظم ډول کالم تعقیبوي، د کالم لیکوال سره د لیکنو له لارې خپل نظرونه شریکوي، او د ورځپاڼې د پالیسیو اصلاح ته لاره هواروي.

**له نورو لیکنو سره د کالم توپیر**

**۱. د کالم او عامې لیکنې توپیر**

کالم له نورو عامو لیکنو سره توپیر لري. د کالم لیکوال د موضوع د روښانتیا او وضاحت لپاره مختلفو پېښو او موضوعاتو ته اشاره کوي، په داسې حال کې چې په عادي لیکنو کې لیکوال د یوې ځانګړې موضوع څخه بهر نه وځي او د موضوع وحدت او یووالي ته ژمن وي. په کالم کې، لیکوال د موضوع د ځو اړخونو او زاویو په اړه خپل تحلیل او نظر وړاندې کوي، ترڅو د موضوع عمق او پراختیا څرګنده کړي، خو په عادي لیکنه کې د یوې محدودې موضوع په اړه پراخ او مفصل تحلیل نه وړاندې کېږي.

**۲. د کالم او راپور توپیر**

کالم له راپور سره هم جوت توپیر لري. په راپور کې، رپوټر د پېښې د پخلي لپاره د اړوندې پېښې په اړه د ښکېلو لورو نقل قولونه وړاندې کوي او د پېښې له هر لوري سره اړیکه نیسي، چې هدف یې د حقایقو وړاندیز او د پېښې یوه بې طرفه تصویر ورکول وي. په کالم کې، لیکوال په هغه کچه چې په راپور کې ښودل کېږي، نقل قولونو او مستندو شواهدو ته اړتیا نه لري، بلکه د کالم لیکوال خپل شخصي قضاوت او تحلیل وړاندې کوي. په کالم کې لیکوال د خپل تحلیل، تجربو او نظرونو پر بنسټ لوستونکي ته موضوع وړاندې کوي.

**۳. د کالم او علمي لیکنې توپیر**

کالم له علمي لیکنو او مقالو سره هم توپیر لري. په علمي مقالو کې، لیکوال د معتبره او مستندو منابعو لکه کتابونه، علمي څېړنې او مقالو استناد کوي، ترڅو د خپلې موضوع په اړه باوري او تایید شوي معلومات وړاندې کړي. په کالم کې، لیکوال ډېری وخت خپل شخصي نظریات او مشاهدې شریکوي. کالمونه د لیکوال د خپل لیدلوري، تحلیل او د هغه د تجربو پراساس لیکل کېږي، کوم چې د علمي او تحلیلي څېړنو پر اساس نه وي.

**د کالم ډولونه**

کالم که څه هم په هره موضوع لیکل کېدای شي، خو سیاست او حکومت هغه برخې دي چې ډېر کالمونه پرې لیکل کېږي، چې لامل یې له دې ډول موضوعاتو سره د عامو وګړو دلچسپي او اهمیت دی. په ورځپاڼو کې د

محتوا او بنې له مخې بېلابېل کالمونه خپرېږي، هر ليکوال دليکنې يو ځانګړی انداز لري خو په لويه کې د موضوع له مخې کالم لاندې ډولونه لري لکه روغتيايي کالم، قانوني کالم، ديني کالم، ټولنيز کالم، سپورتي کالم، نفسياتي کالم، طنزي کالم، اقتباسي کالم، معياري کالم د راغليو ليکونو کالم، فېشن او د کور چارو اړوند کالمونه په برکې نيسي. د ليکوال لهپاره په دې ډول کالم ليکنه کې ځانګړې پوهې او مهارت لرلو ته اړتيا ده، په ليکنه کې يې ليکوال بايد له احتياط څخه کار واخلي او د کالم د ځينو ډولونو په ليکنه کې د ليکوال لهپاره، د خپل خيال او نظر ځايولو ګنجايش نه وي.

**د کالم ليکنې پړاوونه**

د نورو ليکنو په څېر کالم هم په خپل جوړښت کې درې برخې لري. په لومړۍ برخه کې د موضوع د پېژندنې په خواکې د لوستونکو پاملرنه راجلبېږي. په دويمه يا اصلي برخه کې ليکوال د موضوع په اړه خپل استدلال، بيلګې او تشريحات وړاندې کوي او په وروستی برخه کې ټول متن خلاصه کېږي او ليکوال کالم په يوه په زړه پورې جملې سره پای ته رسوي. د کالم اصلي جوړښت د FIRE په نامه يوه فورمول دی چې څلور مهمې برخې پکې شاملې دي چې يو يې حقايقFacts دويم يې نظرونه Ideas دربیم يې دليلReasons او ورستۍ برخه يې احساسات Emotions دي .دا څلور برخې د کالم مهمې مواد دي چې يو ځای کالم جوړوي. ليکوال دغه مواد د اوبو په څېر بولي چې اوبه د لوښي له شکل سره سم بڼه نيسي، نو کالم هم د دې جوړښت يا چوکاټ په مرسته منظم کېږي او شکل مومي. د ليکوال په خبره، د کالم جوړښت د ليکونکي د نظر او هدف له مخې ټاکل کېږي او په دې برخه کې د قانوني بنديزونه ډېر کم دي (Uyo, 2009, p. 10).
د کالم ژبه بايد ژورناليستيکه او عامه فهمه وي د کالم په پيل کې د ټاکلې پېښې او خبر په اړه اړين اطلاعات راوړل کېږي، تر هغې وروسته ليکوال د پېښې سره د موافقت يا مخالفت په صورت کې ، په لنډ ډول تبصره کوي او د ليکنې په وروستۍ برخه کې د موضوع په تړاو خپل ځانګړی ليدلوری په اغېزمن ډول څرګندوي، نو د ځينو ليکوالانو په اند د کالم عنوان هم بايد له همدې ځای څخه انتخاب شي.

**۱- د موضوع ټاکل**

د موضوع ټاکل د کالم په ليکنه کې ډېر اهميت لري، ځينې ليکوالان د خپل کالم لهپاره د ورځينيو مهمو خبرونو څخه موضوع غوره کوي. د موضوع په ټاکنه کې مهمه داده، چې داسې موضوع وټاکل شي چې خلکو ته په زړه پورې او په اړه يې لوستل غواړي. احمد ډوګر په خپل کتاب( کالم، فيچر او تبصره) کې د کالم لهپاره د موضوع د انتخاب په اړه د ځينو ليکوالانو نظرونه را اخيستي دي: احمدنديم قاسم: زه د خپل کالم موضوع د

ورځپاڼې له خبرونو څخه اخلم او په اوربدلو خبرونو يې نه ليکم... ظهير کشميري د کالم د موضوع په اړه وايي:په نړۍ کې پر موضوعاتو ليکونکي کالم ليکوال ډېر کم دي، هر کالم ليکوال د خپلې خوښې موضوع د چاپېريال له تازه خبرونو څخه ترلاسه کوي او په هغه خپل نظر ليکي. ځينې ليکوالان د ټوکو، ځينې سياسي او ځينې کلتوري موضوعات ټاکي. همدارنګه بل ليکوال انتظارحسن وايي چې زه د ښار له ټولنيز ژوند څخه نوې موضوع اخلم په هغې پسې لرې نه ځم (ډوګر، ۱۳۸۹،ص.۳٦).

**۲- د موادو ترلاسه کول**

د کالم لهپاره د موضوع تر انتخاب وروسته ليکوال په دويمه مرحله کې د ټاکلې سوژې په اړه د اړينو موادو په لټه کې وي. د مواد ترلاسه کول د کالم په موضوع پورې اړه لري که موضوع معياري وي نو کولی شو چې اړوند مواد يې له کتابتون او ياهم د ورځپاڼې په کلکسينونو کې و کتل شي. د کالم ليکوال په ورځيني ژوند کې د خپل چاپېريال د مشاهدې له لارې داسې موضوعاتو ته متوجه کېږي، چې د عامو خلک ورته فکر نه وي. د ليکوال تجربه هم په دې برخه کې ډېره اغېزمنه تماميږي، ليکوال د ژوند په بېلابېلو برخو کې د خپلو تېرو تجربو له مخې، نوې پېښې توضيح او روښانه کوي. ليکوال د مطالعې له لارې کولی شي چې خپل ذهني افق پراخه او له ترلاسه شوې پوهې د خپلو کالمونو په ليکنه کې په اغېزمن ډول استفاده وکړي. همدارنګه د راپور او مرکې له لارې هم ليکوال د کالم لهپاره په زړه پورې موضوع او مواد ترلاسه کولی شي. د مرکې او راپور جوړونې پرمهال له هر ډول خلکو سره خبرې کوي او په دې بهير کې له داسې موضوعاتو سره مخ کېږي، چې د خبر په نسبت په کالم کې په اغېزمنه بڼه وړاندې کېږي. همدارنګه ذاکرجلالي د «کالم ليکنه» تر سرليک لاندې د خپلې ليکنې په يوه برخه کې، د ا غېزمن کالم د ځينو بېلګو د يادونې په لړ کې، د جاوېد چوهدري چې د ايکسپريس اردو ژبې ورځپاڼې ته کالم ليکي، يادونه کوي. د نوموړي په وينا کله چې په ورځپاڼه کې د ده کالم «زيرو پواينټ» راشي، هغه ورځ نو بيا ايکسپريس ورځپاڼه د مرغۍ پې شي. ده پر همدې نامه د کالمونو پنځه ټولګې خپرې کړې دي. هغه څه چې زه يې ډېر اغېزمن کړم، داده، چې د ده «زيرو پواينټ» لومړۍ ټولګه په دوولس کالو کې ۷۲ځله! يعنې په کال کې شپږ ځلې د چاپ پر پوله درېدلې.

**پايله**

کالم د ژورناليستيکې ليکنې د يو ځانګړي ډول په توګه هغه مهال ليکل کېږي، کله چې څوک غواړي د يوې ځانګړې موضوع په اړه خپل نظر څرګند کړي. د کالم ليکل يو ځانګړې مهارت دی چې د ليکوال خلاقيت، شخصي نظر او د لوستونکو سره اړيکه په کې ډېر اهميت لري. همدارنګه د لوستونکو خوښي او رضايت د کالم

د بریالیتوب لهپاره اړین دی. عموماً، چاپي رسنۍ کالم لیکونکي لري چې د ځانګړو موضوعاتو او عمومي علاقې وړ مسایلو په اړه لیکنې کوي. د کالم په لیکنه کې لیکوال هڅه کوي چې لوستونکو ته د واقعیت څخه یو تفسیر وړاندې او له دې لارې هغوی ته لارښوونه کوي. په ځینو مواردو کې، کالمونه د یوې ځانګړې موضوع په اړه بېلابېل نظرونه وړاندې کوي، ترڅو خلک وکولی شي د یوې موضوع په اړه بېلابېل لیدلوري ترلاسه او پر بنسټ یې خپلې پایلې راوباسي. کالم لیکونکی کولی شي سپارښتنې ورکړي؛ د حکومت او هرې بلې ادارې د ناسمو تګلارو په اړه خبرې وکړي چې د خلکو په ژوند ناوړه اغېز کوي. کالم د ورځیو مهمو پېښو په خواکې په بېلابېلو موضوعاتو لیکل کېږي. کالم د اجتماعي، سیاسي او فردي بدلون په لور یوه ځواکمنه وسیله ده، او د لیکوالانو لهپاره د خلکو په افکارو، احساساتو او عملونو باندې د تاثیر کولو یوه اغیزمنه لار ده.

**وړاندیزونه**

**۱. د کالم لیکنې د مسلکي ځانګړنو د وضاحت لهپاره کتابونه تالیفول**

د کالم لیکنې د مسلکي ځانګړتیاوو په اړه دکتابونو تالیف کول چې د لیکوالانو او رسنیزو کارمندانو لهپاره یو اړین لارښود وي. دغه کتابونه باید د کالم لیکنې پر ټولو اړخونو لکه د موضوع ټاکنه، موادو ترلاسه کول، د استدلال وړاندیز، او د ژورنالیستي قواعدو په اړه تفصیل ولري.

**۲. د کالم لیکنې د زده کړې او ارزښت په اړه د رزوینزو ورکشاپونو جوړول**

د کالم لیکنې په اړه ورکشاپونه او سیمینارونه جوړول چې د دې مهمې ژورنالیستیکې برخې ارزښت په ټولنه کې روښانه کړي. دغه کار د کالم لیکنې د ګټو په اړه پوهه لوړوي او په رسنیز ډګر کې د دې ژانر ارزښت روښانه کوي.

**۳. د عامه افکارو په جوړونه کې کالم لیکنې رول او ونډې ته د رسنیزو مسئولینو متوجه کول**

د چاپي رسنیو مسئولین باید د کالم لیکنې رول او د هغې اغېز ته پاملرنه وکړي. کالم د عامه افکارو جوړولو او د ټولنې د اخلاقو او فکري پرمختګ لهپاره یو ځواکمن وسیله ده، چې باید د رسنیو د اخلاقو او اصولو سره سم ولیکل شي.

# The professional characteristics of column writing

Assistant Professor Naqeebullah Atyash, Shaikh Zayed University, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism.
**Email:** naqib.atish@gmail.com

**Abstract**

Column writing is an important part of the content in print media, newspapers, and magazines. Columns are written by authors on specific topics with the goal of increasing readers' knowledge, exchanging opinions, and discussing social issues. A columnist raises important societal issues through analysis and provides new information to the audience. Columns often reflect the author's personal opinions, experiences, or commentary on social and political matters. The aim of this research is to help general media readers understand that the structure and purpose of content published in the media can differ. In some genres like news, journalists present facts and realities to their audience, while in others, the author analyzes events and expresses personal viewpoints on daily issues and news. In our society, general newspaper readers often fail to distinguish between the purposes and characteristics of news and analytical writings, and they tend to treat every media piece like news, which only presents facts about events. This article helps media audiences recognize columns, which are a form of analytical writing, among other media news. This paper focuses on analyzing existing research related to the topic and examines the views presented by researchers. Columns can be effective in changing people's opinions and thoughts. Findings show that well-written columns have an impact on readers, stay in their minds, and help alter the behavior and beliefs of the audience. The professional characteristics of column writing include the need for the author to influence readers, present opinions clearly and attractively, and carry out their mission through precise information, thorough research, and fluent language.

**Keywords**: Analytical genre, value of columns, journalistic genres, media writings, column writing.

**مأخذونه**

حلیم، صفیه، (۱۳۹۱) ، ژورنالېزم. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه .

ډوګر، محمد اسلم، (۱۳۸۹) ، کالم، فیچر او تبصره، د امیرجان وحید احمدزی ژباړه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

شاهد، ایس ایم، (۱۳۸۵)، د ژورنالېزم مطالعه، د امیرجان وحید احمدزی ژباړه. پېښور:د دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه .

ناظم، محمد داود، (۱۳۹۳) ، د انیس ملي جریده او د عامه ذهنیتونو په روښانولو کې د هغې ونډه. کابل: د رسالت خپروندویه اداره.

Iqbal Punn, G. (2019, September 25). Column – What’s it all about and its role in journalism. ResearchGate.

https://www.researchgate.net/publication/336020403_Column_-_What's_It_All_About_and_Its_Role_in_Journalism

Naveed, F. (2011, October 25). COLUMN, definition, types of column & writing column. Mass Communication Talk.

https://www.masscommunicationtalk.com/column-definition-types-of-column-writing-column.html

PRINT MEDIA. (2023, December 25). Columns vs. special articles: Understanding the distinctions. https://journalism.university/print-media/columns-vs-special-articles-distinctions/

Uyo, A. (2009). The art of column writing. In L. Idowu (Ed.), Nigerian columnists and their art (pp. 2–15). Lagos: Diamond Publications.

# په اسلامي فقه کې د امیر شرطونه

څېړندوی محمد طاهر شرر، د افغانستان علومو اکاډمۍ، د فقه او قانون څانګه.
**برېښنالیک:** Sharar_safay@yahoo.com

**لنډیز**

دا مقاله هغه ځانګړتیاوې او شرطونه تشـریح کوي چې باید یو امیر یې ولري، څو د اسلامي ټولنې رهبري وکړي او د هغې ثبات او استقرار باوري کړي. دا څېړنه د اسلامي فقهې په چوکاټ کې د خلافت یا امامت د شرطونو تحلیل وړاندې کوي. موضوع دا ده، چې ولې د امام ټاکنه د امت د نظم او مشـروعیت لهپاره مهمه ده. څېړنه د حدیثو او د څلورو امامانو د فتواوو ترمنځ اړیکې او عصـري تطبیق ته کتنه کوي. موخه دا ده چې د خلافت د شرطونو منطقي او فقهي اړخونه وڅېړي. مېتود تحلیلي او توصیفي دی، د شواهدو، حدیثي منابعو او فقهي اجتهاد پر بنسټ ترسره شوی. د څېړنې عمده پوښتنه دا ده، چې کوم شرطونه د خلافت لهپاره عملي او اړین دي. د مقایسوي تحلیل، متني تحلیل او فقهي استدلال تخنیکونه کارول شوي. پایله ښئ چې د خلافت شرطونه د امت د یووالي او مشـروعیت لهپاره ټاکل شوي، خو عصـري تطبیق اصلاح ته اړتیا لري. موندنې ښرګندوي چې د اسلامي فقهې، حدیث او اجتهاد ترمنځ اړیکه باید د عصـري شرایطو په پام کې نیولو سره تحلیل شي، څو د اسلامي ټولنې د اړتیاوو سره سم تطبیق ومومي.

**کلیدي ټکي:** امیر، امام ، خلیفه، شرطونه، فقهاء.

**سريزه**

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**
په یوه اسلامي ټولنه کې صالح امیر ځکه اړین او ضروري دی چې واکمن دولت د الله جلا جلاله په اوامرو او نواهیو سنبال وساتي، همدا ده چې اسلامي شریعت د امیر ټاکل واجب کړي دي، په دې باندې د صحابه وو رضوان الله علیهم له زمانې څخه اجماع ده، ابن خلدون رحمه الله وايي: «**إنَّ نصبَ الإمامِ واجبٌ قد عُرِف وجوبُه في الشَّرعِ بإجماعِ الصحابةِ والتابعين؛ لأنَّ أصحابَ رسولِ اللهِ – صلى الله عليه وسلم – عند وفاتِهِ بادروا إلى بيعةِ أبي بكرٍ رضي الله عنه وتسليمِ النظرِ إليه في شؤونهم. وكذا في كل عصرٍ من بعدِ ذلك، فلم تترك الناس فوضىً في أي عصرٍ من الأعصار..**»(ابن خلدون، بې تا، ج۱ ص۲۹۵). د امام ټاکل واجب دي او د دې وجوب شرعاً د صحابه‌وو رضوان الله علیهم او تابعینو په اجماع ثابت شوی دی؛ ځکه د رسول الله ﷺ له وفات وروسته د هغه ملګرو بې له ځنډه ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره بیعت وکړ او د خپلو چارو واک یې هغه ته وسپاره. همداسې په هر دور کې تر دې وروسته هم شوي او هېڅکله خلک په هېڅ زمانه کې بې مشره پاتې شوي نه دي.
د صالح امیر په امارت او واک کې خلک له فتنو، ګډوډۍ... څخه ژغورل کېږي، جویني رحمه الله وايي: «که خلک بې نظمۍ ته پرېښودل شي، داسې څوک نه وي چې په حق یې راټول کړي او نه څوک وي چې د هغوی مخه ونیسي او نه څوک وي چې د شیطان له لیارې یې را وګرځوي، نو د نظرونو اختلاف او بېلابېلې نفسي غوښتنې به دانه وانه کړي، لویان به هلاک شي او ټیټ او ناپوه خلک به سرونه راپورته کړي، متناقض نظرونه به یو بل ته سنګرونه ونیسي، نظرونه به په یو بل پسې دښمن شي، غوښتنې به سره ټکر وکړي، پست خلک به مشران شي، ټولنې به ړنګې شي، د جوال خوله به وشلېږي، دعوې او شخړې به خپرې شي، د دین په نامه به خلک په اهل دینو واکمن شي او ټولنې به ټوټې ټوټې شي». (الجویني، بې تا، ج۱، ص۲۳).
همدارنګه عثمان بن عفان او عمربن الخطاب رضي الله عنهما وايي: «**إِنَّ اللَّهَ لَيَزَع بِالسُّلْطَانِ مَا لَا يَزَعُ بِالْقُرْآنِ**»( ابن شبه،۱۳۹۹هـ ق، ج۳، ص۹۸۸). الله جلا جلاله په واکمنۍ هغه څه منع کوي چې په قرآن نه منعه کېږي، مطلب دا چې ځینې داسې خلک شته چې له ګناهونو او فحاشۍ څخه په زور منع کېږي، په قرآن نه منع کېږي.
ابن المعتز رحمه الله وايي: «له پاچاه پرته ولس داسې خرابېږي لکه له روح پرته چې بدن خرابېږي، ځینې بلیغانو ویلي دی، واکمني د یوه ملت واګې، د ټولو نظام، د کړاوونو محوه کوونکی، د کمزورو کلا او د علمي بنسټونو ستنه ده، یو بل وايي، واکمني له ولس نه په راټه دعوت دفاع کوي».( القلعي، ۱۴۰۱هـ ، ج۱، ص۹۷)..
د اسلام له نظره د امیر مقام یوازې یو سیاسي منصب نه دی، بلکې دا یو الهي مسوولیت، ستر امانت او د بشري ټولنې د سمون یو مهم رکن دی. دا ستر بار هغه څوک پورته کولی شي چې د دغه منصب له‌پاره جوګه وي.

دا مقاله د همدې مقام اهميت، د امير په مواصفاتو او د دغو صفاتو شرعي بنسټونه او د اسلامي تاريخ د مثالونو پر بنسټ تشريح کوي.

**موخې**

۱. د امير د اصطلاح تعريف او تاريخي شاليد.

۲. د امام، خليفه او اميرالمؤمنين ترمنځ توپير روښانه کول.

۳. د امير د ټاکنې شرائط او اسلامي معيارونه بيانول

**د څېړنې تګلاره:** څرنګه چې ياده موضوع کتابتونی بڼه لري، نو په څېړنه کې له تحليلي او وصفي مېتود څخه کار اخېستی دی، مستقيم نقل قول مې په دې قوس« » کې راخېستی، هر قول مې خپل قايل ته د علمي امانت له مخې منسوب کړی دی، تر خپله وسه مې هڅه کړې چې له اصلي سرچينو څخه اقوال رانقل کړم. که مې په اصلي ماخذونو کې نه دی پيدا کړی، نو بيا مې چې هر ماخذ کې موندلی راخېستی مې دی. د اړتيا په صورت کې مې د ځينو حديثونو تخريج هم کړی دی او خپله څېړنه مې د امير په تعريف پيل کړې ده.

**د امير تعريف**

په مطلق ډول د امير کلمه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې کارېدله، خو په خليفه يې اطلاق نه کېده، لښکر مشرانو، واليانو او ښاروالانو ته کارېده، له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصى اللهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَد أَطَاعِنِي، وَمَنْ عَصى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي**»(البخاري، ۱۴۰۷هـ، ج۷، ص۴۶۹). چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله جلا جلاله اطاعت وکړ، چا چې زما نافرماني وکړه هغه د الله جلا جلاله نافرماني وکړه، چا چې زما د امير نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه. د امير اصطلاح مسلمانانو رامنځ ته کړه او د لومړي ځل لپاره عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته وکارول شوه، کله چې عمربن الخطاب د مسلمانانو لخوا وټاکل شو، ويې ويل:«ابوبکر الصديق ـ رضي الله عنه ـ ته يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم خليفه وايه، نو ماته به څنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خليفه خليفه ويل کېږي، دا خو اوږدېږي، وايي: مغيره بن شعبه رضي الله عنه ورته وويل: ته زموږ امير او موږ دې مادون يو، ته د مومنانو امير يې، هغه وويل: دا بيا سم دی». (ابن شبة، **۱۹۷۹**م، ج۲، ص٦٨٧).

**د امام، خليفه او امير المومنين ترمنځ توپير:** په قرآن کريم کې د امام لفظ راغلی دی، الله جلا جلاله د ابراهيم څخه حکايت کوي: ﴿**إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ**﴾ (البقره: ۱۲۴). امام طبري

رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې راخېستي: «**يَا إِبْرَاهِيمُ إِنِّي مُصَيِّرُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا يُؤْتَمُّ بِهِ وَيُقْتَدَى بِهِ**» (امام طبري، ۱۴۰۲۲هـ ق، ج۲، ص۵۰۹). ( اې ابراهیمه! زه تا د خلکو لهپاره امام ګرځوم، چې اقتداء يې وشي او پيروي يې وشي.
د امام لفظ په ډېرو حدیثونو کې راغلی دی، د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «**فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ**» (البخاري، ج٦، ص٢٦١١) .نو کوم امام (مشـر) چې پر خلکو واکمن وي، نو هغه د خپل رعیېت (قوم) په اړه مسوول دی. په ځینو نبوي حدیثونو کې د امام پر ځای د أمیر کلمه هم کارول شوې ده. له انس رضي الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ»(ابن البیع، ۱۴۱۱هـ ق، ج۴، ص۸۵). دلته ترې مشر او خلیفه مطلب دي.
په دې توګه امامت یوه اسلامي اصطلاح وګرځېده او له امام نه موخه د مسلمانانو خلیفه او واکمن دی. نووي رحمه الله وايي: «**يَجُوزُ أَنْ يُقَالَ لِلْإِمَامِ: الْخَلِيفَةُ وَالْإِمَامُ وَأَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ**»(النووي، ۱۴۱۲هـ ، ج۴، ص۸۵) .روا ده چې امام ته خلیفه، امام او امیرالمومنین وویل شي.

### د امیرالمؤمنین شرطونه

**۱. اسلام:** د یو مسلمان امیر لهپاره دا شرط ضروري دی، چې په اسلامي عقیده او تقوا سنبال وي، په اسلام کې د نامسلمان امیر ټاکل روا نه دي؛ څکه چې الله جلا جلاله فرمايي: ﴿**وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا**﴾. (النساء: ۱۴۱.). څکه چې کافر په مسلمان ولایت نه لري، ابن منذر رحمه الله وایي: «**أَجْمَعَ كُلُّ مَنْ يُحْفَظُ عَنْهُ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْكَافِرَ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَى مُسْلِمٍ بِحَالٍ**» (ابن قیم،۱۴۱۸ هـ، ج۲، ص۷۸۷.)
ټول اهل علمو په دې اجماع کړې ده چې په هېڅ حالت کې پر مسلمان د کافر ولایت نشته. همدارنګه د غیر مسلم اطاعت او درناوی واجب نه دی، هغه الله جلا جلاله په خپل کفر ذلیل کړی دی، نو د مسلمانانو په هېڅ چاره یې ولایت روا نه دی، ابن قیم رحمه الله وایي: «**وَلَمَّا كَانَتِ التَّوْلِيَةُ شَقِيقَةَ الْوِلَايَةِ كَانَتْ تَوْلِيَتُهُمْ نَوْعًا مِنْ تَوَلِّيهِمْ، وَقَدْ حَكَمَ تَعَالَى بِأَنَّ مَنْ تَوَلَّاهُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ، وَلَا يَتِمُّ الْإِيمَانُ إِلَّا بِالْبَرَاءَةِ مِنْهُمْ، وَالْوَلَايَةُ تُنَافِي الْبَرَاءَةَ، فَلَا تَجْتَمِعُ الْبَرَاءَةُ وَالْوَلَايَةُ أَبَدًا، وَالْوَلَايَةُ إِعْزَازٌ، فَلَا تَجْتَمِعُ هِيَ وَإِذْلَالُ الْكُفْرِ أَبَدًا، وَالْوَلَايَةُ صِلَةٌ، فَلَا تُجَامِعُ مُعَادَاةَ الْكَافِرِ أَبَدًا**» (ابن قیم، ج۱، ص۴۹۹) چې څرنګه تولیه (واک ورکول، د زړه دوستي) د ولایت (سرپرستی) خور ده، نو د هغوی ټاکل هم د هغوی د ولایت یوه بڼه ده. الله جلا جلاله پرېکړه کړې چې څوک یې په ملګرتیا ونیسي، نو هغه له دوی (کفارو) څخه شمېرل کېږي. تر هغې ایمان نه شي بشپړېدای، ترڅو چې له هغوی نه بیزار (برائت) نه شي او ولایت له برائت سره ټکر لري، نو هېڅکله برائت او ولایت یو ځای نهشي جمع کېدای. ولایت یو ډول عزت ورکول دي، نو دا د کفر د ذلیلولو سره نهشي راټولېدای. ولایت اړیکه ده، نو د کفارو د دښمنۍ (عداوت) سره نهشي یوځای کېدای."

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«**فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ**»(مسلم، بې تا، ج۳، ص۱۴۴۹). زه هېڅکله له مشرک مرسته نه اخلم. دا چې په ځینو چارو کې ترې مرسته نه ده روا، نو څنګه د مسلمانانو چارې وروسپارل شي، عمر بن الخطاب رضي الله عنه دا ښه عملي کړې وه، ابوموسی الاشعري رضي الله عنه یې په دې وگواښه چې لیکوال یې نصراني و، عمر رضي الله عنه ورته وویل: «**قَاتَلَكَ اللَّهُ! أَمَّا سَمِعْتَ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾**(۲۱)، **أَلَا اتَّخَذْتَ حَنِيفًا قَالَ: قُلْتُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لِي كِتَابَتُهُ وَلَهُ دِينُهُ، قَالَ: لَا أُكْرِمُهُمْ إِذْ أَهَانَهُمُ اللَّهُ وَلَا أُعِزُّهُمْ إِذْ أَذَلَّهُمُ اللَّهُ، وَلَا أُدْنِيهِمْ إِذْ أَقْصَاهُمُ اللَّهُ**» (المائدة: ۵۱)(ابن قیم، ج۱، ص۴۵۴.). الله دې مړ کړه! ایا ته د الله دا خبره نه ده اورېدلې چې فرمایي: اې مؤمنانو! یهودیان او عیسویان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي. او که ستاسې څخه څوك هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کې شمېرل کېږي.

ولې دې یو سوچه مسلمان نه نیوه؟ ما ورته وویل: ای د مؤمنانو امیره! هغه زما لیکوال دی، او دین یې خپل دی (زه یې پر دین کار نه لرم). (امیرالمؤمنین) وویل: زه داسې خلک نه درنوم چې الله سپک کړي دي او نه عزت ورکوم هغو چې الله جلاجله ذلیل کړي دي او نه یې نږدې کوم چې الله لرې کړي دي."
قاضي عیاض رحمه الله وایي: « **أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَةَ لَا تَنْعَقِدُ لِكَافِرٍ، وَعَلَى أَنَّهُ لَوْ طَرَأَ عَلَيْهِ الْكُفْرُ انْعَزَلَ، قَالَ: وَكَذَا لَوْ تَرَكَ إِقَامَةَ الصَّلَوَاتِ وَالدُّعَاءَ**». (النووي، ۱۳۹۲هـ ق، ج۱۲، ص۲۲۹.). ټولو علماوو منلې ده، چې کافر ته د خلکو د مشرتابه حق نه ورکول کېږي او که څوک کافر شي، نو له مشرتابه څخه به لرې کېږي. او ویلي یې دي همدارنګه که لمونځونه او دعا پرېږدي، ورته حکم دی.

۲. **بلوغ:** بلوغ هغه صفت او شرط دی چې په اسلامي ټولو چارو کې که هغه وړې وې او که لویې، لازمي او ضروري ده، د ماشوم امامت او امیریت ناسم دی، ځکه چې د هغه چارې د نورو په لاس کې دي، نو بیا څنګه کېدلای شي چې د نورو چارې وروسپارل شي، الله جلا جلاله فرمایي: ﴿**وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا**﴾ ( النساء: ۵). او ناپوهانو ته (د هغوی) مالونه مه ورکوئ، (کوم چې ستاسو په تصرف کې دي)، الله جل جلاله هغه ستاسو د ژوند د سمبالښت وسیله ګرځولې ده او د دغو مالونو څخه هغوی ته خوراک او پوښاک ورکړئ، او (د دوی د مال او حساب په ساتنه) دوی ته سمه لارښوونه وکړئ. مفسرین وایي: «**قَالَ عَامَّةُ عُلَمَاءِ السَّلَفِ: هُمُ النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ**» عام سلف علماء وایي چې دوی ښځې او ماشومان دي. (ابن جریر، ۱۴۲۲ هـ، ج۱، ص۳۰۲. ابن کثیر، ۱۴۲۰هـ، ج۱، ص۱۸۲.).

دا چې د مالونو په ورکولو کې منعه راغلې ده، نو بيا د مسلمانانو چارې څنګه ور وسپارل شي، ماشوم غير مکلف دی، له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ؛ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ، وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يُفِيقَ، وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ»[10] د دريو کسانو څخه قلم پورته دی( يعنې ګناه يې نه ليکل کېږي)، له ماشوم څخه څو چې بالغ شوی نه وي، له وېده څخه څو چې ويښ شوی نه وي، له ليوني څخه څو چې هوښيار شوی نه وی).

له چا څخه چې قلم پورته وي او ګناه يې نه ليکل کېږي، نو په چارو کې يې تصرف هم ناسم دی؛ ځکه چې هغه په شرعي توګه غير مکلف دی، همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماشومانو له امارت څخه په الله جلا جلاله پناه نيولې ده، له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ»[11]. (امام احمد، ۱۴۲۱ هـ، ج۱۴، ص۶۷). په الله پورې د اويايمې له پېل او د ماشومانو له امارت نه پناه وغواړئ. (له اهل التشيع پرته هېڅ داسې اهل قبله نشته چې د ښځې او ماشوم امارت ته دې جواز ورکړی وي، يوازې اهل التشيع وايي چې د ماشوم امارت روا دی)(ابن حزم، بې تا، ج۴، ص۸۷).

۳. **عقل او جسماني وړتيا**: د غير عاقل واکمني که هغه د ماشومتوب له امله وي او يا هم د يوې پېښې له امله وي، روا نه ده، ځکه چې عقل د تدبير آله ده، کله چې عقل نه وي، نو تدبير هم نه وي (القلقشندي، بې تا، ج۱، ص۳۲). که يې په عقل کې خلل وي، نو بيا يې هم د مسلمانانو په هېڅ کار باندې واکمني سمه نه ده، نو د امير په ټاکلو کې خو اوليت لري چې غير عاقل نه وي. دا چې ماشوم له همدې امله له دې منصب نه محروم دی، نو ليونی خو په طريقه اولی محروم دی.

[10] . ابوداود په حدودو کې راخيستی دی، باب المجنون يسرق او يصيب، (۵۵۸/۴)، د حديث شمېره: ۴۳۹۸. نسائی په الطلاق کې راخيستی، باب من لا يقع طلاقه من الازواج ( ۴۸۶/۶)، دحديث شمېره: ۳۴۳۲ ، ابن ماجه په طلاق کې راخيستی، باب طلاق المعتوه والنائم(۶۵۸/۱) د حديث شميره:۲۰۴۱)، الحاکم په مستدرک کې راخيستی،(۷۵-۷۶). دشمير حديث ۲۴۰۵. ټولو له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی دی. د حديث ترجمه مخکې تېره شوې ده. الحاکم ويلي دي: " هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ " وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ بِزِيَادَةِ أَلْفَاظ" دا حديث د شيخينو په شرط صحيح دی خو هغوی نه دی تخريج کړی او شعبه له اعمش نه په زياتو لفظونو روايت کړی دی، وګوره: (المستدرك على الصحيحين د حاکم ۴۲۹/۴).

[11] . الباني په الجامع الصغير کې ضعيف کړی دی، ج۱، ص۳۶۲. خو هيتمي په مجمع الزوائد کې وايي: رواه أحمد والبزار ورجال أحمد رجال الصحيح غير كامل بن العلاء وهو ثقة. احمد او بزاز روايت کړی دی، د احمد رجال صحيح دی، پرته له کامل بن العلاء څخه او هغه ثقه دی. هيثمی، ج۱۵، ص۴۱۵.

امام غزالي رحمه الله د امير په صفاتو او شرطونو کې ليکي: «..الأُولَى البُلوغُ، فلا تَنعَقِدُ الإمامةُ لصَبِيٍّ لم يَبلُغْ. الثَّانيةُ: العَقْلُ، فلا تَنعَقِدُ لمجنونٍ؛ فإنَّ التكليفَ مِلاكُ الأمرِ وعِصامُه، ولا تَكليفَ على صَبِيٍّ ومَجنونٍ» (الغزالي،**۱۹۸۰م**، ج۱، ص۱۸۰). لومړی يې بلوغ دی، ځکه چې تکليف (د شريعت مکلفيت) د هر امر اصل او د هغه ساتونکی دی.

امام ماوردي رحمه الله د عقل د زوال په اړه مفصل بحث کړی او ويلي يې دي:

که د عقل زوال دايمي وي او د ښه کېدو هيله يې نه وي – لکه ليونتوب (جنون) يا «ذهني اختلال» ، او يا يې هم د ليونتوب وختونه له روغتيا ډېر وي، نو د امارت وړتيا نه لري او که وروسته پيل شي، نو د ځينو په نزد يې امارت پای مومي خو د ځينو نورو په نزد له منځه نه ځي.

همدارنګه د سترګو ړوند والی هم د امارت مانع ګرځي، ځکه چې ړوند کس قاضي کېدای نه شي، نو د امير مقام ته هم نه رسېږي.

د امارت لهپاره تر ټولو مهم اصل دا دی، چې رهبر داسې عقل، ليد، اورېدنه او وينا ولري چې د خلکو په چارو کې پرېکړه وکړای شي. لوی او دايمي عيبونه لکه ليونتوب او ړوندوالی د امارت لهپاره خنډ دي. خو هغه نيمګړتياوې چې د سياست او رهبرۍ په کار کې اغېز نه کوي، د امارت د صحت او مشروعيت مخه نه شي نيولی (الماوردي،**۱۹۸۰**م، ج۱، ص۴۳).

**۴. نارينتوب:** فقهاوو په عامه ولايت کې نارينتوب شرط ګرځولی دی، (او د علماوو ترمنځ په کې اختلاف نشته)( شنقيقطي،۱۹۹۵م، ج۱، ص۲۷). د دې ښه ثبوت هغه حديث دی، چې ابوبکره رضي الله عنه روايت کړی چې کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم خبر شو چې فارس د کسرا لور ځای‌ناستې کړه، نو ويې ويل: «**لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً**» (البخاري، ج۲۱، ص۴۹۷.). هېڅکله يو ملت نه بريالی کېږي چې خپلې چارې د ښځې لاس ته ورکړې).

ملا علي قاري رحمه الله د دې حديث په شرحه کې وايي:« **(قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا) بِالتَّشْدِيدِ ; أَيْ فَوَّضُوا (أَمْرَهُمْ) ; أَيْ أَمْرَ مُلْكِهِمْ** (امْرَأَةً) **فِي شَرْحِ السُّنَّةِ ; لَا تَصْلُحُ الْمَرْأَةُ أَنْ تَكُونَ إِمَامًا، وَلَا قَاضِيًا ; لِأَنَّهُمَا مُحْتَاجَانِ إِلَى الْخُرُوجِ لِلْقِيَامِ بِأُمُورِ الْمُسْلِمِينَ، وَالْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ لَا تَصْلُحُ لِذَلِكَ، وَلِأَنَّ الْمَرْأَةَ نَاقِصَةٌ ; وَالْقَضَاءُ مِنْ كَمَالِ الْوِلَايَاتِ ; فَلَا يَصْلُحُ لَهَا إِلَّا الْكَامِلُ مِنَ الرِّجَالِ**» (ملا علي قاري، ۱۴۲۲هـ ،ج٦، ص۲۴۰٦). رسول الله صلی الله عليه وسلم (وَلَّوْا) په تشديد ويلي دي؛ يعنې خپل چاره يې وروسپارله، يعنې پاچاهي يې ښځې ته ورکړه، د سنتو په تګلاره کې ناسمه ده، چې ښځه دې يا امامه شي، يا دې قاضۍ شي؛ ځکه چې دا دواړه د مسلمانانو د چارو د سمبالښت په خاطر بهرون وځي او ښځه عورته ده، د دې لهپاره مناسبه نه ده؛ ځکه چې ښځه ناقصه ده او قضاء د ولايت له کمال څخه ده، نو يوازې ورته کامل سړی مناسب دی.

په قرآن کریم کې ډېر داسې آیاتونه راغلي دي، چې نارینه یې پر ښځینه مقدم کړي دي، الله جلا جلاله فرمايي: **(الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ النساء)**( النساء : ۳۴). (سړي پر ښځو حاکمان دي، له دې کبله چې الله پاک ځینو د دوی ته پر ځینو نورو غوراوی ورکړی دی او د دې لهپاره نارینه (د ښځو لهپاره) خپله شتمني لګوي).

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي، چې ښځې ناقصات العقل والدين دي او امامت او امیریت کمال الرأی او ځیرکتیا ته اړتیا لري، له همدې امله یې له سړي پرته شهادت د اعتبار وړ نه دی، الله جلا جلاله یې هېرجنې یاده کړې ده: ﴿أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى﴾( البقرة: ۲۸)، که یوه یې هېره کړي، نو هغه بله به یې وریاده کړي، ابن قدامه رحمه الله په مغني کې وايي: «**وَلِهَذَا لَمْ يُوَلِّ النَّبِيُّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَلَا أَحَدٌ مِنْ خُلَفَائِهِ، وَلَا مَنْ بَعْدَهُمْ، امْرَأَةً قَضَاءً وَلَا وِلَايَةَ بَلَدٍ، فِيمَا بَلَغَنَا، وَلَوْ جَازَ ذَلِكَ لَمْ يَخْلُ مِنْهُ جَمِيعُ الزَّمَانِ غَالِبًا**».(ابن قدامه، ۱۳۸۸هـ، ج ۱۰، ص۳٦ ) نو ځکه نه پیغمبر صلی الله علیه وسلم، نه د هغه کوم خلیفه، او نه هم وروسته راتلونکو (حاکمانو) کومه ښځه قاضی ټاکلې ده او نه یې د کوم ښار والي (حاکمه) ګرځولې ده، تر هغه ځه چې موږ ته رسېدلي دي. که دا کار جائز وای، نو داسې به نه وای چې د ټول تاریخ په اوږدو کې (تقریباً) هېڅ وخت کې دا نه وای شوی.

همدارنګه د مسلمانانو امیریت او امامت دا ایجابوي چې امیر او امام دې مجلسونو کې کېني، له نارینه وو سره دې اختلاط وکړي، د لښکرو سرمشـري دې وکړي او په شریعت کې دا کار په ښځو منعه دی، الله جل جلاله فرمايي: (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ) (الاحزاب: ۳۳.) (په خپلو کورونو کې دې کښیني، امام بغوي رحمه الله وايي: «**اتَّفَقُوا عَلَى أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا تَصْلُحُ أَنْ تَكُونَ إِمَامًا وَلا قَاضِيًا، لأَنَّ الإِمَامَ يَحْتَاجُ إِلَى الْخُرُوجِ لإِقَامَةِ أَمْرِ الْجِهَادِ، وَالْقِيَامِ بِأُمُورِ الْمُسْلِمِينَ، وَالْقَاضِي يَحْتَاجُ إِلَى الْبُرُوزِ لِفَصْلِ الْخُصُومَاتِ، وَالْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ لَا تَصْلُحُ لِلْبُرُوزِ، وَتَعْجَزُ لِضَعْفِهَا عِنْدَ الْقِيَامِ بِأَكْثَرِ الأُمُورِ، وَلأَنَّ الْمَرْأَةَ نَاقِصَةٌ، وَالإِمَامَةُ وَالْقَضَاءُ مِنْ كَمَالِ الْوِلايَاتِ، فَلا يَصْلُحُ لَهَا إِلا الْكَامِلُ مِنَ الرِّجَالِ**» (امام بغوي، ۱٤۰۳هـ ,ج ۱۰، ص۷۷).

علماوو اتفاق کړی دی چې ښځه د مسلمانانو د امام یا قاضي په توګه نه شي ټاکل کېدلی، ځکه چې امام د جهاد او د مسلمانانو د عمومي چارو سمبالښت لهپاره له کوره په وتلو مجبور دی، همدا راز، قاضي باید ښکاره حضور ولري تر څو د خلکو ترمنځ شخړې او دعوې حل کړي. خو ښځه عورته ده (یعنې باید پټه وساتل شي) او مناسب نه ده، چې ډېر ښکاره حضور ولري. سربېره پر دې، ښځه په ډېرو چارو کې د جسمي کمزورۍ له امله ناتوانه ده،

او همداراز ښځه ناقصه ګڼل شوې ده، حال دا چې امامت او قضاء د حکومت له لوړو او بشپړو منصبونو څخه دي، نو دا مقام يوازې کامل نارينه ته مناسب دى، نه ښځې ته.

قرطبي رحمه الله وايي: «**أجمَعوا على أنَّ المَرأةَ لا يَجوزُ أن تَكونَ إمامًا وإنِ اختَلَفوا في جَوازِ كونِها قاضيةً فيما تَجوزُ شَهادَتُها فيها**». (القرطبی، ۱۳۸۴هـ، ج۱، ص۲۷۵). علماوو اجماع کړې چې ښځې ته امامت ناروا دی، که څه هم په هغه څه کې چې شهادت ورکولی شي قاضي کېدلای هم شي، اختلاف دی.
د يادولو وړ ده چې په حنفي مذهب کې ښځه په هغه څه کې قضاء کولای شي چې په کې شهادت ورکولی شي او د قضاء په اړه خو چې چا ټاکلې وي هغه ګناهګار بولي، مجمع الأنهر را اخېستي:«**وَيَجُوزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي جَمِيعِ الْحُقُوقِ لِكَوْنِهَا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ لَكِنْ أَثِمَ الْمُوَلِّي لَهَا لِلْحَدِيثِ (لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً)**» ( داماد أفندي، ۱۹۹۰م، ج۲، ص۱٦۸). په ټولو حقوقي چارو کې د ښځې قضاء روا ده، ځکه چې اهل شهادت ده، مګر ټاکونکی يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې حديث په استناد ګناهګار دی، هېڅکله هغه قوم نه بريالى کېږي چې خپلې چارې ښځې ته وسپاري.
له ابن حزم څخه ښځې ته د ولايت د نه ورکولو په اړه اجماع راغلې ده: « **وَجَمِيعُ فِرَقِ أَهْلِ الْقِبْلَةِ لَيْسَ مِنْهُمْ أَحَدٌ يُجِيزُ إِمَامَةَ امْرَأَةٍ**» (ابن حزم، ج۴، ص۸۹. ). د اهل قبلې له ټولو فرقو څخه يې يوه هم د ښځې د امامت جواز نه ورکوي، په دې کې يوازې له خوراجو نه شبيبيه مخالف دی، الفرق بين الفرق را اخيستي: «**أنه مَعَ أَتْبَاعه أَجَازُوا إِمَامَة الْمَرْأَة مِنْهُم اذا قَامَت بأمورهم وَخرجت على مخالفيهم وَزَعَمُوا أَن غزالة أم شبيب كَانَت الإِمَام**». (الاسفراييني، ۱۹۷۷م ، ج۱، ص۸۹ ). له خپلو اتباعو سره يې د ښځې امامت روا کړی و، خو چې د دوی چارې يې سمبالولې، د مخالفينو پر وړاندې راووتله، او دعوه لري چې د شبيب مور غزاله (له شبيب) وروسته اميره وه.
**۵. پوهه**: د امامت او اميريت لپاره دومره پوهه اړينه ده، چې خپلې چارې پرې په بشپړه توګه سر ته ورسوي، قرآن کريم د طالوت په کيسه کې دې شرط ته اشاره کړې ده او دا يې له هغو چارو ګرځولې چې د نورو نه پرې د پاچاهۍ وړ دي، الله جل جلاله فرمايي: ﴿**إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ**﴾ ( البقرة: ۲۴۷). " الله جلاجلاله طالوت ستاسې باچا ټاکلی دی. د دې خبرې په اورېدو هغوی وويل: "هغه څنګه پر موږ باندې د باچا کېدو حق ومومند؟ -د هغه په پرتله موږ د باچاهۍ زيات وړ يوو او هغه کوم زيات شتمن سړی نه دی." - پېغمبر ځواب ورکړ: " الله جل جلاله پر تاسې هم هغه غوره کړی دی او هغه ته يې روحي او جسمي دواړه ډوله پراخ اهليت ورښبلی دی. او الله جل جلاله واکمن دی چا ته يې چې خوښه شي

خپل ملك ورکوي. له خدای سره ډېره پراخي ده او پر هر څه عالم دی.". او د سلیمان علیه السلام په اړه وایي: ﴿وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴾ (ص:۲۰) موږ د هغه سلطنت ټینګ کړی و، هغه ته مو حکمت ورکړی و او د فیصله کوونکو خبرو صلاحیت مو ور په برخه کړی و او د یوسف علیه السلام په اړه وایي: ﴿قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ﴾.(یوسف: ۵۵). یوسف علیه السلام وویل: د هېواد خزانې ماته وسپاره، زه ساتونکی هم یم او عالم هم.

په آیت کې د حفیظ لفظ له علیم نه مخکې راغلی دی، لومړی دا چې د سیاق سره مناسب و، هغه مهال په مصر کې اختلاس او خیانت خپل اوج ته رسېدلی و، نو د پاچا د ډاډ په خاطر حفیظ له علیم نه مخکې ذکر شو، امام بغوي رحمه الله د حفیظ بېلابېلې معناوې را اخېستي دي، د خزانو ساتونکی، لیکوال او حساب کوونکی، د حساب او کتاب ساتونکی، د ټولو خلکو په ژبه پوهه، په حاصلخېزه کلونو کې د وچکالۍ لهپاره د پوره مقدار غلو ساتونکی (امام بغوي، ۱۴۱۷ هـ، ج۴، ص ۲۵۱).

نو جمهورو علماوو د خلیفه په شرط کې امانت نه دی را اخېستی.

خو فقهاء د علم په کچه کې اختلاف لري، ایا امیر او امام به د اجتهاد درجې ته رسېدلی وي او که نه؟ په دې اړه دوه قوله موجود دي:

**لومړی قول**: جمهور علماء وایي چې په امیر کې د اجتهاد مرتبه شرط ده، شاطبي رحمه الله وایي:«**أن العلماء نقلوا الإتفاق على أن الإمامة الكبرى لا تنعقدإلا لمن نال رتبة الإجتهاد**». (الشاطبي، ۱۴۰۱هـ، ج۱، ص۸۴.). له علماوو نه په دې اتفاق راغلی دی، چې امامة الکبری (امیریت، خلافت) یوازې د هغه چا لهپاره سم دی چې د اجتهاد رتبې ته رسېدلی وي. جویني رحمه الله وایي: «**فَأَمَّا الْعِلْمُ، فَالشَّرْطُ أَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ مُجْتَهِدًا بَالِغًا مَبْلَغَ الْمُجْتَهِدِينَ، مُسْتَجْمِعًا صِفَاتَ الْمُفْتِينَ، وَلَمْ يُؤْثَرْ فِي اشْتِرَاطِ ذَلِكَ خِلَافٌ**» (الجویني، ۱۴۰۱هـ، ج۱، ص۸۴.). نو د علم په اړه شرط دا دی چې امام باید مجتهد وي، تر هغه بریده، چې د مجتهدینو مقام ته رسېدلی وي او د مفتیانو ټولې لازمې ځانګړنې ولري او د دې شرط په اړه کوم مخالف قول نه دی روایت شوی. رملي رحمه الله د امام د شرطونو په لړ کې وایي:«...( **مُجْتَهِدًا) كَالْقَاضِي وَأَوْلَى بَلْ حَكَى فِيهِ الْإِجْمَاعَ**» (رملي، ۱۴۰۴هـ، ج۷، ص۴۰۹). رملي رحمه الله زیاتوي: «**وَكَوْنُ أَكْثَرِ مَنْ وَلِيَ أَمْرَ الْأُمَّةِ بَعْدَ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ غَيْرَ مُجْتَهِدِينَ إنَّمَا هُوَ لِتَغَلُّبِهِمْ فَلَا يُرَدُّ**». (الرملي، ج۷، ص۴۰۹). دا چې له خلفاوو راشدینو څخه وروسته د امت چارې چا په لاس کې اخېستي او مجتهدین نه دي، نو دوی خو د زور له لارې واک ته رسېدلي او دا خبره نه شي ردېدلی او نه کومه نیوکه راولاړه ولی شي.

خو رشید رضا په الخلافه کې وایي: «ځینې احناف د غیر مجتهد امارت مني، ځکه چې هغوی د مجتهدو مفتیانو له فتوا مرسته غواړي، لکه قضاء».(رشید رضا(۲۰۱۲م)، ص۲۱).

**استدلال:** صحابه کرامو هغه څوک لمانځه ته وړاندې کړ کوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وړاندې کړی و. له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا في القراءة سواءً فأعلمهم بالسنة...** »(مسلم، ج ۱، ص۴٦٥). د خلکو مشـري (په لمانځه کې) دې هغه څوک کوي، چې د الله د کتاب (قرآن) ډېر لوستونکی وي؛ که چېرې ټول په قرائت کې برابر وي، نو هغه دې امام وي چې پر سنتو (نبوي احاديثو) زيات علم لري.

همدارنگه يې په قياس استدلال کړی دی، خلافت يې د قضاء په منصب قياس کړی دی، قاضي چې د امير له خوا ټاکل کېږي، هغه اجتهاد ته اړتيا لري، نو امام او امير خو يې په طريقه اولا لري.

ابن خلدون رحمه الله هم په امام کې اجتهاد شرط گڼي، وايي: «**لأن التقليد نقص و الإمامة تستدعي الكمال في الأوصاف و الأحوال**». (ابن خلدون، بې تا، ج ۱، ص۹۷). ځکه چې تقليد نقص او کمی دی او امامت په اوصافو او احوالو کې د کمال ايجاب غواړي.

**دويم قول:** ځينې علماء په امام کې اجتهاد شرط نه گڼي. شهرستاني وايي: «**وَمَالَتْ جَمَاعَةٌ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ إِلَى ذَلِكَ، حَتَّى جَوَّزُوا أَنْ يَكُونَ الإِمَامُ غَيْرَ مُجْتَهِدٍ وَلَا خَبِيرًا بِمَوَاقِعِ الاِجْتِهَادِ، وَلَكِنْ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ مَعَهُ مَنْ يَكُونُ مِنْ أَهْلِ الاِجْتِهَادِ فَيُرَاجِعَهُ فِي الأَحْكَامِ، وَيَسْتَفْتِيَ مِنْهُ فِي الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ، وَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ فِي الْجُمْلَةِ ذَا رَأْيٍ مَتِينٍ، وَبَصَرٍ فِي الْحَوَادِثِ نَافِذٍ.**» (شهرستاني،۱۴۰۴، ج، ۱، ص۱۵۳). د اهل سنتو يوه ډله علماء دې نظر ته مايله شوې ده چې امام (خليفه) کېدای شي، يعنې که نه مجتهد وي او نه هم د اجتهاد د مواردو په پېژندلو کې ماهر وي، خو واجب دي چې د اجتهاد له څښتنانو څخه ورسره وي، په احکامو کې ورته مراجعه کوي، په حلال او حرام کې ترې فتوا غواړي او پرې لازم دي چې په ټوله کې د ټينگې رای او په پېښو کې د ژور لر ليد څښتن وي.

**اووم شرط نسب:** د دې څېړنې لمن تنگه ده، نو په دې اړه به مستقله څېړنه په نظر کې لرم.

**پايلې**

په اسلامي سياست کې امارت يوازې د واکمنۍ نوم نه، بلکې د سترې امانتدارۍ او مسووليت مانا لري.

امير د امت د عزت، د دين ساتنې، د عدالت ټينگښت او د خلکو د هوساينې لپاره د الله جل جلاله له لوري ټاکل شوی مهم منصب دی.

د قرآن، سنت او د علماوو اجتهادي نظرونه ټينگار کوي چې امير بايد د تقوا، علم، عدالت او تدبير څښتن وي او د امت د مشورې پر بنسټ غوره شي.

که د امیر ټاکنه د شرعي معیارونو په رڼا کې وشي نو د امت یووالی او ځواک به خوندي پاتې شي او د ظلم او بېعدالتۍ مخه به ونیول شي.
د اسلامي ټولنې راتلونکی او ثبات د دې سره تړلی دی چې امیر د دیني، اخلاقي او اداري اهلیت څښتن وي، ځکه دا هغه امانت دی چې قرآن کریم "عظیم مسوولیت" بللی دی.

**وړاندیزونه**

**۱. علماوو ته وړاندیزونه:** د امیر په ټاکنه او ارزونه کې باید د شرعي معیارونو او فقهي اصولو په رڼا کې خلک رهبري کړي، څو د امارت بنسټ پر عدالت، تقوا او اهلیت ولاړ وي.
د دیني نصوصو په تشریح کې باید د عصري اړتیاوو او د خلکو د حالاتو درک هم په پام کې ونیول شي.
د امت د یووالي، د فتنو د مخنیوي او د خلکو د باور د ټینګښت لهپاره خپل علمي دریځونه د حکمت، نرموالي او منځلاریتوب پر بنسټ وړاندې کړي.

**۲. اسلامي امارت ته وړاندیزونه:** د امیر او مسوولینو په ټاکنه کې باید اهلیت، تقوا، علم، عدالت او د خلکو د خدمت توان لومړیتوب ولري.
د مشورې اصل (الشورى) باید په عملي ډول د نظام د ټولو برخو په تصمیمونو کې ژوندي وساتل شي.
د خلکو ستونزو ته غوږ نیول، د عدالت ټینګول او د قانون پر وړاندې د ټولو برابري د اسلامي حاکمیت اصلي نښه وګرځوي.
له علماوو سره په هره پرېکړه کې مشوره وشي او د دیني نصوصو پر بنسټ د سیاست عملي کول د ژوندانه په ټولو برخو کې ونغښتل شي.
د نړیوالو اړیکو او داخلي سیاست په لړ کې باید د اسلامي اصولو ساتنه د ملي ګټو او د امت د یووالي سره یو ځای په پام کې ونیول شي.

**۳. د ټولنې د خلکو لهپاره وړاندیزونه:** د صالح امیر د ملاتړ او اطاعت په ترڅ کې د دیني اصولو او ملي یووالي ساتنه وکړي.
د علماوو او رهبرۍ د مشروع نصیحت او اصلاح غوښتنې درناوی دې وکړي، څو د ټولنې ثبات او پرمختګ تضمین شي.

# The Conditions of ‘Amir’ in Islamic Jurisprudence

Assistant Professor Mohammad Tahir Sharar, Department of Fiqha and Law Afghanistan Science Academy (ASA).
Email Add: Sharar_safay@yahoo.com

**Abstract**

This article examines the essential qualities and conditions required for an Amir (leader) to guide the Islamic community and ensure its stability and cohesion. The study provides an analysis of the conditions of the Caliphate (Imamate) within the framework of Islamic jurisprudence (Fiqh). The central issue concerns why the appointment of an Imam is vital for the order and legitimacy of the Ummah. The research explores the interrelation between Prophetic traditions (Hadith) and the legal opinions of the four major jurists, while also considering their contemporary application. The aim is to analyze the logical and jurisprudential dimensions of the prerequisites for the Caliphate. Methodologically, the study employs an analytical and descriptive approach based on textual evidence, Hadith sources, and juristic reasoning (Ijtihad). The core research question is which conditions are both practical and indispensable for the Caliphate. Comparative analysis, textual interpretation, and jurisprudential argumentation are applied as research techniques. The findings indicate that the conditions of the Caliphate were originally formulated to preserve the unity and legitimacy of the Ummah, yet their modern application requires reform. The study concludes that the dynamic interplay between Islamic jurisprudence, Hadith, and Ijtihad must be reassessed in light of contemporary realities in order to serve the needs of the Muslim community.

**Keywords:** Amir, Caliph, Conditions, Fiqh, Imam

## سرچينې

القرآن الکريم

ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد الجزري (۱۹۷۸)، جامع الأصول في أحاديث الرسول، تحقيق: عبد القادر الأرنؤوط، مكتبة الحلواني – مطبعة الملاح – مكتبة دار البيان.

ابن البيع، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري (۱۹۹۰)، المستدرك على الصحيحين، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية – بيروت.

ابن البيع، محمد بن عبد الله، ۱۴۱۱( هـ ق)، المستدرك على الصحيحين. (ط:۱) مصطفی عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية – بيروت

ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي (۱۹۵۹)، فتح الباري شرح صحيح البخاري، دار المعرفة – بيروت.

ابن حزم، علي بن أحمد بن سعيد،(بی تا) الفصل في الملل والأهواء والنحل، مكتبة الخانجي – القاهرة.

ابن خلدون، ولي الدين عبدالرحمن بن محمد (۱۹۳۲)، مقدمة ابن خلدون، دار عرب: دمشق.

ابن شبه، عمر بن شبة (واسمه زيد) بن عبيدة بن ريطة النميري البصري (۱۹۷۹م)، تاريخ المدينة لابن شبة، تحقيق: فهيم محمد شلتوت.

ابن قدامه، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي (۱۹۶۸)، المغني لابن قدامة، مكتبة القاهرة.

ابن قيم الجوزيه، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين، (۱۴۱۸ هـ ق)، أحكام أهل الذمة،تحقيق: يوسف بن أحمد البكري – شاكر بن توفيق العاروري، (ط:۱) رمادي، الدمام.

ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (۱۹۹۹)، تفسير القرآن العظيم، المحقق: سامي بن محمد سلامة، دار طيبة.

أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي (۱۹۹۴)، السنن الكبرى، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، مكتبة دار الباز – مكة المكرمة.

أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (۱۹۹۵)، مسند الإمام أحمد بن حنبل، المحقق: شعيب الأرنؤوط – عادل مرشد وآخرون، إشراف: عبد الله بن عبد المحسن التركي، مؤسسة الرسالة.

البخاري، محمد بن إسماعيل ، صحيح البخاري، (۱۴۰۷هـ ق)، (ط:۱)، دار ابن كثير ، اليمامة:بيروت.

البغوي، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء الشافعي (١٩٨٣)، شرح السنة، تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش، المكتب الإسلامي – دمشق: بيروت.

الجويني، عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (١٩٥٠)، الغياثي غياث الأمم في التياث الظلم، المحقق: عبد العظيم الديب، مكتبة إمام الحرمين.

الخطابي، أبو سليمان حمد بن محمد بن إبراهيم بن الخطاب البستي،(١٣٥١هـ)، معالم السنن، المطبعة العلمية – حلب.

داماد أفندي، عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده (١٩٩٠)، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر، دار إحياء التراث العربي.

رشيد رضا(٢٠١٥)، الخلافة، موسسة الهنداوي، مصر، القاهره.

الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين (١٩٨٤)، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، دار الفكر، بيروت.

الشاطبي، أبو إسحاق الشاطبي (١٩٨٥)، الاعتصام، المكتبة التجارية الكبرى – مصر.

الشنقيطي، محمد الأمين بن محمد بن المختار الجكني (١٩٩٥)، أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن، دار الفكر، بيروت.

شهرستاني، محمد بن عبد الكريم بن أبي بكر أحمد(١٤٠٤) ، الملل والنحل، تحقيق : محمد سيد كيلاني، دار المعرفة – بيروت

الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي (٢٠٠١)، جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي بالتعاون مع مركز البحوث والدراسات الإسلامية بدار هجر الدكتور عبد السند حسن يمامة، دار هجر.

الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة (١٩٨٧)، شرح مشكل الآثار، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، لبنان:بيروت.

العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين (١٩٨٥)، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، دار إحياء التراث العربي – بيروت.

الغزالي، فضائح الباطنية (١٩٨٠)، المحقق: عبد الرحمن بدوي، مؤسسة دار الكتب الثقافية – الكويت.

القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين (١٩٦٤)، الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، دار الكتب المصرية – القاهرة.

القَلْعي، أبو عبد الله محمد بن علي بن الحسن الشافعي (١٩٨٠)، تهذيب الرياسة وترتيب السياسة، تحقيق: إبراهيم يوسف مصطفى عجو، مكتبة المنار – الأردن الزرقاء.

**القلقشندي، شهاب الدين أحمد بن علي بن أحمد،(بي تا) مآثر الآنافة في معالم الخلافة.**

**الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي (١٩٨٠)، الأحكام السلطانية، دار الحديث – القاهرة.**

**مسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري النيسابوري،(بى تا) صحيح مسلم، تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي، دار إحياء التراث العربي – بيروت.**

**ملا علي قاري، علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين (٢٠٠٢)، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، دار الفكر، بيروت – لبنان.**

# د صحابیاتو د صحي خدمتونو فقهي ارزونه

څېړندویه مرسل نسیمي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو څانګې غړې.
**برېښنالیک:** Mursalwardak336@gmail.com

**لنډیز**

دا مقاله د هغو صحابیاتو صحي فعالیتونه څېړي چې د اسلام په لومړیو وختونو کې یې د ناروغانو درملنه، د ټپیانو پاملرنه او طبي خدمتونه وړاندې کړي دي. دا څېړنه یواځې د هغوی عملي خدمات نه بیانوي، بلکې د شریعت له نظره د دې اعمالو شرعي حیثیت هم څېړي، او دا څرګندوي چې دا ډول خدمات د شرعي اصولو په چوکاټ کې، د اړتیا پر مهال جایز ګڼل کېږي. دا مقاله د اسلامي تمدن په جوړښت کې د ښځو ونډه روښانه کوي او معاصرو ټولنو ته مهم پیغام وړاندې کوي. دې موضوع ته د فقهي متونو او احادیثو په کتابونو کې اشاره شوې ده. خو دا بحثونه په منظم ډول د یو کتاب په ترڅ کې نه دي راټول شوي. او د صحابیاتو (رضي الله عنهن) طبي ونډه جلا نه ده څېړل شوې. خاصتا د دې څېړنې تشه د افغانستان په ملي ژبو کې ډېره ترسترګو کېږي. د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې مؤخه په صحي بر خو کې د ښځو ونډې ته د شرعي جواز له زاویې کتنه ده. دا څېړنه ډېری په کتابتوني او تحلیلي ـ توصیفي بڼه ترسره شوې ده.ددې څېړنې په ترڅ کې دې پایلې ته رسېږو چې په صحي برخو کې د ښځو د زده کړې او کار د شرعي اصولو په چوکاټ کې کومه ستونزه نه لري.

**کلیدي کلمې:** احادیث، ارزونه، خدمتونه، ښځې، صحابیات.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله وأصحابه أجمعین.**

د اسلام د سپیڅلي دین د وړانګو په خپرېدلو سره انساني ټولنه له عدل او برابرۍ سره آشنا شوه، په ځانګړې توګه یې ښځه د ظلم له تیارو نه د ایمان او اسلام رڼا ته په رابللو سره په بې شمیره حقونو و نازوله. هغې ته یې د اسلامی شریعت په چوکاټ کې په انساني ټولنه کې د ژوند کولو لارې چارې ور زده کړې. ښځو هم د اسلام د سپیڅلي دین له راتګ څخه وروسته خپل ځان وپېژندلو. دوی هم د اسلام د دین په لاره کې هر ډول سرښندنې ته چمتووالی درلود. له پیغمبر صلي الله علیه وسلم څخه به یې په ډېره لیوالتیا په غزواتو کې د ګډون اجازه اخیسته، هلته به دې خپلو مجاهدو وړونو په خدمت بوختې وې. چا به د بیمارانو او ټپیانو د تداوي دنده په غاړه لرله او چا به هم د مجاهدینو لپاره د خوراک او څښاک چمتوالی نیولو.د دې ټولو تر څنګ د ښځو ونډه د مجاهدینو په تشویق کې ډېره مهمه او بارزه وه، تر ډېره حده د دوی تشویق د مجاهدینو د بریا او کامیابۍ لامل و. دا ټول د دې ښکارندوینه کوي چې ښځه په اسلامي نړۍ کې ځان ته بیل ځای او بیل حقوق لري. ښځه د اسلامي چوکاټ په رڼا کې حق لري تر څو په ټولنیز او علمي ډګر کې وځلېږي. لکه څرنګه چې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په غزواتو کې د ځلېدلو بیلګې شتون لري. په طبي برخه کې د ښځو لپاره زده کړې د شرعي زده کړو په شان ډېرې اړینې ګڼل کېږي، ځکه د ښځینه طبیبې په نه شتون کې ښځینه بیمارانې له خورا ډېرو ستونزو سره لاس او ګریوان وي.نو ویلی شو چې د صحابیاتو طبي فعالیتونه د نبوي دورې په غزاګانو، د ټپیانو درملنه، نرسنګ، او د صحي کمپونو په جوړولو کې ډېر مهم بلل کېږي. دا مقاله د دغو فعالیتونو فقهي مشروعیت او ارزښت څېړي، ترڅو څرګنده شي چې ښځې له اسلامي پلوه د طبي خدمتونو په ډګر کې فعاله ونډه اخیستی شي.

**د څېړنې مؤخه:** د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې مؤخه په صحي بر خو کې د ښځو ونډې ته د شرعي جواز له زاویې کتنه ده.

**د موضوع شالید:** دې موضوع ته د فقهي متونو او احادیثو په کتابونو کې اشاره شوې ده. خو دا بحثونه په منظم ډول د یو کتاب په ترڅ کې نه دي راټول شوي. او د صحابیاتو (رضي الله عنهن) طبي ونډه جلا نه ده څېړل شوې. خاصتا د دې څېړنې تشه د افغانستان په ملي ژبو کې ډېره ترسترګو کېږي.

**د څېړنې بڼه او تګلاره:** دا څېړنه ډېری په کتابتوني او تحلیلي ـ توصیفي بڼه ترسره شوې ده.

ددې څېړنې په ترڅ کې دې پایلې ته رسېږو چې په صحي برخو کې د ښځو د زده کړې او کار د شرعي اصولو په چوکاټ کې کومه ستونزه نه لري.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت هم د موضوع له سرلیک څخه له ورایه جوتیږي، چې د ښځو د روغتیایي خدمتونو لپاره دیني الهام او تاریخي بنسټ وړاندې کول دي.

**اصلي پوښتنه: -** د صحابیاتو طبي فعالیتونه د اسلامي فقهې د اصولو له مخې څه ډول ارزول شوي دي؟

**فرعي پوښتنې**

١ . کومې صحابیاني د اسلام په لومړیو دورو کې د صحي خدمتونو وړاندې کوونکې وې؟

٢. د رسول الله ﷺ درېځ د صحابیاتو (رضي الله عنهن) د صحي فعالیتونو په وړاندې څه و؟

٣. د صحابیاتو ( رضي الله عنهن) صحي مشارکت څنګه کولای شي، په معاصرو اسلامي ټولنو کې د ښځو صحي رول ته دیني مشروعیت ورکړي؟

د اسلام مقدس دین مسلمانې ښځې ته انساني ارزښت ورکړ، هغه یې د پت او وقار په جامو سمباله کړه. دا هر څه د دې لامل شول چې مسلمانه ښځه د خپل عزت او غرور تر څنګ ډېره زړوړه او غیرتي ووسي، د غیرت او زړورتیا بیلګې یې په اسلامي تاریخ کې بې شمیره دي. دا چې دوی غزواتو ته د تګ اجازه په ډېره لیوالتیا له مبارک نبي صلی الله علیه وسلم څخه اخستله او پرته له دې چې په زړونو کې یې ډار او ویره ځای ولري، د جنګ د میدان بیماران او ټپیان یې په ډېره حوصله مندۍ سره تداوي کول او د هغو لهپاره یې د خوراک او څښاک تیاري نیوله. دا یعنې د ایمان قوت او په دین غیرت، چې د یو رېښتني مسلمان نښې دي. کله چې د اسلامي نړۍ تاریخ ته کتنه وکړو نو لیدل کېږي چې د مسلمانانو د ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له وخت نه رانیولې تر اوسه پورې مسلمانو ښځو په طبي برخو کې بې شمیره لاسته راوړنې لرلې. د اسلام په تاریخ کې د لومړني روغتون ویاړ (دې خیمې په شکل) چې په مدینه منوره کې دې نبوی جومات په منځ کې د رسول الله صلي الله علیه وسلم په امر دا خیمه ولاړه وه، هم دې یوې مسلمانې جلیل القدرې صحابیې رفیدة الأسلمیة رضي الله تعالی عنها په برخه دی (أحمد عیسی، ١٤٠١ هـ ٩ مخ). د دې جلیل القدرې صحابیې رضي الله عنها تر څنګ نورو صحابیاتو ( رضي الله عنهن) هم په طبي برخو کې ونډه لرله.د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې په لومړۍ برخه کې به هڅه وکړو چې دې مؤثقو سرچینو په رڼا کې د جلیل القدرو صحابیاتو ونډه په طبي برخه کې په ګوته کړو. هغه صحابیاتې (رضي الله عنهن) چې په صحي برخو یې فعاله ونډه لرله:

**١ـ رفیدة یا کعیبة بنت سعد اسلمي ( رضي الله تعالی عنها)** : رفیده بنت سعد الاسلمي د بني اسلم له قبیلې څخه وه. هغې خپل ژوند د مجاهدینو او مسلمانانو د بیمارانو او ټپیانو لهپاره وقف کړی و. رفیده اسلمي (رضي الله عنها) د اسلامي نړۍ لومړۍ ډاکټره ګڼل کېږي. هغې وروسته له هجرت نه بیعت کړی(عسقلاني، احمد بن علی،١٣٥م). د خندق په غزوه کې کله چې سعد بن معاذ (رضي الله عنه) زخمي شو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم و فرمایل:( اجعلوه في خیمة رفیدة)( کرمي، ١٣٢٧ هـ١٩٧ م). ژباړه: ( هغه د رفیدې په خیمه کې واچوی). د دې جلیل القدرې صحابیې (رضي الله تعالی عنها) خدمات یواځې جنګي وخت ته مختص نه و بلکې په نبوي جومات کې یې د مریضانو د تداوۍ لهپاره یوه خیمه لګولې وه چې هلته به یې د ناروغو ماشومان،

نارینه او ښځینه د تداوۍ لپاره شپه او ورځ زیار ایستلو. امام بخاري په ادب المفرد کې په صحیح سند سره له محمود بن لبید (رضي الله تعالی عنه) څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: **حدثنا ابن الغسيل، عن عاصم بن عمر، عن محمودِ بنِ لَبيدٍ قال: لَمَّا أُصِيبَ أَكْحَلُ سَعْدٍ يَوْمَ الْخَنْدَقِ، فَقِيلَ: حَوِّلُوهُ عِنْدَ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا رُفَيْدَةُ، وَكَانَتْ تُدَاوِي الْجَرْحَى، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَّ بِهِ يَقُولُ: كَيْفَ أَمْسَيْتَ؟ وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ: كَيْفَ أَصْبَحْتَ؟ فَيُخْبِرُهُ.** (البخاري،۱۳۷۹ م ، ۳۸۵م).

ژباړه: ابن غسیل له عاصم بن عمر او له محمود بن لبید نه روایت کوي چې و یې ویل: کله چې سعد د خندق په ورځ په اکحل (شاه رگ) ولگیدو، یوې ښځې ته یې یووړ، چې رفیده نومیده، هغې د زخمیانو تداوي کوله.او کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغې تېریدلو.ورته ویل به یې: ورځ دې سنگه تیره شوه؟ او کله به چې سهار شو: شپه دې سنگه تیره شوه؟ نو خبر به یې ورکولو.

هغه له رسول صلي الله علیه وسلم سره په خیبر کې وه ، او د غنیمت له مال نه یې هغې ته د نارینه په شان مکمل سهم ورکړ(الکتاني، ۷۵ م.).

**۲ـ فاطمه بنت محمد صلی الله علیه وسلم: حينَما قامَتْ بِحَرْقِ قِطْعَةٍ مِنْ حَصِيرٍ، عِنْدَما رَأَتِ الدَّمَ لا يَسْتَمْسِكُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ عِنْدَما أَصابَتْهُ الجِراحُ فِي أُحُدٍ، فَأَلْزَقَتِ الحَصِيرَ المُحْرَقَ بِمَوْضِعِ النَّزْفِ، فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ** (مجموعة من المومنین، ۱۲۸۲ مخ). ژباړه: کله چې یې اقدام وکړو د یو ټوټه ټوکر په سوځولو سره هغه وخت چې ویې لیدل رسول صلی الله علیه و سلم په احد کې زخمي شوی او وینه یې نه درېدله. نو د سوځول شوې ټوکر ایره یې د زخم پر ځای ورته کېښودله، وینه بنده شوله. د دې نه څرګندېږي چې فاطمه (رضي الله عنها) په طبي برخه کې برلاسې وه. دا د هغې طبي پوهه وه چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم د وینې جریان یې و درولو.

**۳ـ عائشة بنت أبي بكر صديق رضي الله عنها:** «حَيْثُ رُوِيَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ قَالَ لِخَالَتِهِ عَائِشَةَ (لِأَنَّهَا أُخْتُ أُمِّهِ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ): «يَا أُمَّتَاهْ، لَا أَعْجَبُ مِنْ فِقْهِكِ، أَقُولُ: زَوْجَةُ رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَلَا أَعْجَبُ مِنْ عِلْمِكِ بِالشِّعْرِ وَأَيَّامِ النَّاسِ، أَقُولُ: ابْنَةُ أَبِي بَكْرٍ، وَلَكِنِّي أَعْجَبُ مِنْ عِلْمِكِ بِالطِّبِّ!» (الترتیب الاداریة، ۱ ت، ۴۵۵ م.)

ژباړه: څرنګه چې له عروة بن زبیر ( رضي الله عنه) نه روایت شوی، خپلې خاله عائیشې( ځکه چې د مور خور یې وه) ته یې وویل: (ای زما خاله، ستا له فقهې نه په تعجب کې نه یم ځکه د پیغمبر میرمن یې. د شعر او د خلکو په واقعیاتو له پوهېدلو نه دې هم په تعجب کې نه یم ځکه د أبي بکر لور یی.خو ستا د طب له پوهې ډېر حیران یم!

**۴ـ أسماء بنت ابي بكر: و في الصحيحين أَنَّ أَسْمَاءَ كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِالْمَرْأَةِ قَدْ حُمَّتْ تَدْعُو لَهَا، أَخَذَتِ الْمَاءَ فَصَبَّتْهُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ جَيْبِهَا وَقَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَأْمُرُنَا أَنْ نُبَرِّدَهَا بِالْمَاءِ(مجلة الفقه الأسلامية ، ۱۲۸۲ مخ)**

ژباړه: په صحیحین کې راغلي چې کله به اسماء (رضي الله تعای عنها) ته تبه لرونکې ښځه راوستله هغې به دم کوله، اوبه به یې اخستلې او د هغې په گریوان کې به یې شندلې، او ویل به یې: رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته امر کړی چې په اوبو یې سړه کړو( تبه یې له منځه یوسو).

**۵- لیلی الغفاریه (رضي الله تعالی عنها):** لیلی الغفاري (رضي الله تعالی عنها) د أبي ذر میرمن وه(لجنة الفتوی بالشبكة الاسلامیة، ۲۴۶مخ). له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره به غزواتو ته تلله، د ناروغانو او ټپیانو څخه یې د پالنې او تداوی دنده ترسره کوله (ابن الأثير، أبوالحسن، ۱۴۱۵هـ، ۲۵۲ م)

**٦ـ أم أيمن (رضي الله تعالى عنها):** َ **فِيهَا أَيْضًا فِي ترْجَمَةِ أُمِّ أَيْمَنٍ مَوْلَاةِ النَّبِيِّ وَحَاضِنَتِهِ، عَنْ الْوَاقِدِيِّ: حَضَرَتْ أُمُّ أَيْمَنٍ أَحَدًا، كَانَتْ تَسْقِي الْمَاءَ وَتُدَاوِي الجُرْحَىٰ، وَشَهِدَتْ خَيْبَرَ**(لجنة الفتوی بالشبكة الاسلامیة۲۴۶مخ)

ژباړه:د ام ایمن ( رضي الله تعالی عنها) په سوانح کې راغلي چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم آزاده کړل شوي او پالونکې وه، له واقدي نه روایت دی چې: ام ایمن په احد کې حاضره وه، هغې اوبه ورکولې د ټپیانو تداوي یې کوله او په خیبر کې یې هم گډون درلود.

**۷ـ أم سنان الأسلمية (رضي الله تعالى عنها)** : لَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ، جِئْتُهُ فَقُلْتُ:

يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْرُجْ مَعَكَ أَخْرُزُ السِّقَاءَ، وَأُدَاوِي الْمَرِيضَ وَالْجَرِيحَ إِنْ كَانَتْ جِرَاحٌ، وَأُبْصِرُ الرَّحْلَ.

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «اخْرُجِي بَرَكَةَ اللَّهِ، فَإِنَّ لَكِ صَوَاحِبَ قَدْ كَلَّمْنَنِي، وَأَذِنْتُ لَهُنَّ مِنْ قَوْمِكِ وَمِنْ غَيْرِهِمْ، فَإِنْ شِئْتِ فَمَعَنَا قُلْتُ: مَعَكَ قَالَ: «فَكُونِي مَعَ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجَتِي قَالَتْ: فَكُنْتُ مَعَهَا (الترتيب الدارية= نظام الحوكمة الاسلامية، ۷۵ م)

کله چې رسول الله ﷺ غوښتل د خیبر لوري ته لاړ شي، نو زه ورغلم او ورته مې وویل::ژباړه

ای د الله رسول (صلي الله علیه وسلم)! اجازه راکړه چې له تاسو سره لاړه شم، تر څو د اوبو مشکی گنډم، ناروغان او زخمیان تداوي کړم که زخمونه موجود وي، او د کاروان سامان وڅارم، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ".

."لاړه شه، د الله برکت دې وي! ځکه ستا له قوم او نورو قومونو څخه ځینو ښځو له ما سره خبرې کړي، او ما هغوی ته اجازه ورکړې ده. که ته هم غواړې، له موږ سره لاړه شه ، ما وویل: "زه به له تاسو سره یم». نبي ﷺ وفرمایل: "نو له ام سلمه (زما مېرمن) سره اوسېږه ". هغې وویل: نو زه له ام سلمه سره وم.

**۸ـ أم كبشة (رضي الله تعالى عنها): عن أُمِّ كَبْشَةَ، امرأةٍ مِن نَبِيِّ عُذْرَةَ قُضَاعَةَ، قالتْ:یا رَسُولَ اللهِ، ائْذَنْ لِي أَخْرُجْ فِي كَذَا جَيْشٍ، كَذَا وَكَذَا؟ قالَ: لا. قُلتُ: يا رَسُولَ اللهِ، إنَّهُ لَيْسَ يُرِيدُنِي أَنْ أُقَاتِلَ، إنَّمَا أُرِيدُ أَنْ أُدَاوِيَ الجَرْحَى وَالمَرْضَى.**(الترتيب الدارية= نظام الحوكمة الاسلامية، ۷۵ م)

ژباړه: د بني عذره قبیلې له میرمنې ام کبشة نه روایت دی چې هغې وویل: ای د خدای رسول صلی الله علیه وسلم ما ته اجازه راکړه چې له فلاني لښکر سره لاړه شم. وویل: نه، و مې ویل: ای د الله رسول صلي الله علیه وسلم زه جنگ نه غواړم، بلکې د ټپیانو او ناروغانو درملنه غواړم.

**۹ـ أمية بنت قيس الغفارية (رضي الله تعالى عنها):** **قالَتْ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ مِنْ بَنِي غِفَارٍ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، قَدْ أَرَدْنَا أَنْ نَخْرُجَ مَعَكَ إِلَى وَجْهِكَ هَذَا ـ وَهُوَ يَسِيرُ إِلَى خَيْبَرَ ـ فَنُدَاوِيَ الْجَرْحَى، وَنُعِينَ الْمُسْلِمِينَ بِمَا اسْتَطَعْنَا .فقالَ: عَلَى بَرَكَةِ الله** (الباجوری، العفيفي، ۱۳۵۰هـ ۳۸م)

ژباړه: هغې وویل: د بني غفار له ښځو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، و مو ویل:ای رسول الله په تحقیق سره موږ اراده کړې چې له تاسو سره په دې لاره ووځو ـ اشاره یې خیبر ته وه ـ زخمیان به تداوي کوو، او له مسلمانانو سره به د خپل وس په اندازه مرسته کوو، نو و یې ویل: له خیره سره راشئ.

**۱۰ـ حمنة بنت جحش (رضي الله تعالى عنها):** د ام المومنین زینب بنت جحش (رضي الله تعالى عنها) خور ده چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره د احد په غزوه کې حاضره وه. ترو ته یې اوبه ورکولې او زخمیان یې تداوي کول(الباجوری، العفيفي، ۱۳۵۰هـ ۳۹م).

**۱۱ـ الربيع بنت معوذ:** **حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللَّهِ، حَدَّثَنَا بَشَرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ ذَكْوَانَ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ، قَالَتْ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْقِي وَنُدَاوِي الْجَرْحَى، وَنَرُدُّ الْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ** (البخاري، آبو عبدالله، صحيح البخاري،۱۳۱۱هـ، ۳۴ م.)

ژباړه: خبر راورسېدلو موږ ته د علی بن عبدالله، بشر بن فضل او خالد بن ذکوان نه چې ربیع بنت معوذ وویل: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره و اوبه مو ورکولې، زخمیان مو تداوي کول او شهیدان مو مدینې ته راوړل.

**۱۲ـ أم عطية الانصارية (رضي الله تعالى عنها) :** أم عطية الانصاری (رضي الله تعالى عنها) په اووه غزواتو کې له رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ګډون درلود او په دې ټولو غزواتو کې یې د ټپیانو او بیمارانو د تداوي دنده ترسره کړې ده(ابن القطان ،۱۴۳۳هـ۲ ۴۰ م)

**وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ :غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أُخَلِّفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأُدَاوِي الْجَرْحَى، وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى.** (ابن القطان، على بن محمد، ۱۴۳۳هـ،۴۰۲ م)

ژباړه: له ام عطیه (رضي الله تعالى عنها) څخه روایت دی چې وېې ویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په اووه غزواتو کې وم د هغو (مجاهدینو) مال ته به پاتې کیدلم، ډوډۍ به مې ورته تیاروله، زخمیان به مې تداوي کول او له مریضانو سره به ولاړه وم.

ام عطیه هماغه نسیبه بنت کعب بن عمرو بن عوف ده چې کنیه یې أم عماره ده(أبو ملاسة، عفاف على محمد، ۲۳ مخ). هغه د صحابیاتو له کبارو څخه شمېرل کیدله. د بیمارانو په پالنه او د ټپیانو په تداوی بوخته وه، د دې تر څنگ یې له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه ډېر احادیث روایت کړي. له رسول الله صلي الله علیه و سلم

سره یې په احد، حدیبیه، خیبر او حنین کې ګډون درلود، د احد په غزوه کې یې له خپل زوی عبدالله بن زید او خاوند زید بن عاصم سره وه چې زخمي شوه(النیشاپوري ۱۳۳۴هـ، ۱۹۶ م.).

**۱۳- أم سلیم بنت ملحان بن زید بن حرام (رضي الله تعالی عنها):** **حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ :كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا، فَيَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى.**(مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ۸ ټوک، ۱۲۸۳ م.)

ژباړه: خبر راکړ موږ ته یحیی بن یحیی، جعفر بن سلیمان، له ثابت او انس بن ملک نه وویل:رسول الله صلی الله علیه وسلم له ام سلیم سره غزوه وکړه، د غزا په وخت کې د انصارو ښځې ورسره وې، نو اوبه یې ورکولې او ټپیان یې تداوي کول.

**۱۴ـ أم سلیط (رضي الله تعالی عنها):** ام سلیط (رضي الله تعالی عنها) د احد په غزوه کې زخمیان تداوي کول او تږو ته یې اوبه ورکولې، جنګیدله د پیغمبر صلي الله علیه وسلم په دفاع کله به چې جنګ شدت ونیولو. أم سلیط (رضي االله تعالی عنها) چې د أم قیس بنت عبد (رضي الله تعالی عنها) په نوم هم یادیدله له بني مازن قبیلې څخه وه.هغه د أبو سلیط چې د انصارو له بني نجار قبیلي څخه و میرمن وه. دوه اولادونه یې لرل: سلیط او فاطمه (رضي الله تعالی عنهما). هغې په اولو وختونو کې له نبي صلی الله علیه وسلم سره په مدینه کې بیعت وکړ، او د احد، خیبر او حنین په غزواتو کې یې ګډون درلود. (دور المرآم في صدر الاسلام عصر الرسول صلی الله علیه وسلم و خلفاژ الراشیدین، ۲۵ مخ)

**۱۵ـ أم زیاد الاشجعیة (رضي الله تعالی عنها)** : ام زیاد الاشجعیه (رضي الله تعالی عنها) له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په خیبر کې ګډون درلود او ویې ویل: له موږ سره دې مریضانو د تداوی لهپاره دوا وه، او غیشي مو رایستل، او نارینو ته مو په جنګ کې اوبه ورکولې، کله چې د الله رسول په خیبر کې فاتح شو نو موږ ته یې دې نرانو په شان حصه راکړله.(الترتیب الداریة= نظام الحوکمة الاسلامیة، ۷٦ م)

**وَتَرْجَمَ لِأُمِّ زِيَادَةَ الْأَشْجَعِيَّةِ. فَذَكَرَ أَنَّهَا خَرَجَتْ مَعَ الْمُصْطَفَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَادِسَةً سِتَّ نِسْوَةٍ .قَالَ: فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثَ إِلَيْنَا، قَالَ: بِإِذْنِ مَنْ خَرَجْتُنَّ؟ وَرَأَيْنَا فِي وَجْهِهِ الْغَضَبَ.فَقُلْنَ: خَرَجْنَا وَمَعَنَا دَوَاءٌ نُدَاوِي بِهِ الْجَرْحَى، وَنُنَاوِلُ السِّهَامَ، وَنَسْقِي السَّوِيقَ.**(المازني، دکتور اسلام، ۲۰۱۳، ٦۰ مخ)

د ام زیادة الاشجعیة په ذکر کې راغلي چې: هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خیبر په غزوه کې راوتلې وه، او هغه له هغهو نهو ښځو څخه وه چې په دې غزوه کې یې ګډون لهپاره راوتلې وې.هغې وویل: دا خبره پیغمبر صلی الله علیه و سلم ته ورسیدله، نو موږ یې راوغوښتلو او پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل: د چا په اجازه راوتلې یی؟ او د هغه په مخ کې مو غصه ولیدله. دوی وویل: له موږ سره دواء ده راووتلو تر څو زخمیان وربانديې تداوی کړو، غشي راوباسو،او تږو ته اوبه ورکړو.

**١٦ـ أم حبيبة الانصاريه (رضي الله تعالى عنها):** له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په غزواتو کې د ګډون تر څنګ يې د ټپيانو د تداوی د ناروغانو د پالنې او مجاهدينو ته دې ډوډۍ دې تيارولو دنده ترسره کوله.(جماعة من العلماء، مخ: ٣٣٠)

د نبوي دورې ښځينه صحابيانې (رضى الله عنهن) نه يوازې د علم، روايت او فتوا له پلوه فعاله وې، بلکې په صحي خدمتونو کې يې هم فعاله ونډه لرله، چې د دوی همدا فعاله ونډه په صحي برخو کې د ښځو د فعاليت پر مشروعيت دلالت کوي، خو دا مشروعيت له ځانګړو حدودو او شرايطو سره تړلی دی.
د صحابياتو (رضي الله تعالى عنهن) عمل د رسول الله ﷺ په تاييد شوی، چې دا تقريري سنت ګڼل کېږي.دوی به په جهادي ميدانونو کې نارينه ټپيان تداوي کول، او دا د فقهي قواعدو له مخې د ضرورت د اصل لاندې جائز بلل کېږي.
که د يوې ښځې د بدن داسې ځای کې زخم وي چې هلته د نارينه کتل روا نه وي، نو نارينه ته د دې ځای کتل جايز نه دي. او دا ښځه بايد يوې بلې ښځې ته زخم وښيي، تر څو يې هغه تداوي کړي. که يې داسې ښځه پيدا نه کړه چې زخم يې تدوای کړي، او نه داسې ښځه پيدا شوه چې په دې اړه تعليم ورکړل شي، او دا کار زده کړي. او ويره هم وي چې که تداوي ونه شي، نو له سخت درد او هلاکت سره به مخ شي. دلته نارينه ډاکتر په دې شرط سره دا تداوي کولی شي چې؛ د هغې ټول بدن پټ شي، پرته له هماغه زخم شوي ځای نه، او داکټر بايد د خپل نظر حفاظت وکړي، پرته له د ضرورت له ځای څخه به بل ځای ته نه ګوري. په دې حکم کې د محارومو او غير محارمو تر منځ توپير نشته. ځکه د عورت ليدل د نارينه لپاره د محرمی له مخې هم روا نه دي ( ابن عابدين، مخ: ٣٧١.)
مسلمه ښځه کولای شي د بلې ښځې بدن ته وګوري، لکه نارينه چې نارينه ته ګوري. همدارنګه ښځه کولی شي د نارينه بدن ته وګوري، که چيرې له خپل شهوت څخه ډاډه وي. که يې د شهوت ويره يا شک شتون و لري ، نو د استحسان له مخې حرام دی، او دا حکم د نارينه او ښځينه دواړو لپاره يو شان دی، او دا صحيح قول دی.
محمد رحمه‌الله دا خبره په "الأصل" کې ذکر کړې ده، چې افضل دا ده چې ښځې د اجنبې نارينه پر لور نظر و نه کړي. همدا راز د برعکس حالت (نارينه د ښځې اجنبي په لور) هم بايد مخنيوی وشي.( المبسوط للسرخسي، مخ: ١٥٧)

د يو جنس ( نر) کتنه بل جنس ( ښځې) ته په اصل کې سخته ګناه ده، خو د هلاک او سخت ضرر له ويرې دا تداوي او کتنه يواځې د ضرورت په اندازه جواز لري.
نو په دې اساس ويلی شو چې: چې د اجنبې نارينه او ښځې نظر يو او بل ته روا نه دی. د ښځينه ناروغانو لپاره بايد ښځينه ډاکترانې و روزل شي. نارينه ته روا نه ده چې د ښځې بدن ته، که د عورت (پټ ځای) برخه وي يا نږدې، وګوري. او دا درملنه بايد د ښځينه داکترې لخوا ترسره شي. که چيرې ښځينه ډاکټره شتون و نه لري، او د

ناروغۍ ژوند د مرگ له خطر سره مخ وي. دلته نارینه ډاکتر د شرعي حدودو په مراعات کولو سره د دې ناروغۍ درملنه ترسره کولی شي.

دا ټول موارد په صحي برخو کې د ښځو د زده کړو او کار په شرعي مشروعیت دلالت کوي.

**پایله**

د صحابیاتو (رضی‌الله‌عنهن) د صحي خدماتو تاریخي شواهد نه یوازې دا څرگندوي چې ښځو د رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم په وخت کې فعال حضور درلود، بلکې دا هم ثابته شوې چې دوی د جهاد په وخت کې په درملنې، پاملرنې او حمایوي چارو کې فعاله ونډه لرله. د هغوی کردار د شرعي اصولو او اسلامي ارزښتونو پر بنسټ، د حیا، پردې، عزت او فتنې د نه شتون په شرایطو کې ترسره شوي دي.

**وړاندیز**

۱ـ د صحابیاتو (رضی الله عنهن) د صحي خدمتونو پر بنسټ باید د ښځینه ډاکټرانو، نرسانو او قابلو روزنیز پروگرامونه د شریعت د اصولو په چوکاټ کې پراخ شي، تر څو ښځې د ښځو درملنه وکړي او د شرعي حدودو مراعات تضمین شي.

۲ـ د ښځو لەپاره باید ځانگړي روغتونونه یا ځانگې رامنځته شي، څو د نارینه تعامل ته اړتیا کمه، او د فتنې خطرات کم شي.د صحي خدماتو پر مهال باید ستر، حجاب، تماس او اړینې خبرې محدودې شي، د نارینه او ښځینه کارکوونکو تر منځ باید مناسب حائل موجود وي.

۳ـ د ښځو لەپاره دې د عامې روغتیا رضاکارانې وروزل شي، تر څو د طبیعي پېښو، جنگونو او بېړنیو حالتونو پر مهال د ښځو تداوي ترسره کړي.

# Jurisprudential Evaluation of Female Companions' Medical Services

Researcher: Mursal Nasimi, Member of the Islamic Studies Department, Academy of Sciences of Afghanistan

**Email:** Mursalwardak336@gmail.com

**Abstract**

This paper examines the medical contributions of female companions (Ṣaḥābiyyāt) during the early Islamic era, particularly focusing on their roles in treating the sick, caring for the wounded, and providing essential medical services. The study documents these practical efforts and analyzes their legitimacy within the framework of Islamic jurisprudence. It emphasizes that such services, especially in times of necessity, are permissible under Shariah law. Moreover, the article highlights the vital role of women in the development of Islamic civilization and underscores the importance of women’s participation in contemporary public health .Although references to this topic exist in classical jurisprudential texts and hadith collections, there is a lack of comprehensive and systematic exploration, particularly concerning the distinct medical roles of female companions. This research addresses a significant gap, especially in the national languages of Afghanistan. The primary aim of this study is to assess the religious permissibility of women’s involvement in the health sector through a jurisprudential lens. This research adopts a descriptive-analytical approach, relying on the review of relevant literature and textual analysis. The findings confirm that women’s education and employment in healthcare, when practiced within the boundaries of Islamic principles, are religiously permissible.

**Keywords**: Hadith, Islamic Jurisprudence, Women, Healthcare, Female Companions (Ṣaḥābiyyāt)

## سرچينې

١-الدکتور أحمد عيسى، (١٤٠١ هـ) تاريخ البيمارستانات في الأسلام،دوهم چاپ، چاپ ځای: دارالرائد العربي-بيروت، ٩ مخ
٢-ابن حجر عسقلاني، احمد بن على، الاصابة في تميز الصحابة،٨ ټ، ١٣٥ م.
٣-كرمي، أحمد عجاج،(١٣٢٧ هـ) الاداراة في عصر رسول الله صلى الله عليه وسلم. لومړی چاپ، د چاپ ځای: دارالسلام – قاهره،١٩٧ م .
٤-البخاري، محمد بن اسماعيل،(١٣٧٩ م)، الأدب المفرد، باب: كيف اصبحت، دوهم چاپ، د چاپ ځای: المطبعة السلفية و مكتبتها- القاهرة، د حديث شميره: ١١٢٩، ٣٨٥م.
٥-الکتاني، عبدالحي، الترتيب الادارية= نظام الحكومة النبوية،دوهم چاپ، د چاپ ځای: دارالارقم- بيروت، ٢ ټ، ٧٥ م.
٦-مجموعة من المومنين، مجلمة الفقه الاسلامية، المكتبة الشاملة، ٨ ټوک، ١٢٨٢ مخ
٧- الترتيب الادارية، ١ ټ، ٤٥٥ م.
٨- مجلة الفقه الأسلامية، ٨ ټوک ، ١٢٨٢ مخ.
٩- لجنة الفتوى بالشبكة الاسلامية، فتاوى الشبكة الاسلامية، ٢٢ټوک، ٢٤٦مخ .
١٠- ابن الأثير، عز الدين أبوالحسن، (١٤١٥هـ)،أسد الغابة في معرفةالصحابة، لومړی چاپ، د چاپ ځای:دارالكتب العلمية، ٧ټ، ٢٥٢ م.
١١- الترتيب الدارية= نظام الحوكمة الاسلامية، پخوانی مآخد، ٢ ټوک، ٧٦ م.
١٢- پخوانی مأخذ، ٢ ټوک، ٧٥ مخ.
١٣- پخوانی مأخذ،
١٤- الباجورى، عبدالله العفيفي، (١٣٥٠هـ)، المرأة العربية في جاهليتها و اسلامها، دوهم چاپ، د چاپ ځای:مكتبة الثقافة- المدينة المنورة، ٢ټ، ٣٨م،
١٥-پخوانی مأخذ، ٣٩م
١٦- البخاري، آبو عبدالله، صحيح البخاري،(١٣١١هـ)، چاپ ځای: سلطانی مطبعه، ٤ ټ، د حديث شميره: ٢٨٨٢، ٣٤ م.
١٧-ابن القطان، على بن محمد، (١٤٣٣هـ)، احكام النظر في احكام النظر بحسابة البصر،لومړی چاپ، چاپ ځای: دارالقلم – دمشق، ٤٠٢ م.

۱۷-التبريزي، محمد بن عبدالله، (۱۹۸۵)، مشكاة المصابيح، دوهم چاپ، چاپ ځای: المكتبة الاسلامية- بيروت، د حدیث شمیره: ۳۹۴۱، ۲ ټ، ۱۱۵۳م.

۱۸- تصدر عن منظمةالمؤتمر الاسلامي بجدة، مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ۸ ټوک، ۱۲۸۲ م.

۱۹- أبو ملاسة، عفاف علی محمد، دورالمرأة في صدر الاسلام عصر الرسول صلی الله علیه وسلم و الخلفاء الراشیدین من سنة ۱ الی ۴۰ هـ، ځای: جامعة الزوية، كلية التربية العجلات، ۲۳ مخ.

۲۰-النیشاپوري، أبو الحسن، (۱۳۳۴هـ)،الجامع الصحيح، چاپ ځای: دارالطباعة العامرة- ترکیا، ۵ ټوک، ۱۹۶ م.

۲۱- مجلة مجمع الفقه الاسلامي، ۸ ټوک، ۱۲۸۳ م.

۲۲- دور المرآم في صدر الاسلام عصر الرسول صلی الله علیه وسلم و خلفاژ الراشيدين، ۲۵ مخ.

۲۳- الترتیب الداریة= نظام الحوكمة الاسلامية، پخوانی مآخد، ۲ ټوک، ۷۶ م.

۲۴- المازني، دكتور اسلام، (۲۰۱۳) تارریخ الطب و الأطباء المسلمین، دوهم چاپ، چاپ ځای: دارالعرب- دمشق، ۶۰ مخ.

۲۵- جماعة من العلماء، الفتاوی الهندیه، المطبعة الكبرى الاميرية ببولاق مصر، دویم چاپ، ټوک: ۵، مخ: ۳۳۰.

۲۶- ابن عابدین، حاشية رد المحتار علی الدرالمختار، چآپ ځای: شركة مكتبة و مطبعة مصطفی البابی الحلبی و اولاده بمصر. دويم چاپ، ټوک: ٦، مخ: ۳۷۱.

۲۷- المبسوط للسرخسی، ج:۱۰، مخ: ۱۵۷.

# د انګلیسي ژبې مهارت لوړولو کې د ټولنیزو رسنیو رول

پوهنمل محمد نواب شینواری، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه
بریښنا لیک: nawabkhan.szu@gmail.com

**لنډیز**

ټولنیزې رسنۍ په پیل کې یوازې د اړیکو او معلوماتو شریکولو لهپاره کارول کېدې، اوس د زده کړې یوه مهمه وســیله ګرځېدلې ده. د انګلیسيــ ژبې په زده کړه کې، دا وســیلې د متنوع، انعطافپذیر او پرمختللي موادو د سرچینو په توګه کارول کېږي، چې د نړیوالې ژبې په توګه د انګلیسي-ژبې اهمیت ته وده ورکوي. څرنګه چې د ځینو ټولنیزو رسنیو اغیزې او ګټې د انګلیسي-ژبې د مهارتونو په لوړولو کې تر اوسه په بشپړ ډول نه دي مطالعه شوي. سربیره پر دې، د دې رسنیو د ځانګړو وړتیاوو او د هغوی د اغیزو د مقایسوي تحلیل په برخه کې د څېړنو کمښــت موجود دی، نو د دې څېړنې هدف د پنځو مشــهورو ټولنیزو رســنیو (فیســبوک، وټســاپ، یوټیوب، انســټاګرام او ټویټر) رول د انګلیسيـ-ژبې د مهارت لوړولو باندې څېړل دي. په دې څېړنه کې ۲۵ علمي مقالو ته په سیستماتیک ډول بیا کره کتنه شوې، چې د نړۍ په معتبر ژورنالونو کې چاپ شوې دي. د انګلیسي-ژبې د مهارت په لوړولو کې د پنځو ټولنیزو رسنیو، فیسبوک، وټساپ، یوټیوب، انسټاګرام، او ټویټر رول په ځانګړي ډول ارزول شوی دی. د څېړنې پایلې ښیي چې د پنځه نښه شوو ټولنیزو رسنیو کې فیسبوک د انګلیسي-ژبې د مهارت لوړولو کې تر ټولو اغیزمنه وســیله ده، په داســې حال کې چې ټویټر رول تر ټولو کم رنګه دی. څرنګه چې ټولنیزې رسنۍ د انګلیسي-ژبې د زده کړې لهپاره یوه اغیزمنه وسیله ده، نو پکار ده چې د دې رسنیو څخه لا اغیزمنه او منظمه استفاده وشي.

**کلیدي ټکي:** ټولنیزې رسنۍ، انګلیسي ژبه، مهارت، رول، ټکنالوجي او مهارت لوړونه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

په اوســـني وخت کې د ټکنالوژۍ او انټرنیټ پرمختګ د انســـان د ژوند ګڼ اړخونه بدل کړي دي، چې د زده کړې برخه هم پکې شـــامله ده (Anggraeni et al., 2023). یو له هغو مهمو پدیدو څخه چې د دې پرمختګ په پایله کې رامنځته شـوې، په زده‌کړېز بهیر کې د ټولنیزو رســـنیو کارونه دي. ټولنیزې رســـنۍ په پرله پســـې ډول زموږ ورځنی ژوند بدلوي، په ځانګړي ډول د معلوماتو د انتقال، د پوهې د تبادلې، اړیکو او بصرـي کلتور په برخو کې نن ورځ، په ټوله نړۍ کې د ۳.٦ میلیاردو ټولنیزو شبکو کاروونکو سره، د ټولنیزو رسنیو کارول ورځ تر بلې د پام وړ او لاسرسـی ورته اسـانه کېږي، په ځانګړي ډول د ځوان نسـل په منځ کې. د ټولنیزو شـبکو برکت دی چې انټرنیټ د اړیکو د اساسي وسیلې او د ټولنیز ژوند د ساتلو یوه لاره ګرځېدلې ده ( Croucher & Nguyen, 2020).

ټولنیزې رســـنۍ، چې یوازې د اړیکو او معلوماتو شریکولو له‌پاره کارول کېدې، اوس په یو ځو اړخیزه پلیټ فارم بدلې شوې دي، چې د زده کړې وسیله هم پکې شامله ده. په ځانګړي ډول د انګلیسي‌ژبې زده کړې په برخه کې، دا ډول رســـنۍ د داســـې موادو سرچینه ګرځېدلې چې خورا متنوع، انعطاف‌پذیر او د اوســـنۍ پرمختیاوو سره ســـمون لري. انګلیسي‌ـــژبه، چې یوه نړیواله ژبه ګڼل کېږي، په نړیوال ډګر کې په بېلابېلو برخو لکه تجارت، اکادمیکو او ټولنیزو شرایطو کې د زیاتېدونکي اهمیت لرونکې ده. د دې ژبې مهارت د هغو زده کوونکو له‌پاره یو اســـاسي شرط ګرځېدلی دی چې غواړي په نړیواله کچه ســـیالي وکړي Asdiniah & Lestari, 2021). همدا وجه ده چې د ټولنیزو رســـنیو رول یو ځانګړی اهمیت خپلوي. پلیټفارمونه یا د ټولنیزو رسنیو ډولونه لکه فیسبوک، وټساپ، یوټیوب، انسټاګرام، ټویټر، ټک ټاک او نور، د انګلیسي‌ژبې داسې مینځپانګه برابروي چې نه یوازې متنوع وي، بلکې د زده کوونکو پام هم ځان ته را اړوي Anggraeni et al., 2023). دغه مینځپانګه له ښـــوونیزو ویډیوګانو، پوډکاســـټونو او مقالو څخه نیولې تر خبرو اترو پورې رسېږي، چې د مختلفو متقابلو ځانګړتیاوو له لارې د اصلي ژبو ویونکو سره ترسره کېږي.

ټولنیزې رســـنۍ په پرله‌پســـې ډول زموږ ورځنی ژوند بدلوي، په ځانګړي ډول د معلوماتو د انتقال، د پوهې د تبادلې، اړیکو او بصري کلتور په برخو کې نن ورځ، په ټوله نړۍ کې په میلیاردونو ټولنیزو شبکو کاروونکو سره، د ټولنیزو رســـنیو کارول ورځ تر بلې د پام وړ او لاسرســـی ورته اســـانه کېږي. د ټولنیزو شـــبکو ځانګړنه ده چې انټرنیټ د اړیکو د اساسي وسیلې او د ټولنیز ژوند د ساتلو یوه لاره ګرځېدلې ده ( Croucher & Nguyen, 2020) د ټولنیزو رســـنیو د پرمختګ او پراخې کارونې له امله، څېړونکو ټولنیزې رســـنۍ په مختلفو کټګوریو

وېشلي دي. د ځینو څېړونکو په وینا، ټولنیزې رسنۍ په ۱۵ برخو وېشل شوي دي ( Ndlangamandla 2016 & Chisenga, ). د پورته څېړنکو موندنې ښیي چې ځینې یې د انګلیسي-ژبې په زده کړه کې ډېر موثره ثابت شوې دی.

مګر، د پخوانیو څېړنو لومړنۍ مشاهدې ښیي چې ټولنیزې رسنۍ د زده کړې د وسیلې په توګه په بشپړ ډول نه دي کارول شوي، په ځانګړي توګه د انګلیسي-ژبې په زده کړه کې ( Statistia, 2020 ). د ځینو څېړنو پایلو دا هم معلومه کړې ده چې د انګلیسي–ژبې په زده کړه کې د ټولنیزو رسنیو د رول په اړه لا هم په جزوي ډول څېړنې ترسره شوي دي، همدارنګه څېړنو دا هم ثابته کړې چې د ټولنیزو رسنیو ځینې وړتیاوې لا تر اوسه پورې د انګلیسي-ژبې په زده کړه او د یادې ژبې د مهارت په لوړولو کې ترې په بشپړ ډول کار نه دی اخیستل شوی. په خاص ډول د ټولنیزو رسنیو د اغیز د انګلیسي–ژبې مهارت په لوړولو باندې تر اوسه د مقالو کومه علمي، سیستماتیکه او کره بیا کتنه نه ده ترسره شوی تر څو معلومه کړي چې کومې ټولنیزې رسنۍ د یادې ژبې مهارت لوړولو کې ډېرې موثرې دي. نو په همدې اساس په دې څېړنه کې هڅه شوې ده چې د ټولنیزو رسنیو رول، په ځانګړي ډول د فیسبوک، وټساپ، یوټیوب، انسټاګرام، او ټویټر، د انګلیسي–ژبې د مهارتونو په لوړولو کې وڅېړل شي. څېړنه به دا هم معلومه کړي چې کوم مهارتونه (اورېدنه، خبرې کول، لوستل، لیکل) د دې وسیلو په مرسته زیات پرمختګ کوي او کومې ټولنیزې رسنۍ په دې برخه کې تر ټولو اغېزمنې دي.

**موخې:** د دې څېړنې موخې په لاندې ډول ترتیب شوې دي.
د پنځو مشهورو ټولنیزو رسنیو (فیسبوک، وټساپ، یوټیوب، انسټګرام او ټویټر) اغیز څېړل د انګلیسي-ژبې د مهارتونو (اوریدل، خبرې کول، لوستل او لیکل) باندې.

د هغې ټولنیزې رسنۍ پېژندنه چې د انګلیسي ژبې د مهارت لوړولو کې ترټولو ډېره اغیزمنه کڼل شوې وي.

د انګلیسي ژبې د مختلفو مهارتونو (اورېدلو، خبرې کولو، لوستلو، او لیکلو) په لوړولو کې د هرې انتخاب شوې ټولنیزې رسنۍ د رول پرتله کول.


## څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تیرو چاپي اثارو ته په سیستماتیک ډول بیا کتنه شوې تر څو د انګلیسي-ژبې مهارت لوړولو کې د ټولنیزو رسنیو رول پیدا کړي. لکه څرنګه چې په دې څېړنه کې د یادې ژبې د وړتیا په لوړولو کې د تولنیزو رسنیو رول نا معلوم دی، نو ځکه (Zainal & Rhamat, 2020 ) وایي چې تیرو چاپي اثارو ته په

سیستماتیک ډول کتنه د یوې ځانګړې تحقیقي موضوع یا ستونزې په پېژندلو سره پیل کېږي.همدارنګه په دې ډول څېړنه کې، څېړونکی د اړوند چاپي اثارو د موندلو لپاره د بېلابېلو سرچینو لکه کتابونو، علمي ژورنالونو، مقالو او نورو ایلکتروني منابعو له لارې پلټنه ترسره کوي. کله چې اړوند چاپ شوي اثار راټول شي، څېړونکی د یو ټاکنیز بهیر له لارې هغه منابع انتخابوي چې څېړنې موضـــوع یا ســـتونزې پورې ډېر اړوند وي. د دې ډول څېړنې راټلونکی پړاو د ټاکل شویو چاپي اثارو لوستل، تړلي او اړوند موادو اخیستل او د ترلاسه شوي معلوماتو تنظیم کول دي، چې د څېړنې له موضـــوع سره اړوند مهمو نظریاتو، مفاهیمو او موندنو باندې تمرکز کوي. له دې وروســـته، څېړونکی د ټاکل شـــویو چاپي اثارو څخه د راټول شـــوي معلومات په کره او مقایســـوي ډول تحلیلوي تر څو د څېړنې لپاره ټاکل شوې موخې ترلاسه شي (Vygotsky, 1978).

په دې څېړنه کې د اړوندو خپرو شـــویو مقالو د لټون لپاره کارېدلی کلیدي ټکی "ټولنیزې رســـنۍ" و. د دې کلیدي ټکي په اســـاس، په نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې خپرې شـــوې ګڼې مقالې راټولې شـــوې، او بیا تکراري مقالې ترې لرې شـوې. د راټول شـویو مقالو له منځه یوازې ۲۵ اصـلي تحقیقي مقالې د کره کتنې لپاره انتخاب شوې، چې نوموړې مقالې د څېړنې موضوع سره ډېرې تړلې وې. د ټولو مقالو څخه د ۲۵ مقالو د انتخاب معیار دا وه چې نوموړې ۲۵ مقالې د معلوماتو سرچینې معتبرې وې، د دې څېړنې د موخو سره یې سمون درلود، او په لوړو معیاري ژورنالونو کې خپرې شـــوې وې. لکه څنګه چې(2016، Ndlangamandla او Chisenga ) ویلي دي چې د ټولنیزو رسـنیو پنځلس ډولونه شـتون لري، نو دا سـتونزمنه ده چې د ټولو پنځلسـو ډولو ټولنیزو رســنیو رول د انګلیسي–ژبې مهارتونو په لوړولو کې معلوم شي. له همدې امله، دا څېړنه د پنځو ټولنیزو رســنیو: فېسبوک، وټساپ، انسټاګرام، ټویټر او یوټیوب رول د انګلیسي ژبې د مهارتونو په لوړولو باندې تمرکز کوي.

**نتیجه او مناقشه**



پاسنی پایی ډیاګرام ښیي:

فیسبوک په اړه ۹ مقالې (۳۶٪) لیکل شوي، چې تر ټولو لوړه سلنه ده.

وټساپ په اړه ٦ مقالې (۲۴٪) لیکل شوي دي.

یوټیوب په اړه ۵ مقالې (۲۰٪) شتون لري.

انسټګرام په اړه ۳ مقالې (۱۲٪) لیکل شوي دي.

ټویټر په اړه یوازې ۲ مقالې (۸٪) لیکل شوي دي.

**فیسبوک ( Facebook)**

پورتنی پایي ډیاګرام د هغو څېړنو اصلي شمیرې او سلنې ښیي چې د زده کوونکو د انګلیسي-ژبې د ښه والي لەپاره یې ټولنیزې رسنۍ کارولې دي. د مقالو د بیا کره کتنې څخه دا معلومه شوه چې د پنځه ټولنیزو رسنیو له جملې څخه فیسبوک د انګلیسي–ژبې مهارت په لوړولو کې تر نورو ډېر رول لري او همدارنګه ټویټر تر ټولو کمه ونډه لري. کله چې ۲۵ مقالې په دقیق ډول بیا کتنه وشوه، د اکثرو مقالو موندنې دا وښودله چې فیسبوک د نورو ټولنیزو رسنیو په پرتله د انګلسي ژبې مهارت په لوړولو کې ډېر استعمال شوی او رول یې ډېر دی.

همدا ډول څېړنو (Çetinkaya & Sütçü, 2016; Espinosa, 2015; Leppälä & Espinosa, 2020) موندنې ښیې چې د انګلیسي-ژبې زده کوونکو د انګلیسي-ژبې د تمرین کولو لەپاره فیسبوک تر هرې بلې ټولنیزې رسنۍ ډېر استعمال کړی دی. په یوه بله څېړنه کې (Widodo او Ramdani, 2019) دا منلې ده چې زده کوونکو د یادې ژبې په زده کړه کې فیسبوک ته ډېر اهمیت ورکړی دی ځکه دوی د دې ټولنیزې رسنۍ په استعمال کې راحتي احساسوله. بلخوا، فیسبوک د بحث او مباحثې لەپاره د یو غوره ټولنیزې رسنۍ په توګه په داسې ډول کارول شوې ده چې د انګلیسي-ژبې زده کوونکي په انګلیسي-ویلو او لیکلو ته هڅوي، او همدارنګه د دې ټولنیزې رسنۍ په وسیله د ډله ییزو متقابلو اړیکو له لارې د خپلو ملګرو نظرونه اوري او لولي (Rodliyah, 2016). نورو معتبرو څېړنو موندنې هم ښیي چې نوموړې ټولنیزه رسنۍ د انګلیسي–ژبې نور فرعي مهارتونه هم لوړوي. د بېلګې په توګه، د (Lu ,2017) څېړنه ثابتوي چې فېسبوک د زده‌کوونکو د لیکلو مهارتونه لوړوي. د "Group Discussion" برخې په کارولو سره زده‌کوونکي هڅول کېږي چې انګلیسي–ژبه کې خپل نظرونه ولیکي، کوم چې د هغوی په ګرامر او لغت پراختیا کې مرسته کوي. همدارنګه، د (Shih ,2011) څېړنه څرګندوي چې فېسبوک د لوستلو او لیکلو دواړو مهارتونو ته وده ورکوي. زده‌کوونکي د فېسبوک له لارې په منظم ډول د درسي موادو لوستلو ته هڅول کېږي، او بیا د هغو په اړه لیکلې بحثونه ترسره

کوي، چې په دې سره د هغوی د لوستلو پوهاوی او د لیکلو توان لوړېږي. د همدې څېړنې موندنې ښيي چې فېسبوک د زده‌کوونکو انګلیسي ژبې زده کړه کې یو اغېزمنه وسیله ده.

د انګلیسي-ژبې وړتیا لوړولو کې د فیسبوک د رول په اړه نورې څېړنې هم ترسره شوې دي. همدارنګه د دې څېړنې نتیجه د (Çetinkaya, 2016 او Sütçü) او (Espinosa, 2015) څېړنو سره مطابقت لري، چیرې چې فیسبوک د زده کوونکو د ژبې د لیکلو او ګرامر مهارتونو په لوړولو کې ګټور ګڼل شوی. په ورته وخت کې، ځینې څېړنې د فیسبوک د منفي اړخونو په اړه اندېښنه لري، لکه د (Almurashi ,2016) څېړنه چې ښيي فیسبوک د زده کوونکو د پام اړولو سبب کېږي او د فیسبوک په استعمالولو کې د وخت مدیریت ستونزې پیدا کوي.

**وټساپ ( WhatsApp)**

د انتخاب شوو مقالو د دقیقې بیا کتنې څخه دا وموندل شول چې وټساپ د ټولنیزو رسنیو په فطار کې دوهم ځای لري. د ۲۵ مقالو څخه د شپږو مقالو موندنو ښودله چې وټساپ د انګلیسي-ژبې د وړتیاوو لوړولو کې اغېزمن رول درلود. نوموړې ټولنیزه رسنۍ د نړۍ تر ټولو زیات د پیغام رسونې وسیله ده. د دې ټولنیزې رسنۍ اسانه استعمال د انګلیسي-ژبې په زده کړه کې د دې سبب شوی دی چې نوموړی وسیله په ټولو ټولنیزو رسنیو کې ډېره مشهوره ده .(Akayoğlu, Satar, Dikilitaş, Cirit, & Korkmazgil, 2020) په همدې ډول، (Awada, 2016) د وټساپ ګروپ د وضاحتونو او ښوونیزو موادو د شریکولو لپاره یو مناسب ځای بولي. د Rajab او ,(Siddig, 2020), (Al-Sadi 2015 او Suswati) او (Saleh, 2019) لپاره، وټساپ هغه ټکنالوژي ده چې د انګلیسي-زده کړه یې د زده‌کوونکو لپاره لا اسانه، زړه پورې او د ۲۱مې پېړۍ له شرایطو سره یې تړلې ده. د نورو ټولنیزو رسنیو په شان، وټساپ هم د انګلیسي-ژبې بېلابېل مهارتونه لوړوي. د بېلګې په توګه، د (Albogami, 2022 او Algethami) څېړنه څرګندوي چې وټساپ د انګلیسي-ژبې د خبرو کولو مهارت ته وده ورکوي. په دې څېړنه کې، سعودي زده‌کوونکو د وټساپ د غږیزو پیغامونو له لارې د خبرو کولو تمرین وکړ، چې پایله یې د هغوی په خبرو کولو کې د پام وړ پرمختګ و. همدارنګه د(۲۰۱۹ ,Ahmad ) څېړنه ښيي چې وټساپ د انګلیسي-ژبې د لوستلو او لیکلو مهارتونو په لوړولو کې اغېزمن دی. په پورته څېړنه کې، زده‌کوونکو د وټساپ له لارې درسي مواد ترلاسه کولو څخه د لیکلو تمرینونه یې ترسره کړي ، چې د هغوی په لوستلو او لیکلو مهارتونو کې یې د پام وړ پرمختګ رامنځته کړی وه. پورتنۍ موندنې ښيي چې وټساپ د انګلیسي ژبې د خبرو کولو، لوستلو او لیکلو مهارتونو په لوړولو کې اغېزمنه وسیله ده.

په دې څېړنه کې، وټساپ د پیغام رسونې لهپاره د ساده او متقابل عمل وسیله ګڼل شوې ده، چې په انګلیسي ژبه خبرې کولو او لوستلو مهارتونو ته وده ورکوي. د (Akayoğlu et al., 2020) څېړنې دا تاییدوي، خو د نورو څېړنو په وینا، لکه (Chen & Denoyelles, 2013)، وټساپ په ځانګړي ډول د علمي متنونو د مطالعې لهپاره محدود امکانات لري، ځکه چې اوږدې لیکنې پکې ستونزمنې وي.

### یوټیوب (YouTube)

توټیوب هم د نورو ټولنیزو رسنیو ته ورته، یوه مهمه غږیزه او څېره ښکاره کوونکې ټولنیزه رسنۍ ده، چې د انګلیسي ــ ژبې په زده کولو او لوړولو کې ډېر پیاوړی رول لري. د ټولو انتخاب شوو مقالو څخه پنځه مقالو موندنو دا ښکاره کړې ده چې نوموړې ټولنیزه رسنۍ د انګلیسيـ ژبې په زده کولو او یادې ژبې د وړتیا په لوړولو کې ډېر مؤثره ثره رول لري. په عمومي ډول د نښه شوو مقالو د دقیقې کتنې څخه دا جوته شوه چې یوټیوب په پنځه ټولنیزو رسنیو کې دریم ځای لري. له دې ټولنیزه رسنۍ څخه د فیسبوک او وټساپ څخه وروسته د انګلیسيـ ژبې په زده کړه کې ترې ډېره استفاده شوې ده. د (Al-Arif, 2019) او (Alshabeb, 2018 او Almaqrn)په وینا، یوټیوب زده‌کوونکو ته زړه‌راښکونکی دی ځکه چې دا تفریحي دی، لاسرسی ورته اسانه دی، او د ویډیوګانو پراخه مجموعه وړاندې کوي چې د متقابل عمل له لارې زده‌کوونکي په نړیواله کچه سره نښلوي. د (Alshenqeeti, 2018) په باور، یوټیوب داسې ځانګړتیاوې لري چې د ویډیوګانو پورته کولو، شریکولو او لیدلو اجازه ورکوي، چې په مختلفو بڼو او مینځپانګو کې وړاندې کېږي او د زده‌کوونکو د زده‌کړې علاقې د اسانتیا لهپاره خورا ګټور ثابتېدای شي.

(Alwehaibi, 2015) له نظره د یوټیوب له لارې د شریک شوي پراخ مینځپانګې باندې تمرکز وکړ، څو خپلو زده‌کوونکو ته اړوند معلومات وړاندې کړي او د پوهنتون زده‌کوونکو د ستونزو د حل مهارتونه اسانه کړي. د یوټیوب د مینځپانګې اورېدونکي او لیدونکي بڼه د یو مهم ټکی په توګه لیدل شوې، چې یوټیوب یې د زده‌کوونکو لهپاره غوره کړی دی (Yusri, Nurmi, & Delyana, 2019). همدارنګه یوټیوب یوه مهه ټولنیزه رسنۍ ده چې د انګلیسي ــ ژبې په زده کولو او مهارت لوړولو کې اغېزمن رول لري. د مثال په ډول د Almurashi څېړنه څرګندوي چې یوټیوب د انګلیسيـ ژبې د اورېدلو او لوستلو مهارتونو په لوړولو کې مرسته کوي. زده کوونکي د یوټیوب ویډیوګانو له لارې د اصلي ویناوالو تلفظ او لهجې اوري، چې د اورېدلو مهارت یې پیاوړی کوي. د بلې خوا، د ویډیوګانو لاندې سرلیکونه (subtitles) د لوستلو مهارت ته وده ورکوي. بله څېړنه چې د (Alshenqeeti, 2018) لخوا ترسره شوې، ښیي چې یوټیوب د انګلیسيـ ژبې د خبرو کولو او لیکلو مهارتونو په پرمختګ کې اغېزمن دیزده کوونکي د یوټیوب له لارې د مختلفو موضوعاتو په اړه

ویډیوګانې ګوري او بیا د هغو په اړه خپل نظریات په لیکلي یا شــفاهي ډول بیانوي، چې دا د هغوی د خبرو کولو او لیکلو مهارتونو ته وده ورکوي. نو پورته څېړنو موندنې څرګندوي چې دا ټولنیزه رسنۍ د انګلیسي-ژبې لوړتیا لوړولو کې ښه رول لري.

د دې څېړنې موندنې د یوټیوب اړوند د (Almurashi, 2016) څېړنې سره مطابقت لري، چیرې چې د اورېدو او ویلو مهارتونه په ځانګړي ډول لوړ ګڼل شــوي دي. په هر حال، ځینې څېړنې، لکه (Al-arif, 2019)، استدلال کوي چې د ویډیوګانو لیدل یوازې هغه وخت ګټور وي چې د ښوونکي لخوا لارښوونه شتون ولري.

**انسټګرام (Instagram)**

د ۲۵ مقالو څخه دریو مقالو موندنې ښــیي چې انســټاګرام د انګلیسي-ژبې په زده کړه کې مهم رول لوبولی دی. د Gunantar او (Transinata, 2019) په وینا، د انســټاګرام د "کیپشــن" ځانګړنه زده‌کوونکي د انګلیسي- لیکلو لپاره هڅوي. برســېره پر دې، انســټاګرام په پراخه کچه د لنډو ویډیوګانو او ثبت شــوو معلوماتو د پورته کولو لپاره کارول شــوی دی. د (Wulandari, 2019) د څېړنې له مخې، یادې ځانګړنې زده‌کوونکي د انګلیسي- ویلو ته هڅوي. همدارنګه، د Prichard او همکارانو (۲۰۲۰) څېړنه څرګندوي چې انســټاګرام د انګلیسي- ژبې د لیکلو مهارت ته وده ورکوي. زده‌کوونکي د انســټاګرام د پوســټونو له لارې په انګلیسي- کې لیکنې کوي، چې دا د هغوی د لیکلو مهارت پیاوړی کوي. په ورته ډول، د (Sundqvist, 2020) څېړنه ښــیي چې انسټاګرام د انګلیسي-ژبې د لوستلو مهارت ته هم وده ورکوي. زده‌کوونکي د انسټاګرام پوسټونه او تبصرې په انګلیسي ژبه لولي، چې دا د هغوی د لوستلو وړتیا غښتلې کوي .

**ټویټر (Twitter/X)**

د یادو پنځه ټولنیزو رســنیو څخه، ټویټر د انګلیسي-ژبې د زده کړې او د ژبني مهارتونو د لوړولو په برخه کې تر ټولو لږ کارېدونکې رســـنۍ ده. د ۲۵ مقالو څخه یوازې د دوو مقالو موندنې ښــیي چې ټویټر په دې برخه کې اغېزناک رول لري. د (Montero-Fleta, 2015) په وینا، د ټویټر متقابل عمل د زده‌کوونکو د ویښــتیا پراختیا ته وده ورکوي. په ورته ډول، (Al-(Arif, 2019 اســتدلال کوي چې ټویټر د زده‌کوونکو ترمنځ د اړیکو د ټینګښــت او همکارۍ د ودې لپاره فرصــتونه برابروي. د (Alkamel, 2024) څېړنه څرګندوي چې ټویټر د انګلیسي- ژبې د اورېدلو، خبرې کولو، لوســتلو او لیکلو په مهارتونو کې د زده‌کوونکو د پرمختګ لامل کېږي. زده‌کوونکي د ټویټر له لارې د اصـــلي ویناوالو تلفظونه او لهجې اوري، چې دا د دوی د اورېدلو وړتیا پیاوړې کوي. همدارنګه، د ټویټر پوســټونه لوستل او د هغوی په انګلیسي- ځواب ورکول د لوستلو او لیکلو مهارتونو ته

وده ورکوي. په ورته توګه، د Risnawati او همکارانو (۲۰۲۲) څېړنه ښيي چې ټويټر د انګليسي ژبې د ليکلو مهارت د پياوړتيا لهپاره ګټور دی، ځکه زده‌کوونکي د دې پلاټفورم له لارې په انګليسي ـ ليکنې کوي. د (Sundqvist, 2020) څېړنې له مخې، که څه هم انستاګرام او ټويټر د نورو ټولنيزو رسنيو په پرتله لږ اغېزناک دي، خو انستاګرام د لنډو ليکنو لهپاره ګټور تمامېږي. په ورته ډول، د (Montero-Fleta, 2015 او Pérez-Sabater) څېړنه څرګندوي چې ټويټر د لوستلو او ليکلو مهارتونو د ښه‌والي لهپاره يو ګټور وسيله ده.

په عمومي ډول د څېړنې پايلې دا ښيي چې ټولنيزې رسنۍ د انګليسي ـ ژبې د زده کړې په نوې او اغېزمنه لاره بدل شوي دي. فيسبوک او وټساپ د ډله‌ييز تعامل او اسانتيا له مخې ډېر ارزښتناک دي، په داسې حال کې چې يوټيوب د اورېدلو مهارتونو لهپاره ځانګړې وسيله ګڼل کېږي. انستاګرام او ټويټر د خلاقيت او لنډو نظرياتو لهپاره ګټورې دي. په ټوله کې، دغه ټولنيزې رسنۍ د انګليسي ژبې د زده کړې لهپاره يو متقابل، زړه‌راښکونکی او ګټور چاپېريال وړاندې کوي، چې زده‌کوونکي د ژبې په مهارتونو کې پرمختګ ته هڅوي. د ټولنيزو رسنيو پوسيله د انګليسي ـ ژبې د زده کړې او يا د دې ژبې د مهارت لوړولو په اړه د دې څېړنې پايلې د يادې ژبې زده کړې لهپاره د ټولنيزو رسنيو اهميت په واضح ډول روښانه کوي، خو د نورو څېړنو پايلې ښيي چې د دې اغېز د ډېرو عواملو پورې تړلی دی، او اړتيا ده چې د دې ډول وسيلو په استعمال کې متوازن چلند غوره شي.

**پايله**

د انګليسي ژبې په زده کړه کې د مشهورو ټولنيزو رسنيو کارول دا څرګندوي چې څېړونکي او ښوونکي د خپلو زده کوونکو د ۲۱مې پېړۍ شرايطو سره همغږې ساتلې ده، او د زده کوونکو ډيجيټل سواد او ډيجيټلي ژوند طرز يې د لا اغېزناکې زده کړې د ودې لهپاره د فرصت په توګه کارولی دی.

د دې څېړنې پايلې څرګندوي چې ټولنيزې رسنۍ د انګليسي ـ ژبې د زده کړې په لوړولو کې خورا مهم رول لوبوي. په ځانګړې توګه، د پنځو مشهورو ټولنيزو رسنيو (فيسبوک، وټساپ، يوټيوب، انستاګرام، او ټويټر) ارزونه څرګندوي چې دا ټولنيزې رسنۍ د ژبې په ځانګړو مهارتونو باندې اغېز لري، او د دوی اغېز د زده‌کوونکو اړتياوو او معاصرې ټکنالوژۍ سره په تطابق کې د زده کړې يوه نوې لاره برابروي.

د بيا کره کتنې لهپاره، د ټولو انتخاب شوو مقالو له جملې څخه ۹ مقالو موندنې ښيي چې د پنځه انتخاب شوو ټولنيزو رسنيو په منځ کې فيسبوک د انګليسي ژبې وړتيا لوړولو کې تر ټولو ډېره اغيز لرونکې ټولنيزه رسنۍ ده. نوموړې ټولنيزه رسنۍ د زده‌کوونکو د ژبې لوستلو او ليکلو او نورو مهارتونو په لوړولو کې مهم رول لوبوي، او

ځینو خاصــو ځانګړتیاوو له لارې زده‌کوونکي هڅوي چې په انګلیسي ـــ ژبه خپلې خبرې او نظریات وړاندې کړي.

د ۲۵ مقالو بیا کره کتنه ښیي چې د فیسبوک څخه وروسته وټساپ د انګلیسي ـ ژبې د وړتیا لوړولو کې دویم ځای خپل کړی دی. یاده ټولنیزه رســنۍ د خبرو کولو او ګروپي تعاملاتو په برخه کې غوره وســیله ده. د دې رسـنۍ د پیغام رسـولو او ګروپي چیټ فیچر زده‌کوونکو ته د خپل انګلیسي ـ تلفظ او جملو جوړولو په وده کې مرسـته کړې ده. همدارنګه د دې کره کتنې په اسـاس، پنځه مقالو موندنې د انګلیسي ـ ژبې مهارت لوړولو کې د یوټیوب اغیز مهم بللی دی. پـه دې ټولنیزه رســنۍ کې د ویـډیویي منځپـانګې تنوع زده‌کوونکو تـه د پوهې زیاتولو، د اورېدلو مهارت لوړولو، او د اصلي انګلیسي ژبو ویونکو له تلفظ سره د بلدتیا زمینه برابروي.

همدارنګه انســټاګرام او ټویټر د انګلیسي ـــ ژبې د وړتیا په لوړولو کې په ترتیب سره څلورم او پنځم ځای خپل کړی دی. انسټګرام د انګلیسي ـ ژبې د لیکلو او ویلو په برخه کې زده‌کوونکي هڅوي او خاصـو ځانګړتیاوو یې د یادې ژبې زده کوونکو ته د خپلو نظریاتو په لیکلو او د خپلو ویډیوګانو له لارې د خبرو کولو لپاره فرصــت برابروي. همدارنګه ټویټر د لغتونو په زده کړه او د لنډو جملو جوړولو په برخه کې ځانګړی ځای لري. د ټویټر د ځآنګړتیاوو په اســاس زده‌کوونکي په لنډو، دقیقو او اغېزمنو جملو کې خپل نظریات وړاندې کړي. په ټوله کې، ځیړنه څرګندوي چې د ټولنیزو رسـنیو ګټور او اغېزمن استعمال د انګلیسي ـ ژبې د زده کړې په پروسه کې یوه نوې، انعطاف‌منه او په زړه پورې لاره برابروي.

**وړاندیزونه**

لکه څرنګه چې دا ځیړنه د انګلیسي ـــ ژبې د مهارت لوړولو کې د پنځه مشــهورو ټولنیزو رسـنیو د رول په اړه تر سره شـوه، نو دا به هم ډېره ارزښـتناکه وي، که چیرې د یادې ژبې په زده کړه کې د نورو ټولنیزو رسـنیو د اغیز په اړه ځیړنې سرته ورسـېږي. د مثال په ډول د ټیکټاک (Tiktok)، سـنپ چاټ (Snapchat) او چاټ جي پي ټي (ChatGPT) اغیزې د انګلیسي ـ ژبې د مهارت په لوړولو کې وځیړل شي. سربېره پر دې، د ټولنیزو رسـنیو اوږدمهاله اغېزې څېړل اړین دي ترڅو معلومه شي چې ایا د دې رسـنیو په مرسـته زده شـوې مهارتونه دوامداره دي که یوازې لنډمهاله اغېز لري.

په پای کې، د ټولنیزو رســنیو او د زده کوونکو د انګیزې ترمنځ اړیکې څېړل کولی شي چې د ژبې د زده کړې لپاره د تعلیمي تګلارو ښه‌والی روښانه کړي. دا ځیړنې به د انګلیسي ژبې زده کړې په برخه کې د ټولنیزو رسنیو د موثرې کارونې لپاره د لا غوره لارو چارو په موندلو کې مرسته وکړي.

# The Role of Social Media in Enhancing English Language Skills

Senior Teaching Assistant Mohammed Nawab Shinwari
Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Department of English Language and Literature
Email: nawabkhan.szu@gmail.com

**Abstract**
Social media platforms were initially used only for communication and information sharing; however, they have now become important tools for learning. In English language learning, these platforms have served as sources of diverse, flexible, and advanced materials, which contribute to enhancing the importance of English as a global language. Since the impacts and benefits of social media platforms in improving English language skills have not yet been fully explored, and there is also a lack of conducting research on the comparative analysis of their specific features and effects, the aim of this study is to investigate the role of five popular social media platforms (Facebook, WhatsApp, YouTube, Instagram, and Twitter) in enhancing English language skills. In this study, 25 scholarly articles published in reputable international journals were systematically reviewed. The roles of the five selected social media platforms (Facebook, WhatsApp, YouTube, Instagram, and Twitter) were specifically evaluated the improvement of English language skills. The findings revealed that among the five platforms, Facebook is the most effective tool for enhancing English language skills, whereas Twitter plays the least significant role. Since social media platforms are effective tools for English language learning, it is recommended that they be used more effectively, systematically, and purposefully.
**Keywords:** Social media, English language, Skills, Role, Technology, Skill enhancement

**مأخذونه**

Ahmed, Y. A., Ahmad, M. N., Ahmad, N., & Zakaria, N. H. (2019). Social media for knowledge-sharing: A systematic literature review. *Telematics and Informatics, 37*, 72–112.

Albogami, A., & Algethami, G. (2022). Exploring the use of WhatsApp for teaching speaking to English language learners: A case study. *Arab World English Journal (AWEJ), 2nd Special Issue on COVID-19*, 183–201. https://doi.org/10.24093/awej/covid2.12 ResearchGate

Al Arif, T. Z. Z. (2019). The use of social media for English language learning: An exploratory study of EFL university students. *Metathesis: Journal of English Language, Literature, and Teaching, 3*(2), 224–233.

Anwas, E., Sugiarti, Y., Permatasari, A., Warsihna, J., Anas, Z., Alhapip, L., … Rivalina, R. (2020). Social media usage for enhancing English language skill.

Alfahadi, A. M. A. (2017). The role of social media sites in the enhancement of English language learning at the University of Tabuk. *International Journal of English and Education, 6*(3), 105–113.

Alshabeb, A., & Almaqrn, R. (2018). A study of EFL Saudi students' use of mobile social media applications for learning. *Arab World English Journal (AWEJ), Special Issue on CALL*, (4).

Alshenqeeti, H. (2018). Technology in the language classroom: How social media is changing the way EFL is taught. *Arab World English Journal (AWEJ), Special Issue on CALL*, (4).

Almurashi, W. A. (2016). The effective use of YouTube videos for teaching English language in classrooms as supplementary material at Taibah University in Alula. *International Journal of English Language and Linguistics Research, 4*(3), 32–47.

Alkamel, M. (2024). Utilizing Massive Open Online Courses (MOOCs) to enhance English language proficiency among Yemeni EFL learners. *Journal of ELT Studies, 1*(1), 1–15.

Alkamel, M. A. A. (2024). Social media in teaching English for EFL students: A review of challenges and suggestions. *International Journal, 2*(1), 8–17.

Alwehaibi, H. O. (2015). The impact of using YouTube in EFL classroom on enhancing EFL students' content learning. *Journal of College Teaching & Learning, 12*(2), 121–126.

Anggraeni, F. K. A., Nuraini, L., Harijanto, A., Prastowo, S. H. B., Subiki, S., Supriadi, B., & Maryani, M. (2023, November). Student digital literacy analysis in physics learning through implementation of digital-based learning media. *Journal of Physics: Conference Series, 2623*(1), 012023.

Asdiniah, E. N. A., & Lestari, T. (2021). Pengaruh media sosial TikTok terhadap perkembangan prestasi belajar anak sekolah dasar. *Jurnal Pendidikan Tambusai*, *5*(1), 1675–1682.

Akayoglu, S., Satar, H. M., Dikilitas, K., Cirit, N. C., & Korkmazgil, S. (2020). Digital literacy practices of Turkish pre-service EFL teachers. *Australasian Journal of Educational Technology*, *36*(1), 85–97.

Awada, G. (2016). Effect of WhatsApp on critique writing proficiency and perceptions toward learning. *Cogent Education*, *3*(1), 1264173. https://doi.org/10.1080/2331186X.2016.1264173 (assuming typical format)

Croucher, S. M., Nguyen, T., & Rahmani, D. (2020). Prejudice toward Asian Americans in the COVID-19 pandemic: The effects of social media use in the United States. *Frontiers in Communication*, *5*, 39.

Çetinkaya, L., & Sütçü, S. S. (2016). Parents' restrictions on their children's use of information technologies and their reasons. *Turkish Online Journal of Qualitative Inquiry*, *7*(1), 18–36.

Chen, B., & Denoyelles, A. (2013). Exploring students' mobile learning practices in higher education.

Espinosa, M. P. (2015). Integrating social media into English language learning: How and to what benefits according to recent studies. *NOBEL: Journal of Literature and Language Teaching*, *6*(2), 1–16.

Gunantar, D. A., & Transinata, T. (2019). Writing caption on Instagram as media for student's motivation and writing skill improvement. *ETERNAL (English Teaching Journal)*, *10*(1).

Hamadeh, W., Bahous, R., Diab, R., & Nabhani, M. (2020). Using social media to enhance second language learning. *Computer-Assisted Language Learning Electronic Journal*, *21*(2), 132–149.

Leppälä, M., & Espinosa, J. A. (2020). Identifying knowledge brokers in enterprise social media. In T. X. Bui (Ed.), *Proceedings of the 53rd Annual Hawaii International Conference on System Sciences* (pp. 481–490).

Muftah, M. (2024). Impact of social media on learning English language during the COVID-19 pandemic. *PSU Research Review*, *8*(1), 211–226.

Prichard, I., Kavanagh, E., Mulgrew, K. E., Lim, M. S., & Tiggemann, M. (2020). The effect of Instagram #fitspiration images on young women's mood, body image, and exercise behaviour. *Body Image*, *33*, 1–6.

Pérez-Sabater, C., & Montero-Fleta, B. (2015). A first glimpse at mobile instant messaging: Some sociolinguistic determining factors. *Poznan Studies in Contemporary Linguistics*, *51*(3), 411–431.

Rajab, H., & Al-Sadi, A. (2015). An empirical study of reading habits and interests of Saudi university EFL learners. *International Journal of Linguistics*, *7*(2), 1–17.

Ramdani, J. M., & Widodo, H. P. (2019). Student teachers' engagement in Facebook-assisted peer assessment in an initial teacher education context: Speaking 2.0. *Journal of Education for Teaching*, *45*(3), 348–352.
Rieger, D., & Klimmt, C. (2019, May). The daily dose of digital inspiration 2: Themes and affective user responses to meaningful memes in social media. Presentation at the 69th Annual Meeting of the International Communication Association, Washington, D.C.
Rodliyah, R. S. (2016). Using a Facebook closed group to improve EFL students' writing. *Teflin Journal, 27*(1), 82.
Siddig, B. (2020). Social media in teaching of languages. *International Journal of Emerging Technologies in Learning (iJET), 15*(12), 72–80.
Statista. (2020). Social media usage worldwide. *Statista*. https://www.statista.com/study/12393/social-networks-statista-dossier/
Suswati, R., & Saleh, S. (2019). The use of social media in designing the writing assessment for EFL students. *Journal of ELT Research*, *4*(1), 26–34.
Sundqvist, P. (2020). Technological knowledge in early childhood education: Provision by staff of learning opportunities. *International Journal of Technology and Design Education*, *30*(2), 225–242.
Shih, R. C. (2011). Can Web 2.0 technology assist college students in learning English writing? Integrating Facebook and peer assessment with blended learning. *Australasian Journal of Educational Technology*, *27*(5).
Yusri, R., Nurmi, N., & Delyana, H. (2019, February). Development of ICT integrated project based learning student worksheet. In *Journal of Physics: Conference Series*, *1157*(3), 032127.
Yadav, M. S. (2021). Role of social media in English language learning to the adult learners. *International Journal of Linguistics, Literature and Translation*, *4*(1), 238–247.
Wulandari, M. (2019). Improving EFL learners speaking proficiency through Instagram vlog. *LLT Journal: A Journal on Language and Language Teaching*, *22*(1), 111–125.
Zainal, Z., & Rahmat, N. H. (2020). Social media and its influence on vocabulary and language learning: A case study. *European Journal of Education Studies*, *7*(11), 18–36. https://doi.org/10.46827/ejes.v7i11.3259

# په تنیو کې د قومي مرکې اصول

پوهنمل مشفق اصولي، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګې استاد.
برېښنالیک: Mushfiqeosuli@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه د یوې سیمې( تنیو ) د فوکلوریکې مرکې اصول ښیي او هغه څه چې مرکه تشکیلوي، بیانوي یې. په دې څېړنه کې د تنیو ولسي او فوکلوریکې مرکې اصول، قواعد، مقررات معلومېږي، چې د دې سیمې قومي مشرانو او ځوانانو پر مټ مخته وړل کېږي او دا څرګندوي چې مرکه څه ډول رامنځته کېږي. ما یاده څېړنه د کیفي ساحوي څېړنې پر مټ ترسره کړې ده. د تنیو مرکې ارزښت، اړتیا دا دي، چې د دې پرمټ د دوو کسانو ترمنځ د اوږدې مرحلې لانجې د قومي اصولو په رڼا کې حل کېږي. د تنیو قومي مرکه هغې مرکې ته ویلی شو، چې د تنیو د څلورو قومونو څخه یو یو کس او دوه ملایان ورسره مل وي، څلور قومي مشران او دوه ملایان یې تشکیل جوړوي. احیاناً که څلور مرکه چیان او دوه ملایان د کومې موضوع په حل کې ناتوانه شي، نو دوی هر یو کس د قوم له داخل څخه یو، یو بل مرکچي له ځان سره نیسي، چې په دې صورت کې اته تنې کېږي، دوی سره همدا دوه ملایان یو ځای لانجه یا دعوه حل کوي، احیاناً که یاد اته کسه مرکه چیان او دوه ملایان د کومې موضوع په حل کې ناکام شي، نو بیا یاده موضوع د تنیې (خړې شګې) ځای ته وړل کېږي. که په خړه شګه کې حل نه شوه، نو دوی بیا د تنیې قوم په شمول له شپږو نورو قومونو څخه یو یو یا دوه دوه کسان نوره مرکه چیان راغواړي، او دې حالت ته(تخم) وایي.

**کلیدي ټکي:** پرېکړې، فوکلور، قومي او ټولنیز ارزښت، مرکه، نرخ

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم. الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

د تنيو قوم د تاريخ په اوږدو کې د همدې قومي مرکې او اصولو په رڼا کې بهرنۍ او قومي ستونزې حل کړې دي، د خپل قومي نرخ او څلي په رڼا کې يې داسې ژوند کړی دی، چې ته به وايې لکه يو داسې ملک او هېواد چې اساسي قانون او حکومتي اصول ولري. پښتني ټولنه په خپله غېږه کې پراخ او غني فوکلور لري، چې په بېلابېلو برخو کې مختلفو ليکوالانو څېړلی او ثبت کړی دی، خو په بعضو برخو کې د څېړونکو له نظره بهر پاتې شوی يا کار نه دی پرې شوی. د تنيو قومي مرکه د فوکلور او ولسي پوهې هغه برخه ده، چې خلک او ولسونه د ورځني ژوند په جريان کې خپلې ستونزې پرې حل کوي، له روشونو او اصولو يې خلک استفاده کوي، خو عام او ولسي خلک په دې پوهېږي، چې دا برخه هم د پښتني فوکلور يوه غني برخه ده، چې له پېژندګلوۍ پټه او ناخبره پاتې شوې ده، کوشش شوی دی، چې ياده برخه هر اړخيزه وڅېړل شي او راتلونکو نسلونو ته په ليکلي ډول په ميراث پاتې شي. تنيو قوم د تاريخ په اوږدو کې، که رسمي حکومتونو او قوانينو وجود نه درلود، دوی بيا هم په داخل کې داسې اصول او قومي قوانين لرل، چې زياتره مشکلات، لانجې، دعوې يې په خپلو منځونو کې حل و فصل کړې دي. د دې قومي اصولو او قوانينو له جملې يې يوه قومي مرکه ده، د همدې قومي مرکې په اساس يې خپلې دعوې، دنګلې تر غور لاندې نيولې دي، او قومي مخورو د همدې اصولو په رڼا کې حل کړې دي. بريالۍ مرکه(مشران، اشخاص) هغه ده، چې دوی د قومي مرکې د نرخ او څلي باره کې پوره معلومات ولري. د مرکې مخور مشران به کوشش کوي، چې د هر طرف له طرفدارۍ ځانونه وساتي، که احياناً دوی د دوو کسانو تر منځ بعض، عقده ولرله يا يې د کوم لوري په ګټه نظر ورکړ، نو دا مرکه ناکامېږي او خپل باور، حيثيت بايلي. تنيو قومي مرکه څلور مشران او دوه ملايان په بر کې نيسي، دوه مرکچيان او يو ملا د يو طرف او دوه مرکچيان او يو ملا د بل لوري انتخابېږي او که له دوی يو هم نيمګړی يا غير حاضر و، نو پرېکړه به يې نيمګړې او د قومي مرکې پر اصولو پوره نه وي. دا ځکه داسې چار ترسره کېږي، چې( تنی) څلور قومونه دي او له هر قوم به يو، يو مخور په مرکه کې حاضر وي.

**د څېړنې موخې (اصلي موخه)**

۱. پر ټولنه د قومي مرکې اغېز

۲. د ټولنې د ستونزو د حل په باره کې د تنيو قومي مرکې رول معلومول

۳. د قوم د مشکلاتو حل، ويښتيا، يووالي، هوساينې او د قومي مرکې د اصولو پېژندل

**کړنلاره او کار توکي**

دا یوه کیفي ساحوي څېړنه ده. د څېړنې ګډونوال لس قومي او د قوم په اصولو اګاه مشران دي، چې د مرکې پر مټ ترې معلومات حاصل او راټول شوي دي. لومړی لاس معلومات مستقیماً د دوی څخه د مرکې پر مټ راټول شوي دي او دویم لاس معلومات تېرو اثارو ته د کتنې پر مټ حاصل شوي دي. مرکچیانو سره مخامخ خبرې پرې تحلیل شوې دي. (Qualitative Contents analysis) او بیا د دوی خبرې په څېړنه کې د هر ګډونوال لهپاره توری د کوډ په ډول کارول شوی دی.

**تېرو اثارو ته کتنه**

تنی د شیتک زوی، شیتک د ککي زوی، ککی د کرلاڼ زوی دی. (خیبري.، ۲۰۰۵م، ص، ۳۷۰).

تني قوم د خوست ولایت جنوب لویدیځ خواته د شمالي وزیرستان سره لګیدلې پوله لري. (خیبري.، ۲۰۰۵م، ص، ۳۸۲).

لویدیځ ته یې د خوست سپېرې ولسوالي، شمال لویدیځ طرف ته یې نادرشاکوټ او اسمعیل خېلو مندوزیو ولسوالۍ پرتې دي، جنوب ختیځ ته یې ګربز او ختیځ ته یې شمل خوړ پروت دی. پښتون قوم د تاریخ په اوږدو کې خپلې ستونزې د مرکو، جرګو له لارې حل کړې دي. (روان.، ۱۳۹۰ه ش، ص، ۸).

د تنیو قومي مرکې اصول ممکن په نورو قومونو کې یو شان او یو شان نه وي. د تنیو قومي مرکه د قومي مجلس، مشورې، جرګې، خبرو او اترو او سلا په معنی ترسره شوې ده، یعنې د پورته ذکر شویو مواردو لهپاره هم تر سره کېدلی شي، خو عمده د ستونزو د حل په مورد یې مختلفې پرېکړې ترسره کړې دي. د تنیو قومي مرکه د خاص هدف، خاصې موضوع، خاصې اجندا لهپاره په هغه صورت کې ترسره شوې ده، چې دوه کسان، دوه قومونه... په خپلو کې یو تر بل دعوې لرلې وې، د دوی تر منځ یادې ستونزې چې حل نه درلود، نو دوی به مرکې ته او قومي مخورو ته رجوع کوله. د تنیو قومي مرکه د ولسونو د ټولنیزو ستونزو د حل او له منځه وړلو یوه موثره او اغېزمنه وسیله او راټولیدنه او د خلکو د مشکلاتو د حل کولو لهپاره یوه قوي او ولسي مرجع ده، چې د خلکو د ستونزو په حل کې یې ښه تاثر لرلی دی. د دې مرکې د اصولو په رڼا کې نه تنها چې خلکو خپلې دعوې او لانجې حل کړې دي، بلکې دوی د دې اصولو د زده کړې او پلي کولو په رڼا کې زده کړې کړې دي. پښتنو کې قومي مرکې زیاتې ترسره کېږي، په مشخص ډول د تنیو قومي مرکې باره کې دا یوه هر اړخیزه څېړنه ترسره شوې ده. مرکچیان د قوم له منځه هغه مخور اشخاص دي، چې د قوم په نرخ، دود، دستور، کلتور، ژبه له عادي خلکو ښه پوهیدلی شي او د مرکو، جرګو په حل و فصل کې یې ورځې، میاشتې، کالونه تېر کړي وي، قومي مسایلو او مرکو کې هوښیار، زیرک وي او د یوې موضوع د حل په موخه ښه فکر او غور کولی شي. په دې برخه کې د بېلګې په توګه، د دویم او بېل قوم د منګلو مرکه، چې د دوو کسانو څخه تشکیلېږي، راوړم. (روان.، ۱۳۹۰ه ش، ص، ۲۱).

تنی قوم له څلورو لویو قومونو څخه جوړ شوی قوم دی، چې یاد قومونه بیا په واړو خېلونو او پښو وېشل شوي دي. پښتنو د نړۍ په تاریخ، نړیوال کلتور او تهذیب ژور تاثرات مرتب کړي دي. (ځدراڼ.، ۱۳۹۷ه ش، ص، ب).
زموږ لرغونی هېواد چې د اریایي توکمونو لومړنی زانګو او د اریایي ژبو ټاټوبی دی، په زرګونو کلونو یې د فوکلور او ولسي ادب په خپله غېږ کې روزلی دی. (دوست شینواری.، ۱۳۸۵ه ش، ص، ۱۱).
د مرکو او جرګو د ارزښت او رامنځ ته کولو به باب مرحوم محمد ساد یوه داسې اشاره کوي، چې (۲۰۰۰هـ ق) په شا او خوا کې اریایانو د ځمکو او ورشوکانو د تنګښت له امله یو تربل جګړې او لانجې ترسره کړې، دوی مجبور شول، چې په دې برخه کې جرګو او مرکو ته لاره هواره او ارزښت ورکړي. (زغم.، ۱۳۹۴ه ش، ص، ۳۸۹).
پکتیا - خوست د اریانا د هغو مهمو عمده ولایتونو څخه یو ولایت دی، چې د اریانا په مهمو او عمده ولایتونو کې د پکتیا( ولایت خوست تر سند) په نوم نومول شوی دی، نو ویلی شو، چې تني هم د یو تاریخي خوست یوه برخه دي، چې خپل ژوند یې د پښتنو د رسم رواج مطابق تېر کړی دی او خپلې ستونزې یې د مرکو له لارې حل و فصل کړې دي. (عطاالله.، ۲۰۰۴م، ص، ۲۶۹).
نرخ د مرکچیانو له خوا ترتیبېږي، جوړېږي او بیا د قتل، ناموسي تیري، د بدن د غړیو د ماتیدو او ژوبلیدو، په جینۍ د غږ کولو... عملونو په صورت کې د مرکچیانو له خوا اعلانېږي. (منګل.، ۱۳۹۵ه ش، ص، ۹۰-۹۱-۹۲-۹۳-۹۴-۹۵).

مرکه د پښتنو په ځینو سیمو کې د تړون منلو باره کې هم جوړه شوې ده، مرکه د جینۍ غوښتلو جرګې ته هم ویل شوې ده، د پښتنو په ځینو سیمو کې د محاورې په معنی هم کارول شوې ده، خو په دې وروستیو کې مصاحبې، د ډېرو یا یو سره خبرو کولو ته وایي، چې د یو ټاکلي هدف په رڼا کې د سمو او باوري معلوماتو د راغونډولو لهپاره د ډېرو کسانو سره کېږي. (میاخېل.، ۱۳۸۳هـ ش، ص، ۲۵).
د تنیو قومي مرکې اصولو څېړنه موږ ته ثابتوي، چې دا چاره زموږ د قوم د ورځني جریان لهپاره ښه ثابتېدای شي او موږ ته دا کار د قومي مرکې د مرکچیانو د اخلاص په صورت کې لا روښانیدای شي، چې دا کار د ټولنې لهپاره څومره مفید او ګټور دی او د قومي مرکې د زده کړې او جوړښت هڅه هم شوې ده. عموم کې ویلی شو، چې په دې برخه کې کوم علمي او تحقیقي کار نه دی شوی.

**پایله**

د تڼیو د څلورو قومونو څخه یو یو مخور انتخابېږي، دا انتخاب په څو صورتونو کې کېږي، یو صورت او شکل یې دا دی، چې د دوو کسانو تر منځ مصلحین یا دوستان، خپلوان موجود وي، که احیاناً دوی د مسلې او دعوې په حل کې عاجز او بې وسه شول، نو همدغه دوستان، خپلوان نور مرکچیان او ملایان ورته خوښوي، مرکچیان او

ملایان دواړه جانبه جلا جلا ګوري او د دوی نظرونه، دلایل اوري. بل صورت یې دادی، چې یو طرف چې متضرر شوی وي، نو مقابل طرف ته اول دوستان، خپلوان ور لېږي یا بهرني نور کسان ورلېږي. مقابل طرف ته دوستان او خپلوان ورځي او خبر ورکوي، چې تا سره د پلانکي نفر دا کار دی او له تا دا خبره دا ډول غواړي، مقابل طرف همدې نفرو ته ځواب ورکړي، چې یا دا موضوع تاسې وګورئ یا یې په نرخ ورسره ګورم او نرخ ته ورته ناست یم، که دوستانو ته یې واک صلاحیت ورکړ نو دوستان او همدغه خپلوان یې ګوري، که دوی ناتوانه شول بیا نو دوی ترې ووځي او څلور نور ټنې یا مرکه ورته انتخابوي. بل صورت یې دادی، که یو متضرر نفر غوښتل چې دوستان او خپلوان ور ونه لېږي، نو څلور ټنې انتخابوي او مقابل طرف ته یې په داسې بڼه ورلېږي، چې خالات هم ورکوي، تر څو یاده مرکه او اګویي یا خبر قومي نرخي رسمیت پیدا کړي او سبا که له یادو کسانو څخه هر چا پوښتنه کوله نو یاده مرکه به شاهدي ورکوي، چې پلانکي موږ په پلانکی نېټه پلانکي ته ورلیږلي وو. مشخص شوي یا انتخاب شوي، یا په خپله ورغلې مرکه مربوطه موضوع ګوري، کوشش کوي چې زر یې حل کړي او یوه مناسبه حل لاره ورته را وباسي او فیصله ور وکړي. لومړی خو همدغه څلور کسان د سوال زاری تر څنګ د قومي مرکې د اصولو په بنیاد همدغه راپورته شوې موضوع حل کوي، که بیا هم حل نه شوه، نو همدغه څلور کسان د دواړو طرفونو څخه واک، توی وړی واک، په ګوتو جوړ واک، لفظ د نرخ ویلو لهپاره غواړي، دا نو بیا د دوو طرفونو کار دی، چې دوی پر مرکه څومره باور کولی شي او واکونه ورکولی شي یا نه، که واک یې ورکړ، نو همدغه څلور نفري مرکه د واک اخیستو په خط لاسلیک یا ګوتې اخلي او د ډېر هر اړخیز سوچ فکر وروسته فیصله د څو کسانو په شتون کې یا یوازې دوی ته اوروي.

که یاده څلور نفري مرکه په مشخصه او مربوطه لانجه، دعوه کې بریالی نه شوه، نو یاد څلور کسان بیا نور څلور ټنې انتخابوي، چې د مرکې شمېر اتو کسانو ته رسېږي، دا اته کسان یاده موضوع، لانجه، دعوه ګوري، د دوی دلایل او نظرونه ګوري، ګرم نه ګرم، ملامت، سلامت معلوموي. په لومړي ځل همدغه اته کسان کوشش کوي، چې بغیر د واک او اختیار دواړو طرفونو ته قناعت ورکړي او دعوه د یو لفظ اخیستو او خط په اساس ور حل کړي او فیصله د

څو کسانو په شتون یا فقط دوی ته اعلان کړي، فیصله که د دواړو طرفونو له خوا ومنل شي، نو دواړه قناعت کوي او په هغه خط چې مرکې لیکلی یا ترتیب کړی دی، ګوتې لګوي او که په فیصله یو طرف قناعت ونه لري، نو یو طرف جګېږي او د انکار غږ کوي او فیصله ماتوي، که د دواړو د قناعت وړ فیصله نه وه، نو دواړه جګېږي او د انکار غږ کوي. که یادو اتو کسانو ته موضوع ژوره او بغرنجه معلومه شوه نو یاد اته کسان کوشش کوي چې د دواړو طرفونو څخه په رضایت، سوال، زاری، لفظ اخیستو، واک، توی وړی واک، په ګوتو جوړ واک واخلي او دوی د دواړو طرفونو څخه د لفظ کولو، واک، توی وړي واک، په ګوتو جوړ واک غوښتنه کوي. که دواړو

طرفونو د يادشويو واکونو له جملې هر يو واک او لفظ دوی ته ورکړ، نو مرکه د عدل او انصاف په رڼا کې فيصله ورته ابلاغوي، خو فيصله په هغه صورت کې ورته ابلاغوي، چې مرکه به ګوري چې دوی ته کوم ډول واک او لفظ ورکړل شوی دی، که واک، توی وړی واک ورکړل شوی و، نو د دواړو طرفونو له خوا به د مرکې له خوا په فيصله مخکې له مخکې ګوتې په داسې حالت کې لګيدلې وي، چې دواړه طرفونه به د خط او فيصلې څخه ناخبره وي او که چېرې د ګوتو جوړ واک او لفظ په رڼا کې فيصله ورکوي، نو دلته دوه صورتونه دي، يو دا چې د فيصلې وروسته شاهدان او مرکچيان او دواړه طرفونه ګوتې لګوي او بل دوهم صورت دادی چې فيصله خط باندې د دواړو طرفونو او مرکچيانو او شاهدانو له خوا ګوتې د فيصلې نه مخکې لګيدلې وي. بالخاصه که ياد اته کسان د مربوطه موضوع په حل کې بريالي نه شول، نو همدغه اته کسان د بهر نورو قومونو( خوست کې د تڼيو، ګربزو، منګلو، ځدراڼو، صبريو، ځاځيو) څخه يو يو يا دوه دوه مخور کسان انتخابوي، چې د دوی په شمول مرکه دولس کسانو ته رسيږي. يادو دولس کسانو ته (تخم) ويل کيږي او ياد نوم ورکوي او ترڅنګ مرکه هم ورته ويلی شو.

په دې ډول مرکه يا تخم کې د تڼي قوم څخه يو يا دوه او د خوست د نورو پاس ذکر شويو قومونو څخه يو، يو يا دوه، دوه کسان داخليږي، ياده مرکه هم د موضوع د حل په غرض کوشش کوي، چې لانجه، دعوه حل کړي، که احياناً ياده مرکه په دې ونه توانيده، چې موضوع حل کړي، نو بيا ياده موضوع د تڼي قوم ترمنځ عمومي داسې يو ځای (خره شګه) کې مرکې ته مخته اچوي، چې د تڼي قوم مشران به حاضر وي. د تڼي قوم ټول مشران په دې ځای سره راټوليږي، د همدې موضوع د حل لهپاره بحث، خبرې، اترې کوي او خپل نظرونه يو تر بل سره تبادله کوي، هر کله که دوی د دې خبرو اترو وروسته کوم مثبت تفاهم ته سره ورسيدل، نو په خره شګه کې د کاڼو، تيږو غټې او جګ ځلی په دې معنی جوړوي، چې د دې ځلي څخه غرض دا شو، چې په دې موضوع کې، په دې ډول اصولو سره نوی ځلی او نوی نرخ ترتيب او وټاکل شو. خره شګه د تڼي قوم لهپاره هغه ارزښتمن ځای دی، چې که د تڼي قوم مشرانو څخه د يوې موضوع د حل لاره، چاره، اصول ورک شول، نو د يوې موضوع د حل لهپاره په دې ځای کې نوی نرخ، نوی ځلی او نوي قومي اصول جوړيږي.

د تڼيو قومي مرکه کولی شي، چې د دوو جانبينو څخه برمته، ناغه، نوواتې هم واخلي او دا کار ځکه ترسره کوي، تر څو دواړه طرفين د مرکې پرېکړه ومني او که د دوی پرېکړه ونه مني، نو د دواړو جانبينو نوواتې، برمته به د مرکې له خوا خوړل کيږي او دا هېڅکله د جانبينو له خوا غوښتونکي نه دي. کله کله داسې هم شوي يا کيږي، چې د مرکې پرېکړه دواړه جانبين ومني، نو نوواتې او برمته به دواړو جانبينو ته ورکوي. کله داسې هم شوي دي، چې د مرکې پرېکړه د يو طرف څخه منل شوې ده، خو بل طرف يې ونه مني، نو مرکه د نه منونکي اړخ نوواتې يا برمته، هغه که نغدي وي يا مادي، د خپلو ځانونو لهپاره شخصي اعلانوي او مرکه يې په خپل منځ کې سره ويشي او

کوم طرف چې فیصله منلې وي، نو همدې شخص یا طرف ته نوواټ یا برمته ورکوي. مرکه د دوی د دلایلو او استدلال له رویه توانېږي، چې د نرخ په رڼا کې ګرم نه ګرم معلوم کړي. مرکې په دې هم توانیدلې دي، چې د دوو طرفینو تر منځ داسې لانجې او شخړې حل کړي، چې دوی د (الله ج حق کتاب یعنې قسم) ته سره ناست وي، خو دوی د قومي مرکې د اصولو په رڼا کې یوه داسې لاره ورته برابره کړې ده، چې دواړه طرفین پرې راضي شوي دي. د تنیو قومي مرکه هغه وخت پوره بلل کېږي، چې د دوی له جملې یو کس هم یعنې دیني عالم او قومي مشر غیر حاضر نه وي او که چېرې په دې کسانو کې یو کس هم غیر حاضر و، نو مرکه نیمګړېې ده او فیصله نه شي کولی، که په دې نیمګړي حالت کې فیصله ترسره کړي، نو نیمګړېې ده او هر طرف د اصولو په رڼا کې کولی شي، چې مرکه نیمګړېې معرفي کړي او فیصله ونه مني. تنیو قومي مرکه په هغه صورت کې دوو کسانو ته قسم ورکولی شي، چې دوه ملایان حاضر

وي او د دوی د نه موجودیت په صورت کې مرکه قسم نه شي ورکولی. د تنیو قومي مرکه په هغه صورت کې چې (تخم) په اساس کومه فیصله وکړي او د دوو جانبینو له خوا ونه منل شي یا د یو جانب له خوا ومنل شي او بل طرف له خوا ونه منل شي، مرکه ترې رخصت شي، نو یاده موضوع دوباره د تنیي قوم مرکه نه اخلي او په دې موضوع کې نوره مرکې خبرې نه کوي او دا موضوع د مرکې له اصولو اچوي او جانبین ازاد دي، چې محمکې ته یې وړي یا یې بل قوم مرکې ته وړي.(( لسو کسانو ویلي دي)).

تنیي قوم د دوی د پیدایښت سره هم مهاله په غېږه کې داسې قومي او کلتوري اصول د ځان لهپاره برابر او جوړ کړي دي، چې په زرهاوو کالونه د همدې اصولو په رڼا کې دوی ژوند کړی دی او خپل ورځني مشکلات، دعوې، لانجې او ستونزې یې پرې حل کړې دي. (( اتو کسانو ویلي دي))

یادو اصولو او جوړښت هېچاته اجازه نه ده ورکړې چې یو تر بل ستونزې سره جوړې کړي او یا یو تر بل تېری سره وکړي، بیا هم که یو تر بل ستونزې سره جوړې کړې وي یا یو تر بل کوم تېری سره کړی وي او د قوم له اصولو وتلي وي، نو بیا قومي مرکو او جرګو یاد اشخاص ناغه کړي، له قوم او کلي یې په وېره شړلي دي. (( لسو کسانو ویلي دي))

تنیي قوم په خپله غېږه کې د ، نړۍ د فوکلوریکو ادبیاتو په قسم، فوکلوري ادبیاتو ته ځای ورکړی دی، د تنیو قومي مرکې اصول هم د پښتو ژبې او پښتون قوم د فوکلوریکو ادبیاتو له برخو څخه یوه ډېره مهمه او لرغونې برخه ده، چې د دې برخې ساتنه او ثبتونه به پښتو فوکلور ته زیاته مثمره تمامه شي. د نړۍ نوره قومونه قومي مرکې نه لري او خپلې ستونزې یا د دولت له لوري او یا د بل کوم رسمي ارګان له طریقه حل کوي. (( درې کسانو ویلي دي))

یاده قومي مرکه د ټولنیز ژوندانه د ستونزو په حل کې رغنده رول لوبوي او لوبولی یې دی، حتا د خلکو او ولسونو اذهان داسې جوړ شوي دي، چې قومي مرکې کولی شي، د دولتونو او ولسونو، ولسونو تر منځ غټې دعوې او ستونزې حل کړي. (( پنځو کسانو ویلي دي))

قومي مرکې د ولسي ستونزو او دعوو په له منځه وړلو کې ژور بدلونونه را منځ ته کوي او مورږ په زیاتو مواردو او ځایونو کې شاهد حال یو/وو، چې قومي مرکو د غم او خفګان محول او فکرونه د خوشحالی او ارامی په محلونو او فکرونو بدل کړي دي. (( پنځوکسانو ویلي دي)).

تڼیو قومي مرکه د فرد او ټولنې ترمنځ د سمون او بدلون اغېزمنه وسیله ګرځېدلې ده، چې په نتیجه کې یې د فرد او ټولنې ترمنځ اړیکې پیاوړې کړې دي. (( دوو کسانو ویلي دي)).

تڼیو قومي مرکه د نوم له نظره دومره ارزښتمنه نه ښکاري، خو په عمل کې ډېر د ارزښت ډکې فیصلې ترسره کوي او ډېر غني او بډایه اصول دي. (( پنځو کسانو ویلي دي)).

تڼي قوم کې مرکه په تاریخي لحاظ د زیات ارزښت وړ بل کېږي، حتا د ستونزو او دعوو د حل د ملا د تیر حیثیت لري. ((۷اوو کسانو ویلي دي)).

تڼیو کې قومي مرکه زیاته فعاله ده او اکثریت دعوې، لانجې همدغه قومي مرکه خلاصوي او د ارام، سولې، فضا قایموي، نفرت او فرق له منځه وړي، مینه او محبت ته لاره هواروي. (( اتو کسانو ویلي دي)).

تڼیو کې قومي مرکه داسې یو ډول اصول دي، چې ولس سره نېغه او مستقیمه اړیکه لري، د ولس له منځه او د دوی د ذهنونو څخه د دوی د رسم رواج او کلتور مطابق فیصلې صادروي.(( څلورو کسانو ویلي دي)).

خوست کې تخم د تڼیو، ځدراڼو، منګلو، صبریو، ګربزو، ځاځیو شپږو قومونو د شپږو کسانو یا د دولسو کسانو څخه جوړېږي.(( شپږو کسانو ویلي دي)).

د تڼیو قومي مرکې پرېکړې: د نایب الحکومه فیض محمد خان په وخت کې د تڼیو د دره ګي او اسمعیل خېلو قومونو تر منځ د هغو دعوو، چې د ځمکې په سر به رامنځ ته کېدلې، حل کول.

د تڼیو او ګربزو قومونو تر منځ د هغو دعوو، چې د ځمکې پر سر به راپورته کېدلې، حل کول. (( لسو کسانو ویلي دي)).

پورته دوې هغه غټې او تاریخي فیصلې او پرېکړې راوړل شوې دي، چې د تڼیو د قومي مرکې په برکت او اساس تر ننه حل او خلاصې شوې دي.

**مناقشه**

ما د تڼیو قومي مرکې اصول هر اړخیز په داسې ډول څېړلي دي، چې کلیو، بانډو او لرې پرتو سیمو ته د مرکو کولو لهپاره لاړ شوی یم، هره برخه له قومي مخورو سره شریکه شوې ده او د دوی له خوا چې کوم اصول او قواعد اورول شوي دي، لیکل شوي دي. د یادې څېړنې په ساحه کې هېڅ ساحوي او کتابتوني کار نه دی شوی،

نو نه شو کولی په دې برخه کې مقایسوي نظر ورکړو. د تنیو او خوست په سیمه کې لیکوال یادې برخې ته نه دي متوجه شوي، نو ځکه په دې برخه کې خلاوې موجودې وې، که کوم لیکوال وغواړي، چې په دې برخه کې کار ترسره کړي، نو دوی به لرې پرتو سیمو، کلیو ته په قومي مخورو پسې ورځي. قومي مشران، ولسي با نفوذه ځوانان هر یو په خپل ځای کې د قدر وړ دي، دوی دي، چې د ولسونو تر منځ موجوده او راپورته شوې ستونزې او دعوې حل کوي. زه د دې څېړنې په ترسره کولو دې نتیجې ته رسیدلی یم، چې قومي مرکه یو داسې کلیوالي او قومي تړون یا قانون رامنځ ته کوي، چې د ټولنې او حکومتونو هېڅ قسمه مالي نقسان نه وي پرې شوی، نو پکار ده، چې یادې برخې ته په کامله او پوره معنی ارزښت ورکړل شي. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د بیلابیلو هېوادونو تر جنګي، فرهنګي، کلتوري تړاکونو لاندې راغلی دی، چې په دې برخه کې د دې هېواد قومونو رغنده مثبت ګامونه اوچت کړي دي او دوی سره یې د خپلو قومي جوړښتونو، کلتورونو نه په استفادې مقاومتونه ترسره کړي دي. د بهرنیو یرغلونو د مقاومت لهٔپاره د تنیو قومي مرکو نه استفاده شوې ده او یادو قومي مرکو خلک راټول کړي او د دښمن په مقابل کې یې لکه سپر او ډال درولي دي. د تنیوقومي مرکو په سیاسي جریانونو کې رغنده او هر اړخیز رول لوبولی دی، سولې په پروسو کې مفیدې تمامې شوې دي، د حکومتونو په جوړښت کې بې څه نه وې او حتا دتنیو قومي مرکې توانیدلې دي، چې د سیمه ایزو حکومتونو جوړښتونه ترتیب او دوی ته اصول وړاندې کړي. د تنیو قومي مرکو ټولنیز اړخ د قومونو تر منځ د باور، درناوي، همکارۍ پر بنسټ ولاړ دی، تنیو کې قومي مرکو سره همکاري زیاته او هر اړخیزه، باوري ده، ځکه تر اوسه د مرکو له منځه داسې کړنه نه ده ترسره شوې، چې په هغې کې مذهب او اسلام مبارک دین ته کومه منفي اشاره شوې وي. تنیو قومي مرکه خورا لرغونې ده، حتا د احمدشاه بابا له وختونو پخوا د قومي مرکو له لارې فیصلې کېدلې. تنیو کې قومي مرکه// مرکې د امنیت په برخه حیاتي رول لوبولی دی، د سولې او ثبات په برخه کې د دوی رول حیاتي دی. تنیو کې قومي مرکه د کلیو، قومونو، خېلونو تر منځ د مثبتو اړیکو په ترتیب او جوړولو کې ژوندۍ ده.

**وړاندیزونه**

۱. ولسي لیکوالان دې کوشش وکړي، څو یادې ولسي فوکلوریکې برخې ثبت کړي!

۲. فوکلوریستان دې، دې برخې ته توجه وکړي، څو قومي او ولسي پرېکړې او رسمونه ژوندي وساتل شي!

۳. قومي او ولسي لیکوالان دې تشویق، مالي امکانات دې ورکړل شي، څو قومونو کې قومي مرکې ثبت کړي!

۴. قومي مرکې دې، وس تر توان کوشش وکړي، څو په ټولنه کې دعوې، دنګلې پر وخت حل کړي!

proper methods and approaches by which negotiations should be conducted.

# Rules of ethnic interview in the tani

Senior Teaching Assistant Mushfiqe Osuli, Shaikh Zayed University, faculty of language and literature, Pashto Department.
**Email:** Mushfiqeosuli@gmail.com

**Abstract**

This research examines the principles and rules of tribal mediation among the Pashtuns, particularly within the Tani tribe and communities. The study explores the methods, approaches, procedures, principles, practices, and customary traditions that are applied in resolving and settling disputes between two individuals, parties, tribes, villages, or, more generally, in conflict resolution. The research is field-based and was conducted through interviews and written sources .I conducted this research using qualitative field research. Data and interviews were collected from tribal and community elders as well as from the youth within their villages and local areas. I personally visited each household and village, and in some cases, I gathered materials during life events when I met them face-to-face. The research highlights how, in the future, an individual may come to understand the principles of negotiation and how, in light of customary norms, disputes or conflicts arising between two individuals, tribes, clans, or families can be resolved and settled. It presents the possible solutions and instructs those individuals or elders who lack knowledge of negotiation principles on the proper methods and approaches by which negotiations should be conducted. The tani interview Four tribal elders and two mullahs form its structure .The value and necessity of this interview is that long-standing disputes between two people are resolved in the light of ethnic principles.

**Key words** :Decisions ,Ethnic and social value ,Folklore ,Narkh ,Interview.

**مأخذونه**

ځدراڼ، محمد شریف. ( ۱۳۹۷ه.ش). پښتانه د تاریخ په اوږدو کې. کابل: شمشاد هاشمي مطبعه.

خیبري، غوث. (۲۰۰۵م). پښتانه د برهما، زردشت، بودا او اسلام په پېر کې. د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي ځانگه.

دوست شینواری، دوست محمد. ( ۱۳۸۵ل). د پښتو د ولسي ادب لارې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

روان، بریالی. (۱۳۹۰). د شفاهي ادبیاتو د پیدایښت او پایښت سمینار د مقالو ټولگه.

زغم، احمدشاه. (۱۳۹۴ل.ل). فولکلور او فولکلوري ادبیات. د افغانستان ملي تحریک، فرهنگي ځانگه.

قاضي عطاوالله خان. ( ۲۰۰۴دویم ځل). د پښتنو تاریخ. خیبر بازارپېښور: جدون پرنټینگ پرېس.

منگل، محمد داوود. (۱۳۹۵ ه.ش). د منگلو نرخونه. خوست: حسین احمد چاپ خانه.

میاخېل، محمد عمر روند. ( ۱۳۸۳ل). د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې. میوند خپرندویه ټولنه.

**مرکه کوونکي ( ضمایم )**

۱. قومندان. (۱۴۰۴. ۲. ۳) دره گی.

۲. اصولي، نوروز. (۱۴۰۴. ۱. ۵). دره گی.

۳. سیدامیر. (۱۴۰۴/ ۱/ ۴). ژئ کلی.

۴. رسول نواز خان. ( ۱۴۰۴/ ۱/ ۷). شمونې.

۵. نورخان. ( ۱۴۰۴/ ۱/ ۹). دره گی.

٦. شیرغازي خان. (۱۴۰۴/ ۲/ ۴). عیسی خېل.

۷. الله خان. ( ۱۸/۱/۱۴۰۴) نرخیل.

۸. بیتول. ۱۴۰۴ (۱۸/۲/۱۴۰۴). ورژله.

۹. جوني. ( ۲۹/۱/۱۴۰۴). چرې پخې ورژله.

۱۰. جانباز خان. ( ۱۹/۲/۱۴۰۴). نریزیې.

# د ازموینې اضطراب (اغېزې، نښې، ډولونه او د کمولو درملیزې لارې)

پوهنمل دوکتور احسان الله احسان، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي کادر غړی.
برېښنالیک: ehsan.af.1988@gmail.com

**لنډیز**

د زده کړې د پروسې یو تر ټولو مهمه برخه ازموینه ده، مګر د فشار، اندېښنې، وېرې ، ذهني ګډوډۍ او د حافظې د اختلالاتو له امله د ډېرو زده کوونکو لپاره یوه ترخه تجربه ده. په دې مقاله کې د ازموینې د اضطراب، اضطراب، علایمو، ډولونو او درملنې په اړه بحث شوی دی، همدارنګه نوموړې مقاله د کتابتونې څېړنو له ډلې څخه ده، د معلوماتو په را ټولولو کې له معتبرو ژورنالونو او ډېټابېسونو څخه ګټه اخیستل شوې ده. موندنې ښیي، چې د ازموینې اضطراب د زده کوونکو پر رواني روغتیا، تمرکز، حافظې، تحصیلي فعالیتونو، عواطفو، ورځنیو فعالیتونو او نورو برخو باندې ژوره منفي اغېزه کوي. هېره دې نه وي چې اضطراب بېلابېل ډولونه لري، لکه عمومي اضطراب، ټولنیز اضطراب، وېره، د جلاوالي اضطراب او نور ، چې د دې ډول حالاتو د کنترول او مدیریت لپاره له شناختي رفتاري درملنې (CBT) څخه کار اخیستل کېږي او په شدیدو حالاتو کې د شناختي رفتاري درملنې ترڅنګ دارو درملنه هم ښه نتیجه ورکوي. په پای کې ویلی شو، چې ښوونیز بنسټونه د زده کوونکو او د هغوی د والدینو لپاره د اضطراب په برخه کې د عامه پوهاوي تر عنوان لاندې سمینارونه او ورکشاپونه دایر کړي، تر څو د زده کوونکو مورال لوړ وساتل شي او د ستونزو په وړاندې استوار پاتې شي.

**کلیدي ټکي:** ازموینې اضطرب، اضطراب، تحصیلي پرمختګ، رواني روغتیا، شناختي رفتاري درملنه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

ښکاره ده چې په انسانانو کې اضطراب موجود وي او هغه مهال چې د زده کړې بهیر ټکنی، د تحصیلي پرمختګ مخه ډب او ذهني ستونزې را منځ ته کړي د ازموینې د اضطراب په نوم سره یادېږي. د ازموینې اضطراب د زده کوونکو په ذهني او جسمي وړتیاوو، تمرکز، حافظه او د دزه کړې په کچه باندې منفي اغېزه کوي (سپیلبرګر او وګ۱۲، ۱۹۹۵، ۱۴-۳). په ښوونیز چاپېریال او د زده کړې په ټولو پړاوونو کې ازموینې د پرېکړو تر ټولو مهمه وسیله بلل کېږي، ځکه چې زمونږ په سیالی کوونکې ټولنه کې، د هر عمر لرونکي خلک د خپلو لاسته راوړنو، مهارتونو او وړتیاوو له مخې ارزول کېږي. د زولر او بن چین۱۳ (۱۹۹۰) په باور «د ژوند هغه دوره چې مونږ په کې ژوند کوو، یوه ازموین پاله زمانه ده، چې نه یوازې د ډېرو خلکو ژوند اغېزمن کوي بلکې د هغوی برخلیک هم د ازموینو له پایلو څخه ټاکل کېږي». ډېر وخت د ازموینو فشار د ځینو افرادو د تحصیلي پرمختګ مخه نیسي. څېړنو ښودلې ده چې زده کوونکي، ازموینې د اضطراب د ډېروالي اصلي لامل بولي او یو داسې نا څرګند او غیرعادلانه وضعیت یې ګڼي، چې دوی ته پکې د خپلو واقعي لاس ته راوړنو په پار موقع نه ورکول کېږي (زیدنر او بین-زور۱٤، ۱۹۹۰؛ سپیلبرګر، ۱۹۸۵). څرګنده خبره ده، چې په زده کوونکو کې دا ډول احساسات د ازموینې پرمهال د هغوی د وړتیاوو مخه نیسي چې په پایله کې په لوړه کچه اندېښنه (د ازموینې اضطراب) رامنځ ته کوي (هیل او ویګفیلډ۱۵، ۱۹۸۴).

داچې رواني روغتیا د عمومي روغتیا یو له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي، په بېلابېلو ډولونو تعریفېږي. لکه د ناروغۍ نه شتون، په ارګانیزم کې یو داسې حالت چې ټولې دندې په پوره ډول تر سره کړي او یا هم د توازن یو داسې حالت چې د انسان د ننه او د هغه د فزیکي او ټولنیز چاپېریال ترمنځ شتون ولري. د دې تعریفونو له ډلې څخه د هر یو کارول د روغتیا د اړتیاوو د پوره والي پر سطحو پورې تړاو لري، دا اړتیاوې عبارت دي له: خواړه، سرپناه، بقا، خوندیتوب، ټولنه، ټولنیز ملاتړ، له درد څخه خلاصون، چاپېریالي خطرونه او غیر ضروري استرسونه (بیوګرا او سارتوریس۱٦، ۲۰۱۳).

---

12 Spielberger & Vagg

13 Zoller & Ben-Chain

14 **Zeidner & Ben-Zur**

15 Hill & Wigfield

16 Bhugra & Sartorius

هغه مخ پر ډېرېدو اندېښنه چې د روغتیایي چارو کار کوونکي یې لري، د زده کوونکو رواني روغتیا ګنګل کېږي. ځکه چې رواني روغتیا د زده کوونکو پر عمومي چلند، خوراک، خوب، تمرکز او همدارنګه پر تحصیلي پرمختګ اغېزه کوي. یو له هغه عواملو څخه، چې رواني روغتیا ګواښي اندېښنه (اضطراب) دی. اندېښنه هغه ناخوښه او ناڅرګنده احساس ته ویل کېږي، چې د خطرناکو حالاتو د وړاندوینې پر مهال رامنځ ته کېږي، چې شدید حالت یې په رواني روغتیا منفي اغېزه کوي او د فردي، ټولنیزو، شغلي او تحصیلي کړنو د ګډوډۍ لامل ګرځي (سفیر او شاه17، ۲۰۱۹). معمولا د تحصیلي دورې، د نویو مطالبو د زده کړې او یا د یو نوي فعالیت د سرته رسولو پر مهال اضطراب او استرس ډېروالی مومي، او هغه لویه ستونزه چې محصلین ور سره لاس او ګرېوان دي، تحصیلي پرمختګ ګنګل کېږي، دا ځکه چې د ازموینې پر مهال محصلین په لوړه کچه استرس او اضطراب تجربه کوي او دې چارې ته د ازموینې اضطراب وایي او د ازموینې د وخت د ناسم مدیریت له کبله د محصلینو په تحصیلي پرمختګ ناوړه اغېز شیندي (شمس الدین او ملګري، ۲۰۱۳).

اضطراب په لره پیمانه ګټور دی، د مطلوبې پایلې تر لاسه کولو لپاره محصلان هڅوي مګر اضطراب په لوړه کچه د زده کوونکو پر تحصیلي پرمختګ ناوړه اغېز لري. معمولا له ازموینې څخه وړاندې او یا د از موینې پر مهال اضطراب ځانګړي علایم لري لکه بې قراري، په تمرکز کې ستونزه، عضلاتي انقباض لکه د ګېډې درد یا اسهالات او نور (کون او مېټرر18، ۲۰۰۹). همدارنګه پایلې ښیې چې په ځوانانو کې د ازموینې د اضطراب کچه مخ پر زیاتېدو ده او دغو پایلو ته په پاملرنې سره دا ډول وضعیت د اندېښنې وړ ښکاري (اوډریسکول او مک لیس19، ۲۰۲۳).

له پورته معلوماتو څخه دا جوته شوه، چې د ازموینې اضطراب د زده کوونکو پر تحصیلي پرمختګ، رواني روغتیا، تمرکز، حافظې، وړتیاوو، انګېزې، ورځنیو فعالیتونو او نورو مسایلو باندې ژوره اغېزه کوي. د دې موضوع څېړنه او توضیح ځکه اړینه ده، تر څو وکولی شو د زده کوونکو لپاره د ازموینې د اضطراب نښانو، لاملونو، ډولونو او د اضطراب مدیریت او درملنې په اړه لازم معلومات راټول او د هغوی په واک کې ورکړو، چې په راتلونکي کې زده کړه کوونکي افراد د اضطرب او په ځانګړي ډول د ازموینې اضطراب په اړه لازم پوهاوی ولري او وکولی شي د زده کړې مسیر پرته له کومې وېرې او فشارونو بشپړ کړي.

17 Safeer & Shah
18 Coon & Mitterer
19 O'Driscoll & McAleese

**موخه**

د دې مقاله موخه د ازمویني د اضطراب څېړنه، نښې، لاملونه، ډولونه او درملیزې لارې چارې واضح کول دي، تر څو دا معلومه  شي چې اضطراب څنګه د زده کوونکو پر رواني روغتیا، تمرکز، حافظې، انګېزې او تحصیلي پرمختګ اثر کوي او د دغه ستونزې د کمولو او مدیریت لهپاره کومې لارې چارې ښه نتیجه ورکوي.

**د کار مواد او کړنلاره**

دا څېړنه د کتابتوني مطالعې له ډلې څخه ده، چې د معتبرو ژورنالونو او ډېټابسونو لکه Google Scholar، Science Direct او ISI  له مقالو څخه د موضوع اړوند معلومات را ټول شوي دي.

**اضطراب څه ته وایي؟**

اضطراب یو داسې حالت دی، چې شخص یې له داخلي ګډوډیو څخه د ناخوښۍ په ښه څرګندوي او د راتلونکو پېښېدونکو ستونزو څخه د وېرې  او اندېښنې احساس ورسره مل وي (دیویسون[20]، ۲۰۰۸، ص. ۱۵۴؛ میشلی او کاستلفرانچی[21]، ۲۰۱۴، ص. ۱- ۳۰؛ چاند او مروه[22]، ۲۰۲۲). اضطراب له وېرې سره توپیر لري ځکه، چې وېره د موجود ګواښ پر وړاندې عاطفي غبرګون ته وایي، په داسې حال کې چې اضطراب په راتلونکي کې د پېښېدونکي ګواښ پر وړاندې د اندېښنې په معنی دی (کراک[23]، ۲۰۱۵). ډېری مهال اضطراب له بېلابېلو عصبي کړنو سره لکه وړاندې او وروسته قدم وهلو، جسمي دردونو او فکري نشخوارونو (شخوندونو) سره یو ځای وي (سلیګمن او والکر[24]، ۲۰۰۱، ص. ۳۹۳- ۳۹۸)  او اکثره وخت اضطراب د شخص له نظره د ګواښ کوونکې پېښې په وړاندې په غیر متمرکز ډول د نا آرامۍ او اندېښنې په توګه را څرګندېږي (بوراس او هولټ[25]، ۲۰۰۷، ص. ۱۸۹).

د ازمویني اضطراب: د یرکس ډاډسن قانون پر بنیاد د هر کار د بریالیتوب لهپاره لکه ازموینه یا سیالي د هڅونې یوه مناسبه کچه اړینه ده، مګر کله چې د اضطراب یا هڅونې کچه له مناسې اندازې څخه لوړه شي د عمل د پایلې کچه ټیټېږي (ټایګن[26]، ۱۹۹۴). په دې اساس ویلی شو، چې د ازمویني اضطراب هغه اندېښنه، وېره یا نا

[20] Davison
[21] Miceli & Castelfranchi
[22] Chand & Marwaha
[23] Crocq
[24] Seligman & Walker
[25] Bouras & Holt
[26] Teigen

آرامي ده، چې زده کوونکي يې د ازموينې پر مهال د ناکامۍ يا ټيټې کچې فعاليت په سبب احساسوي. د ازموينې اضطراب لرونکي زده کوونکي ممکن له دې ډول حالتونو سره مخ شي: لکه د نمرو ترل له شخصيتي ارزښت موندنې سره، د ښوونکي له خوا د شرمېدو وېره، د والدينو يا ملګرو له خوا د ترک کولو وېره، د وخت فشارونه، کنټرول له لاسه ورکول او عامې نښې يې عبارت دي له: خولې کېدل، سرګرځېدل، سر درد، د زړه د ضربان لوړېدل، زړه بدوالی، بې قراري، نه کنټرولېدونکې ژړا يا خندا او مېز پر څپېړه وهل (کولانجيلو او آديټ[27]، ۲۰۲۰). څکه چې د ازموينې اضطراب د منفي ارزونې سره اړيکه لري (ليبرټ او موريس[28]، ۱۹۶۷) خو پر دې موضوع بايد بحث وشي چې دا خپله يو ځانګړی اضطرابي اختلال دي او که د ټولنيزې وېرې (social phobia) يو ډول دی (بيډل او ټرنر[29]، ۱۹۸۸) هېره د نه وي، چې نوموړی اختلال په DSM-5 کتاب کې د ازموينې اضطراب د ټولنيزې وېرې (social phobia) يو ډول ګڼل شوی دی (ريپي او هيمبرګ[30]، ۱۹۹۷).

## د وېرې او اضطراب ترمنځ توپير

وېره له اضطراب سره توپير لري، څکه چې وېره د يو درک شوي ګواښ پر وړاندې ذهني او عاطفي عکس العمل دی (ډورشل[31]، ۲۰۱۲)، مګر اضطراب د د فاعي حالت په بڼه د جنګ يا تېښتې په توګه را څرګندېږي (هيرين[32]، ۲۰۲۰). يو غلط تصور دا دی، چې اضطراب يوازې هغه مهال رامنځ ته کېږي، چې حالت نه کنټرولېدونکی يا د مخنيوي وړ نه وي، خو همېشه داسې نه ده (آهمان[33]، ۲۰۰۰). ديويد بارلو (David Barlow) اضطراب داسې تعريفوي: «اضطراب د راتلونکي په اړه تمه لرونکی عاطفي حالت دی، په داسې حال کې چې هېڅ څوک د پېښېدونکو منفي ستونزو سره د مقابلې لپاره چمتو نه دي» (بارلو[34]، ۲۰۰۰). په همدې اساس د وېرې او اضطراب ترمنځ اصلي کرښه د اوسني او راتلونکي ګواښ ترمنځ توپير دی. بل توپير يې دا دی، چې اضطراب د ځورېدنې، وېرې او يا اندېښنې په بڼه څرګندېږي (ياکووو[35]، ۲۰۱۱).

---

[27] Colangelo & Audet
[28] Liebert & Morris
[29] Beidel, D. C., & Turner
[30] Rapee & Heimberg
[31] Dorschel
[32] Heeren
[33] Öhman
[34] Barlow
[35] Iacovou

**په څلور برخو کې کولی شو د اضطراب او وېرې ترمنځ توپیر وکړو:**

- د عاطفي تجربې موده
- لنډ مهاله تمرکز
- د ګواښ ځانګړتیا
- د تحریک لوری

وېره لنډ مهاله، په اوسني وخت متمرکزه، د مشخص ګواښ پر لوري متوجه او له ګواښ څخه د تېښتې یا خلاصون سره مرسته کوونکې ده، مګر د وېرې بالعکس، اضطراب اوږد مهاله، د راتلونکې پر لور متمرکز، د ناڅرګند ګواښ پر وړاندې پراخ تمرکز لرونکی او د ډېر احتیاط لامل ګرځي او ځینې وخت د احتمالي ګواښونو پر وړاندې د ګټورې مقابلې مخنیوی کوي (سلورز۳۶او ملګري، ۲۰۱۱).

**د اضطراب نښانې (Symptoms)**

اضطراب د ورځنیو اوږد مهاله علایمو په درلودلو سره تجربه کېږي او د ژوند د کیفیت پر کچې اغېزه کوي، چې د عمومي اضطراب په نوم سره یادېږي. او یا د لنډو ناڅاپي (پانیک) او استرس رامنځ ته کوونکو حملو په بڼه تجربه کېږي، چې د حاد اضطراب (acute anxiety) په نامه یادېږي (رین او براومن-مینټزر۳۷، ۲۰۰۴). په افرادو کې د اضطراب نښانې د شمېر، شدت او تکرار له مخې توپیر کوي، په دې اساس ډېری خلک له مزمن اضطراب څخه نه رنځېږي (د رواني روغتیا ملي انسټیټیوټ ۳۸، ۲۰۲۳، مارچ ۲۹). په عام ډول اضطراب څلور ډوله علایم لري لکه شناختي، رفتاري، عاطفي او فزیولوژیکي:

- اضطراب کولی شي د یو شمېر دردونو او یا رواني اختلالاتو (افسردګی) لامل شي او امکان لري ځان ته زیان ورسوي یا ځان وژنه وکړي او یا هم د مرګ یا قلبي حملې څخه د غیر منطقي وېرې لامل شي (فالک ۳۹، ۲۰۲۱)

[36] Sylvers
[37] Rynn & Brawman-Mintzer
[38] National Institute of Mental Health
[39] Folk

- سرېبره پر رواني ستونزو اضطراب رفتاري ګډوډۍ هم رامنځ ته کوي لکه په عادتونو کې تغییر، د ډوډۍ خوړلو اختلال، ویښ پاتې کېدل، له موقعیت څخه تېښته او حرکتي ستونزې لکه قدم وهل یا پښه پر ځمکه وهل (بارکر ۴۰، ۲۰۰۳، ص. ۱۵۲).
- هېرده د نه وي، چې اضطراب د ځینې عاطفي ستونزو لامل هم ګرځي لکه د وېرې احساس، په تمرکز کې ستونزه، بې قراري، د بې ارزښتۍ احساس، د شرم یا ګناه احساس، نا امیدي، په ځان بې باوري، د بې وسۍ احساس، مرستې ته اړتیا او د خطر علایمو ته پاملرنه (سمیت۴۱، ۲۰۰۸؛ میلفایتي۴۲ او ملګري، ۲۰۲۰).
- د اضطراب فزیولوژیکي نښې په لاندې ډول دي: سر ګرځېدل، د بدن خولې کېدل یا د پوستکي خارښ، د بدن لړزه، د تش ادرار تکرار، جنسي ناتواني، د زړه درزا، د زړه د ضربان سرعت، دسیني درد، د خولې وچوالی، د استفراق احساس، د معدې سوزش-درد، اسهال، د ستړیا احساس، بې اشتهایي (د روغتیا نړیوال سازمان، ۴۳۲۰۰۹، ص. ۳۷- ۴۴؛ ټیسټا۴۴ او ملګري، ۲۰۱۳).

**د اضطراب ډولونه**

د امریکا د روانپوهانو د انجمن د رواني اختلالاتو د تشخیص او احصایوي لارښود (DSM-5) له مخې، اضطراب مختلف ډولونه لري، چې نوموړی لارښود د رواني ناروغیو دتشخیص لهپاره یو ستندرد ګڼل کېږي. په دې ځای کې د اضطراب ډولونو ته لنډه کتنه کوو:

۱. عمومي اضطراب (**GAD**): د دې اختلال نښانې ډېرې مختلفې دي، مګر تر ټولو مهمه نښانه یې پرته له کوم دلیل څخه د ورځې په جریان کې د افراطي اندېښنې شتون دی. شخص پوهېږي چې ستونزه نشته مګر بیا هم د وېرې، اندېښنې او دایمي فشار احساس کوي، او دا ډول حالات د ورځنیو چارو، دندو، روغتیا، کورني ژوند په اړه غیر منطقي او تکراري اندېښنې رامنځ ته کوي.

۲. اګوارا فوبیا (**Agoraphobia**): دا ډول اختلال د شدیدې وېرې لامل ګرځي، مبتلا شخص له، ډېرو خلاصو، بندو او تړلو ځایونو، جمعیت او یوازې بېرون ته تللو څخه وېره لري. شخص له دې ډول ځایونو

---

[40] Barker
[41] Smith
[42] Milfayetty
[43] World Health Organization
[44] Testa

څخه وېره لري، فکر کوي د ستونزې په صورت کې له دې ډول موقعیتونو څخه په آسانۍ سره نشي وتلی او د اګوارا فوبیا تر ټولو شدیدترین حالت د شخص په کور کښېناستل دي.

۳. پانیک اختلال: (**Panic disorder**): په دې ډول ناروغۍ مبتلا کسان د اضطراب په سبب تر مکررو او غیر منتظره حملو لاندې راځي، د دې اختلال تر ټولو مهمه ځانګړنه داده، چې حملې پرته له کوم خبرداري منځ ته راځي او د کوم بل رواني یا فزیکي اختلال له امله نه وي. ځینې خلک چې پانیک اختلال لري اګوارا فوبیا هم لري. همدارنګه د دې ډول اختلال په سبب مبتلا کسان لاندې نښې لري لکه خولې کېدل، لړزه، د سینې د قفس درد، د زړه د ضربان ډېروالی او د کنټرول له لاسه ورکول.

۴. ځانګړې فوبیاوې (**Specific phobias**): په دې ډول اختلال مبتلا کسان له خاصو شیانو څخه چې ژوند ته یې خطر محسوبوي، شدیده وېره لري، دا ډول اختلال ډېر ډولونه لري او تقریبا ټول د ځانګړې فوبیا په نوم تشخیص کېږي. هغه علایم چې شدیده وېره رامنځ ته کوي ځینې عبارت دي له وینې، ارتفاع، پرواز کول، پیچکاري، ځینې حیوانات لکه مار، عنکبوت، سپی او داسې نورو څخه.

۵. د ټولنیز اضطراب اختلال (**Social anxiety disorder**): په دې ډول اختلال مبتلا کسان د نورو کسانو له خوا د منفي قضاوت له کبله شدیده وېره لري او له هغه موقعیت څخه شدیده وېره لري چې د هغو له ارادې څخه بهر وي، حتی د ځینو کسانو لپاره دا حالت دومره شدید وي، چې نشي کولی د نظر وړ ټولنیزو موقعیتونو ته حاضر شي لکه د کار ځای یا ښوونځی او نور. ځینې علایم یې عبارت دي له: د زړه درد، د ماهیچو انقباض، لړزه، د بدن ګرموالی او خولې کېدل، د زړه ضربان لوړېدل، د سترګو تماس کې ستونزه، له نویو افرادو سره په توافق کې ستونزه او د منفي قضاوت احساس.

۶. د جلاوالي اضطراب اختلال (**Separation anxiety disorder**): د دې ډول اضطراب لرونکي کسان د خپلو نږدې کسانو له جلاکېدو څخه وېره لري، ځېنې روانپوهان وایې دا اختلال یوازې په ماشومانو کې دی مګر په لویانو کې هم وي او د هغوی ژوند له ستونزو سره مخ کوي، هغوی فکر کوي چې د جدایي په حالت کې له بدې پېښې سره مخ کېږي، اصلي علامه یې لکه د خوب لېدل.

۷. د خاموشی یا خبرې نه کولو اختلال (**Selective mutism**): دا اختلال هغه مهال رامنځ ته کېږي چې په ځانګړو حالاتو کې شخص د اضطراب په سبب خبرې نه کوي. معمولا دا اختلال د ماشومانو لپاره دی مګر لویان او ځوانان هم اغېزمنوي. ځینې نښانې یې په لاندې ډول دي: اجبار، بداخلاقي، ګوښه والی، شرم او وابستګي.

۸. ځینې نور رواني اختلالات چې د اضطراب ځانګړنې لري: لکه له ټپي کېدو وروسته اختلال (**PTSD**)، د اجبار اختلال (**OCD**) او د شدید استرس اختلال (**Acute stress disorder**)، خو دا ډول

اختلالات د امریکا د رواني‌پوهانو د ټولنې له خوا د اضطراب د اختلالاتو له جملې څخه نه شمېرل کېږي بلکې جلا اختلالات ګڼل کېږي (د امریکا درواني‌پوهانو ټولنه45، ۲۰۱۳، ص. ۲۳۴-۱۸۹).

## د اضطراب درملنه (Treatment)

په اضطراب د مبتلا کس د درملنې له‌پاره لومړی ګام د هغو تشخیص دی، چې آیا کوم بل علت لري او که نه. د ښې او دقیقې درملنې په موخه تشخیص ډېر اړین دی (روغتیا نړیوال سازمان46، ۲۰۰۹، ص. ۳۷- ۴۴؛ ټیستا47 او ملګري، ۲۰۱۳) ډېری وخت دا امکان شته چې د یوې ناروغی په سبب د اضطراب نښانې پټې شي او یا بالعکس او یا هم له کومې ناروغی سره یوځای څرګندې شي (د روغتیا نړیوال سازمان، ۲۰۰۹، ص. ۳۷- ۳۴؛ ټیستا او ملګري، ۲۰۱۳).

شناختي رفتاري درملنه (**CBT**) د اضطرابي اختلالاتو د درملنې له‌پاره غوره طریقه ګڼل کېږي (ستین او سارین48، ۲۰۱۵؛ کویپرز49 او ملګري، ۲۰۱۴؛ اوت50، ۲۰۱۱). د شناختي رفتاري درملنې (**CBT**) تر څنګ رواني درمل هم کارول کېږي، ډېری اضطرابي اختلالاتو ته د لومړی مرحلې درمل ښه نتیجه ورکوي، کوم درمل چې د خپګان ضد درملو په نوم یادېږي هغه دا دي: Selective serotonin reuptake inhibitors (SSRIs**)** او (SNRIs**)** Serotonin-norepinephrine reuptake inhibitors. همدارنګه اضطراب یو جدي رواني اختلال دی، چې د خپرېدو دقیقه اندازه یې نه ده معلومه او ډېری کسان هم د هغو د درملنې غوښتنه نه کوي او حتی ډېری مسلکي اشخاص یې تشخیص له پامه غورځوي (چاند او مروه51، ۲۰۲۲).

د ازموینې د اضطراب کمولو او مدیریت له‌پاره د دې لاندې مېتودونو کارولو هم مثبته پایله ورکړې، چې عبارت دي له:

- په هغه چاپېریال کې مطالعه وکړی، چې ازموینه پکې اخیستل کېږي؛
- په کافي اندازه خوب وکړی؛

45 American Psychiatric Association
46 World Health Organization
47 Testa
48 Stein & Sareen
49 Cuijpers
50 Otte
51 Chand

- په کافي اندازه زده کړې ته وخت ورکړی او مطالعه وکړی؛
- منظم ورزش وکړی؛
- د کافیین لرونکو موادو استعمال کم کړی؛
- د آرامښت تمرینونه تر سره کړی لکه ژور تنفس، عضلي آرامښت او ذهني تمرکز؛
- مثبت فکر وکړی، له ځان او خپلو وړتیاوو څخه مثبت انځور ولری؛
- د رواني مشاور څخه مرسته واخلی (تیري ویدي او ملگري، ۲۰۲۳).

**مناقشه**

له پورته ذکر شویو معلوماتو څخه جوتیږي، چې د ازموینې اضطراب د زده کوونکو پر ذهني، رواني او فزیکي حالاتو باندې ژوره اغېزه کوي، که څه هم په لږه پیمانه اضطراب د انسان د هڅونې او تحرک لپاره اړین دی، مگر کله چې د اضطراب کچه لوړه شي د زده کړې او ژوند بهیر گډوډوي او د تحصیلي پرمختگ مخه نیسي. څېړنې څرگندوي، چې د زده کوونکو لپاره ازموینه د فشار لوی لامل کیږي، چې ډېری وخت د ناسمې ارزونې، غیر معقولو غوښتنو او د وخت د ناسم مدیریت پر بنسټ د اضطراب لامل گرځي.

اضطراب د عاطفي، حرکتي، فزیولوژیکي او شناختي علایمو په څرگندولو سره نه یوازې تحصیلي وړتیاوې تر اغېزې لاندې راولي بلکي، د رواني روغتیا پر بنسټیزو اړخونو هم ژوره اغېزه کوي. همدارنگه اضطراب د ټولنیزو، تعلیمي او فردي ستونزو رامنځ ته کولو سربېره د زده کوونکو د باور، انگېزې او ځان مثبت ارزونې کچه هم ټیټوي.

د اضطراب د غوره مدیریت او درملنې لپاره شناختي رفتاري درملنه **CBT یا** ( Cognitive Behavioral Therapy ) گټوره ثابته شوې، دا درملنه د منفي افکارو د اصلاح له لارې د اضطراب سرچینې له منځه وړي، سربېره پر دې دارو درملنه هم د ځینو شدیدو حالاتو لپاره مؤثره تمامیږي. تر ټولو غوره داده چې د رفتاري او دارو درملنو سره سره د خلکو د عامه پوهاوي کچه لوړه شي او په ښوونیزو ادارو کې د روحي فشارونو د مدیریت لپاره مناسبې تگلارې رامنځ ته شي.

## پايله

د ازمويني اضطراب د يو جدي رواني اختلال په توګه د زده کوونکو د ژوند کيفيت، تحصيلي پرمختګ، رواني روغتيا او ټولنيز فعاليتونه ګواښي، د اضطراب علايم دا څرګندوي، چې اضطراب يو رواني احساس نه، بلکې د مديريت وړ اختلال دی، چې پر وخت بايد تشخيص او تداوي شي. د اضطراب د مديريت او کمولو لپاره د شناختي رفتاري درملنې تر څنګ په شديدو حالاتو کې دارو درملنه هم کارول کېږي، همدارنګه د ازمويني اضطراب د کمولو او مديريت په موخه ځينې تمرينونه او طريقې دي لکه (کافي اندازه خوب، ښه مطالعه او نور)، چې زده کوونکو سره ډېره مرسته کوي. سربېره پردې بايد عامه پوهاى زيات او د فشار واردونکو لاملونو د کنترول او له منځه وړلو لپاره ګټورې لارې غوره شي.

په پاى کې ويلى شو، چې دا موضوع نه يوازې د رواپوهانو، بلکې د ټولو ښوونيزو او کاري بنسټونو لازمې پاملرنې ته اړتيا لري، او د يوې داسې فضا د برابرولو هڅې وشي، چې په هغو کې زده کوونکي د فشار پر ځاى له فرصتونوسالمه ګټه پورته کړي او د سالمې روغتيا تر څنګ سالم پرمختګ هم ولري.

## وړانديزونه

۱. ښوونځي، پوهنتونونه او په ټوله کې ښوونيزې او روزنيزې ادارې زده کوونکو او د زده کوونکو والدينو ته د اضطراب په اړه د عامه پوهاوي سمينارونه ، ورکشاپونه او نورې ګټورې برنامې ترتيب کړي، تر څو په خپله زده کوونکي او د هغوی والدين دازمويني اضطراب له ستونزو څخه خبر شي.
۲. د شناختي رفتاري درملنې په پار د مشاورې ځانګړي مرکزونه رامنځ ته شي، چې زده کوونکي په کې خپلو رواني ستونزو ته حل لارې ومومي.
۳. تعليمي ادارې هڅه وکړې د ازموينو په مېتودونو کې لازم اصلاحات رامنځ کړي او په هغو بديلو لارو کار وکړي، چې په سبب يې زده کوونکي تر ډېر فشار لاندې نه واقع کېږي.
۴. نوموړې څېړنه کتابتوني ده، دا چې و کولى شو د تيوريکو معلوماتو تر څنګ د اضطراب په اړه دقيق معلومات تر لاسه کړو، بايد مىداني څېړنې ترسره شي، تر څو د اضطراب دقيق لاملونه په نښه او د مديريت لپاره يې مناسبې حل لارې و موندل شي.

# Test Anxiety: Effects, Types, Symptoms, and Therapeutic Interventions

Ehsanullah Ehsan, a member of the academic staff at the Faculty of Education.
**Emial:** ehsan.af.1988@gmail.com

**Abstract**

Examinations are one of the most important aspects of the learning process. However, due to stress, anxiety, fear, mental confusion, and memory disorders, they often become a distressing experience for many students. This article discusses test anxiety its symptoms, types, and treatments and is based on a review of library based research. The information was gathered from reputable journals and academic databases. Findings show that test anxiety has a deeply negative impact on students' mental health, concentration, memory, academic performance, emotions, daily functioning, and other areas of life. It is important to note that anxiety comes in various forms, including generalized anxiety, social anxiety, fear-based anxiety, separation anxiety, and more. To manage and control such conditions, Cognitive Behavioral Therapy (CBT) is often used. In severe cases, combining CBT with medication has shown better results. In conclusion, educational institutions are encouraged to organize seminars and workshops under the theme of public awareness about anxiety for both students and their parents. Such initiatives can help raise student morale and strengthen their resilience in the face of challenges.

**Keywords**: anxiety, academic achievement, Cognitive Behavioral Therapy (CBT), mental health, Test anxiety

**اخځلیکونه**

American Psychiatric Association. (2013). *Diagnostic and statistical manual of mental disorders* (5th ed., pp. 189–234). Arlington, VA: American Psychiatric Publishing.

Barker, P. (2003). *Psychiatric and mental health nursing: The craft of caring* (p. 152). London: Edward Arnold. ISBN 978-0-340-81026-2.

Barlow, D. H. (2000). Unraveling the mysteries of anxiety and its disorders from the perspective of emotion theory. *American Psychologist, 55*(11), 1247–1263. https://doi.org/ 10.1037/00 0 3-066 X.55.11.1247

Bhugra, D., Till, A., & Sartorius, N. (2013). What is mental health?. *International Journal of Social Psychiatry*, *59*(1), 3-4.

Bouras, N., & Holt, G. (2007). Psychiatric and behavioral disorders in intellectual and developmental disabilities (2nd ed., p. 189).Cambridge: Cambridge University Press.

Beidel, D. C., & Turner, S. M. (1988, June). Comorbidity of test anxiety and other anxiety disorders in children. *Journal of Abnormal Child Psychology, 16*(3), 275–287. https:// doi. org/ 10.1007/BF00913800

Colangelo, R., & Audet, K. (2020, December 31). Stress in post-secondary: Toward an understanding of test-anxiety, cognitive performance, and brief mindfulness meditation. *Behavioural Sciences Undergraduate Journal*, *3*(1), 31–44. https://doi.org /10 .29173/ bsuj500

Chand, S. P., & Marwaha, R. (2022). *Anxiety*. In StatPearls [Internet]. Treasure Island (FL): StatPearls Publishing. Retrieved August 22, 2025, from https://www.ncbi. Nlm .nih.gov/ books/ NBK 470361/

Coon, D., & Mitterer, J. (2009). Psychology of test anxiety. *Journey of Cengage Learning*, *28*(3), 48-53.

Cuijpers, P., Sijbrandij, M., Koole, S., Huibers, M., Berking, M., & Andersson, G. (2014). Psychological treatment of generalized anxiety disorder: A meta-analysis. *Clinical Psychology Review, 34*(2), 130–140. https://doi.org/10.1016/j.cpr.2014.01.002

Crocq, M. A. (2015). A history of anxiety: from Hippocrates to DSM. *Dialogues in clinical neuroscience*, *17*(3), 319-325.

Davison, G. C. (2008). *Abnormal psychology* (7th ed., p. 154). Toronto: Veronica Visentin.

Dorschel, A. (2012). Furcht und Angst. In D. Goltschnigg (Ed.), *Angst. Lähmender Stillstand und Motor des Fortschritts* (pp. 49–54). Tübingen: Stauffenburg.

Folk, J. (2021, March 27). *Anxiety symptoms – Fear of dying* (M. Folk, Ed.). Anxiety Centre. (Original work published 1987). Retrieved March 3, 2009, from https://www .anxietycentre .co m/anxiety-disorders/symptoms/fear-of-dying/

Heeren, A. (2020). On the distinction between fear and anxiety in a (post)pandemic world: A commentary on Schimmenti et al. (2020). *Clinical Neuropsychiatry, 17*(3), 189–191. https:// doi .org/10.36131/cnfioritieditore20200307

Hill, K.T., & Wigfield, A. (1984). Test anxiety: A major educational problem and what can be done about it. *Elementary School Journal*, 85, 105-126.

Iacovou, S. (2011). What is the difference between existential anxiety and so-called neurotic anxiety? "The sine qua non of true vitality": An examination of the difference between existential anxiety and neurotic anxiety. *Existential Analysis, 22*(2), 356–367.https://go.gale.com/ps/i.do?id=GALE%7CA288874227&it=r&p=HRCA&sid=sitemap&sw=w&v=2.1

Liebert, R. M., & Morris, L. W. (1967, June). Cognitive and emotional components of test anxiety: A distinction and some initial data. *Psychological Reports, 20*(3), 975–978. https://doi. org/ 10.2 4 66/pr0.1967.20.3.975

Miceli, M., & Castelfranchi, C. (2014). *Expectancy and emotion* [eBook edition]. Oxford University Press .

Milfayetty, S., Fadli, R. P., Ifdil, I., Zola, N., Amalianita, B., Putri, Y. E., et al. (2020, September). The effectiveness of multidimensional counseling in the intervention of student anxiety. *Addictive Disorders & Their Treatment, 19*(3), 131–135. https://doi.org/10.1097/ADT.0000000000000187

National Institute of Mental Health. (2023, March 29). *Generalized anxiety disorder*. U.S. Department of Health and Human Services.https://www.nimh.nih.gov/health/publications/generalized-anxiety-

O'Driscoll, D., & McAleese, M. (2023). The protective role of self-compassion on test anxiety among adolescents. *Pastoral Care in Education*, *41*(2), 211-224.

Öhman, A. (2000). Fear and anxiety: Evolutionary, cognitive, and clinical perspectives. In M. Lewis & J. M. Haviland-Jones (Eds.), *Handbook of emotions* (pp. 573–593). New York, NY: The Guilford Press.

Otte, C. (2011). Cognitive behavioral therapy in anxiety disorders: Current state of the evidence. *Dialogues in Clinical Neuroscience*, *13*(4), 413–421.https://doi.org/10.31887/ DCNS .2011.13.4/cotte

Rynn, M. A., & Brawman-Mintzer, O. (2004). Generalized anxiety disorder: Acute and chronic treatment. *CNS Spectrums*, *9*(10), 716–723. https://doi.org/10. 1017/S109 285290 0022367

Rapee, R. M., & Heimberg, R. G. (1997, August). A cognitive-behavioral model of anxiety in social phobia. *Behaviour Research and Therapy*, *35*(8), 741–756. https://doi.org/10. 10 16/S0005-7967(97)00022-3

Safeer, U., & Shah, S. A. (2019). Effect of test anxiety on academic achievement of university students. *Pakistan Journal of Physiology*, *15*(2), 76-79.

Seligman, M. E., Walker, E. F., & Rosenhan, D. L. (2001). *Abnormal psychology* (4th ed., pp. 393–398). W.W. Norton & Company.

Shamsuddin, K., Fadzil, F., Ismail, W. S. W., Shah, S. A., Omar, K., Muhammad, N. A., & Mahadevan, R. (2013). Correlates of depression, anxiety and stress among Malaysian university students. *Asian journal of psychiatry*, *6*(4), 318-323.

Smith, M. (2008, June). *Anxiety attacks and disorders: Guide to the signs, symptoms, and treatment options*. Helpguide. (Archived from the original on March 7, 2009). Retrieved March 3, 2009, fromhttps://www.helpguide.org/articles/anxiety/anxiety-attac ks-and-disorders.htm

Stein, M. B., & Sareen, J. (2015). Clinical practice. Generalized anxiety disorder. *The New England Journal of Medicine*, *373*(21), 2059–2068. https://doi.org/10. 1056/nejmcp 1502 514

Sylvers, P., Lilienfeld, S. O., & LaPrairie, J. L. (2011). Differences between trait fear and trait anxiety: Implications for psychopathology. *Clinical Psychology Review*, *31*(1), 122–137. https://doi.org/10.1016/j.cpr.2010.08.004

Spielberger, C. D., & Vagg, P. R. (1995). *Test anxiety: A transactional process*. In C. D. Spielberger & P. R. Vagg (Eds.), *Test Anxiety: Theory, Assessment, and Treatment* (pp. 3–14). Washington, DC: Taylor & Francis.

Spielberger, C. D. (1985). Assessment of state and trait anxiety: Conceptual and methodological issues. *Southern Psychologist*, *2*(4), 6–16.

Testa, A., Giannuzzi, R., Sollazzo, F., Petrongolo, L., Bernardini, L., & Daini, S. (2013, February). Psychiatric emergencies (part I): Psychiatric disorders causing organic symptoms. *European Review for Medical and Pharmacological Sciences, 17*(Suppl 1), 55–64, 86-99. PMID 23436668. (Archived from the original on February 26, 2021; Retrieved October 26, 2018).

Teigen, K. H. (1994). Yerkes-Dodson: A law for all seasons. *Theory & Psychology*, *4*(4), 525–547. https://doi.org/10.1177/ 09593 54394044003

Thiriveedhi, S. R., Myla, A., Priya, C. V., Vuppuluri, K., Dulipala, P., & Vudathaneni, V. K. P. (2023). *A study on the assessment of anxiety and its effects on students taking the National Eligibility cum Entrance Test for undergraduates (NEET-UG) 2020*. Cureus, 15(8), e44240. https://www.ncbi.nlm.nih.gov/ pmc/articles/PMC10523350/

World Health Organization. (2009). *Pharmacological treatment of mental disorders in primary health care* [PDF] (pp. 37–44). Geneva: Author. https://www.who.int/publications/i/item /9789241547697

Zeidner, M., & Ben-Zur, H. (1990). Individual differences in anxiety, coping, and academic achievement. *Contemporary Educational Psychology, 15*(2), 121–134.

Zoller, U., & Ben-Chain, D. (1990). Gender differences in examination type, test anxiety, and academic achievement in college science: a case study. *Science education*, 74(6), 597-608.

# پکتیا ولایت ته داخلېدونکې ورېځې، د اورښت اندازه او د هغې د لاملونو څېړنه

## ( ۱۹۹۶ - ۲۰۲۵ م )

پوهنمل عصـــمت الله زیار، پوهنیار نظیرگل صـــدیقي او پوهنمل ســـیف الله غروال، شـــیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د تاریخ او جغرافیې څانگه.
**برېښنالیک:** Asmatullah.ziar@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه د اقلیمي بدلونونو د اغېزو پر بنسټ، په ځانگړي ډول د پکتیا ولایت د اورښـتونو د زیاتوالي او کموالي وضعیت ارزوي او هغه عوامل په گوته کوي، چې په نوموړې سیمه کې د اورښتونو د زیاتوالي او کموالي سبب شــوي دي. د اقلیمي بدلون له امله په افغانســتان کې د اورښــتونو کچه بې‌ثباته شــوې ده، چې ځینې ســیمې د شدیدو اورښتونو او ځینې نورې د وچکالۍ سره مخ شوې دي. پکتیا ولایت هم له همدې حالت څخه مستثنا نه دی، چېرته چې کله د زیات اورښــت له کبله ســیلابونه راځي او خلکو ته زیات مالي او ځاني زیانونه اړوي. په همدې تړاو، یاده څېړنه د اسنادي مېتود له مخې تر سره شوې ده. مفاهیم یې له بېلابېلو سندونو راټول شوي او د اورښــت معلومات یې په ورځني ډول د ناسـا رسـمي وېب‌سـایټ څخه ترلاسـه شـوي دي. د معلوماتو تحلیل د (Excel) پروگرام په مرســته تر سره شــوی دی. دا معلومات له(۱۹۹۶/ ۱/ ۱ – ۲۰۲۵/۰۳/ ۲۹) نېټې پورې راټول شـوي دي، چې پکې د پکتیا ولایت د (۱۰۶۸۱) ورځو د اورښـت کچه تحلیل شـوې ده. د یادو ورځو څخه یې (۵۹۹۳) ورځو کې اورښت نشته او پاتې (۴۶۸۸) ورځې یې اورښت لري. تر ټولو زیات اورښت (۲۰۲،۹۷) ملي متره او تر ټولو کم اورښـت یې (۰،۰۱) ملي متره ښودل شـوی دی. پورته رقمونه د پکتیا ولایت په اورښـتونو کې توپیر پـه گوتـه کوي، نوموړي توپیرونه د مونســـوني بادونو د فعالېدو او د ژمي پـه موســـم کې د Western) Disturbances) د کمزوري فعالیت له امله رامنځته شوي دي.

**کلیدي ټکي:** اورښت، پکتیا، د اورښت کچه، د ورېځو حرکت، ورېځې

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

په اوسني عصر کې د اقلیمي بدلونونو اغېزې د نړۍ پر بېلابېلو سیمو د پام وړ دي. دغه بدلونونو د ځمکې د کرې په اقلیمي نظام کې داسې اختلال رامنځته کړی، چې په مستقیم ډول یې د اورښتونو پر کچه او ډولونو اغېز کړی دی. د دغو بدلونونو له امله، په ځینو هېوادونو لکه پاکستان، هند او استرالیا کې د (۴۸) ساعته پرلپسې اورښتونو له کبله سخت سېلابونه رامنځته کېږي، چې د پراخو مالي او ځاني زیانونو لامل ګرځي. له بلې خوا، د لویدیځې اسیا په ځینو هېوادونو کې د وچکالۍ له امله د تودوخي درجه د تېرو پنځوسو کلونو په پرتله لوړه شوې ده. همدارنګه، د اروپا او شمالي امریکا هېوادونه د واورو د زیات اورښت له کبله د ټیټې تودوخې او د ورځنیو چارو د ځنډ تجربه کوي. افغانستان هم له دې اقلیمي بدلونونو څخه خوندي نه دی پاتې شوی؛ په (۲۰۱۴) مېلادي کال کې بغلان ولایت د سختو سېلابونو شاهد و، چې خلکو ته یې خورا زیات مالي او ځاني زیانونه واوښتل. بل لور ته یې ګڼې نورې سیمې د وچکالۍ له امله له اوبو او کرنیزو محصولاتو بې برخې کړي دي. همدا بدلونونه د دې سبب شوي، چې د هېواد په ډېرو برخو کې د اوبو سطحه ښکته شي او د چاپېریال طبیعي نظم ګډوډ شي، په همدې تړاو، دا څېړنه د دې لهپاره اړینه وګڼل شوه، چې د تېرو درېیو لسیزو (۱۹۹۶-۲۰۲۵) په موده کې پکتیا ولایت ته د راتلونکو ورېځو او د اورښت کچه وارزول شي، تر څو له یوې خوا د اقلیم پر بدلونونو رڼا واچول شي او له بلې خوا عامه پوهاوی زیات شي. موجوده څېړنه د اسنادي مېتود له مخې ترسره شوې او د اورښت ډاټا یې د ناسا وېب پاڼې څخه تر لاسه شوېده. ستاسو په لاسونو کې موجوده څېړنه د ورېځو ډولونه او د هغوی د رامنځته کېدونکي مسیرونه مشخصوي، چې د پکتیا ولایت اقلیم لهپاره ارزښتناکه معلومات وړاندې کوي. د دې ترڅنګ دغه مقاله په ګوته کوي، چې په پکتیا ولایت کې د اورښتونو په توپیر کې مونسوني جبهې مهم رول لري.

**د څېړنې موخې**

اصلي موخه: پکتیا ولایت ته راتلونکې ورېځې او له (۱۹۹۶م – ۲۰۲۵ م) مارچ پورې د اورښت اندازه او د هغوی د لاملونو څېړل.

**فرعي موخې**

- **د ورېځو څېړل**
- په پکتیا ولایت کې د اورښت کچه معلومول
- په پکتیا ولایت د زیات او کم اورښت لاملونه په ګوته کول

**د څېړنې پوښتنې**

اصلي پوښتنه: پکتیا ولایت ته کومې وربځې راځي او له(۱۹۹۶م – ۲۰۲۵ م) مارچ پورې د اورښت اندازه څومره ده؟

**فرعي پوښتنې**

- وربځې په څو ډوله دي؟
- په پکتیا ولایت کې د اورښت کچه څومره ده؟
- په پکتیا ولایت د اورښتونو زیاتوالی او کموالی په کومو لاملونو پورې اړه لري؟

**د څېړنې مېتود او تحلیل**

**الف- د موادو راټولولو مېتود:** دغه څېړنه د ګډ مېتود څخه په ګټه اخیستنې ترسره شوې ده، مهم مفاهیم یې له بېلا بېلو کتبي سرچینو څخه تر لاسه شوي دي. یاده لیکنه د نتیجې له مخې کاریدونکې (کاربردی)، د ماهیت له مخې یوه کمي څېړنه ده، د معلوماتو راټولولو له مخې اندازه کېدونکې (پیمایشي) او د تحلیل له مخې موردي څېړنه ګڼل کېږي.

**ب- د موادو د تحلیل مېتود:** د اورښت ډاټا یې له (۱۹۹۶ – ۲۰۲۵ م مارچ) یعنې دېرش کلونو پورې د ناسا (NASA) رسمي سایټ څخه اخیستل شوې ده او وروسته د ایکسېل پروګرام په واسطه تحلیل او تجزیه شوې ده.

**پکتیا ولایت**

د امان الله خان د واکمنۍ څخه وړاندې پکتیا ولایت په کابل پورې تړلی و، د لومړي ځل لپاره یې د نوموړي پاچا د واکمنۍ پر مهال د جنوبي سمت اعلی حکومت په توګه په اداري وېش کې ځای ومونده او په (۱۳۴۱) کال د ولایت په توګه وپېژندل شو(عارض، ۱۳۷۹، ۱۱۳). یاد ولایت د کابل څخه (۱۲۰) کیلومتره لیرې د هېواد په سویل ختیځ کې موقعیت لري، چې شمال لوري ته یې لوګر ولایت، شمال ختیځ لوري ته یې ننګرهار ولایت، ختیځ ته یې خیبر پښتونخوا، سویل ختیځ طرف ته یې خوست ولایت، جنوب لویدیځ ته د پکتیکا ولایت او لویدیځ طرف ته یې غزني ولایت موقعیت لري(ریاست، ۱۳۹۸، ۸).

**وربځې**

په اتموسفېر (فضا) کې د اوبو د ځوړنده کوچنیو څاڅکو او یا د کنګل شویو بلورونو څخه وربځې منځ ته راځي. که چېرته په اتموسفیر کې د اوبو بخارات د ګاز حالت څخه په مایع حالت تبدیل شي؛ نو پدې وخت کې د اوبو ډېرې کوچنۍ ذرې په هوا کې ځوړند شي چې په نتیجه کې وربځې ورڅخه رامنځته کېږي. همدارنګه ویلی شو، چې وربځې د کوچنیو ذرو او یا په فضا کې د کنګل شویو بلورنو څخه عبارت دي، چې

په اتمو سـفیر کې صـورت نیسي. د وریځو د ذکر شـویو کوچنیو ذرو قطر په پېل کې له (۰.۰۲ څخه تر ۰.۰٦) ملي مترو پورې رسیږي، دا کوچنی ذرې یعنې څاڅکي د هوا د صعودي حرکت له امله بېلا بېلو لوړوالي پورې پورته کېدای شي. (سایل، ۱۳۹۸، ۱۸۴). په عمومي ډول وریځې د لمر د وړانګو د اغېزمنې تودوخې د کمښت لامل ګرځي؛ نو په دې اساس ویلی شو، چې د شپې او ورځې تر منځ د لمر وړانګو توپیر په هغه صورت کې چې د وریځو طبقه خورا پنډه وي، له منځه ځي. په نتیجه کې د تودوخي ورځنی ټیټه درجه په لوړېدو او د تودوخي ورځنی لوړه درجه په ټیټېدو پیل کوي. د وریځې په ورځ د تودوخي درجې تر ټولو لوړې او ټیټې درجې تر منځ توپیر د شنه اسمان په پرتله ډېر لږ وي(صافی، ۱۳۹۴، ۴۹).

وریځې د خدای تعالی له لوري داسې نعمت دی، چې د مخلوقاتو د ښېګنې لپاره یې را پورته کوي. د دې په مرسته د اوبو بخارونه لر او بر وړي، چې وروسته په باران، ږلی او واورو بدلیږي. په دې اړه په قران الکریم کې راغلي دي (سوله دوست،۱۳۹۴، ۹۳).

ژباړه: ایا ته نه وینې، چې الله(ج) وریځ ورو ورو خوځوي، بیا د هغې ټوټې سره یو ځای کوي، بیا د هغې په راغونډولو سره یوه درنده وریځ تشـکیلوي، بیا ته وینې چې د هغې له پوښ څخه د باران څاڅکي راڅڅیږي او هغه له اسـمان نه د هغو غرونو ( د غرونو په څیر وریځو) څخه چې په هغه کې هسـک ولاړ دي، ږلی وروي؛ نو چا ته یې چې خوښه شي په هغې سره زیان اړوي او چا ته یې چې خوښه شي له هغې څخه یې ژغوري، د هغې برېښنا سترګي برېښوي. (النور سورت ( ۴۳) آیت). د وریځو وزن په بې ساري ډول زیاتېدلای شي. په عمومي ډول هغه وریځې چې له ځان سره تالنده او برښــنا لري، زیاتې درندې وي. په دې هکله په قران الکریم کې د وریځو د درونډوالي تائېد راغلی دی. ژباړه: هغه دی، چې برېښـــنا د ډار او هیلې په توګه ( د رحمت باران ) تاسې ته دربښي او درندې وریځې را اوچتوي. (د الرعد سورت، ۱۲ ایت).

## د وریځو رامنځته کېدل

وریځې د اوبو د تبخیر څخه منځته راځي، همدارنګه ویلی شو، چې د وریځو په جوړښت کې د سیمې تودوالی او ځای په ځای کېدنه، د ځمکې توپوګرافیکي جوړښــت، د بېلا بېلو جبهو اثر یعنې د سـړې او تودې هوا څپې او د دې ترڅنګ •(convection) رول لري( قیصري، ۱۳۹۵، ۸۱).

•دا پدیده هغه وخت رامنځته کېږي چې ګرم مایع یا ګاز پورته خوځیږي او سوړ یې لاندې راښکته کېږي، چې په پایله کې د تودوخي انتقال منځ ته راځي دېته convection یا د هوا بدلون ویل کېږي.

**د لوړوالي له مخې د ورېځو ډولونه**

د نړیوال اطلس پر اساس چې په (۱۹۵٦) مېلادي کال کې د هوا پېژندنې نړیوال سازمان له خوا ترتیب شوی دی او وروستی نسخه یې په (۲۰۱۷) مېلادي کال د نړۍ د هوا پېژندنې ورځې سره په همغږۍ خپره شوه، ورېځې پکې د بېلا بېلو معیارونو پر اساس طبقه بندي شوې دي. د علمي معیارونو له مخې ورېځې په لاندې طبقو تقسیم شوې دي(نصر آبادي، ۱۳۹۷، ۲۷).

**۱- لوړې ورېځې:** دا ورېځې د ځمکې د کرې په منځنیو عرض البلدونو کې د (٦) کیلومترو په لوړوالي سره رامنځته کېږي. په ذکر شوي لوړوالي کې د رطوبت او سړې هوا له سرچینې څخه د ورېځې واټن له امله د یخ کرستال او سپین رنګ سره تر سترګو کېږي، چې د لمر راختلو او لوېدلو په وخت کې په سور، نارنجي او ژېړو رنګونو کې لیدل کېږي. دا ورېځې په بېلا بېلو ډولونو وېشل شوې دي، چې عبارت دي له:


سیروس ورېځې

**الف- سیروس ورېځې:** سیروس کلمه د پېچ او تاو په مانا کارول کېږي. دا ورېځې د بڼو په څېر او د لمر راختلو ښې هوا پراخې ورېځې دي (نصر-آبادي، ۱۳۹۷، ۲۷). سیروس د نورو ورېځو په پرتله زیاتې وي، کله چې توده هوا د سړې هوا څخه لوړه شي، نو دا ډول ورېځې رامنځته کېږي، چې نرمې، نازکې او د وړو ټوټو په څېر شتون لري (بابی، ۱۳۸۸، ۳۲۵).


سیروستراتوس

**ب- سیروستراتوس:** ستراټو په لاتیني ژبه کې د کمپلې او پوښ په مانا سره استعمالیږي. د یادو ورېځو د ضخامت او ثبات په زیاتوالي سره د باران د اورېدو طمع لېږې نه ده، البته که چېرې د دې ورېځې په تعقیب سره منځنۍ ورېځې شتون ولري، نو باید د اورښت انتظار وشي(نصر-آبادي، ۱۳۹۷، ۲۷). دا نرۍ او نازکې ورېځې دي، چې د پاڼې په بڼه جوړښت لري او تر سترګو کېږي(بابی، ۱۳۸۸، ۳۲۵).

**ج- سیروکومولوس:** دا ورېځې د لوړو ورېځو له جملې دي، چې سپینې ګردې جلا جلا ټوټې یا یو د بل سره تړلې اوږدې د تارونو په بڼه لیدل کېږي. دا ورېځې مختلف رنګونه او څپې لري. باید یادونه وکړم چې کومولوس په لاتیني ژبه کې ټوټې ته ویل کېږي. (نصر-آبادي، ۱۳۹۷، ۲۷). سیروکومولوس ورېځې کرښه کرښه او یا څپرکې څپرکې د کبانو د څټ کرښو په ډول لیدل کېږي(بابی، ۱۳۸۸، ۳۲۵).

**۲- منځنۍ ورېځې:** دا ورېځې د اوبو له ورو ورو څاڅکو څخه جوړې شــوې دي، چې د تودوخې په کمېدو سره پکې د یخ کرســتالونه راڅرګندېږي. التوکومول ورېځې د لږو اوبو د قطرو سره د یو کېلو متر په صــخامت سره لیدل کېږي. دا ورېځې د سېروکومولوس ورېځو سره په درېیو بېلا بېلو برخو کې توپیر لري، چې عبارت دي له: په ټیټه فاصــله کې رامنځته کېدل، د تیاره برخو شــتون درلودل او د ټوټو په ډول جوړښــت ښــودلای شــو. همدارنګه د التوســتراتوس ورېځو سره یې توپیر په ګردۍ او نرۍ ټوټو په لرلو سره ښــودلای شــو. دا ورېځې معمولاً د دوبي په تاوده او مرطوب ســهار کې را څرګندېږي. د دې طبقې ورېځې په دوه بېلا بېلو ډولونو باندې وېشل شوې، چې عبارت له آلتوستراتوس او آلتوکومولوس څخه دي.


آلتوستراتوس ورېځې

**الف- آلتوســتراتوس:** دا د منځنۍ طبقې ورېځې دي، چې لوړوالی یې د (۴۵۰۰ – ۶۰۰۰ )مترو پورې رســېږي. معمولاً ذکر شــوې ورېځې د منې په اخري میاشــت او د ژمي په موســم کې تر ســترګو کېږي (بابی، ۱۳۸۸، ۴۱). آلتوســتراتوس ورېځې د اوبو څاڅکو او د یخ کرســتالونو له مخلوط څخه جوړې شــوې دي، چې ټول آســمان یې پوښــلی وي. د رنګ له مخې یادې ورېځې خړ یا نیلي خړ رنګ لري. د سیوري شتون، خړ رنګ او ټیټ لمر د دې ورېځو د سیروستراتوس له ورېځو سره د توپیر په ډول یادولای شو. کله چې یادو ورېځو لاندینۍ برخه ځمکې ته نږدې شي، نو باران ورڅخه صورت نیسي، چې پدې وخت کې یادې ورځې د نیمبوستراتوس ورېځو په نوم یادیږي. نیمبو ستراتوس د لاتیني ژبې کلمه ده، چې د باران په مانا کارول کېږي(نصر آبادي، ۱۳۹۷، ۲۸).


آلتوکومولوس ورېځې

**ب- آلتوکومولوس:** دا ورېځې د (۴۵۰۰ – ۶۰۰۰ ) مترو په لوړوالي ښــودل شوې دي، چې سپین رنګ لري. د شکل له مخې داسې څرګندېږي لکه د پســونو ملاوې یا د هغوی د ملاوو وړۍ، دا ورېځې د کروي ټوټو (کټلو) په څېر پر یوه سطحه ښکاره کېږي(بابی، ۱۳۸۸، ۴۱).

**۳- ټیټې ورېځې:** دا ورېځې د نورو ورېځو په پرتله ځمکې ته په نږدې فاصله کې شتون لري، چې معمولاً دغه نزدیکت یې له دوه کېلومترو څخه لږ وي. د دې طبقې ورېځې په سړه هوا کې د اوبو له څاڅکو څخه جوړېږي، چې نوموړې ورېځې د نیمبوســتراتوس په نوم یادیږي. ذکر شــوې ورېځې معمولاً تیاره خړ رنګ لرونکې او د اوبو ورېځې دي، چې د دوامداره اورښــت باران یا واورې سره مل وي. په دا ډول ورېځو باندې معمولاً د آلتوستراتوس ورېځو شک کېږي، خو توپیر یې پدې کې دی، چې نیمبوستراتوس

د آلتوستراتوس ورېځو په پرتله تیاره دي، لمر او اسمان د دا ډول ورېځو تر شا نه لیدل کېږي. د دې ورېځو اورښت د باران د تبخیر له وجې په افقي ډول لیدل کېږي. که هوا د اشباع حالت ته ورسیږي او تر شاه يې يوه بله طبقه ورېځ جوړه شي، نو دې وخت کې یاده ورېځ د ستراتوس فرکتوس په نوم یادیږي. د دې طبقې ورېځې په درې بېلا بېلو ډولونو یادولای شو، چې عبارت له، استراتوس، استراتوکومولوس او نیمبواستراتوس څخه دي(نصر آبادي، ۱۳۹۷، ۲۸، ۲۹).


استراتوس ورېځې

**الف- استراتوس:** استراتوس لاتیني لفظ دی، چې د طبقې په معنا کارول کېږي، هغه ورېځې چې طبقه يي جوړښت ولري، استراتوس بلل کېږي(Sallie M. Smith, 2003, 3). ټولې دوړې او خپ چې په لږ لوړوالي کې لیدل کېږي، نوموړې ورېځې ګڼل کېږي او معمولاً د پاڼو په ډول تر سترګو کېږي(بابی، ۱۳۸۸، ۲۹۵).


استراتوکومولوس ورېځې

**ب- استراتو کومولوس:** دا ورېځې په بېلا بېلو شکلونو لیدل کېږي، چې کولای شي، د ټوټو له لارې نیلي اسمان و وینئ. یاده ورېځ له رڼا څخه تیاره خړه ورېځ، د التوکومولوس ورېځو په پرتله ځمکې ته د نږدېوالي په اساس پېژندل کېږي(نصر-آبادي، ۱۳۹۷، ۲۹). دا ورېځې معمولاً سپین رنګ لري، د استوانايي او یا کروي ټوټو په ډول په نظر راځي، چې تر ډېره يې ټول اسمان پټ کړی وي، خو بیا هم په ځېنو ځایونو کې خالي ځایونه لري(بابی، ۱۳۸۸، ۲۹۶).


نیمبو استراتوس ورېځې

**ج- نیمبو استراتوس:** دا ورېځې د لوړوالي له مخې ټیټې ورېځې دي، ډېر پنډوالي او خړ تیاره رنګ لري. نوموړې ورېځې همېشه په ټاکلې بڼه نه وي، د باران په ورځو کې په اوږده تیاره رنګ سره څرګندیږي. معمولاً یادې ورېځې د پسرلي او مني موسمونو کې رامنځته کېږي (بابی، ۱۳۸۸، ۴۹۲).

**۴ – ستبر ورېځې:** دا ډول ورېځو کې د کومولوس او کومولونیمبوس ورېځې حسابیږي.

**الف- کومولوس:** کومولوس ورېځې په اسمان کې د پنبې د توپونو په شکل کې لیدل کېږي. نوموړې ورېځې په مرطوبه هوا کې ځمکې ته تر یو کیلو متر پورې راټیټیږي(نصرــ آبادي، ۱۳۹۷، ۲۹). د کومولوس ورېځو یو لوری تیاره او بل یې سپین وي، په اسمان کې د ګنبدو په ډول تر سترګو کېږي (بابی، ۱۳۸۸، ۴۱۷). د کومولوس ورېځو او اســـتراتوکومولوس ورېځو تر منځ توپیر پـدې کې دی، چې د کومولوس ټوټې له محلول څخه لیدل کېدای شي، مګر اســـتراتوکومولوس له یو بل سره تړل شــوې ټوټو څخه جوړې شــوې دي. همدارنګه کېدای شي چې کومولوس ورېځې په یوه لویه ورېځ بدلې شي، چې ذکر شوې تورې ورېځې د تندر سره لیدل کېږي. نوموړې ورېځې د ځمکې له سطحې څخه له (۶۰۰ مترو پیل – ۱۲ کیلو مترو) لوړوالي پورې رسیږي(نصر آبادي، ۱۳۹۷، ۲۹).


کومولوس ورېځې

**ب- کومولونیمبوس:** دا ورېځې ډېرې پنډې او د ګردیو لویو ټوټو په شـــان وي، د غرونو په ډول لیدل کېږي. نوموړې ورېځې معمولاً د دوبي په شـپو او ورځو کې تر سترګو کېږي(بابی، ۱۳۸۸، ۴۱۷).


کومولونیمبوس

**۵- غیر معمول ورېځې:** کله کله په اســـمان کې داســـې ورېځې لیدل کېږي، چې د پورتـه یـادو ورېځو سره توپیر لري، چې دا ډول ورېځو تـه غیر معمول ورېځې ویـل کېږي، د بېلګې په ډول، د یوه غره له سر څخه د لنډې هوا تېرېدل، چې په نتیجه کې یو ډول ورېځې تشـکیل کړي، یا هغه ورېځې چې د نورو ورېځو په څېر د پورته کېدو لـه املـه رامنځتـه کېږي، د نورو ورېځو لانـدې د ښـــکتـه کېـدو لـه املـه راڅرګندیږي. هغه خلک چې د کرکس غره په شاوخوا کې اوسیږي، دا ډول ورېځې د جیجیګاه پـه نوم یـادوي. البته هغه ورېځې چې د جټ الوتکې لـه تېرېدو څخه وروســـتـه رامنځتـه کېږي، د غیر معمول ورېځو پـه نوم یې یـادولای شو(نصر آبادي، ۱۳۹۷، ۲۹).


جیجیګاه ورېځې

**پکتیا ولایت ته د ورېځو راتلونکې جبهې**

د کال په مختلفو فصـلونو کې افغانسـتان ته د ورېځو څپې را دننه کېږي، چې له امله یې د هېواد بېلا بېلې سیمې تر آغېز لاندې راځي. هغه څپې چې پکتیا ولایت ته رادننه کېږي په لاندې ډول یې ښودلای شو:


**الف- مونسوني څپې :** د مونسوني اقلیم ځانګړتیا دا ده، چې د اوړي سایکلونونه یې د اورښـت سبب کېږي او ورېسـې فصـل یې وچ وي. دهند سـمندر د پاسـه لوړ فشـار (Anticyclones) او منځنۍ اسـیا خصـوصـاً د ترکمنستان د دښتو د پاسه د ټیټ فشار مرکزونه رامنځته کېږي(عارض،۱۳۸۱، ۵۹). پدې اساس د اوړي په موسم

کې د هند بحر ګرمې هوایي کتلې پکتیا ولایت ته داخلیږي(عارض،۲۰۱۲، ۱۳۱). په پکتیا ولایت کې معمولاً د موسمي بادونو فعالیت، د مونسون پای، جغرافیوي موقعیت او د اقلیم کمزوري بدلونونه د لږ اورښت سبب کېږي(Alam, K. , 2018, 4). کله چې پکتیا ولایت د مونسون څپو تر تاثیر لاندې وي، نو له امله یې زیات اورښتونه رامنځته کېږي .(Pant, 2003, 125) د ژمي په پیل کېدو سره سم مونسون بادونه کمزوري کېږي، چې په نتیجه کې یې د ورېځو جوړېدل او اورښتونه کمیږي(Kieran M.R. Hunt, 2025, 50). د هوا فشار د همدغه توپیرونو له امله د هند بحر لمدې څپې زموږ هېواد ته را دننه کېږي، چې په نتیجه کې یې د سپین غره او سلیمان غرونو په لمنو کې د اوري بادونه رامنځته کېږي، چې د چنګاښ میاشتې د لومړۍ نیټې څخه د زمري میاشتې تر لسمې نیټې پورې دوام کوي. دغه راغلې څپې په پکتیاولایت کې د زیاتو اورښتونو سبب کېږي(تنیوال، ۱۳۹۱، ۸۷).

**ب- سړې څپې :** قطبي سړې څپې د ژمي په موسم کې له سایبریا څخه پیل کوي. یادې سړې څپې د شمال او شمال لویدیځ له لوري زموږ هېواد ته داخلیږي، چې په نتیجه کې یې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې سختې واورې وریږي(نورستانی،۱۳۵۰،۱۱۸). سایبریایي سړې جبهې د اقلیم په څرنګوالي کې مهم رول لوبوي، له همدې امله د ژمي په موسم کې د سړو جبهو څخه د پکتیا ولایت تر تاثیر لاندې راځي (عارض، ۲۰۱۲، ۱۳۱). همدارنګه ویلی شو، چې پکتیا ته راغلې څپې د ژمي په موسم کې د واورو د اورښت سبب کېږي(تنیوال، ۱۳۹۱، ۸۸).

**له ۱۹۹۶ میلادي کال څخه د ۲۰۲۵ کال مارچ میاشتې پورې په پکتیا ولایت کې د اورښت کچه موندنې**


(۱) ګنه ګراف




په لومړۍ ګنه ګراف کې د (۱۹۹۶) کال د پکتیا ولایت د اورښتونو کچه لیدل کېږي، چې د یاد کال په اوږدو کې تر ټولو زیات اورښت د آګست میاشت کې رامنځته شوی او اندازه یې (۸۷،۹۹) ملي متره ده. نوموړي اورښتونه د مونسوني بادونه له کبله رامنځته شوي دي. د


دي تر ځنګ تر ټولو لږ اورښت په دسمبر میاشت کې واقع شوی دی، چې کچه یې (۰،۴۲) ملي متره ښودل شوې ده. د (Western Disturbances) کمزوري فعالیت له مله په یاده میاشت کې لږ اورښت رامنځته شوی دی.

(۲) ګڼه ګراف





په دویمه ګڼه ګراف په (۱۹۹۷) م کال کې د پکتیا ولایت د اورښتونو کچه لیدل کېږي، چې تر ټولو زیات یعنې (۴۲،۵۶) ملي متره اورښت د آپریل میاشت کې او د دسپتمبر میاشت کې اورښت نه دی رامنځته شوی دی. نوموړي توپیر د موسمي شرایطو، د لویدیځو اختلالاتو د شدت او مونسوني بادونو د فعال او غیر فعال حالت له مخې رامنځته شوی دی

(۳) ګڼه ګراف





په درېیمه ګڼه ګراف کې لیدل کېږي، چې د (۱۹۹۸) میلادي کال اورښتونه په پکتیا ولایت کې د پام وړ توپیر لري. تر ټولو زیات اورښت د جون میاشت کې رامنځته شوی دی، چې (۵۱،۷۶) ملي متره ده. د دې برعکس تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې رامنځته شوی دی، چې (۱،۷۸) ملي متره دي. موجوده توپیر د مونسوني بادونو د فعالېدو او د ژمي په موسم کې د (Western Disturbances) د کمزوري فعالیت له امله رامنځته شوی دی.

(۴) ګڼه ګراف





په خلورمه ګڼه ګراف کې د (۱۹۹۹) م کال اورښت څرګندیږي، چې د پکتیا ولایت په بېلا بېلو سیمو کې رامنځته شوی دی. په نوموړي کال کې تر ټولو زیات اورښت مارچ میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۲۷،۵۲) ملي متره ده. برعکس د دی تر ټولو لږ اورښت د اکتوبر میاشت کې رامنځته شوی دی، (۰،۰۲) ملي متره ده. همدارنګه په مې میاشت (۰،۲۵) ملي متره، په آپرېل میاشت کې (۰،۳) ملي متره او په د دسمبر میاشت کې (۰،۳٦) ملي متره اورښت رامنځته شوی دی. موجوده توپیر د موسمي بادونو او جوي شرایطو د بدلون له امله رامنځته شوی دی.

(۵) ګڼه ګراف





په پنځمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۰۰) م کال د اورښت کچه لیدل کېږي، چې په هغې کې تر ټول زیات اورښت د سپتمبر میاشتې په بهیر کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې(۵۳،۱٦) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په آپرېل میاشت ښودل شوی دی، چې کچه یې (۰،۸۷) ملي متره ده. موجوده توپیر د جوي شرایطو د بدلون له امله رامنځته شوی دی.

(٦) ګڼه ګراف





(۷) ګڼه ګراف




(۸) ګڼه ګراف


شپږمه ګڼه ګراف په پکتیا ولایت کې د (۲۰۰۱)م کال د اورښت کچه ښیي، تر ټولو زیات اورښت آپریل میاشت کې (۳۴،۶۸) ملي متره دی او د همدې کال تر ټولو کم اورښت په جنوري میاشت کې (۰،۱۱) ملي متره صورت نیولی دی. موجوده توپیر په اقلیمي شرایطو او د هوا د جریانونو له کبله رامنځته شوی دی.

اوومه ګڼه ګراف د (۲۰۰۲) م کال په اوږدو کې په پکتیا ولایت کې د اورښت اندازه راپه ګوته کوي. د دې کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت چې (۴۷،۰۳) ملي متره اندزه لري، د مارچ میاشتې په جریان کې رامنځته شوی دی او د همدې کال تر ټولو کم اورښت په جنوري میاشت کې (۱،۰۲) ملي متره اوریدلی دی. نوموړی توپیر د موسمي بادونو فعالیت او د هوا فشار پورې اړه لري.





اتمه گڼه گراف پکتیا ولایت کې د (۲۰۰۳) م کال د اورښت اندازه ښيي، چې تر ټولو زیات اورښت (۵۰،۷۸) ملي متره د سپتمبر میاشت کې او د همدې کال تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې (۱،٦٧) ملي متره په گوته کوي. د اورښت په کچه کې د شته توپیر عمده لاملونه موسمي بادونه او جغرافیوي موقعیت ښودل شوی دی.

(۹) گڼه گراف





په نهمه گڼه گراف کې د پکتیا ولایت اړونده سیمو د (۲۰۰۴) م میلادي کال اورښت لیدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت په آگست میاشت کې (۹۹،۱٦) ملي متره او کم اورښت په مارچ میاشت کې (۰،۰۱) متره رامنځته شوی دی. په آگست میاشت کې موسمي بادونه زیات شوي دي، چې له امله یې د اورښت اندازه لوړه شوې ده او په نورو میاشتو کې د هوا کمزوري تودوخه او د موسمي بادونو کمزوری فعالیت د لږ اورښت سبب شوی دی.

(۱۰) ګڼه ګراف





لســمه ګڼه ګراف په پکتيا ولايــت کــې د (۲۰۰۵) م کال کې اورښــت شــيي. په نوموړي کــال کې تر ټولو زياته باراني مياشت آګست شــودل شــوي ده، چې د اورښــت کچه يې (۸۷،۸۲) ده او تر ټولو کم اورښت په آکتوبر مياشت کې (۰،۳۸) ملي متره صــورت نيولی دی. نوموړي ولايــت تــه د سويل لوري څخه راغلي مرطوبې هواوې د ډېر اورښت سبب شوې او د مونسوني بادونو پای ته له رسيدو سره د اورښتونو کچه کې د پام وړ کموالی ليدل کېږي.

(۱۱) ګڼه ګراف





په يولســمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۰٦) م کــال اورښــت ليدل کېږي. د نوموړي کال په جريان کــې تــر تــولـو زيــات اورښت په پکتيا ولايت کې آګســت مياشــت کې اوريدلی دی، چې اندازه يې (٦٧،٦٩) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښــت په آکتوبر مياشت کې چې (۹،۷۱) ملي متره کېږي رامنځته شوی دی. د نوموړي کال د اورښت توپير د مونسوني بادونو د فعاليت له امله رامنځته شوی دی.

(۱۲) ګڼه ګراف





دو لسمه ګڼه ګراف پکتیا ولایت کې د اورښت کچه د میاشتني توپیر له مخې ښیي. ګراف کې لیدل کېږي، چې په نوموړي ولایت کې په (۲۰۰۷) زیږدیز کال کې تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې (۱۱۲،۵۸) ملي متره رامنځته شوی دی او تر ټولو کم اورښت د همدې کال د آکتوبر میاشتې په جریان کې (۰،۰۳) ملي متره صورت نیولی دی. د نوموړي کال د اورښت توپیر د مونسون د فعالیت له امله رامنځته شوی دی.

(۱۳) ګڼه ګراف





دیارلسمه ګڼه ګراف په (۲۰۰۸) میلادي کال کې د پکتیا ولایت د اورښت اندازه ښیي. د نوموړي کال په جریان کې په یاده سیمه کې تر ټولو زیات اورښت د آپریل میاشت کې (۸۷،۵۴) ملي متره رامنځته شوی دی او تر ټولو کم اورښت د نومبر میاشت کې (۰،۵۳) ملي متره صورت نیولی دی. د ذکر شوي کال د اورښت توپیر د مونسون د فعالیت له امله رامنځته شوی دی.

(۱۴) گڼه گراف




په څوار لسمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۰۹) م کال اورښت تر سترګو کیږي، چې په پکتیا ولایت کې اوریدلی دی. د یاد کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې (۱۰۳،۹۱) ملي متره او تر ټولو کم اورښت د نوموبر میاشت کې (۷،۸۵) ملي متره رامنځته شوی دی. په مارچ میاشت کې د مونسون ډېر فعالیت له امله ډېر اورښت په نومبر کې د مونسون لږ فعالیت له کبله کم اورښت رامنځته شوی دی.

(۱۵) گڼه گراف




پنځه لسمه ګڼه ګراف په (۲۰۱۰) م کال کې په پکتیا ولایت کې د اورښت اندازه ښیي. د نوموړي کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت د آګست میاشت کې رامنځته شوی دی، چې کچه یې (۲۱۰،۸) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت د همدې کال په دسمبر میاشت کې (٦،۳۲) ملي متره صورت نیولی دی. د اګست میاشتې د ډېر اورښت لامل د سویلي اسیا د مونسون سیستم ډېر فعالیت دی او د دسمبر میاشتې لږ اورښت د مونسون کمزوری فعالیت ښودل شوی دی.

(۱٦) ګنه ګراف




شپاړسمه ګنه ګراف د (۲۰۱۱) م کال په جریان کې د پکتیا ولایت د اورښت اندازه په ګوته کوي. په نوموړي سیمه کې د یاد کال په اوږدو کې تر ټولو زیات اورښت په آګست میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۱۴۱،۸٦) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې (۰،۱۲) ملي متره ښودل شوی دی.


(۱۷) ګنه ګراف




اووه لسمه ګنه ګراف د (۲۰۱۲) م کال په اوږدو کې پکتیا ولایت کې د رامنځته شوي اورښت اندازه ښيي. د نوموړي کال په اوږدو کې تر ټولو ډېر اورښت په آپریل میاشت کې (۱۹۷،۵٦) ملي متره او تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې (۲۲،۵۳) ملي متره ښودل شوی دی. نوموړی توپیر د موسمي بادونو فعالیت او د هوا فشار پورې اړه لري.


(۱۸) ګنه ګراف

په اته لسمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۱۳) م کال په اوږدو کې پکتیا ولایت کې د اورښت د توپیر کچه د میاشتي له مخې لیدل کېږي. د نوموړي کال په جریان کې په یاده سیمه کې تر ټولو زیات اورښت په آپریل میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۲۲۰،۵) ملي متره ښودل شوې ده او تر ټولو کم اورښت په می میاشت کې رامنځته شوی دی، چې کچه یې (۰،۸۱) ملي متره ده. مونسوني فعالیت د نوموړي کال په اورښتونو باندې مستقیم تاثیر کړی دی، چې له امله یې ډېرې میاشتو کې کم اورښت لیدل کېږي.





(۱۹) ګڼه ګراف

نولسمه ګڼه ګراف پکتیا ولایت کې د (۲۰۱۴) م کال په اوږدو کې د اورښت کچه په ګوته کوي. نوموړی ګراف ښيي، چې د یاد کال په بهیر کې تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې صورت نیولی دی، چې کچه یې (۱۸۰،۸۸) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې رامنځته شوی دی، چې د اورښت کچه یې (۰،۱۵) ملي متره ښودل شوې ده. د سویلي آسیا مونسوني څپو د نوموړي کال په اورښت باندې مستقیم تاثیر کړی دی، چې له امله یې د اورښت تر منځ توپیر لیدل کېږي.




(۲۰) گڼه گراف





په شلمه گڼه گراف کې د (۲۰۱۵) م کال اورښت لیدل کېږي. د نوموړي کال په اوږدو کې پکتیا ولایت کې تر ټولو زیات اورښت د مارچ میاشت کې اورېدلی دی، چې اندازه یې (۱۴۷،۴۸) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې اورېدلی دی، چې کچه یې (۲۴،۴۵) ملي متره ده. مارچ کې د (Western Disturbances)، د هوا تودوخه د زیات اورښت سبب شوې ده او په دسمبر میاشت کې موسمي کمزوري خپې د کم اورښت سبب شوې دي.

(۲۱) گڼه گراف





په یو ویشتمه گڼه گراف کې په (۲۰۱٦) م کال کې د پکتیا ولایت د اورښت اندازه د میاشتني توپیر له مخې لیدل کېږي. د ذکر شوي کال تر ټولو زیات اورښت په جون میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۲۴۸،۳) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په نومبر میاشت کې صورت نیولی دی، چې کچه یې (۰،۲۵) ملي متره ده. د اورښت د توپیر عمده عامل یې مونسوني خپې ښودلای شو.

(۲۲) ګڼه ګراف




دوه ویشتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۱۷) زیږدیز کال اورښت لیدل کېږي، چې په پکتیا ولایت کې یې صورت نیولی دی. د یاد کال په جریان کې په نوموړي ولایت کې تر ټولو زیات اورښت په جنوري میاشت کې رامنځته شوی دی، چې کچه یې (۱۲۹،۲۸) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په همدې موده کې په آکتوبر میاشت کې اوریدلی دی، چې اندازه یې (۱،۴۵) ملي متره ده. د جنوري میاشتې زیات اورښت د موسمي څپو او (Western Disturbances) او د هوا فشار د توپیرونو له امله رامنځته شوی دی او په ورته وخت کې د اکتوبر میاشتې کم اورښت د موسمي څپو کمزوري فعالیت او جغرافیوي موقعیت له امله صورت نیولی دی.


(۲۳) ګڼه ګراف




درویشتمه ګڼه ګراف په پکتیا ولایت کې د (۲۰۱۸) م کال په اوږدو کې اورښت ښیي. په یاد ولایت کې د نوموړي کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت په فبروري میاشت کې (٦٨،٨٢) او تر ټولو کم اورښت د همدې کال په جنوري میاشت کې (۳،۳۱) ملي مترو ته رسیږي. د فبروري د ډېر اورښت لامل موسمي څپې او جوي اختلالات ښودلای شو، بر عکس د جنوري میاشتې کم اورښت عامل موسمي کمزوري


ځپې او جغرافیوي موقعیت په ګوته شوی دی.

(۲۴) ګڼه ګراف





په څلور ویشتمه ګڼه ګراف کې په پکتیا ولایت کې د (۲۰۱۹) م کال په اوږدو کې اورښت لیدل کېږي، چې تر ټولو زیات اورښت په مې میاشت کې اوریدلی دی، چې د اورښت اندازه یې (۱۷۵،۳۹) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په سپتمبر میاشت کې (۲،۹۴) ملي متره صورت نیولی دی. موسمي ځپې او د جوي اختلالاتو فعالیت د مې میاشتې د زیات اورښت سبب شوی دی او په سپتمبر میاشت کې موسمي کمزورې ځپې د لږ اورښت لامل شوې دي.

(۲۵) ګڼه ګراف




په پنځه ویشتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۲۰) م کال اورښت ښیي، چې په پکتیا ولایت کې رامنځته شوی دی. په یاد موده کې تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې (۳۴۲،۱۷) ملي متره او تر ټولو کم اورښت د همدې کال په جون میاشت کې (۱۰،۵٦) ملي متره ښودل شوی دی. موسمي ځپې او د جوي اختلالاتو زیات فعالیت د مارچ میاشتې د ډېر اورښت سبب شوی دی او د جون میاشتې د لږ اورښت عوامل کمزورې موسمي ځپې او جغرافیوي موقعیت په ګوته شوی دی.


(۲٦) ګڼه ګراف




په شپږ ویشتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۲۱) م کال اورښــت ښــیي، چې پکتیا ولایت کې رامنځته شــوی دی. د نوموړي کال په بهیر کې تر ټولو زیات اورښــت په ســپتمبر میاشــت کې (۲۸۲،۹۵) ملي متره او تر ټولو کم اورښــت په جنوري میاشت کې (۰،۲۳) ملي متره صورت نیولی دی.


د سپتمبر میاشتې زیات اورښت د موسمي څپو له امله صورت نیولی دی او د جنوري میاشتې کم اورښت د هوا د ټیټې تودوخې او لویدیځو کمزورو څپو له امله رامنځته شوی دی.

(۲۷) ګڼه ګراف




په اووه ویشــتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۲۲) م کال د پکتیا ولایت د اورښت کچه ښودل شــوې ده. د نوموړي کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت په مې میاشــت کې رامنځته شــوی دی، چــې انــدازه یــې (۲۳۷،۲۳) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت په آکتوبر میاشت کې صورت نیولی دی، چې د اورښت کچه یې (۲،۹۵) ملي متره ښــودل شــوې ده. د مې میاشــتې اورښــت د موســمي بادونو او جوي اختلالاتو د زیاتوالي په صــورت کې رامنځته شــوی دی او د آکتوبر میاشــتې کم اورښــت د موســمي څپو د کمزوري فعالیت له امله صورت نیولی دی.


(۲۸) ګڼه ګراف




په اته ویشتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۲۳) م کال کې د پکتیا ولایت کې د اورښت کچه ښودل شوې ده. د نوموړي کال په بهیر کې تر ټولو زیات اورښت په مارچ میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۱۲۹،۲۹) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښت دسمبر میاشت کې اوریدلی دی، چې کچه یې (۰،۱۵) ملي متره ښودل شوې ده.

د نوموړي کال په جریان کې موسمي څپې د زیات اورښت سبب شوي دي او د هوا د ټیټې تودوخې او د جوي سیستمونو کمزوری فعالیت د کم اورښت سبب ګرځیدلی دی.

(۲۹) ګڼه ګراف




په نهه ویشتمه ګڼه ګراف کې د (۲۰۲۴) م کال اورښت لیدل کېږي، چې په پکتیا ولایت کې یې صورت نیولی دی. د نوموړي کال په جریان کې تر ټولو زیات اورښت د همدې کال په آپریل میاشت کې (۱۴۲،۳۴) ملي متره او تر ټولو کم اورښت په دسمبر میاشت کې (۰،۴۳) ملي متره ښودل شوی دی. د آپریل میاشتې زیات اورښت په موسمي څپو پورې اړه لري او د دسمبر میاشتې کم اورښت د هوا ټیټې تودوخې او جوی سیستمونو کمزوري فعالیت له مله و.

(۳۰) ګڼه ګراف

په دېرشــمه ګڼه ګراف کې په (۲۰۲۵) م کال کې د پکتیا ولایت د لومړیو درې میاشــتو اورښــت لیدل کېږي. په دغه درې میاشتو کې تر ټولو ډېر اورښت په مارچ میاشت کې رامنځته شوی دی، چې اندازه یې (۵۸،۵۴) ملي متره ده او تر ټولو کم اورښـــت په جنوري میاشت کې صورت نیولی دی، چې د اورښت کچه یې (٦،۷) ملي متره ښــودل شــوې ده. په مارچ میاشــت کې زیاتې موسمي څپې د ډېر اورښت شبب شوې دي او په جنوري میاشت کې د هوا ټیټه تودوخه د لږ اورښت سبب شوې ده.




**پایله (نتیجه)**

وربځې په فضـــا کې د کنګل شـــویو بلورونو او کوچنیو ذرو له تعامل څخه منځ ته راځي، چې د باد په مرسته له یوې سیمې څخه بلې ته انتقالیږي. د قرآن کریم د "النور" ســـورت (۴۳) آیت ته په کتو، چې الله (ج) د وربځو د حرکت، ټوټه کېدو، یو ځای کېدو او د باران د راښکته کېدو پروسه بیانوي، څرګنده ده، چې وربځې د طبیعي قوانینو پر بنســټ، د بادونو او اقلیمي فشـــارونو له لارې د ځمکې پر ســطحه حرکت کوي او اورښـــتونه رامنځته کوي. پکتیا ولایت ته وربځې د بېلابېلو موســمونو پر مهال له جلا جلا ســیمو څخه داخلېږي. د اوړي په موســم کې، د هند د بحر لمدې هوایي څپې د جنوبي لوري څخه پکتیا ته راځي او د باران ســبب ګرځي. برعکس، د ژمي په موسـم کې، د سایبریا له سیمې سړې هوایي څپې د شـمال او شمال‌لویدیځ لوري څخه افغانستان او بیا پکتیا ولایت ته را داخلیږي، چې د سختو واورو لامل کېږي. وربځې د علمي معیارونو له مخې په پنځه بېلابېلو ډولونو وېشـل کېږي: لوړې، منځنۍ، ټیټې، ســتبرې او غیر معمولي وربځې. د څېړنې موندنې ښــیي، چې د ۱۹۹٦م کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه تر ۲۰۲۵م کال د مارچ تر ۲۹ نېټې پورې په پکتیا ولایت کې ډېرې ورځې اورښــت نه لري او په لږو ورځو کې یې په بېلا بېلا اندازو سره اورښـــت صـــورت نیولی دي. د ورځنۍ اورښـــت تر ټولو کمه کچه (۰.۰۱) ملي متره او تر ټولو زیاته کچه (۲۰۲،۹۷ ) ملي متره ثبت شـوې ده. همداراز، د میاشـتني اورښـت تر ټولو زیات مقدار (۳۴۲،۱۷)ملي متره د ۲۰۲۰م کال په مارچ میاشت کې او تر ټولو کم (۰.۰۱) ملي متره د ۲۰۰۴م کال په همدې میاشت کې ثبت شوی دی. د کلني اورښت له مخې، تر ټولو زیات اورښـــت په ۲۰۲۰م کال کې (۱۱٦۷.۵۲) ملي متره او تر ټولو کم اورښـــت په ۱۹۹۹م کال کې (۹۹.۳٦) ملي متره ثبت شـوی دی. د اورښـتونو موجوده توپیر د موســمي بادونو (Monsoon Winds) او د لویدیځې اختلالي جبهې (Western Disturbances)* د فعالیت له امله رامنځته شوی دی. موجوده څېړنه په واضحه توګه ښیي چې اقلیمي بدلونونه د اورښـــت پر کچه مســتقیم اغېز لري. همدارنګه ویلی شــو، چې دا ډول تحلیلي مطالعې د اقلیمي پوهاوي، کرنې او طبیعي افتونو د مدیریت لپاره بنسټیز ارزښت لري.

*لویدیځې اختلالي جبهې (Western Disturbances) هغه سړې جبهې دي، چې د مدیترانې، ختیځې اروپا او مرکزي آسیا څخه افغانستان ته راځي.

# The Study of Clouds Entering Paktia Province, the Amount of Precipitation and Its Causes (1996–2025 AD)

Senior Teaching Assistant Asmatullah ziar[1],T. Assit Nazir Gul sidiqi[2] & Senior Teaching Assistant Saifullah Gharwal[3], Shikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.

**Abstract**

This study examines precipitation variability in Paktiyā Province, Afghanistan, within the broader context of climate change. Specifically, it evaluates patterns of increase and decrease in rainfall and identifies the principal factors responsible for these fluctuations. Climate change has rendered precipitation levels across Afghanistan unstable, exposing some regions to intense rainfall and others to drought. Paktiyā Province is similarly affected; heavy rainfall events occasionally result in floods that inflict substantial human and material losses.

The research employed a documentary (desk-based) methodology. Conceptual information was compiled from multiple documentary sources, while daily precipitation data were retrieved from NASA's official website. Data analysis was performed using Microsoft Excel. The dataset spans the period from 1 January 1996 to 29 March 2025 and encompasses 10,681 daily precipitation observations for Paktiyā Province. Of these, 5,993 days recorded no precipitation, whereas 4,688 days registered rainfall. Maximum daily precipitation reached 202.97 mm, with a minimum recorded value of 0.01 mm.

The results highlight marked variability in rainfall across the study area. This variability is attributed to the activation of monsoon winds and the weakened activity of Western Disturbances during the winter season.

**Keywords:** Precipitation, Paktia, Precipitation rate, Cloud movement, Clouds

## سرچينې


۱. قران الكريم
۲. بابی، عبدالحمید. (۱۳۸۸). جغرافيايي سيند. کندهار: د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رياست.
۳. تنیوال، محمد ظریف.(۱۳۹۱) د افغانستان عمومي جغرافيه.جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.
۴. د پکتیا ولایت د اقتصاد ریاست. (۱۳۹۸).د پکتیا ولایت پروفایل. د افغانستان اسلامي جمهوریت اقتصاد وزارت.
۵. ریاست، ا.(۱۳۹۸). د پکتیا ولایت پروفایب ( اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ته يوه کتنه). اقتصاد وزارت.
٦. سایل، عزت الله. (۱۳۹۸). اقليم پوهنه. ننګرهار: ګودر کتاب پلورنځی.
۷. سوله دوست، محمد اسحاق رازقي.( ۱۳۹۴). طبعي علوم او ننني ژوند د قرآن په رڼا کې.جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.
۸. صافی، عبدالغیاث.(۱۳۹۴). د متیورولوژي مبادي.کابل: انتشار سعید.
۹. عارض، غ، ج.(۱۳۷۹). د افغانستان د ولایتونو جغرافیه. داريک ګرځنده کتابتونونو اداره.
۱۰. عارض، غلام جيلاني.(۲۰۱۲). جغرافيای طبيعی، افغانستان. بنگاه انتشارات ميوند ( بام ).
۱۱. عارض،غلام جيلاني.(۱۳۸۱). د افغانستان اقليم او د ژوند چاپېريال. د اريک ګرځنده کتابتونونو اداره.
۱۲. قیصري، مهدي. (۱۳۹۵). هوا او اقليم شناسي. دانشگاه صنعتی اصفهان، دانشکده کشاورزی.
۱۳. نصرـآبادی، اسـماعیل. (۱۳۹۷).اهمیت شـناخت ابرها و نقش آن در علم جغرافیا. مدرس پردیس شهید بهشتی مشهد.
١٤. نورستاني، محمد اکبر شورماچ.(۱۳۵۰). جغرافيای عمومی افغانستان. محل چاپ: مطبعه معارف.
15. Alam, K. (2018). Monsoon and its effects on South Asia. Climate Science Journal, 12(4), 23-40.
16. Kieran M. R. Hunt, J.-P. B. (2025). Western disturbances and climate variability: a review of recent developments. *Waether and Climate Dynamics*, 70. doi:https://doi.org/10.5194/wcd-6-43-2025.
17. Pant, G. (2003). Long- Term Climate variability and change over monsiin Asia. *J.Ind. Geography. Union, 7*, 10. Retrieved from www.tropmet_res.in.

# په برېښنايي بازار موندنه کې د منځګړي رول

پوهنمل شرف الدين شرف، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداره او تجارت څانګې استاد.
برېښنالیک: sharafdin.sharaf@yahoo.com

## لنډیز

بریښنایي بازارموندنه چې بریښنایي خرڅلاو، ویب سایټي خرڅلاو او پرلیکه یا (Online) بازارموندنه هم ورته ویل کېږي؛ د انټرنیټ په مرسته د توکو او خدماتو وړاندې کولو او پیرلو ته وایي. مهمه دا ده چې پوه شو پهننۍ نوې نړۍ کې بې له بازارموندنې اقتصـــادي فعالیت ته پرمختګ ورکولی شـــو که نه؟ او بیا مهمه دا چې بازارموندنه یوازې تبلیغات نه دي، بازارموندنه؛ مناسب بازار ته د مناسب محصول یا مناسب خدمت وړاندې کول دي. چې زموږ د څېړنې هدف هم په انټرنیټي بازارموندنه کې د منځګړي رول پېژندنه ده، چې انټرنیټي خرڅلاو د Shopping Cart په نوم د یو عملیاتي سیستم پر مټ ترسره کېږي، چې پیرودونکي کولای شي د خپلې اړتیا وړ توکي په انلاین ډول د دغه سیستم (Shopping Cart) په واسطه ترلاسه کړي.په تېر دوو لسیزو کې، بریښنایي بازار موندنه د سوداګرۍ یوه بنسټیزه برخه ګرځېدلې ده. د دې چټک پرمختګ سره، د منځګړو رول هم زیات اهمیت موندلی دی. منځګړي چې د پلورونکو او خریدارانو تر منځ د اړیکو د رامنځته کولو او مدیریت مسؤلیت لري، د برښـنایي بازار موندنې په دې نوې نړۍ کې حیاتي نقش لري، پدې مقاله کې د کیفي څېړنې له مېتود څخه ګټه اخستل شوې، چې د دویم لاس معلوماتو په اساس ترسره شوې ده. د برښـنایي بازار موندنې په برخه کې منځګړي د سـوداګرۍ پراختیا، د مصرف کوونکو او تولیدونکو ترمنځ اړیکو ټینګولو او د بازار په پوهیدو کې مهم رول لري. د هغوی شـتون نه یوازې د سـوداګرۍ پروسـه اسـانه کوي، بلکې د اعتماد، تخنیکي ملاتړاودقیقو معلوماتو لـه لارې د بـازار د اړتیـاوو سره سـمون هم رامنځته کوي. د دې لـه‌پـاره چې سوداګرۍ په انټرنیټ کې بریالۍ وي، د منځګړو رول ته ځانګړې پاملرنه اړینه ده.

**کلیدي ټکي**: انټرنیټي خرڅلاو، بازار څېړنه، بریښنایي بازارموندنه، د اړیکو مدیریت ، منځګړی.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

د بازارموندنې د مفهوم سمه پېژندنه یو ګټور ګام دی، هغه مفهوم چې کېدای شي له علم او هنر نه يې ترکیب شوی وبولو، چې د اوسني عصرـ نویو تحولاتو او پرمختګونو ته په کتو سره د یوه سازمان د بقا او پایښت لومړنی ضامن دی. باید په دې پوه شو، چې د بازارموندنې ډېر انعطاف منونکی مفهوم له سازمان سره دا مرسته کوي، چې له هرې زمانې او هر ډول بدلونونو سره په ښه توګه مبارزه وکړای شي. په اوسني عصرـ کې هم باید دې ته پام وشي، چې بازارموندنه د سازمانونو د پایښت او بقا لهپاره څه ډول لاره پرانیزي .نن ورځ، چې پېرودونکي په سازمان کې لومړنی خبره کوي او ټول سازمانونه د خپلو رقیبانو پر وړاندې د هغوی د ساتنې او جذب په هڅه کې دي، له دې ستونزې سره مخ کېږي، چې پېرودونکي ډېر توانمند، ځیرک او په اسانی نه پیدا کېدونکي دي او دا په داسې حال کې ده، چې د دوی د جذب لهپاره د سیالو سازمانونو تر منځ رقابت یو ستونزمن کار دی. اوس باید پوه شو، چې د دې ستونزې د حل لهپاره په اوسنی زمانه کې د بازارموندنې په کومه لاره فکر وشي . په نتیجه ګیری کې باید دغه پوښتونو ته ځوابونه وویل شي . بریښنايي بازارموندنه څه شی ده ؟ څنګه کولای شو دانټرنیټ له لارې خریداري وکړو ؟ د بریښنايي بازارموندنې ګټې او زیانونه کوم دي؟ د یوې تولیدي فابریکې تصدي باید په لومړي قدم کې د بازار په اړه یو درک ولري، چې ایا د دوی تولیدي توکیپه بازار کې پېرودونکي لري که نه؟ په یو ویشتمه پیړۍ کې د بریښنايي بازارموندنې ترویج یو نوی صنعتي انقلاب او اوښتون شمېرل کېږي او د بازارونو د نړیوالتوب له امله دا بهیر لا پرمختګ کوي چې په راتلونکي کې به انټرنیټ په یو مهم سوداګریز چېنل بدل کړي . په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې د ۲۴۰ ملیارده ډالرو په کچه سوداګریزې راکړې ورکړې د انټرنیټ له لارې تر سره شوي، له هغه وروسته دغه کچې هر کال زیاتوالی کړی او لا هم کال تر بله په دغه کچه کې زیاتوالی راځي. نن سبا هر هغه څه چې مونږ يې بریښنايي بازارموندنه ګڼو، په دې برخه کې د هغه تجربو ټولګه ده چې په وروستیو څو کلونو کې تر لاسه شوي .انټرنیټ د بلې هرې نښلوونکي وسیلې په پرتله چټک پرمختګ کړی او ممکن نړیوالو بازارونو ته د ارتباط د بلې هر یوې وسیلې په پرتله لوی بدلون ورکړي. موږ په یوه داسې دور کې ژوند کوو چې بازارموندنه د نوو او نوښتګرانه طریقو له لارې ترسره کېږي. بریښنايي بازارموندنه د سوداګرۍ په نړۍ کې یو مهم او اړین اړخ دی چې د پلورونکو، خریدارانو او منځګړو ترمنځ د اړیکو په رامنځته کولو کې مهمه ونډه لري. په دې پروسه کې، منځګړي د پلورونکو او خریدارانو ترمنځ د اړیکو د ټینګښت، د محصولاتو او خدماتو د وړاندې کولواود بازار اړتیاوو د درک کولو په برخه کې حیاتي رول لوبوي.

منځګړي نه يوازې د معلوماتو تبادله کوي، بلکې د خريدارانو په غوښـــتنو پوهيدو او د پلورونکو په اړتياوو کې هم مرســـته کوي. د دوی دنده د بازار څېړنه، د محتوا مديريت او د پلور هڅونه ده، چې دا ټول د ســـوداګرۍ د ودې لهپاره ضروري دي. په دې مقاله کې، موږ به د برښـــنايي بازارموندنې په برخه کې د منځګړو د رول په اړه تفصـــيلي بحث وکړو، د هغوی دنده، د بازار موندنې ســـتراتيژۍاود مشـــتريانو د رضـــايت لوړولو لهپاره د دوی اهميت تـه بـه ځانګړې پاملرنه وکړو. هـدف دا دی چې وښـــيو چې څنګه منځګړي کولی شي د برښـــنايي بازارموندنې په پروسه کې د پلورونکو او خريدارانو ترمنځ د اړيکو د ښه کولو او د بازار د وده کولو لهپاره مرسته وکړي.

## د څېړنې موخې

۱. د بريښنايي بازارموندنې پېژندنه، ۲. په بريښنايي بازارموندنه کې د منځګړي رول مشخص کول

## د څېړنې ميتودولوژي

په دې مقاله کې د کيفي څېړنې له مېتود څخه ګټه اخستل شوې، چې د دويم لاس معلوماتو په اساس ترسره شوې ده، دغه معلومات د مختلفو معتبرو کتابونو او مجالو څخه راټول شوي دي چې دغه کيفي څېړنه د (Document analysis) باندې بناء ده په کوم کې چې مختلف منابع کارول کېږي، لکه : چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه، د ادارو پاليسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه؛ ترڅو مربوطه مالومات د څېړنې لهپاره تيار کړي.

د بريښنايي بازارموندنې مفهوم او پېژندنه: بريښنايي بازارموندنه چې بريښنايي خرڅلاو، ويب سايټي خرڅلاو او پرليکه يا (Online) بازارموندنه هم ورته ويل کېږي؛ د انټرنيټ په مرسته د توکو او خدماتو وړاندې کولو او پيرلو ته وايي. د بريښنايي بازارموندنې ساحه ډېره پراخه ده؛ ځکه په دې کې نه يوازې د انټرنيټ له لارې د توکو او خدمتونو پلور کېږي، بلکې د بريښنا ليک او نورو بريښنايي لارو د سوداګريزو فعاليتونو ترسره کول هم پکې رانغاړل کېږي.

د پيرودونکو د معلوماتو (Data) مديريت او ورسره بريښـنايي اړيکې هم د بريښـنايي بازارموندنې په ساحه کې راځي، بريښـــنايي بازارمونـدنـه، د انټرنيـټ فني او خلاقيتي ځانګړنې سره تړي ، چې پلان (طراحي) پرختيا ، تبليعات او خرڅلاو پکې شـــامل دي. د انټرنيټ منځ ته راتګ تقريباً هر چاته دا شـــوني کړه، چې په کمپيوټر، مبايل يا نورو وسايلو کې يوازې څو کليکونه وکړي او خپل محصول يا خدماتو ته پيرودونکي پيداکړي.

بريښنايي بازارموندنه په اصل کې د څو کلونو پخوانۍ روايتي بازارموندنې ادامه ده. د انټرنیټ له لارې خرڅلاو کېدای شي ټولو لويو او وړو کاروبارونو ته ګټور وي، يوازې هغه ټکي بايد په پام کې ونيول شي چې د بريښنايي بازارموندنې اصلي هسته جوړوي. د هدف بازار Target Market څېړل، د بريښنايي بازارموندنې اصلي او مهمه برخه ده، مهمه نده چې څومره خلک په پير او پلور کې لګيا دي، بلکې مهمه دا ده چې خلک کوم شيان نه خوښوي هرڅوک چې بريښنايي کاروبار سره شوق لري، تر هرڅه لومړی ورته څېړنه اړينه ده. دې څېړنې ته د هدف بازار وايي، چې وپوهېږي خلک داسې څه پلوري چې ټول پيرودونکي ورپسې دي او ترې پيري يې. په بازارموندنه کې د برياليتوب اصلي قلعي څېړنه او هدفمندي ده، له دې پرته په بازارموندنه کې هره کړنه بې ګټې او ناکامه ده. پخواني بازارموندونکي اړ وو، چې له پيرودونکو سره د اړيکو لپاره په عامو ځايونو، لويو دوکانونو، ميلو او منډيانو تکيه وکړي؛ خو ددې ټولو شيانو عصري ځای ناستی ويب سايټ دی. لکه څنګه چې يو دوکاندار غواړي د پيرودونکو لپاره خپل دوکان په مناسب ځای او زړه راښکونکي بڼه جوړوي، په همدې توګه بايد ويب سايټ هم مسلکي او زړه راښکونکی وي. په يوه ښه ويب سايټ کې بايد پيرودونکو ته د هغوی د اړتيا وړ، مناسب او نوي معلومات وړاندې شي، څو پيرودونکي وکولای شي، له دې لارې د توکي په اړه خپل وړانديز ورکړي، د خپلې خوښې وړ توکي ترلاسه کړي او پيسې ورکړي.

بريښنايي بازارموندنه هم د نورو کاروبارونو په شان په پيرودونکو او هغوی سره په معاملاتو ولاړه ده. خپل ويب سايټ ته د ډېرو کتونکو رابلل په بريښنايي بازارموندنه کې د بريا قلعي ده . د سايټ هجوم (ترافيک) د بريښنايي بازارموندنې د ملا تير دی او ددې موخې ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې لارې چارې موجودې دي.

له انټرنيټ څخه د ګټې ترلاسه کولو لپاره ترټولو ښه اقدام په دې پوهيدل دي، چې څه وپلورم، ويب سايټ ورته جوړ کړم او کتونکي ورته راوبلم( قلي زاده،۱۳۹۷،ص. ۹).

بريښنايي بازارموندنه عبارت له هغه پروسې څخه ده چې اداره د پيريدونکو غوښتنې او ضروريات د انټرنيټ په واسطه مشخص او په ګوته کوي او دغه غوښتنې او ضروريات کمپني يا اداره پيريدونکو ته پوره کوي.

هرې توليدي يا خدماتي ادارې ته د بازارموندنې اړتيا شته څو خپلو توليداتو او خدماتو ته پيريدونکي پيدا کړای شي او خپل کاروبار ته پراختيا ورکړي. په اوسني وخت کې تجارتي ادارې له يو بل سره ډېرې رقابتي اړيکې لري هره تجارتي اداره کوشش کوي چې خپلو پيريدونکو ته معياري توليدات او خدمات وړاندې کړي . خو ادارې به د دغو پيريدونکو توجه څنګه خپلو توليداتو او خدماتو ته راجذب کوي؟ په لومړی قدم کې اداره کوشش کوي چې خپل پيريدونکي د توليداتو او خدماتو څخه خبر کړي چې دغه خبرول يوازې د

بازارموندنې له لارې کیږي. د بازار موندنې لهپاره ځانته جلا نورې ادارې موجودې دي چې دغه ادارې نورو تولیدي او خدماتي ادارو ته د پیسو په مقابل کې بازارموندنه کوي. د بازارموندنې ادارې نورو ادارو ته پوره خدمات ترسره کوي لکه تجارتي اعلانونه جوړوي، د تجارتي اعلان ډیزاین کوي، تجارتي متن جوړوي انځوریز اعلانونه ترتیب کوي او داسې نور(WWW.TAND.COM).

بریښنایي بازارموندنه چې بریښنایي خرڅلاو، یا انلاین بازار موندنه هم ورته ویل کیږي، د انټرنیټ په مرسته د توکو پالنه یا خدمتونه وړاندې کولو او پیرودلو ته وایي . بریښنایي بازارموندنې ساحه ډېره پراخه ده، ځکه په دې کې نه یواځې د انټرنیټ له لارې د توکي او خدمتونه پلورل کیږي، بلکې د بریښنالیک او نورو بریښنایي لارو د سوداګریزو فعالیتونو تر سره کول هم پکې رانغاړل کیږي، د پیردونکو د اسنادو مدیریت او ورسره بریښنایي اړیکې هم د بریښنایي بازارموندنې په ساحه کې راځي، بریښنایي بازارموندنه، د انټرنیټ فني ځانګړنې سره تړي، چې پلان، پراختیا، تبلیغات او خرڅلاو پکې شامل دي.

د انټرنیټ منځته راتګ تقریبا هر چاته دا شونې کړه، چې په کمپیوټر، مبایل یا نورو وسایلو کې یواځې څو کلیکونه وکړي او خپل محصول یا خدماتو ته پیردونکي پیدا کړي. بریښنایي بازارموندنه په اصل کې د څو کلونو پخوانی روایتي بازارموندنې ادامه ده، د انټرنیټ له لارې خرڅلاو کیدای شي ټولو لویو او وړو کاروبارونو ته کټور وي . یواځې هغه ټکي باید په پام کې ونیول شي چي د بریښنایي بازارموندنې اصلي هسته جوړوي. د هدف بازار څیړل، بریښنایي بازارموندنې اصلي او مهمه برخه ده، مهمه نه ده چې څومره خلک په پیر او پلور لګیا دي بلکې مهمه دا ده چې خلک کوم شیان نه خوښوي هر څوک چې بریښنایي کاراوبار سره شوق لري، تر هر څه لمړی ورته څېړنه اړینه ده، څېړنې ته د هدف بازار څېړنه وایي، چې وپوهیږي، خلک داسې څه پلوري چې ټول پیردونکي ورپسې دي او ترې پیري یې، په بازارموندنه کې د بریالیتوب اصلي قلعي څېړنه او هدف مندي ده، له دې پرته په بازارموندنه کې هره کړنه بې ګټې او ناکامه ده .(nan.asia.2018)

د بریښنایي بازارموندنې اهمیت: بریښنایي بازاموندنه دا سهولت برابروي، چې په بریښنایي کاروبار کې دا مهمه نه ده، چې ستاسو عمر څومره دی؟ څومره پانګه لرئ او په کوم ځای کې ژوند کوئ؟ بلکې د بریالیتوب یو لامل یې دا دی، چې خپلو پیرودونکو یا مخاطبینو ته د نوي ایډیا یا مفکورې له مخې یوکار یا خدمت رامنځته کړي.

د بریښنایي کار رامنځته کول داسې وي، لکه چې په یوه اوږد سفر وځي. د داسې ځای سفر چې تاسو یې په اړه هېڅ معلومات نه لرئ او د هغو خلکو تجربې هم درسره هېڅ مرسته نه کوي، چې تر تاسو مخکې یې سفرونه

کړي دي. ستاسو یوازینی لاره یوه نقشه ده، چې تاسو سره مرسته کوي او په دې اوږد سفر کې ستاسو ملګرتیا کوي، چې په بریښنـــایي کاروبار کې دېته کاروباري پلان وایي. پس د پورته مطلب څخه دا څرګندیږي، چې بریښنایي بازار موندنه په اوسنی نړۍ کې زیات اهمیت لري، ځکه چې اکثریت خلک د انټرنېټ څخه استفاده کوي او مصارف یې هم د دودیزې بازارموندنې په نسبت کمترین دي(سیدي،۱۳۸۹،ص.۹۰).

د بریښنایي بازارموندنې عناصر: بریښنایي بازارموندنه په خپل ترکیب کې شپږ عناصر لري چې د تولید، قیمت، ځای، تبلیغاتو، وګړو او پروسې یا process څخه عبارت دي.

۱-تولید یا محصـــول: د انټرنیټ په کارولو سره د یو تولید ډول بدلون موندلای شي، په ځانګړي ډول د پیرودونکو چوپړتیاوې او د سـوداګریزې نښـې ارزښـت ممکن له دې لارې لوړ شي . د انټرنیټ په وسـیله تولیدات د نوي معلوماتو له مخې رامینځته کیږي. همدارنګه د سـوداګریزو نښـو بیلابیل ډولونه کېدای شي د بازارونو د ځینو برخو لەپاره تولید شي . نن سبا د ځانګړو توکو خرڅلاو په انټرنیټ کې لوی فرصـت رامینځته کړی دی. پیرودونکي ته د هغه توکي ځانګړتیاوې معلومې وي چې غواړي ویې پیري، یعنې دلته په ډېری مواردو کې د تولید کېفیت او ځانګړتیاوې مخکې له مخکې پېژندل شوي وي.

۲-قیمت: د یو نوي چېنل په توګه انټرنیټ د تولیداتو د بیو کمښـت ته لار هواره کړي ده، ځکه له دې لارې د ویش د عنعنوي دود په پرتله د توکو او چوپړتیاوو د ویش لګښـتونه کمېږي او دا چاره بیا د قیمتونو کموالي ته لار هواروي.

۳-ځای: د پیرودونکو لەپاره د انټرنیټ ستره ګټه د ځای ده چې دوی آن له خپل کور څخه کولای شي توکي راونیسي. د انټرنیټ لاسرسی نړیوال دی او تولیدوونکي د نړۍ په هر ګوټ کې خپل مشتري ته لاسرسیکولای شي . دلته بله اسانتیا ۲۴ ساعته پېر او پلور دی چې د بیروبار او نورو ستونزو څخه هیڅ نه اغېزمن کیږي.

۴-تبلیغ او هڅونه: انټرنیټ د توکو او چوپړتیاوو څخه د پیرودونکو د خبرولو او له هغه سره د پیرودنې د تصمیم د نیولو په برخه کې یو نوی چېنل ګڼل کیږي . په دې برخه کې له انټرنیټ څخه د وګړو د خبرولو، د لا ډېرو پیرودنو لەپاره د هڅونې او ترغیب، عامه اړیکو او بازارموندنې په برخه کې ګټه اخیستل کیږي.

په ټولیز ډول تبلیغاتي اعلانات او ویب ســایټونه د پیرودونکي سره د خپلې خوښــې وړ تولید په پیداکولو، معلوماتو ته د لاسرسی، د تولید د ښه درک کولو او په ټوله کې د هغه د کار په اسانتیا کې مرسته کوي.

۵-وګړي: که څه هم انټرنيټ هغه وسيله ده چې د کاروبار او مشتري په فزيکي تړاو کې کموالی راوړي او يا هم دغه تړاو له يوې مخې له مينځه وړي، له بله اړخه د انټرنيټ په وسيله کېدای شي چې د پام وړ کارکوونکو په استخدام کې اسانتيا رامينځته شي.

٦-پروسه: د دې لهپاره چې انټرنيټ لاس ته راوړنې ولري، بايد د بازارموندنې نورې پروسې او عمليات لکه له ليرې څخه بازارموندنه، مستقيمه بازارموندنه او نور همغږي کړل شي (pohana.2018 ).

د برېښنايي بازار موندنې دندې: کاټلر د بازارموندنې لهپاره د اته دندو يادونه کړې چې انټرنيټ د بازارموندنې د يوې وسيلې او لارې په توګه له دغه اته ګونو دندو پرته ځينې نورې دندې هم لري.

١. معلومات يا اطلاعات: د بازارموندنې له څېړنو څخه د لاس ته راغلو معلوماتو راټولول او ويش د بېلګې په توګه د مشتريانو لهپاره د معلوماتو د يو انلاين سيستم پر ليکه کول.
٢. ترفيع: د نوو پيرودونکو جذبول او د شته پيرودونکو د پيرودنو د کچې لوړول .دغه ځانګړتيا او دنده په لويه پيمانه د نړيوال ويب (www) په وسيله پر مخ وړل کېږي.
٣. خبرې اترې يا مذاکره : هغه کاروبارونه چې په دې برخه کې تر څېړنې لاندې نيول شوي، يوازې د معلوماتو د رسولو شبکو دانټرنيټ له دغه ډول امکاناتو څخه کار اخيستی، خو نن سبا د انټرنيټ دغه دنده هم د پرمختګ په حال کې ده.
۴. سفارش: انټرنيټ خپله دغه دنده هم نږدې په ټولو شرکتونو کې تر سره کړې ده.
۵. سپارل يا تحويلول: د دوه شرکتونو تر مينځ په برېښنايي سوداګرۍ کې سپارل مهمه دنده ده . په دې برخه کې مشتري ته ټول ورکړل کېدونکي معلومات او چوپړتياوې شاملې دي لکه زده کړه، د بروشرونو ډيزاين، د کتابونو ډيزاين، مجازي خرڅلاو ځايونه او نور.
٦. تاديه کول: په برېښنايي سوداګرۍ کې د تادياتو ډېر کارول کېدونکي ډول د کريډيټ يا اعتباري کارډ له لارې تاديه ده.
٧. د خطر يا زيان منل: په برېښنايي چېنل کې دا هغه دنده ده چې په انلاين توګه مشتري ته د ډاډمنو چوپړتياوو د لېږد سره سروکار لري.
٨. مالي اړتياوې پوره کول: انټرنيټ دغه دنده هم په انلاين توګه تر سره کوي.
٩. د معلوماتو لهپاره مينځګړتوب: په دغه دنده کې د عرضه شوو توکو او خدماتو اړوند د معلوماتو پلټنه شامليږي چې د توکو پرتله يا مقايسه، ارزيابي او د توکو د استعمال يا کارولو بڼه يې د بيلګو په توګه يادولای شو.

**۱۰.** په مجازي ټولنو کې غړیتوب: د غړو پیرودونکو ترمنځ د معلوماتو د راکړې ورکړې سره سروکار لري. ډېر کاروبارونه په لویه پیمانه له دغه مېتود څخه کار اخلي(**rohi.2018 )** .

د برېښنایي بازارموندنې ځانګړنې: ډېر خلک فکر کوي، چې برېښنايي بازارموندونکي باید برېښنایي ویب پاڼه ولري، دا فکر تر ډېره حده سم نه دی، ځکه په نړۍ کې د ورځې زرګونه ویب سایټونه جوړیږي او له منځه ځي، برېښنایي بازارموندنه یوازې د ویب سایټ جوړول، ثبت او پکې معلومات خپرول نه دي. برېښنایي بازارموندنه په دې برخه کې عملي مهارتونه او د بازارموندنې له علم څخه انلاین ګټه اخیستنه ده. د دې کار لهپاره د یو قوي، ژمن او مسلکي ټیم ته اړتیا ده، که څه هم پر لیکه بازارموندنه کې سیالان ډېر زیات وي؛ خو تاسو باید پکې خپل ځای ولري. برېښنایي کاروبار په هېڅ صورت د یوه حقیقي کاروبار سره نه شو پرتله کولئ، په برېښنایي کاروبار کې ستاسو امکانات او پیرودونکي له حقیقي امکاناتو او پیرودونکو سره د پرتلې وړ نه دي.

په حقیقي کاروبار کې هر څه محدود وي، حتا د پیرودونکو شمېر هم باید محدود وي؛ خو په برېښنایي کاروبار کې تاسو ممکن له هېڅ ډول داسې بندیزونو او محدودیتونو سره مخ نه شئ(pashtunews.2018 ).

د برېښنایي بازارموندنې اهداف: برېښنایي بازارموندنه د پیرودونکو پر رضایت ټینګار کوي او هره موخه یې د پیرودونکو د نهایي خوښۍ لاس ته راوړل دي. په برېښنایي بازارموندنه کې هدف بازار Target Market هغه لګښت کوونکي دي چې د انټرنیټ سره تړلي وي. دا چې د ډېرې شرکتونو کارکوونکي د انټرنیټ په کارولو کې له ځیني محدودیتونو سره مخ وي، ځکه خو ډېر تمرکز په هغه وګړو وي چې له خپلو کورونو څخه د انټرنیټ سره تړلي وي. اړوند ارقام ښایي چې د انټرنیټ ډېرې کارکوونکي ځوانان، د زده کړو او له منځني څخه تر لوړ عاید لرونکي وګړي دي چې د تولیداتو اړوند معلومات له یو بل څخه انټرنیټ او یا هم مجلو څخه تر لاسه کوي.

پیرودونکي له انټرنیټ څخه د یو ټاکلي موخې لکه د خپلې خوښې د موضوعاتو اړوند د معلوماتو د لاس ته راوړلو او یا هم د پیرودنې د پریکړې او راکړو ورکړو په برخه کې کار اخلي. نن سبا د انټرنیټ څخه د کاروبار څخه کاروبار او یا هم د کاروبار څخه و مشتري ته د راکړو ورکړو لهپاره ډېره ګټه اخیستل کیږي( .(pohana.2018

د برېښنایي بازارموندنې ډولونه: په برېښنایي بازارموندنه کې د انټرنېټ استعمال ددې سبب شوي، چې په برېښنایي بازارموندنه کې مختلف ډولونه رامنځته کړي، چې دغه ډولونه په لاندې ډول دي:

۱. کاروبار نظر بل کاروبار ته Business-to-Business (B2B)

**۲.** کاروبار نظر لګښت کوونکي ته Business-to-Consumer (B2C)

**۳.** کاروبار نظر دولت ته Business-to-Government (B2G)

**۴.** دولت نظر کاروبار ته Government-to-Business (G2B)

۵. لګښت کوونکي نظر لګښت کوونکي ته Consumer-to-Consumer (C2C)

٦. دولت نظر عامه خلکو ته Government-to-Citizen (G2C)

۱ . کاروبار نظر بل کاروبار ته: دا ډول برېښنايي بازارموندنه د دوو کمپنيو ترمنځ برېښنايي سوداګرۍ ته ويل کېږي، چې د دوو کمپنيو ترمنځ د موجوده ارتباطاتو په وسيله معاملات ترسره کوي، نو ددې له خاطره پلورونکي او پيرودونکي دواړه سازمانونه (Organizations) دي. په دغه سيستم کې اخيستونکي پيشنهاد کوي او خرڅونکي د اخيستونکي پيشنهاد قبلوي. د مثال په توګه يوه کمپني خام مواد خرڅوي او بله کمپني يې اخلي او د هغې څخه خپل توليدات جوړوي. په نړۍ کې دغه ډول برېښنايي سوداګري قابو 80% د جريان په حال کې او د B2C څخه يې زيات پرمختګ کړی(lomritob.2018).

۲ . کاروبار نظر لګښت کوونکي ته: په دغه ډول برېښنايي بازارموندنه کې د مشتريانو انجمن د فزيکي اجناسو خرڅول لکه کتابونه، بنجاره سامان آلات او همدارنګه د معلوماتي اجناسو خرڅول لکه برېښنايي سامان آلات، برېښنايي کتابونه او ډيجټلي شيان د سافټ وير په شان او توليداتو لاسته راوړل د برېښنايي نيټورک له لارې ټول په دې کې شامل دي. نو ددې لهپاره خرڅونکي تجارتي سازمان يا Business Organization دي او اخيستونکي مشتري دي، چې ددې ډول برېښنايي سوداګرۍ يو ښه مثال هغه کمپني ده، چې انلاين خريد او فروش کوي(lomritob.2018).

۳ . کاروبار نظر دولت ته: په دغه ډول برېښنايي بازارموندنه کې عموماً د کمپنيو او عامه سکتورونو ترمنځ سوداګرۍ ته ويل کېږي، چې د حکومت او کمپنيو ترمنځ پکې سوداګري او د معلوماتو تبادله صورت نيسي(lomritob.2018).

٤ . دولت نظر کاروبار ته: په دغه ډول برېښنايي بازارموندنه کې معمولاً د انټرنېټ استعمال ته چې د عامه لاسته راوړلو لهپاره ترسره کېږي صورت نيسي. لکه اخيستل، ورکول، کرايه ورکول، جواز ورکول او د حکومت نورو ارتباطي کارونو ته راجع کېږي(lomritob.2018).

۵ . لګښت کوونکي نظر لګښت کوونکي ته: دا ډول برېښنايي بازارموندنه د خصوصي اشخاصو ترمنځ صورت نيسي، چې د برېښنايي سوداګرۍ په دغه ډول کې خرڅونکي او اخيستونکي دواړه خصوصي افراد وي او همدارنګه په دغه سوداګرۍ کې د مشتري او دويم شخص ترمنځ د معاملاتو برېښنايي اسانتياوې موجودې وي، چې ښه مثال يې انلاين راکړه ورکړه ده، چې په دې راکړه ورکړه کې يو مشتري خپله شتمني، موټراوداسې نور اجناس خرڅلاو ته وړاندې کوي او بل مشتري د هغو اجناسو د اخيستلو لپاره امر کوي(lomritob.2018).

٦ . دولت نظر عامه خلکو ته: د برېښنايي بازارموندنې دغه موډل ددې لپاره دی، چې عامه خلکو ته دولتي کارونه په لنډ وخت او ښه ډول ترسره شوي وي، نو دلته دولت د خپلو خلکو لپاره د ځينو سايټونو حمايه کوي .لکه د موټرو، ماشينونو او داسې نورو شيانو وېبپاڼې. همدارنګه ځينې نور خدمات لکه د تولد ثبت نام، په بهرنيو هېوادونو کې د نکاح او مړينې سرټيفيکټ او داسې نورو عامه کارونو سهولات برابروي(lomritob.2018).

**د منځګړو پېژندنه**

منځګړي هغه اشخاص يا سازمانونه دي چې د پلورونکو او خريدارانو ترمنځ د اړيکو د پراختيا، بازار موندنې او د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې فعاليت کوي. دوی د معلوماتو، خدماتواوتکنالوژيو له لارې د سوداګرۍ پروسې اسانه کوي.

**د منځګړي ډولونه**

منځګړي هغه دندو ته په کتو، چې پرغاړه يې لري، د بېلابېلو عنوانونو لرونکي دي، چې مهمترين يې په لاندې ډول دي:

a) پرچون پلورونکي
b) دلالان
c) عمده پلورونکي يا توزيع کوونکي

**پرچون پلورونکي**

پرچون پلورونکي هغه کسان دي چې محصولات پېري او په وروستنيو او سازماني لګښت کوونکو يې پلوري. شايد پرچون پلورونکی د محصول خاوند او يا هم په امانته توګه يا د حق العمل په بدل کې وپلوري، لکه سيمه ييز پلورنځي.

**دلالان**

هغه وګړي دي چې د پېر او پلور او يا دواړو مذاکرات په غاړه اخلي، مګر د محصـول مالک نه ګرځي. هغوي د خپل ترسره کېدونکي کار په بدل کې مزد اخلي او کيدای شي چې محصول په فزيکي بڼه ولري او يا نه.

**عمده پلورونکي يا توزيع کوونکي**

دا هغه کسـان دي چې محصـولات پېري او بيا يې په پرچون پلورونکو، صنعتي، سازماني او يا سوداګريزو ګټه اخيســتونکو خرڅوي. يوه کمه اندازه محصــولات په وروســتنيو لګښــت کوونکو هم خرڅوي. دا ډله خلک معمولاً د محصــولاتو مالکان ګرځي او کله کله د محصــولاتو عنوان ځانته مختص کوي، لکه د فرش، وريجو، چای او اوسپنې د محصولاتو اختصاصي عمده پلورونکي، چې په بازار کې د هغوي په نوم، د هغوي په لاس د توزيع کېدونکي محصول سره يو ځای يادېږي(سعيد احسان الله ،۱۳۹۷، ص. ۲۱۶-۲۱۷).

**په انټرنيټي بازار موندنه کې د منځګړي رول**

په برېښــنايي بازار موندنه کې منځګړي د پلورونکي او پيرودونکي تر منځ د اړيکو جوړولو او د ســوداګرۍ پروسې آسانه کولو لهپاره مهم رول لري. د دې نقش څو مهمې برخې په لاندې ډول دي:

۱. د اړيکو جوړول: منځګړي د پلورونکو او پيرودونکو تر منځ اړيکې جوړوي، چې پـه دې کې د اړتيـاو او غوښتنو په پوهيدو کې مرسته کوي.

۲. د معلومـاتو تبـادلـه: دوی د بـازار د اړتيـاو پـه اړه معلومـات وړانـدې کوي، چې د پلورونکو لـهپـاره د خپلو محصولاتو او خدماتو په ښه کولو کې مرسته کوي.

۳. د سوداګرۍ اسانتيا: منځګړي د سوداګرۍ پروسې لکه د تادياتو پروسې، تحويلي‌اود خدماتو د وړاندې کولو په اسانولو کې مرسته کوي.

۴. د اعتماد جوړول: د منځګړو شتون د پلورونکو او پيرودونکو تر منځ د اعتماد احساس رامنځته کوي، چې دا د سوداګرۍ لهپاره مهم دی.

۵. د بازار پراختيا: منځګړي کولی شي د نوي بازارونو په شـمول د پيرودونکو د جذب لهپاره نوې سـتراتيژۍ او لارې چارې وړاندې کړي.

٦. د بازار څارنه: دوی د بازار د تمایلاتو او د پیرودونکو د ترجیحاتو په اړه معلومات راټولوي، چې دا معلومات د سوداګرو سره مرسته کوي ترڅو خپل محصولات او خدمات ښه کړي.

په ټوله کې منځګړي په بریښـــنایي بازار موندنه کې د پلورونکو او پیرودونکو تر منځ د اړیکو د لا ښــه کولو، د سوداګرۍ پروسې د اسانتیااود بازار د پراختیا په برخه کې مهمه ونډه لري.

**پایله**

بازارموندنه په مختلفو طریقو کېږي لکه چاپي بازارموندنه، غږیز ه بازارموندنه، انځوریزه  بازارموندنه او بریښنایي (Online)بازارموندنه، دا مهمه نه ده چې بازارموندنه څه ډول تعریف کړو، بلکې مهمه دا ده چې پوه شو پهننۍ نوې  نړۍ کې بې له بازارموندنې اقتصادي فعالیت ته  پرمختګ ورکولی شو که نه؟ او بیا مهمه دا چې بازارموندنه یوازې تبلیغات نه دي، بازار موندنه؛ مناسب بازار ته د مناسب محصول یا مناسب خدمت وړاندې کول دي.

بازار موندنه په ټولو سوداګریو، کسبونو او کارونو پورې اړه لري، خو تر اوسه په سمه توګه نه ده پېژندل شوې او په تبلیغاتو او خرڅلاو کې تېروتنه کېږي.

بازار موندنه د پېرودونکو او بازار په اړه یو بحث دی . یو شرکت ددې لهپاره چې بریالی واوسي، خپلې موخې باید د پیرودونکو د هیلو او د بازار له اړتیاوو سره سمې برابرې کړي.  سربېره پر دې بازار موندنه د مدیریت یو توکی دی . ګډه بازار موندنه له نوښتي محصولاتو، انټرنېټ شتوالی، د پېرودونکو لهپاره ځانګړو مجلو، خبري پروګرامونه او مناسبو قیمتونو څخه ده.

د یوه شرکت د پېژندنې لهپاره لازمه ده د شرکت د ټولو ځانګو موخې، محصول، خپرونې او کړنې یو له بل سره په هماهنګۍ کې وي. کله چې دا ټول برابر شي، نو تل باید په صحنه کې واوسئ. په یاد مو وي چې په پیل کې یوازې نشرات کافي نه دي، حالات تل د بدلون په حال کې دي او نه شو کولای یوازې د شرکت پر تبلیغاتو تکیه وکړو، هغه څه چې ډېر مهم دي د دغو  ټکو درک دی . د ټولنې پلانونه، خو دا ټولنیز پلانونه څه دي؟ شرکتونه پلانونو او ستراتیژیو ته اړتیا لري چې د هغې د توپیر ټکي  نورو ته وښيي.

هرې تولیدي یا خدماتي ادارې ته د بازارموندنې اړتیا شته څو خپلو تولیداتو او خدماتو ته پیریدونکي پیدا کړای شي او خپل کاروبار ته پراختیا ورکړي.

په اوسني وخت کې تجارتي ادارې له يو بل سره ډېرې رقابتي اړيکې لري هره تجارتي اداره کوشش کوي چې خپلو پيريدونکو ته معياري توليدات او خدمات وړاندې کړي . خو ادارې به د دغو پيريدونکو توجه څنګه خپلو توليداتو او خدماتو ته راجذب کوي؟ په لومړي قدم کې اداره کوشش کوي چې خپل پيريدونکي د توليداتو او خدماتو څخه خبر کړي چې دغه خبرول يوازې د بازارموندنې له لارې کېږي.

د بازار موندنې لهپاره ځانته جلا نورې ادارې موجودې دي چې دغه ادارې نورو توليدي او خدماتي ادارو ته د پيسو په مقابل کې بازارموندنه کوي.

د بازارموندنې ادارې نورو ادارو ته پوره خدمات ترسره کوي لکه تجارتي اعلانونه جوړوي، د تجارتي اعلان ډيزاين کوي، تجارتي متن جوړوي انځوريز اعلانونه ترتيب کوي او داسې نور.

پس په حلاصه ډول سره ويلي شو، چې بريښنايي بازارموندنه عبارت له هغه پروسې څخه ده چې اداره د پيريدونکو غوښتنې او ضروريات د انټرنيټ په واسطه مشخص او په ګوته کوي او دغه غوښتنې او ضروريات کمپنۍ يا اداره پيريدونکو ته پوره کوي .

انټرنيټي خرڅلاو د Shopping Cart په نوم د يو عملياتي سيستم پر مټ ترسره کېږي، چې پيرودونکي کولای شي د خپلې اړتيا وړ توکي په انلاين ډول د دغه سيستم (Shopping Cart) په واسطه ترلاسه کړي.

د Shopping Cart په مرسته کله چې پيرودونکي يو انلاين پلورنځي ته ننوزي، نو د خپل اړتيا وړ توکي باندې کلېک کوي او د Add to my cart کمانډ ورکوي او تر دې وروسته وېبپاڼه د پيسو غوښتنه کوي، خو دلته ضروري خبره دا ده، چې په بريښنايي سوداګرۍ کې پيرودونکي بايد الکترونيکي کارت ولري، چې غوره نمونه يې ماسټر کارت، ويزه کارت او کرېډېټ کارت دي.

وروسته له دې له پيرودونکو د اجناسو مطابق پيسې ګرځول کېږي او اجناس د پيرودونکي موقعيت ته انتقالوي.

د بريښنايي بازارموندنې ګټې عبارت دي له: او چټکه پيرودنه او د بيلابيلو توليداتو پرتلنه.

د توليداتو په برخه د پيرودونکي د انتخاب لهپاره پراخه ساحه او د نوموړو توليداتو د عرضه کولو ګڼ خرڅلاو ځايونه.

د اضافه لګښتونو د نه شتون له امله کم قيمتونه او د عرضه کوونکو تر مينځ سيالي .

او زیانونه یې عبارت دي له:

د مشتري د تصمیم نیولو، د محصول د ټاکلو او د هغه د سپارلو تر مینځ زماني واټن.

د تولید دنمونې د ازمایښت نه شتون د یو نا اشنا عرضه کوونکي څخه د پیرودنې د خطر شتون.

د برښنایي بازار موندنې په برخه کې منځګړي د سوداګرۍ پراختیا، د مصرف کوونکو او تولیدونکو ترمنځ اړیکو ټینګولواود بازار په پوهیدو کې مهم رول لري. د هغوی شتون نه یوازې د سوداګرۍ پروسه اسانه کوي، بلکې د اعتماد، تخنیکي ملاتړاودقیقو معلوماتو له لارې د بازار د اړتیاوو سره سمون هم رامنځته کوي. د دې لهپاره چې سوداګرۍ په انټرنیټ کې بریالۍ وي، د منځګړو رول ته ځانګړې پاملرنه اړینه ده.

**وړاندیزونه**

۱. دا چې زمانه د ټکنالوژۍ ده باید محصلان وهڅول شي او مجبور شي تر څو له کمپیوټر، انټرنېټ او نورو ټکنالوژیکي وسایلو سره اشنا شي.

۲. د دولت څخه مې غوښتنه دا ده چې د انټرنیټ په برخه کې د خلکو لهپاره پروګرامونه جوړ کړي او خلک د انټرنیټ سره بلد شي.

۳. خپلې پیاوړي لیکنې باید نورو ژبو ته خصوصاً ګاونډیو او د سیمو ژبو ته وژباړل شي چې هغوی زمونږ له کارونو څخه خبر شي او پوه شي چې مونږ په کمو امکاناتو زیات کارونه کوو.

# The role of intermediaries in electronic marketing

Senior teaching assistant Sharafdin Shraf, Shaikh Zayed university, faculty economic, deportment of business administration
**Email**: sharafdin.sharaf@yahoo.com

**Abstract**
Electronic marketing also known as e-commerce, website sales, or online marketing refers to the buying and selling of goods and services through the internet. It is important to understand whether, in today's modern world, we can promote economic activity without marketing. Moreover, it is essential to note that marketing is not merely advertising; rather, marketing means offering the right product or the right service to the right market. The purpose of our research is to identify the role of intermediaries in internet marketing. Online sales are conducted through an operational system called the *Shopping Cart*, which allows customers to obtain the goods they need through this online mechanism. Over the past two decades, electronic marketing has become a fundamental part of business. With its rapid growth, the role of intermediaries has also gained great importance. Intermediaries, who are responsible for establishing and managing connections between sellers and buyers, play a vital role in this new world of electronic marketing. This paper uses a qualitative research method based on secondary data. In the field of electronic marketing, intermediaries play a crucial role in business development, strengthening relationships between consumers and producers, and understanding market dynamics. Their presence not only simplifies business processes but also fosters trust, provides technical support, and delivers accurate information that aligns with market needs. For businesses to succeed on the internet, special attention must be paid to the role of intermediaries.

**Keywords:** Internet purchases, Market research, E-marketing, Relationship management, Middleman.

**اخځلیکونه**

قلي زاده, حسن . (۱۳۹۷). د بریښنایي بازارموندنې تکتیکونه. (میراحمد. یاد, ژباړونکی)

سعید، احسان الله،(۱۳۹۷). مارکیټنګ منجمنټ، ننګرهار: یار خپروندویه ټولنه.

سعیدي, سیدقیاس. (۱۳۹۵). بازارموندنه. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

Pashto News. (2018). Retrieved from https://pashtunews.org

Lomritob.com. (2018, January 25). Retrieved from https://lomritob.com

Nunn.asia. (2018, March 3). from https://nunn.asia

Rohi.af. (2018, April 10). Retrieved from https://rohi.af

Pohana. (2018, June 12). *The rise of online marketing in Afghanistan*. Retrieved from https://pohana.af/articles/123

# د بیموي سکتور تأثیرات د افغانستان په اقتصاد باندې

پوهنمل گل ولي محمدزی د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانگې د علمي کادر غړی
**برېښنالیک:** gulwali.szu@gmail.com

**لنډیز**

دغه مقاله په افغانستان کې د بیمې سکتور تأثیرات د افغانستان په اقتصاد باندې څیړي، چې څنگه د بیمې سکتور کولی شي خطر مدیریت کړي، پانگونه وهڅوي، د مالي ثبات د ودې، د بیمې صنعت اوسني حالت او د اقتصادي پرمختگ لهپاره یې موجودې ننگونې او فرصتونه تحلیلوي. دغه څېړنه کې د دوهم لاس معلوماتو څخه استفاده شوې ده، چې ډاټا د مختلفو کتابونو، معتبرو انټرنیټي سایټونو او معتبرو نړیوالو علمي مقالو او ژورنالونو څخه راټوله شوې ده. موندنې ښیي چې که څه هم په افغانستان کې د بیمې سکتور وروسته پاتې او نوی دی، چې د بیلابیلو مذهبي، دیني او کلتوري دلایلو له امله په تیرو کالونو کې د پام وړ پرمختگ نه دی کړی، خو د اقتصادي ثبات او ودې په برخه کې د پام وړ ظرفیت لري. د بیمې سکتور په اړه د عامه پوهاوي لوړول، د اسلامي بیمې د حدماتو ترویج او پراختیا او د قانوني چوکاټونو پیاوړتیا په اساس کولی شي د مالي ثبات، د پانگونې د هڅونې، د سوداگریزو خطرونو د کمولو، د بانکي سکتور د ملاتړ، او د دولت د عوایدو د زیاتوالي له لارې په اقتصاد مثبت اغېزې وکړي. د مطالعې پایلې د افغانستان د بیمې سکتور د پیاوړي کولو لهپاره د پالیسي جوړونکو، تنظیمونکو مقاماتو، او د بیمې شرکتونو لهپاره د عمل وړ وړاندیزونه چمتو کړي دي.

**کلیدي کلمې:** افغانستان اقتصاد، بیمې سکتور، پانگوانه، خطر مدیریت، مالي ثبات

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

د بيمې سکتور وده او پراختيا د هر هېواد د اقتصادي ثبات، مالي نظام پياوړتيا، د استخدام د کچې د لوړوالي او د فقر د کچې په کمولو کې اساسي رول لري. د يو هېواد اقتصادي پرمختګ په مالي بنسټونو ولاړ وي چې د پانګونې، مالي ثبات او د سوداګرۍ لەپاره د باور وړ فضا برابروي. بيمه د مالي خدمتونو يو مهم سکتور ګڼل کېږي چې د خطر مديريت، د سرمايه ګذارۍ هڅونې او اقتصادي ثبات په تأمين کې مهم رول لوبوي.

په افغانستان کې، د اوږدې مودې جګړې، سياسي بې ثباتۍ او اقتصادي بې باورۍ له امله، د بيمې سکتور نه دی توانيدلی چې منظم او پراخ مالي خدمتونه وړاندې کړي. دا سکتور کولی شي د پانګونې د جذب، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د نوښتونو د پراخېدو لەپاره بنسټيز شرايط برابر کړي.

بايد يادونه وکړم، دا چې په هېواد کې د بيموي حداماتو مروج سيستم د اسلامي احکامو سره په ټکر کې وو، له دې امله د اسلامي امارت په راتلو سره په هېواد کې بيموي فعاليتونه تر امر ثاني پوري وځنډول شول او تردې دمه اسلامي امارت يې د بديل په توګه د اسلامي بيمې (تکافل) د حداماتو د رامنځته کولو په اړه هم کوم نوی قانون يا طرزالعمل نه دی جوړ کړی.

سربيره پردې، د بيمې يو غوره، پرمختللی او فعال بازار د سپما او پانګونې په هڅولو سره په مالي ثبات، استخدام او اقتصادي رشد کې مرسته کوي. د بيمې شرکتونه د پاليسۍ لرونکو څخه په منظمه توګه پريميم(حق البيمه) راټولوي او راټول شوي فنډونه په مختلفو مالي وسايلو کې سرمايه ګذاري کوي، په دې توګه د اقتصادي پراختيا لەپاره پانګه راټولوي (فروټ او او کونيل، ۱۹۹۹). له همدې امله، د بيمې د سکتور پر اغېزو تمرکز نه يوازې د يو علمي خلا د ډکولو هڅه ده، بلکې د اړوند سکتور د پاليسۍ جوړونکو لەپاره د مهمو پريکړو د بنسټ په توګه هم ارزښت لري، څو د افغانستان اقتصادي راتلونکی باثباته، پراخ او د خطرونو پروړاندې لا مقاوم وګرځي.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د ليکلو موخه دا ده چې:

په افغانستان کې د بيمې سکتور اوسنۍ حالت او پر اقتصاد يې اغېزې وڅېړي او هغه خنډونه تشخيص کړي چې په هېواد کې د نوموړي سکتور د پرمختګ پروړاندې موجود دي، او په اړه يې مناسبې حل لارې وړاندې کړي.

### د څېړنې اهمیت

دا څېړنه نه یوازې د علمي ارزښت درلودونکې ده، بلکې د اقتصادي او ټولنیز پلوه هم د ډېر ارزښت څخه برحمنه ده چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

- علمي اهمیت: د افغانستان د بیمې سکتور د اهمیت په اړه علمي تشه ډکوي او د هغې د اقتصادي رول په اړه هر اړخیزه ارزونه وړاندې کوي.
- عملي اهمیت: پالیسي جوړونکو، بیموي شرکتونو، سوداګرو او پانګوالو ته مشخصې حل لارې او سپارښتنې وړاندې کوي چې د اقتصادي ودې، مالي ثبات، او خطر مدیریت په برخه کې د بیمې رول لاپیاوړی کړي.

### تیرو څېړنو ته کتنه

نړیوالې څېړنې ښیي چې بیمه د پانګونې په هڅولو، د خطر په مدیریت او مالي ثبات په تأمین کې مهم رول لري. (Webb et al., 2002) استدلال کوي، چې د بیمې سکتور او اقتصادي ودې ترمنځ قوي مثبت اړیکه وجود لري، چې بیمه د پانګونې لەپاره مالي سرچینې برابروي، چې په پایله کې د اقتصادي وړتیا زیاتوالی رامنځته کوي. (Haiss & Sümegi, 2008) موندلې چې په اروپا کې د بیمې پراختیا د اقتصادي ودې سره مستقیمه اړیکه لري.

Skipper & Kwon (2007) ټینګار کوي چې بیمه د مالي بازارونو د ثبات او د پانګونو د باور د زیاتوالي لەپاره اساسي عنصر ګڼل کېږي. همدا راز د World Bank او IMF راپورونه ټینګار کوي چې بیمه د مالي شمولیت، د طبعي افتونو د خطرونو په مدیریت او د کوچنیو کاروبارونو په ساتنه کې مهم رول لري. موسین (۱۹۸۶) د خطر مدیریت تیوري کې وایي چې بیمه د خطرونو د انتقال له لارې اقتصادي خنډونه کموي. ډایمنډ او ډیبویګ (۱۹۸۳) د مالي منځګړیتوب په تیوري کې بیموي شرکتونه د سپما او پانګونې وسیله ګڼي.

د بیمې شرکتونه د ډېرى پیرودونکو (د بیمې مشتریانو) څخه د بیمې قسطونه چې ورته حق البیمه یا premium هم ویل کېږي راټولوي او دا راټول شوې فنډونه په مختلفو مالي وسایلو کې سرمایه ګذاري کوي؛ دا نه یوازې سیالیت چمتو کوي بلکه د زیربناوو د پراختیا لەپاره د اوږدې مودې پانګونې ملاتړ هم کوي. د اقتصادي پرمختګ تیوري ټینګار کوي چې قوي مالي سیستمونه د غوره او پرمختللو فعالیت لرونکو بیموي بازارونو په شمول د دوامداره اقتصادي ودې لەپاره اړین دي (لیوین، ۱۹۹۷).

د بیک او ویب (۲۰۰۳) لخوا یوې څېړنې وموندله چې هغه هیوادونه چې د ژوند بیمې د پوښښ لوړه کچه لري، د چټکې اقتصادي ودې لوړه کچه هم تجربه کوي. په ورته ډول، ارینا (۲۰۰۸) کې دا پایله واخیسته چې د ژوند او غیر ژوند(توکو او شتمنیو) د بیمې بازارونه دواړه په پرمختللو هیوادونو کې د GDP په وده باندې مثبته اغیزه کوي.

په ځانګړو سیمو تمرکز کولو څېړنې هم ورته پایلې ترلاسه کړې. د مثال په توګه، د چین او نورو (۲۰۱۳) لخوا یوه څېړنه چې په آسیایي هیوادونو کې د بیمې پوښښ او اقتصادي ودې ترمنځ یې اړیکه مشاهده کړه، دا وموندله چې د بیمې خدماتو ته د لاسرسي زیاتوالی د GDP د ودې لوړې کچې سره تړاو لري. د سکتور ځانګړي تحلیلونو ښودلې چې د غیرې ژوندیو اجسامو بیمه په ځانګړي ډول د هغو صنعتونو لهپاره ګټوره ده چې د خطرونو سره مخ دي لکه کرنه، ساختمان او تولید (کلین او وانګ، ۲۰۰۹).

## مېتودولوژي

**د کار مواد او مېتود:** دا څېړنه د کیفي مېتود پربنسټ ولاړه ده. چې ډېټا د ثانوي سرچینو څخه ترلاسه شوې، چې په کې د افغانستان بانک د مالي ثبات راپورونه، د بیمې سکتور کلني راپورونه، د نړیوالو مرستندویه سازمانونو خپرونې (لکه د نړیوال بانک) او علمي مقالې شاملې دي. د ډېټا نشتوالی په پام کې نیول شوی او د مطالعې پایلې په دې اساس محدودې دي.

## پایلې او بحث (Results and Discussion)

په افغانستان کې د بیمې اوسنی حالت لا هم د پام وړ پراختیا نه ده کړې. د ۱٤۰۰ لمریز کال په پای کې، د ټولو بیمېوي شرکتونو مجموعي پریمیم ۳.۵ ملیارډ افغانیو (نږدې ٤۰ میلیونه امریکایي ډالر) ته رسېدلی دی، کوم چې د هېواد GDP ډېره کمه برخه جوړوي. د دې سکتور اکثریت فعالیت د موټرو د مسئولیت بیمې پورې محدود دی، چې د خصوصي بیمې شرکتونو ترمنځ سیالي یې زیاتې کړې ده. نورې مهمې برخې د روغتیا بیمه (چې په لویو روغتونونو کې محدوده ده) او د کرنې بیمه چې په پراخه کچه پلې شوې نه دي.

لاندې جدول د افغانستان د بیمې سکتور د اصلي شاخصونو لنډیز وړاندې کوي:

| شاخص | کچه (د ۱٤۰۰ کال په پای کې) | تبصره |
|---|---|---|
| د فعالیت کوونکو بیموي شرکتونو شمېر | ۱٤ | ۳ دولتي، ۱۱ خصوصي |
| مجموعي بیمه شوی پریمیم | ۳.۵ ملیارد افغانی | د GDP ډېره لږه برخه |
| بیمې ډولونه | موټر، روغتیا، اور... | |

**په اقتصادي وده کې د بیمې رول**

بیمه د خطر مدیریت، سرمایه ګذارۍ د هڅونې او مالي ثبات په برخه کې کلیدي رول لري. دا سکتور پانګوالو، صـنعتکارانو او سـوداګرو ته ډاډ ورکوي چې د ناڅاپي زیانونو پروړاندې خوندي دي، چې د باور او پانګونې فضـا رامنځته کوي. بیموي شرکتونه د حق البیمې له لارې د خلکو اضـافي پس اندازونه راټولوي او دا پانګه په مختلفو اقتصادي فعالیتونو کې سرمایه ګذاري کوي، چې له دې لارې مالي جریان، اشتغال او اقتصادي پراختیا ته وده ورکوي.

که د امنیت او خطر د کموالي د ترټولو سـترې انګیزې په توګه د بیمې نشـتوالی محسـوس وای، نو نن ورځ به د سترو پانګونو، د تولیدي مؤسسـو د رامنځته کیدو او لویو لویو سوداګریزو شرکتونو د پرمختګ او پراختیا زمینې نه برابریدې. نو ویلی شو، چه د بیمې صـنعت پراختیا او پرمختګ په خپل وار سـترې اقتصـادي پایلې او اغیزې لري. ښـکاره ده، چه د نن ورځې په شرایطو کې د هغه هېواد اقتصـاد پیاوړی، تلپاتې او ډاډمن وي چه پر بیمه متکي وي

Mehrara, M., & Haghnejad, A. (2014). The relationship between insurance development and economic growth in Iran. *International Letters of Social and Humanistic Sciences*, 21, 116–122).(

د بیمې مؤسـسـې د مالونو او تأسیسـاتو خاوندانو ته ډاډ ورکوي، چه د حوادثو د پېښېدو په صـورت کې به ورته اوښتي زیانونه په داسې بڼه جبرانوي، چه دوی کولای شي خپلې ضـایع شـوي پانګې بېرته ترلاسـه او د پخوا په شـان خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، چه په دې ترتیب سره د هغوی له اقتصـادي کمزورتیا او ماتېدنې څخه مخنیوی کېږي( Outreville, J. F. (2013). The relationship between insurance and economic development: An empirical analysis. *World Development*, 35(1), 48–60).

معلومه ده، د نن ورځې له ټولو علمي لاسته راوړنو، اقتصـادي او ټولنیزو پرمختګونو سره سره، بشر۔پردې نه دی توانیدلی، چه د طبعي پېښـو په پایله کې رامنځته شـوي غمیزې له منځه یوسي او تراوسـه پوري طبعي پېښې لکه: سېلاوونه، زلزلې، اورلګېدنې او داسې نور له بشر څخه قرباني اخلي او د هغوی مال او شتمنی ته زیان اړوي.

له بلې خوا د خطرونو بل ډول هم شته، چه د اقتصادي ناورینونو، تورم او د اسعارو په بیو کې د رامنځته کیدونکو بدلونونو زیږنده ده، چه په واقعیت کې د اقتصادي زیانونو لامل ګرځي او اقتصادي مؤسسې ګواښي. همدانګه نامساعد امنیتي شرایط، جګړې، پاڅونونه او اعتصابونه هم هغه پدیدې دي چه تولیدي او سوداګریزو مؤسسو ته

زیان اړوي، هغه څه چه ترې یادونه وشوه، تل د نوي پانګونې په لاره کې د خنډ لامل کېږي، ځکه د پانګې د له منځه تللو وېره موجوده ده، او دا یوازینی بیمه ده چه کولای شي د دې وېرې او ګواښ کچه راټیټه، د خلکو په ذهنونو کې د باور او اعتماد روحیه راژوندی کړي، او په دې توګه هغوی د سوداګری، کرنې او صنعت ملاتړ ته وهڅوي او لړ تر لړه د هغوی لهپاره یو شمېر پورتني خطرونه تضمین کړي

Arena, M. (2008). *Does insurance market activity promote economic growth? A cross-country study for industrialized and developing countries*. The Journal of Risk and Insurance, 75(4), 921–946.

بیمه په حقیقت کې له خســاراتو او نقصــان کولوڅخه د مخفوظ پاتې کیدو لهپاره یو ډاډ دی چه د اقتصــادي فعالیتونو د امنیت تضــمین کوونکي یې هم بللی شــو. بیمه او بیمه کیدل د اقتصـادي فعالیتونو د ترسره کوونکو، پانګه والو او کارګرانو د روحي ډاډ باعث ګرځي نو ځکه د اقتصادي پرمختیا په برخه کې مهم رول لري. په دې توګه بیمه د اقتصادي پرمختیا یو هڅونکی عامل ګڼل کېږي.

د بیمې شرکتونه چې کومې پیسې د خپلو مشتریانو څخه د حق البیمې په توګه ترلاسه کوي په هغه باندې نه یوازې رامنځته شویو زیانونو جبران کوي بلکې نوموړی فنډ په بیلا بیلو برخو کې سرمایه ګذاري کوي. په یاد باید ولرو چې بیمه اشخاصو ته د هر ډول احتمالي خطراتو په مقابل کې د خسارې جبران ورکوي، د انسانانو تشویش رفع کوي چې دغه د تشویش رفع کیدل او امنیت په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري. هغه خطرات چې اقتصادي فعالیتونه تهدیدوي یا د هغې د ځنډ لامل کېږي عبارت دي له: اقتصادي بحرانونو، انفلاسیون او ډیفلاسیون، د اسعارو نرخ، سیاسي، اجتماعي خطرونو او داسې نورو څخه چې ټول نوموړي خطرات د اقتصادي فعالیتونو د ځنډ سبب ګرځي او مالي منابعوته زیان رسوي او د بیمې کمپنی یې د خسارې جبران په غاړه اخلي او خطرونه حداقل ته رسوي

Chen, M., et al. (2013). The Impact of Insurance Development on Economic Growth in Asian Countries. *Asia-Pacific Journal of Financial Studies*, 42(5), 703–734.

په لنډ ډول د یوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د بیمې رول داسې بیانوو چې بیمه- د اجتماعي، اقتصـادي او مالي فعالیتونو د امنیت د تأمین کوونکې او د اقتصـادي فعالیتونو د پراختیا وسـیله ده. بیمه د مشـتریانو د اعتبار د زیاتوالي او د پس انداز یوه غوره وســیله ګڼل کېږي. بیمه د شــتمنیو او مالي زیانونو څخه ســاتنه کوي او د استخدام د سطحې په لوړوالي او د خطر په انتقال کې مهم رول لوبوي. بیمه د اجتماعي ګټو د تضـمین وسـیله

ګټل کېږي او نړیوال تجارت، صـنعت او د هېواد اقتصــادي ودې ته پرمختګ ورکوي. بیمه د ســوداګریزو فعالیتونو سره د تړلې ناڅرګندتیا د کمولو له لارې د پانګونې په اســانتیا کې مهم رول لوبوي او د مالي ثبات په هڅولو کې مرسته کوي او د اقتصادي ودې مهم محرک بلل کېږي (Introduction to business, page: 248-250).

**په افغانستان کې د بیمې په وړاندې موجود خنډونه**

په افغانستان کې د بیمې سکتور له ګڼو خنډونو سره مخ دی، چې ځیني مهم يې په لاندې ډول دي:

۱) اسلامي بیمې (تکافل) په اړه د خلکو د عامه پوهاوي کمښت

۲) د امنیتي وضعیت په اړه یو شمېر اندېښنې

۳) د اسلامي بیمې (تکافل) شرکتونو او ادارو نشتوالی

۴) د بیمې په شرکتونو د خلکو عدم اعتماد

۵) د خلکو د عاید ټیټه سطحه

٦) فني او اداري ضعف

۷) د خساراتو د تخمین د معلوماتي کمپنیو نشتوالی

۸) د اسلامي بیمې په اړه په هیواد کې د جامع او هر اړخیز بیموي قانون نشتوالی

۹) د شرعي فتواوو د صدور لەپاره د یوې واحدې مرجع نشتوالی (Da Afghanistan Bank. (2021). *Insurance sector overview and challenges in Afghanistan*. Kabul: Central Bank of Afghanistan.)

**وړاندیزونه**

۱. د عامه پوهاوي د سطحې لوړوالی د بیلا بیلو مسلکي روزنیزو پروګرامونو، ورکشاپونو، الکترونیکي مډیاوو او چاپي خپرونو له لارې.

۲. په هېواد کې د اسلامي بیمې د حدماتو د ترویج لەپاره په اړوند برخه کې د لنډمهاله کورسونو، ورکشاپونو او بورسونو له لارې د مسلکي او تخصصي کادرونو روزل او د اسلامي بیمې د بیلا بیلو سکېمونو معرفي.

۳. د اسلامي بیمې د حداماتو لەپاره د بشپړ قانوني او تنظیمي چوکاټ جوړول.

۴. د اسلامي بیمې (تکافل) ترویج او پراختیا.

۵. د اسلامي بیمې د شرکتونو د پانګونې لەپاره د هر اړخیزو اسانتیاوو رامنځته کول.

٦. د اړوند سکتور څخه د موجوده نظام د ملاتړ زیاتوالی.

۷. په ښوونځیو او د پوهنتونونو په ټولو پوهنځیو کې د اسلامي بیمې مضمون د نصاب برخه ګرځول.

۸. د اسلامي بیمې د حداماتو په برخه کې د خصوصي سکتور او نړیوالو شرکتونو د پانګونې جذب او ملاتړ.
۹. د بیمې په برخه کې د اسلامي هېوادونو او د نړیوالو تجربو څخه استفاده.
۱۰. په هېواد کې د اسلامي بیمې ډیجیټلي سیستمونو ته پراختیا ورکول، د موبایل اپلیکیشنونو جوړول، د ډیجیټلي ادعاګانو سیستم رامنځته کول.
۱۱. د اسلامي مالي بازارونو او اسلامي مالي وسایلو د تر ترویج لەپاره زمینه برابرول.
۱۲. د بیمې د بیلا بېلو حدماتو د جواز او حراموالي په اړه د فتواوو د صدور د یوې معتبرې دارالافتا رامنځته کول.

## پایله (Conclusion)

دغه مطالعه ښيي چې د بیمې سکتور د افغانستان د اقتصاد د ودې او ثبات لەپاره یوه اساسي اړتیا ده. که څه هم اوسنی حالت یې د پام وړ اغېزې نه دي کړې، خو د سکتور د ودې پوتانشیل، د خطر مدیریت، او د نورو سکتورونو د ملاتړ له لارې ډېر لوړ دی. د دې پوتانشیل د رېښتیني کېدو لەپاره، د پالیسی په کچه هڅې اړینې دي. دا هڅې باید د عامه پوهې د زیاتوالي، د قوي تنظیمي چوکاټ د رامنځته کولو، د دولتي همکاری د زیاتوالي (د دولتي ملکیتونو د بیمې کولو له لارې)، او د ځانګړو سکتورونو (لکه کرنه) د بیمې د هڅولو په لور وي. بیمه د اقتصادي فعالیتونو د خوندیتوب، د پانګوالو د باور لوړولو، د استخدام سطحې د لوړوالي او مالي ثبات د تأمین لەپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي او د پانګوالو، کاروباریانو او تولیدونکو د باور او اعتماد سطحې د لوړوالي باعث ګرځي. دغه د اعتماد لوړوالی بیا په خپل وار سره د پانګونې د کچې د لوړوالي او د اقتصادي ثبات باعث ګرځي. د ترلاسه شویو معلوماتو څخه دا پایله ترلاسه شوه چې که څه هم په افغانستان کې د بیمې سکتور د مذهبي، دیني او کلتوري دلایلو له امله له یو شمېر ستونزو سره مخ دی، خو د پراختیا پراخ ظرفیت لري. د عامه پوهاوي د سطحې لوړول، د اسلامي بیمې د حدماتو ترویج، او د قانوني چوکاټونو پیاوړتیا، کولی شي دا سکتور له ستونزو راوباسي او د اقتصادي ودې او ثبات یو مهم ملاتړ شي. د بیمې پرمختګ د اقتصادي فعالیتونو د ودې او پرمختګ لەپاره یو لازمي شرط بلل کېږي ځکه بیمه کولی شي د کرنیز، صنعتي، مالي او تجارتي سکتور د ودې سبب وګرځي او د خطر مدیریت او مالي تخفظ له لارې، د دوامداره مالي ثبات او پراختیا لەپاره زمینه برابره کړي. د بیمې سکتور پیاوړتیا نه یوازې مالي خوندیتوب تضمینوي، بلکې د اقتصادي فعالیتونو، پانګونې، صادراتو، کرنې، صنعتي پراختیا او د کاري فرصتونو په پراختیا کې هم بنسټیزه ونډه لري. په نتیجه کې ویلی شو چې هغه هېوادونه چې د پراخ بیموي پوښښ درلودونکي نه وي، هیڅکله د قوي اقتصاد څښتنان کیدلی نشي. راتلونکي څېړنې کولی شي د بیمې سکتور او اقتصادي ودې ترمنځ د اړیکو په اړه لا ډېرې څېړنې وکړي، تر څو په یاد سکتور کې ډېټا وړیا او لاشتمنه شي.

# The Impact of the Insurance Sector on economy of Afghanistan

Senior Teaching Assistant: Gulwali Mohammadzai, Lecturer at the Department of Banking and Finance, Faculty of Economics.
**E-mail**: gulwali.szu@gmail.com

**Abstract**
This article examines the impact of the insurance sector in Afghanistan on the Afghan economy, how the insurance sector can manage risk, encourage investment, promote financial stability, analyze the current state of the insurance industry, and the challenges and opportunities. This study uses secondary data, which is collected from various books, websites, and international academic articles and journals. The findings show that although the insurance sector in Afghanistan is underdeveloped, which has not made significant progress in recent years due to various religious and cultural reasons, it has significant potential for economic stability and growth. It is concluded that increasing public awareness of the insurance sector, promoting and developing Islamic insurance services, and strengthening legal frameworks can have a positive impact on the economy by improving financial stability, encouraging investment, reducing business risks, supporting the banking sector, and increasing government revenues. The study results provide recommendations for action for policymakers, regulatory authorities, and insurance companies to strengthen Afghanistan's insurance sector.
**Keywords**: Afghanistan economy, Insurance sector, investment, risk management, financial stability

## ماخذونه

1. Webb, I., Grace, M. F., & Skipper, H. D. (2002). The Effect of Banking and Insurance on the Growth of Capital and Output. *Center for Risk Management and Insurance Research*, Georgia State University.
2. Haiss, P., & Sümegi, K. (2008). The relationship between insurance and economic growth in Europe: A theoretical and empirical analysis. Empirica, 35(4), 405-431.
3. Arena , M . (2008) . Does Insurance Market Activity Promote Economic Growth ? Journal Of Risk And Insurance ,75(4),921–946 .
4. Beck , T ., & Webb , I . (2003) . Economic , Demographic , And Institutional Determinants Of Life Insurance Consumption Across Countries . World Bank Economic Review ,17(1),51–88 .
5. Chen , M ., et al .(2013) . The Impact Of Insurance Development On Economic Growth In Asian Countries . Asia-Pacific Journal Of Financial Studies ,42(5),703–734 .
6. Diamond , D.W ., & Dybvig P.H.(1983) . Bank Runs , Deposit Insurance , And Liquidity .Journal Of Political Economy ,91(3),401–419 .
7. Froot , K.A ., & O'Connell , P.G.J.(1999) . The Pricing Of US Catastrophe Reinsurance .The Journal Of Risk And Insurance ,66(2),215–233 .
8. Gruber , J.(1997) . The Consumption Smoothing Benefits Of Unemployment Insurance .The American Economic Review ,87(1),192–205 .
9. Klein , R.W ., & Wang , Y.(2009) . The Role Of Non-Life Insurers In Financial Markets : Evidence From The US .Journal Of Risk And Financial Management ,2(4),123–138 .
10. Moore Global.(2017). Afghanistan’s Insurance Industry Sector Overview.[PDF]. Retrieved from https://afghanistan.moore-global.com/MediaLibsAndFiles/media/afghanistan.moore-global.com2020/files/Research/10-Afghanistan%E2%80%99s-Insurance-Industry-Sector-Overview.pdf
11. Trading Economics.(2020). Afghanistan - Insurance And Financial Services (% Of Service Exports).[Online]. Retrieved from https://tradingeconomics.com/afghanistan/insurance-and-financial-services-percent-of-service-exports-bop-wb-data.html

# د قرآن کریم لغوي اعجاز

پوهنیار مسعود قائد، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، عربي څانګه.
**برېښنالیک:** masuodqaeid@gmail.com

**لنډیز**

معجزه په عربي ژبه کې د "عجز" فعل څخه اخیستل شوې ده. هر ډول ناتوانی ته ویل کېږي، او معجزه هغه څه دي چې له عادت څخه بهر وي او له ننګونې سره یوځای وي، دومره چې ټول انسانیت نشـي کولی د هغه په مثل یو څه راوړي، همدا ډول فصاحت روښانه او واضح ډول خبرې دي، چې فصیحې او روانې وي، مفهوم په آسانۍ ترې اخیستل کېږي، نوښت یې حیرانوونکی وي او په اورېدلو کې خوږې وي، د دې موضوع په څېړلو سره به لوستونکي د قرآن کریم اعجاز د فصاحت له مخې وپېژني او عملي مثالونه به یې هم وګوري، د څېړنې مېتود تشـریحي او ډول یې کتابتوني دی ، پدې برخه کې مې مختلف کتابونه مطالعه کړي او د یادې موضوع اړوند معلومات مې راټول کړي، څېړنې وښودله چې په غالب او راجح قول باندې قرآن کریم د خپل فصاحت په وجه معجز دی، سره له دې چې علماوو د قرآن کریم اعجاز په مختلفو برخو ویشلی لکه: ساینسـي، د غیب په اړه خبر ورکول ، تاریخي اعجاز، علمي، د قانون جوړونې اعجاز او داسې نور، همدارنګه دا خبره جوته شوه چې فصاحت درې درجې لري او تر ټولو لوړه درجه یې د قرآن کریم ده.

**کلیدي کلمې:** قرآن کریم ، اعجاز، بلاغت، فصاحت، معجزه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم. الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، وعلی آله وأصحابه أجمعین، أما بعد:**

قرآن کریم تلپاتې معجزه، غوره وینا، د فصاحت او بلاغت لوړه درجه او د لغت له مخې تر ټولو لوړه درجه لري.
فصاحت د قرآن کریم د اعجاز یو له اړخونو څخه دی، د قرآن کریم د لوړ فصاحت او بیان له امله، ولید بن مغیره چې کله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه قرآن کریم واورید، نو داسې یې وویل: "**إِنَّ لِقَوْلِهِ الَّذِي يَقُولُه حَلَاوَةً، وَإِنَّ عَلَيْهِ لَطَلَاوَةً.**"، یعنې: په حقیقت کې، هغه خبرې چې هغه یې وایي خوږې او فصېحې دي.
د ابن عباس رضي الله عنه په روایت کې راغلي دي چې: "ولید بن مغیره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او قرآن یې ورته ولوست، داسې ښکارېده چې هغه یې په اورېدو سره متاثره شوی دی. دا خبره ابوجهل ته ورسېده، نو هغه ورته راغی او ویې ویل: ای کاکا! ستا قوم فکر کوي چې باید ستا لەپاره شتمني راټوله کړي. هغه وویل: ولې؟ هغه وویل: د دې لەپاره چې تاته یې درکړي، ځکه چې ته محمد صلی الله علیه وسلم ته د هغه څه په اړه د خبرو اترو لەپاره راغلی یې چې هغه منلي دي. هغه وویل: په حقیقت کې قریش پوهېدل چې زه د دوی له شتمنو څخه وم. هغه وویل: بیا د هغه په اړه داسې څه ووایه چې ستا قوم ته دا خبر ورکړي چې ته له هغه څخه ناخوښه یې یا یې نه خوښوې. هغه وویل: زه څه ووایم؟ په خدای قسم، په تاسو کې داسې څوک نشته چې له ما څخه په شعر کې ډېر پوه وي، نه زما په څېر د هغه په رجز شعرونو او د هغه په قصیدو او نه د جنیاتو په شعرونو ډېر پوه وي. په الله(ج) قسم، هغه څه چې هغه یې وایي، له دې سره ورته والی نه لري. په الله(ج) قسم، هغه څه چې هغه وایي خوږوالی لري، تازه والی لري، سر یې میوه لرونکی دی او ښکته برخه یې ډېرې ښېرازه ده(بیضون،۲۰۰۵م، ص۹۶- ۹۷).

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې په لاندې کرښو کې خلاصه کولی شو:

۱. فصاحت او اعجاز پېژندل
۲. د قرآن کریم اعجاز بیانول
۳. د قرآن کریم لغوي اعجاز بیانول
۴. د قرآن کریم د اعجاز مثالونه بیانول

## د څېړنې تگلاره او توکي

زما دغه څېړنه کتابتوني استقرائي ده او د مختلفو علماوو د نظریاتو راټولولو یوه نتیجه ده.

**د څېړنې اهمیت**

په دې کې شک نشته چې قرآن کریم د الله(ج) له لوري یو معجز کلام دی، د وخت فصیح خلک او شاعران د هغه فصاحت ته گوته په غاښ پاتې و او ټول انسانان او حتی جنیات نشـي کولی چې د هغه په څېر یو څه راوړي، نو په همدې خاطر دا یوه مهمه موضوع ده؛ څکه همدا ثابتوي چې نوموړی کلام د الله(ج) له لوري رانازل شوی دی او د بشر کلام نه دی، نو منکران یې باید یاد کلام ته غاړه کېږدي او اوامر یې ومني.

الله(ج) هر پیغمبر ته د خپل وخت مطابق او د هغه مهارت مطابق چې دوی پرې مشهور و، معجزې ورکړې دي؛ تر څو د هغه وخت ماهرین د یادې معجزې په مقابل کې عاجز کړي، او دوی ته وښيي چې یواځې الله(ج) د عبادت لایق دی، او هغه رسول د الله(ج) له لوري راغلی دی؛ همدا ډول نوموړی قرآن کریم چې د فصاحت په اوج کې را نازل شو، په داسې وخت کې چې په شعر او شاعرۍ باندې سیالۍ روانې وې، ښه شعرونه او شاعران ستایل کېدل او ضعیف شعرونه تر نقد لاندې راتلل، نو کله چې قرآن کریم نازل شو، اول خو شاعران د دې کلام له تشخیص څخه عاجز شول، چې آیا دا شعر دی، نثر دی او که نظم دی، بیا به چې کله ماهرینو له شعر او نظم سره پرتله کړ هغه به نه و، څینو به بیا ویل چې دا سحر او جادو دی. سره له دې چې د سحر خاوندان په دې پوهېدل چې یاد کلام سحر نه دی، خو له حق څخه یې سترگې پټولې، په هر حال د وخت فصیح قشر د قرآن کریم اعجاز ته غاړه کښوده.

**تېرو آثارو ته کتنه**

د قرآن کریم لغوي اعجاز په اړه د لومړنیو علمي نظریاتو بنسټ په اسلامي تمدن کې ایښودل شوی. د قرآن کریم د ژبني اعجاز په اړه د تاریخي څېړنو پیل په هغو دورو کې شوی، چې علمي، فلسفي او د ژبپوهنې اړوند مسایل په اسلامي نړۍ کې پر مخ تللي وو. د دې مسایلو لومړنۍ رڼا د اسلامي عالمانو لخوا ورکړل شوې، چې د قرآن کریم ژبنۍ ښکلا او معجزانه ځواک یې په ډېره ژوره توگه بیان کړ.

**۱.د پخوانیو محققینو څېړنې**

- الباقلاني (۴ ه ش پېړۍ): "إعجاز القرآن" کتاب کې، الباقلاني د قرآن کریم لغوي اعجاز ته په خپل ځانگړي ډول کتنه کړې ده. هغه په دې کتاب کې قرآن ته د یوې بې مثاله ژبنۍ معجزې په توگه اشاره کړې ده، چې هیڅ بشـري ژبه نه شي کولی د قرآن کریم د ژبني او بلاغي قوت سره سیالي وکړي. الباقلاني په دې کتاب کې د قرآن د لغاتو، تعبیراتو او ترکیبونو په بې ساري انتخاب ټینگار کوي.

- فخرالدین الرازي (٦ ه ش پېړۍ): په خپل "مفاتیح الغیب" کې، د قرآن کریم د لغوي اعجاز د پوهې پراخوالی تشـریح کړی دی. هغه قرآن ته د یو داسې ژبنۍ معجزې په توگه اشاره کوي، چې د هغه د الفاظو هر یو انتخاب د خاص هدف لهپاره دی، او د هغه د اعجاز اصلي جوهر څرگندوي.
- الزمخشـري (۵ ه ش پېړۍ): "الکشاف" یې د قرآن کریم د بلاغت او لغوي اعجاز مهم اثر گڼل کېږي. هغه د قرآن ژبني جمالیات او د الفاظو د غوره انتخاب اړوند مفصلې څېړنې وړاندې کوي. د هغه په نظر، قرآن کریم نه یوازې د بلاغت له نظره، بلکه د معنوي قوت له اړخه هم بې سارى دى.

**د معاصرو محققینو څېړنې**

د معاصرو محققینو په څېړنو کې هم د قرآن کریم لغوي اعجاز ته توجه شوې ده. د دې محققینو نوې څېړنې د قرآن د لغوي اعجاز اړوند لا زیاتې ژورې پوهې او تحلیلات وړاندې کوي.

سید قطب (۲۰م پېړۍ): په خپل اثر "فی ظلال القرآن" کې، سید قطب قرآن ته د ژبني اعجاز په توگه یوه بې مثاله معجزه وړاندې کوي.

دکتر محمد عبدالله دراز (۲۰م پېړۍ): د "الاعجاز البلاغی للقرآن" کتاب کې، د قرآن د لغاتو او د هغوی د معنوي ژوروالي تشریح کوي او وایي چې قرآن کریم د انسان د فطرت سره په بشپړه توگه همغږي لري. نو ما هم وغوښتل چې د تېرو علماوو نظریاتو ته په کتو نوموړې موضوع راټوله کړم او نچوړ یې لوستونکو ته په لاس ورکړم.

**د اعجاز تعریف**

مخکې لـه دې چې د قرآن کریم د فصاحت  په اړه وغږیږو او د هغه د اعجاز په اړه چې ذهنونه او زړونه یې حیران کړي، د فصاحت او بلاغت څښتنان او د هغوی ژبې یې تابع کړې دي، باید د فصاحت او اعجاز تعریف وکړو، ترڅو مطلوبه معنی روښانه او هدف معلوم شي.

معجزه په عربي ژبه کې د "عجز" فعل څخه اخیستل شوې ده. هر ډول ناتوانۍ ته ویل کېږي، او معجزه هغه څه دي چې له عادت څخه بهر وي او له ننگونې سره یوځای وي.

د قرآن کریم ځانگړنه او د فصاحت، بلاغت او وضاحت په لوړو درجو سره د هغې توپیر، دومره چې ټول انسانیت نشـي کولی د هغه د حروفو یوه کلمه تولید کړي.  الله – جل جلاله-  چې کله قرآن نازل کړ، نو عربانو ته یې ننگونه وکړه، په داسې حال کې چې دوی په خپل فصاحت او بلاغت مشهور وو، نو قرآن کریم د دوی لهپاره د معجزې په توگه راغئ(محمد النبهان،۲۰۰۵م، ص ۷۷-۷۸). او کله چې الله – جل جلاله-  عربانو ته ننگونه وکړه چې د قرآن کریم په څیر یو څه راوړي، الله – جل جلاله-  دوی ته په دریو مرحلو کې ننگونه ورکړه(جامعة المدینة العالمیة،۲۰۰۹م ،ص۷۷-۷۸).

**د فصاحت تعریف**

فصاحت په لغت کې: بیان، ظهور او وضوح ته ویل کیږي او په اصطلاح کې په روښانه او واضح ډول خبرې کول، چې فصیحې او روانې وي، مفهوم په آسانۍ ترې اخیستل کیږي، نوښت یې حیرانوونکی وي او په اوریدلو کې خوږې وي.

۱. فصیحه کلمه هغه کلمه ده چې د حروفو له بې نظمۍ څخه پاکه وي، لکه: **تَرَعَى الهُعْخُع** "اوښ څري." او د غرابت (غموض او نا څرګندوالی) څخه، لکه: وَمَرْسِنًا مُسَرَّجًا. یعنې: د سریجي تورې په څېر تېره پزه. دلته د (مسرج) په کلمه کې غرابت موجود دی، په همدې خاطر ځینې وایې چې د دې کلمې معنا(سریجي توره) ده او ځینې نور وایې چې دا کلمه له سراج(چراغ) څخه اخیستل شوې ده.

۲. د لغوي قیاس مخالفه نه وي، لکه: العلي الأجلل، چې اصل کې (أجل) دی.

۳. وینا له کمزوري ترکیب څخه پاکه وي، لکه: **جَزَى رَبُّهُ عَنِّي عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ**. یعنې: خدای دې زما له خوا عدي بن حاتم ته بدله ورکړي. ځکه اصل دا دی چې مضمر باید له ضمیر څخه د مخه راشي، خو دلته برعکس ضمیر (ه) له مضمر (عدي) څخه د مخه راغلی دی او دا د ترکیب کمزورتیا ده.

۴. کلام د کلمو له بې نظمۍ څخه پاک وي، مثلا: **وَقَبْرُ حَرْبٍ بِمَكَانٍ قَفْرٍ ♦♦♦ وَلَيْسَ قُرْبَ قَبْرِ حَرْبٍ قَبْرُ**

۵. او له پیچلتیا څخه،

کوم چې یا د وینا د ترتیب ګډوډي ده ترڅو معلومه نه وي چې څنګه یې معنی ته ورسیږو، لکه:
وَمَا مِثْلُهُ فِي النَّاسِ إلاَّ مُمَلَّكًا ♦♦♦ أَبُو أُمِّهِ حَيٌّ أَبُوهُ يُقَارِبُه

یا ذهن له لومړۍ معنی څخه دویمې معنی ته نه ځي، چې د هغې لازمي پایله ده او هغه څه چې له هغې څخه مراد وي ، لکه: **سَأَطْلُبُ بَعْدَ الدَّارَ عَنْكُمْ لِتَقْرُبُوا ♦♦♦ وَتَسْكُبُ عَيْنَايَ الدُّمُوعَ لِتَجْمُدَا**

نو وګورئ، آیا تاسو په قرآن کریم کې داسې څه وینئ چې د خبرو فصاحت کم کړي، یا دا چې د بدو الفاظو په توګه وکارول شي، یا تاسو په دې کې د حروفو ترمنځ تضاد وینئ، یا یوه عجیبه کلمه چې تلفظ یې ستونزمن وي، یا دا چې غوږونو ته زیان رسوي؟

**﴿ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَى مِنْ فُطُورٍ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴾** الْمُلْك: ۳- ٤. وګوره: **﴿قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾** هود:۴۸.

په دې آیت کې د "میم" توری شپاړس ځله تکرار شوی، خو لوستونکی یې په تلفظ کې کومه ستونزه نه احساسوي او نه هم د اوریدو پر مهال کوم دروندوالی احساسوي.

بیا د خدای تعالی دا خبرې وګورئ: ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الآخَرِ قَالَ لأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ مائدة: ۲۷.

د "ق" توری لس ځله تکرار شوی، سره له دې چې دا حرف د شدت قلقلې جهر او استعلاء صفات لري، خو لوستونکي یوازې د تلفظ آسانتیا او د کلمو نرمښت احساسوي.

ابو عبیده وایي: "یوه کوچۍ له یو کس څخه دا تلاوت واورېد: ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ﴾ نو هغه سجده وکړه او ویې ویل: "ما د هغه د فصاحت لهپاره سجده وکړه".

یو بل کس بیا دغه آیت واورېد: ﴿فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا﴾ یوسف:۸۰. نو وه یې ویل: زه شاهدي ورکوم چې هیڅ مخلوق د داسې خبرو کولو توان نلري.

اصمعي روایت کوي چې هغه د یوې وینځې خبرې واورېدې، نو هغه ورته وویل: "مړه شې، ته څومره فصیحه یې"! هغې وویل: آیا دا د الله تعالی د دې خبرو وروسته فصاحت ګڼل کېږي!؟: ﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ﴾ القصص:۷.

په یوه آیت کې دوه حکمونه، دوه ممانعتونه، دوه خبرونه، او دوه ښه زیري سره یوځای شوي(القاضِي عياض، ۲۰۱۰م ،۱/ ۲٦۲- ۲٦۳).

په بل آیت کې الله تعالی فرمايي: ﴿ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ النمل:۱۸.

ځینو علماوو ویلي چې دا آیت ﴿ قَالَتْ نَمْلَةٌ یاأیها النمل ادخلوا مَسَاكِنَكُمْ.. ﴾ د قرآن کریم له عجایبو څخه دی؛ ځکه چې د ﴿ يَا ﴾ په کلمې سره یې غږ وکړ په: ﴿ أَيُّهَا ﴾ یې خبرداری ورکړ په : ﴿ النَّمْلُ ﴾ یې "میږی "مشخص شوی، په : ﴿ ادْخُلُوا ﴾ یې امر وکړ، په: ﴿مَسَاكِنَكُمْ ﴾ یې وضاحت ورکړی، په: ﴿ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ ﴾ یې خبرداری ورکړ ، په: ﴿ سُلَيْمَانُ ﴾ یې خاص کړی، په: ﴿ وَجُنُودُهُ ﴾ یې عام کړی، په: ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ سره یې بښنه وغوښته.

په دې آیت کې، میږی بلنه، خبرداری، امر، ممانعت، احتیاط، توضیح، عمومیت، اشاره او عذر سره یوځای شوي .

ابن کثیر رحمه الله وایي: " قرآن کریم د هغو کسانو لهپاره چې په تفصیل او اجمال باندې یې پوهېږي، د عربو خبرې او د بیان لارې چارې یې پېژني، ټول فصیح او بلیغ دی. که تاسو د هغه کیسو ته پام وکړئ، نو تاسو به یې د خوږوالي په اوج کې ومومئ، که هغه اوږدې وي یا لنډې، او که هغه تکرار شوې وي یا نه. او هرکله چې دوی تکرار شي، خوږوالی یې ډېر او عالي کېږي او د دوی د پرله پسې تکرار له امله نه زړېږي، عالمان ترې نه ستړي کېږي، او که هغه ګواښ او ډار ته مخه کړي، نو له هغه څخه کانه او ثابت غرونه لړزېږي، نو تاسو د یوه زړونو په

اړه څه فکر کوئ؟ او که هغه ژمنه وکړي، نو هغه څه راوړي چې زړونه او غوږونه پرانيزي، او د سولې د کور او د رحمن عرش ته د نږدې کېدو لپاره سړی لېواله کوي، لکه څنګه چې په ترغيب کې راغلي: ﴿ فَلا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ السَّجْدَة:١٧ . هغه وويل: ﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ الزُّخْرُف:٧١. هغه د وېرولو په اړه وويل: " ﴿ أَفَأَمِنْتُمْ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ ﴾ الْإِسْرَاء:٦٨. ﴿ أَأَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ * أَمْ أَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ﴾ الملك: ١٦- ١٧.

د فصاحت، بلاغت او خوږوالي نور ډولونه هم شته. حتی که په آيتونو کې احکام او ممانعتونه هم شامل وي، خو په هغو کې د هر هغه څه د کولو امر شوی دی چې ښه، ګټور، خوندور او محبوب وي، او له هر هغه څه يې منع کړې چې ناخوښ، ناپاک او بې ارزښته وي. لکه څرنګه چې ابن مسعود(رض) او نورو پخوانيو علماوو ويلي دي: که تاسو په قرآن کريم کې د الله تعالی دا قول اورئ چې ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ نو په غور سره يې واورئ، ځکه چې يا خو هغه خير دی چې په هغه يې امر کړی، يا هغه شر دی چې هغه يې منع کړی دی.

له همدې امله الله (ج) فرمايي: ﴿ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ﴾ الْأَعْرَافِ: ١٥٧.

که چيرې آيتونه د آخرت او وېرو تشريح کوي او جنت او دوزخ بيانوي او هغه څه چې الله(ج) پکې د خپلو دوستانو او دښمنانو لپاره لکه: نعمت، دوزخ، پناه ځای او يا دردناک عذاب څخه چمتو کړي دي، نو هغه د دې په اړه ښه خبر ورکوي او نصيحت کوي. هغه د ښو کارونو کولو او له بدو کارونو څخه د ډډه کولو غوښتنه کوي. هغه د دنيوي غوښتنو مخه نيسي او آخرت ته هڅونه کوي . خلک يې په غوره لاره روان کړل، د خدای او د هغه د سم قانون مستقيمې لارې ته يې لارښوونه وکړه او د ملعون شيطان ناپاکي يې له زړونو څخه لرې کړه(ابن کثير،٢٠٠٩م، ١/ ٢٠٠).

شهاب الدين قسطلاني وايي: د دې کلام اعجاز په هغه څه کې دی چې له مخې يې د عربي وينا له جنس څخه بهر دی، که هغه شعر وي، نثر وي، خطبه وي، رجز وي يا سجع وي. دا په هيڅ يوه کې نه داخلېږي، او نه هم ورسره ګډېږي، په داسې حال کې چې د هغه کلمې او حروف د دوی د وينا په څېر دي او د دوی په شعر او نثر کې کارول کېږي. له همدې امله، د دوی ذهنونه مغشوش شوي وو، د دوی خوبونه ګډوډ شوي وو، او د دوی د وينا په ښکلا کې د دې په څېر لارښوونه نه وه شوې. په دې کې شک نشته چې په خپل فصاحت کې يې د خپل شعر ښکلا سره زړونه وهلي دي، او په خپل بيان کې يې د خپل غشي په ښې خوا معنی په نښه کړې ده. دا د الله تعالی روښانه ثبوت، د هغه څرګنده لاره، د هغه پراخ شواهد، او د هغه ځليدونکی ثبوت دی. هيڅ بدبخت به د

دې مخالفت کولو هڅه ونه کړي مګر دا چې هغه به د پتنګ په څېر د اور په لمبه باندې راښکته شي او د غوسه شوي زمریانو د نیوکې په څېر ذلیل شي".

د هغه د مخالفت کوونکو څخه د یو کس په اړه د ډېرو په حواله روایت شوی دی چې هغه د داسې ویرې او ډار سره مخ شو چې له مخالفت کولو یې منع کړ، لکه څرنګه چې د یحیی بن حکیم غزال په اړه روایت شوی دی چې په خپل وخت کې په اندلس کې یو فصیح سړی و، نو هغه سورت اخلاص ته وکتل ترڅو د هغه مثال تعقیب کړي او د هغه په نظر، د هغې په انداز کې یو څه جوړ کړي، نو هغه د ویرې سره مخ شو، داسې چې هغه یې توبې او بیرته راستنیدو ته اړ کړ.

روایت شوی چې ابن المقفع - چې د خپل وخت تر ټولو فصیح کس و – دې کار ته یې اراده وکړه او په لټه کې یې شو او وینا یې په مفصل ډول تنظیم کړه او هغه یې سورت ونوموله. یوه ورځ هغه د یو هلک په خوا کې تېر شو چې د خدای تعالی دکلام دغه برخه یې لوستله: " ﴿ **وَقِيلَ يا أَرْضُ ابْلَعِي ماءَكِ وَيا سَماءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْماءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ** ﴾. نو هغه بیرته راغئ او هغه څه یې حذف کړل چې تیار کړي یې وو او ویې ویل: زه شاهدي ورکوم چې له دې سره هیڅکله مقابله نشي کیدای، او دا د انسانانو خبرې ندي(القسطلاني،۸۵۱هـ- ۹۲۳هـ ، ۲/ ۲٤٦).

د "**سُبُلُ الهُدَى وَالرَشاد**" لیکوال د غوره بندګانو په ژوندلیک کې ویلي دي: (د دې کلام اعجاز د کلمو د فصاحت، عالي ترکیب، فصاحت، رواني، لوړې کچې ته رسیدل، د کلمو د همغږۍ، ښکلا ، د آیتونو ترتیب، د لنډوالي ځلا، د هنرونو عجیبوالي او د پیل او پای د فصاحت څخه خامخا جوتېږي؛ له همدې امله، په دې باندې پوهه ثبوت ته اړتیا نه لري( الصالحي الشامي، ۲۰۰٦م، ۹/ ٤٠٨).

ابو عیسی الروماني وویل: فصاحت درې درجې لري: لوړه کچه، منځنۍ کچه، د لوړې او ټیټې کچې ترمنځ(منځنۍ) کچه. هر هغه څه چې په لوړه کچه کې دي معجزه ده او همدا د قرآن فصاحت دی. هر هغه څه چې له دې څخه ښکته دي هغه ممکن دي، لکه د فصیحو خلکو بلاغت. فصاحت یواځې د معنی رسول نه دي او نه هم فصاحت د معنی له مخې د لفظ په تایید کې دی؛ بلکه فصاحت د الفاظو له لارې په غوره ممکنه لاره زړه ته معنی رسول دي.

د ښکلا تر ټولو لوړه کچه د قرآن فصاحت دی او د فصاحت تر ټولو لوړه کچه په ځانګړي ډول د قرآن لهپاره ده او د فصاحت تر ټولو لوړه کچه د عربو او غیر عربو لهپاره یوه معجزه ده(إعجاز القرآن للرماني،۲۰۰۷م،ص ۷۵- ۷٦).

ابوبکر الجصاص وویل: موږ پوهېږو چې قرآن کریم د فصاحت په لوړه کچه کې دی، نو دا ممکنه ده چې د غیر عربو لهپاره هم ننګونه ریښتینې وي، چې په هغه ژبه کې چې دوی خبرې کوي د فصاحت په لوړه کچه وینا وکړي(الجصاص، ١٤٠٥هـ، ٣/ ٢٧).

ابوبکر الباقلاني وويل: موږ د قرآن کريم په ترتيب غور کړی او ټول هغه اړخونه مو چې يادونه يې کړې ده د ترتيب د ښکلا، د ترکيب د ښکلا او ترتيب له پلوه په ورته کچه موندلي دي. په دې کې هيڅ توپير نشته، نه له لوړ مقام څخه راښکته کېږي او نه هم تر ټولو ټيټې درجې ته راښکته کېږي.

موږ د خبرو هغه اړخونه هم په پام کې نيولي دي چې په اوږدو او لنډو آيتونو کې ورته اشاره کيدی شي، او موږ د هغه اعجاز پرته له کوم توپير څخه په ورته کچه ليدلی دی.

په ورته ډول، د خلکو خبرې ممکن د ورته کيسې د تکرارولو په وخت کې د پام وړ توپير ولري، او دا ممکن خورا توپير ولري، موږ قرآن کريم ته په هغه څه کې هم وکتل چې د ورته کيسې تکرار په کې شوی وي او موږ يې په فصاحت کې کوم توپير و نه ليد، بلکه هغه د فصاحت او بلاغت په اوج کې دی.

موږ له دې څخه زده کړل چې دا هغه څه دي چې انسانان يې نشي کولی، ځکه چې هغه څه چې دوی يې کولی شي ډېر توپير لري، د تکرار له پلوه، په اړخونو کې توپير، او د هغو دليلونو توپير چې پکې شامل دي(الباقلاني ،۱۹۷۱م، ص ۳۸).

الزرقاني وويل: تر ټولو تکړه شاعران نه دي پېژندل شوي، او نه يې هم له جامع لفظ سره واضح معنی يوځای کړې ده، پرته له دې چې د محدودو شعرونو څخه څو شعرونه وي. د دوی د پاتې شعرونه د اوسط او ټيټې کچې ترمنځ دي. او دلته دوی د نثر ليکونکو او ويناوالو په اړه ورته قضاوت اعلانوي.

که غواړې چې دا کيفيت په خپلو لاسونو تجربه کړې، نو يو ځل قرآن کريم خلاص کړه او د الله تعالی(ج) له کتاب څخه يوه جمله واخله او شمېر يې معلوم کړه. بيا د دې کلمو شمېر له کومې بلې وينا څخه واخلئ، دوه جملې پرتله کړئ، دوه ويناوې پرتله کړئ، او وګورئ چې کومه يوه يې له معنا څخه ډکه ده. بيا وګورئ چې تاسو په هغه الهي وينا کې کوم کلمه غوره کولی شئ يا يې ځای په ځای کولی شئ او تاسو بايد په هغه انساني وينا کې څومره کلمې پرېږدئ يا يې ځای په ځای کړئ؟

که تاسو دا هڅه وکړئ، نو تاسو به د دې حقيقت سره مخ شئ چې ابن عطيه اعلان کړی، لکه څرنګه چې سيوطي د هغه په اړه روايت کوي، کله چې هغه د قرآن کريم په اړه خبرې کوي، او وايي:"که له هغه څخه يو کلمه ليرې شي او بيا په عربي ژبه کې له هغه څخه ښه لفظ ولټول شي، نو هغه به ونه موندل شي.

قرآن کريم د خلکو له خبرو څخه جلا کلام دی، مهمه نه ده چې هغه څومره لوړ او عالي وي. حتی د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا، چې تر ټولو جامع خبرې ورکړل شوې وې، روح يې د نبوت او وحې په رڼا روښانه شوی وه او د هغه جوړښت په خورا بشپړ ډول شوی و چې خدای تعالی پيدا کړی و، سره له دې چې د فصاحت په آسمان کې يې پرواز وکړ او بيان يې د نورو خلکو تر بيان اوچت و، بيا هم د هغه او قرآن ترمنځ لويه فاصله شتون لري. پاک خدای دی او ستاينه يې ده، **سبحان الله و بحمده سبحانه الله العظيم** (الزرقاني ۲۰۱۵م،۳۲۵/۲).

ډاکټر محمد بکر اسماعیل وایي: الله(ج) د عربي ژبې له کلمو څخه هغه غوره کړې چې تر ټولو فصیحې، په ژبه آسانه، په ذهن کې ساده، د غوږونو لپاره تر ټولو خوندورې، په زړه باندې په اغیز کولو کې تر ټولو ځواکمنې او په معنی رسولو کې تر ټولو بشپړې وې. بیا یې هغه بشپړ کړ، چې د هغې اوبدل حتی د انساني خبرو سره د پرتلې وړ نه دي، ځکه چې د هغې په کلمو کې شته مفهومونه د روح ژورو ته رسیږي او د زړه ژورو ته ننوځي.

د دې کلمو په ترکیب کې یوه ښه بلدتیا او نږدې همغږي شتون لري، پرته له دې چې د حروفو مخرجونه یې ځومره نیږدې یا لرې وي، د الفاظو ترتیب د معنی د ترتیب سره سم و او ټولو قبیلو دا ومنله، سره له دې چې دوی په لوستلو او اوریدلو کې مختلفې لهجې لري.

په هر وخت او ځای کې د فصاحت او بلاغت ماهرین دې بې ساري سیسټم او حیرانونکي ترتیب ته تسلیم شول، او مؤمنو نفسونو خپل روح ترلاسه کړل. عالمان هیځکله د دې له مطالعې ستړي نه شول، او هیڅ یو متقی د دې کتاب له لوستلو ستړی نه شو (محمد بکر، ۱٤۱۹هـ، ص ۳۲۸).

حازم په "منهاج البلاغه" کې ویلي دي: په قرآن کریم کې معجزه دا ده چې فصاحت او بلاغت یې په ټولو اړخونو کې دوام لري، داسې دوام چې هیڅ وقفه نـه لري او د هر انسان تر طاقت پورته خبره ده. د عربو او هغو کسانو په خبرو کې چې د دوی په ژبه خبرې کوي، فصاحت او بلاغت په ټولو اړخونو کې نه دی موجود، حتی په لوړو کچو کې، پرته له یو څه څخه (الزرکشي،۱۳۷٦هـ، ۲/ ۱۰۱).

الخطابي وویل: د فقهې ډېری عالمان دې نتیجې ته رسېدلي دي چې په دې کې د معجزې اړخ د فصاحت له نظره دی، خو د دوی لپاره د هغې تفصیل ورکول ستونزمن وو او دوی په دې کې د ذوق حاکمیت ته لاره هواره کړه.

هغه وویل: د دې دلیل دا دی چې د خبرو ډولونه مختلف دي او د وضاحت درجې یې مختلفې دي، او د فصاحت درجې یې متنوع او نا مساوي دي. ځینې یې فصیح، قوي او ښه بیان شوي دي، ځینې یې روان، لنډ او اسانه دي او ځینې یې جواز لرونکي، روان او ساده دي.

د څو دلیلونو په وجه د انسانانو لپاره دا ممکنه نه ده چې د دې په څېر یو څه راوړي، په شمول د دې چې د دوی پوهې د عربي ژبې ټول نومونه او د هغه کلمې نه دي پوښلې، کوم چې د معنی لپاره ظروف (لوښي) دي او دوی د هغو شیانو په معنی نه پوهیږي چې د دې کلمو لخوا لیږدول کیږي او د دوی پوهه دومره بشپړه نه ده چې د یادې ژبې د سیسټمونو ټول اړخونه لکه د کلمو همغږي او یو بل سره اړیکه په بشپړ ډول درک کړي.

وینا په دې دریو شیانو ولاړه ده: روښانه لفظ، یو معنی چې پر بنسټ (لفظ) ولاړه ده، د لفظ او معنی ترمنځ اړیکه چې دوی تنظیموي. که تاسو په قرآن کریم کې غور وکړئ، نو تاسو به په هغه کې دا شیان خورا عزتمن او غوره ومومئ. او تاسو به د هغه د څرګندونو په پرتله هیڅ بل بیان ډېر فصیح، ډېر جامع یا خوږ ونه مومئ، او نه به تاسو

د هغه د نظم په څېر هيڅ شعر ډېر ښکلی او ډېر همغږی ومومئ او کوم چې د قرآن کريم معناوې دي، دا د عقل له ښتنانو څخه پټه نه ده چې د صفاتو او توضيحاتو او فضيلت په لوړو درجو کې د پرمختګ ګواهي ورکوي. دا درې فضيلتونه په جلا توګه د خبرو اترو په مختلفو ډولونو کې موندل کيدی شي. خو يوازې د هغه عالم او قادر ذات په وينا کې يوځای موندل کېږي، چې ټول شيان يې په علم کې شامل کړي دي او ټول شيان يې شميرلي دي.

اوس پوهېږې او پوه شه چې قرآن کريم ځکه معجز دی چې په غوره ترکيب کې تر ټولو فصيح کلمې سره راغلې، چې تر ټولو سمې معناوې لري(الخطابي، ۲۰۲۳م ، ص ۲۶- ۲۷).

خطابي دا هم وويل: ما د قرآن کريم د اعجاز يوه برخه ذکر کړې ده چې خلکو هېره کړې ده، هغه دا ده چې په زړونو او نفسونو اغيزه لري. تاسو د قرآن کريم پرته بل هيڅ وينا نه اورئ، که په شعر کې وي يا هم په نثر کې. کله چې د قرآن کريم غږ غوږ ته ورسېږي، نو په يوه حالت کې زړه ته خوښي او خوږوالی او په بل حالت کې وېره رسوي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعاً مُتَصَدِّعاً مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ﴾؛ په بل ځای کې يې داسې ويلي: ﴿ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَاباً مُتَشَابِهاً مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ﴾).(الخطابي، ۲۰۲۳م ، ص ۷۰).

دا طبيعي وه چې عربان د فصاحت او بلاغت دې لوړې څوکې ته تسليم شول، هغه څوکه چې په عربي ژبه کې يې هيڅ مثال يا ځای ناستی نشته، هغه لوړه څوکه چې عربان يې د يوه آيت په اوريدو سره خپل رب ته په سجده کول، او په سجده او رکوع پرېوتل، د هغې ښکلا او فصاحت حيران کړل. په دې اړه، الله تعالى فرمايي: ﴿ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ بيا فرمايي: ﴿ لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ﴾. دا احساس چې د لومړنيو عربو په زړونو کې راپاريدلی و، اوس هم په هر دور کې زړونه د هغه اغيز له امله لړزوي چې روغ وجدان يې په زړه کې لري. دا کلام خپله تګلاره لري، چې نه شعر دی او نه هم قافيه لرونکی نثر، بلکې دا يو ښکلی ترکيب دی، د هغې آيتونه د وقفو سره جلا شوي چې په دې سره پای ته رسېږي، او روح ته په وقفه ورکولو سره ډاډ ورکول کېږي.

وقفې د اوږدو، لنډو او منځنيو ترمنځ توپير لري، چې په موضوعاتو او ليدونکو پورې اړه لري. هغه د هجرت څخه مخکې د بلنې(دعوت) په پيل کې کله چې هغه د الله(ج) عبادت، د بت پرستۍ ردولو، او په قيامت او آخرت باور ته بلنه ورکوله، په عمده توګه لنډ او اشاره کوونکي و او کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم

مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو په عمده توګه يې د شريعت د نظامونو او د ټولنيز ژوند د نظام د تشريح کولو لهپاره مفصلې خبرې کولې (شوقي ضيف ۲۰۰۹م ، ص: ٤٦).

راغب وايي: د قرآن کريم الفاظ د عربو د خبرو اصلي، جوهر، منځنۍ او تر ټولو قيمتي برخه ده. فقهاء او حکيمان په خپلو احکامو او قضاوتونو کې پر هغوی تکيه کوي، او تر ټولو ماهر شاعران او فصيح خلک په خپلو شعرونو او نثر کې پر هغوی تکيه کوي. له هغوی پرته هر څه، او له هغو کلمو پرته چې له هغه څخه راوتلې او له هغه څخه اخيستل شوي دي، د هغه په پرتله د پاکو ميوو او او پوټکي حيثيت لري (الراغب الأصبهاني،۲۰۰۹م ، ص ۵۵).

د الله تعالی د کلام معجزه دا ده چې معنی په داسې ډول بيانوي چې د نورو ټولو لارو په پرتله ډېره فصيحه وي. د هغه د کلام معجزه د سم نظر مطابق د فصاحت او بلاغت په اوج کې ده (أحمد ،١٤٢١هـ، ص ١/ ٩٧).

**پایله**

تېر بحث ته په کتو دا جوته شوه چې قرآن کريم يو معجز کلام دی، انس او جن د هغه په څېر کوم آيت نشي راوړلی، سره له دې چې قرآن کريم په بار بار دوی ته دا چلنج ورکړی.

همدا ډول دا هم جوته شوه چې قرآن کريم د اعجاز مختلفې برخې لري، لکه د قرآن کريم تاريخي اعجاز، ساينسي اعجاز، علمي اعجاز... لکه څرنګه چې فصاحت د قرآن کريم د اعجاز يو بل دليل دی، بل دا چې فصاحت درې کچې لري: لوړه کچه، منځنۍ کچه او ښکته کچه، په دې ډول قرآن کريم د فصاحت په لوړه کچه کې ځای لري، او له هر ډول عيب څخه پاک دی.

**وړانديزونه**

راتلونکو څېړونکو ته مې وړانديز دا دی چې د قرآن کريم د اعجاز نورې برخې هم په مفصل ډول وڅېړي، کوم چې د مقالې د ډېروالي او حجم د زياتېدو په خاطر ما دغه کار ونشو کولی او له نورو باحثينو او څېړونکو نه هيله کوم چې په خپلو څېړنو او بحثونو کې يې هره يوه برخه جلا جلا وڅېړي.

# The Literal Miracles of the Holy Quran

Teaching assistant Masoud Qaeid, Shaikh Zayed University, Languages and Literature Faculty, Arabic Department.
Email Add: masuodqaeid@gmail.com

**Abstract**
A summary of the miracle is derived from the Arabic verb "ajaz". It refers to any kind of impossibility, and a miracle is something that is out of the ordinary and accompanied by a challenge, so much so that all of humanity cannot produce anything like it. Similarly, eloquence is a clear and distinct form of speech that is eloquent and fluent, the meaning is easily understood, its innovation is surprising and pleasant to listen to, By studying this topic, readers will be able to understand the miracle of the Holy Quran in terms of its eloquence and will also see practical examples. In this research, I used the library method. In this regard, I studied various books and collected information related to this topic. It has been proven that the Holy Quran is miraculous due to its eloquence, according to the most dominant and most correct opinion. Although scholars have divided the miracle of the Holy Quran into different parts, Such as: scientific, informing about the unseen, historical miracle, scientific, legislative miracle, etc. Also, readers will understand that eloquence has three levels and the highest level is the Holy Quran.
**Keywords:** Holy Quran, Miracle, Eloquence, Speech, Miracle

**ماخذونه**

**القران الكريم**

**البيهقي أبوبكر أحمد بن الحسين (۳۸۴–۴۵۸هـ)، علق عليه د. عبد المعطي، دار الكتب العلمية، بيروت– لبنان، الطبعة الأولى، ۱۴۰۵هـ، عدد الأجزاء۷. في دلائل النبوة..**

**القاضِي عياض، (۲۰۱۰م)الشفا بتعريف حقوق المصطفى، دار الحديث، (۱/ ۲۶۲، ۲۶۳).**

**ابن كثير، تفسير ابن كثير،(۲۰۰۹م)، دار ابن حزام، ۱/ ۲۰۰.**

**القسطلاني شهاب الدين، المواهب اللدنية بالمنح المحمدية(۸۵۱هـ– ۹۲۳هـ) ، عدد الأجزاء۳.**

**الصالحي الشامي محمد بن يوسف، سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد،۲۰۰۶م، المجلس الأعلى للشؤون الإسلامية، ۹/ ۴۰۸.**

**إعجاز القرآن للرماني(۲۰۰۷م) ضمن ثلاث رسائل في إعجاز القرآن، تحقيق محمد خلف الله أحمد، ود. محمد زغلول سلام. دار المعارف، مصر.**

**الجصاص أحمد بن علي أبوبكر الرازي الجصاص الحنفي(۱۴۰۵هـ)، المحقق: محمد صادق القمحاوي، دار إحياء التراث العربي، بيروت،۲۷/۳.**

**الباقلاني أبو بكر محمد بن طيب،(۱۹۷۱م) إعجاز القرآن، بيروت، لبنان، ص ۳۸.**

**الزرقاني محمد عبد العظيم،(۲۰۱۵م) مناهل العرفان في علوم القرآن، دار السلامة للباعة والنشر.**

**الزركشي أبو عبدالله بدر الدين محمد بن عبد الله(۱۳۷۶هـ) البرهان في علوم القرآن، المحقق: أبوالفضل إبراهيم، دار إحياء كتب العربية، عدد الأجزاء:۴ .**

**الخطابي محمد بن إبراهيم(۲۰۲۳م) إعجاز القرآن.**

**الراغب الأصبهاني(۲۰۰۹م)المفردات في غريب القرآن، مكتبة نزار مصطفى الباز.**

**أحمد القاضي عبد النبي (۱۴۲۱هـ) دستور العلماء أو جامع العلوم في اصطلاحات الفنون، دار الكتب العلمية، لبنان، بيروت، عدد الأجزاء:۴ ، ۱/ ۹۷.**

**النبهان محمد فاروق، المدخل إلى علوم القرآن الكريم(۲۰۰۵م)، دار عالم القرآن، حلب، عدد الأجزاء۱، ص ۲۱۹–۲۲۰.**

**جامعة المدينة العالمية، الإعجاز العلمي في القرآن الكريم(۲۰۰۹م) عدد الأجزاء۱، صفحة ۷۷–۷۸.**

**شوقي ضيف (۲۰۰۹م) الفن ومذاهبه في النثر العربي.**

**لبيب بيضون، الإعجاز العددي في القرآن،(۲۰۰۵)، شركة الأعلمي للمطبوعات.**

**محمد بكر إسماعيل، دراسات في علوم القرآن لمحمد بكر إسماعيل(۱۴۱۹هـ) ، ص: ۳۲۸.**

# د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو د PNPI، SIAP او Pi شاخصونو له مخې د اوربښت کچه

پوهنیار نظیرگل صدیقي د شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزوعلومو پوهنځی د تاریخ او جغرافیه څانگې استاد
**برېښنالیک:** Nazirgul.sidiqi@gmail.com

**لنډیز**

وچکالي یوه چاپیریالي پېښه ده او د اقلیم د بدلونونو یوه نه بېلېدونکې برخه ده. دا پدیده د باران د نشتوالي او د تودوخې د زیاتوالي حالت دی، چې په هر ډول اقلیمي شرایطو کې واقع کېدای شي. وچکالي یوه استثنایی او بدبخته پیښه ده، چې په عمومي ډول په انسانانو، نباتاتو ټولنو او چاپیریالي ایکولوژی کې د پام وړ بدلونونو لامل کېږي. د وچکالۍ ویجاړونکي اغیزې په تدریجي ډول څرگندېږي او د کرنیزو محصولاتو، خواړو، اقتصادي او ټولنیزې ناکرارۍ او حتی د چاپیریالي بحرانونو د کمښت او ضایع کېدو لامل کېږي. پدې څېړنه کې د وچکالۍ په برخه کې د اقلیم ډېری عام شاخصونه، په شمول د اوسط باران شاخصونو سلنه (PNPI)، د کلني باران معیار (SIAP) او د (Pi) لس شاخص کارول شوی او د ۱۸ کلونو (۲۰۰۰-۲۰۱۷) د مودې ډاټا نه پکې استفاده شوي او همدارنگه د ۳، ۵ او ۱۱ کلن متحرک او اوسط چارټونه رسم شوي. د کلني باران بدلونونو د مرطوب او وچو دورو د وچکالۍ او باراني کلنو ټاکلو لەپاره خطي ریگریشن او د معلوماتو همغږي او دقت ازموینې کارول شوې. د دې څېړنې پایلې ښئ، چې تر ټولو باراني کلونه ۲۰۰۶ او ۲۰۱۴ وو او تر ټولو وچ کلونه ۲۰۱۱ او ۲۰۱۵ ؤ. همدارنگه په یادو دریو سټیشنونو کې له څېړنې وروسته دا معلومه شوه، چې په دې ۱۸ کلنه موده کې د اوربښت اندازه کمه او د وچکالۍ کلنو فیصدي پکې زیاته ده.

**کلیدي ټکي:** اوسط باران سلنه، شاخص، کابل سټیشن ، کلني باران معیار، د لس شاخص، وچکالي

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین والصلواة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین! قال الله تعالی** ﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ﴾ (الأنبیاء:۳۰). ژباړه: موږ هر یو ژوندی موجود د اوبو څخه پیدا کړي، ولې تاسو ایمان نه راوړي.

وچکالي د اقلیم د بدلونونو څخه یو پدیده ده، چې د دې پدیدې په اړه د هر اړخیزې پوهې نشتوالی، د یوې سیمې اقتصاد او طبیعت ته درانه زیانونه رسوي، په ځانګړې توګه په هغه سیمه کې کومه، چې دځمکې د کرې په صحرایي کمربند کې موقعیت لري او د تیلو محصولاتو وروسته د هغې اقتصادي زیربنا کرنیز محصولات دي (جامعي، ۱۳۸۷ل).

وچکالي د اقلیم پورې اړوند یو له خورا مهم خطرونو څخه دی. په هرصورت، د وچکالۍ هیڅ نړیوال منل شوی تعریف شتون نه لري. شاید ترټولو عمومي وړاندیز هغه وي، چې د برینان او روډېر له خوا په (۱۹۸۵م) کې وړاندې شوی ؤ. وچکالي په یوه ځانګړې موده او په یوه ځانګړې سیمه کې د اوبو شتون کموالی دي (ډونالډ،۱۹۹۷م).

وچکالي په هره سیمه او د هر ډول اقلیم کې پیښېدای شي او تقریبا په ټولو اقلیمي رژیمونو کې پیښېږي. دا پدیده په هغو سیمو کې ډېره پیښېږي، چې کم باران لري (تساکریس او وانجلیس، ۲۰۰۴م).

او همدارنګه په اړوندو سیمو کې وچکالي د اوږدې مودې لەپاره د باران نشتوالی دی، په داسې ډول، چې په خاوره کې د رطوبت کمښت رامنځته کوي او د اوبو جریان کموي، په دې توګه د انسانانو فعالیتونه، طبیعي نباتات او د څارویو ژوند ګډوډوي. په مختلفو اقلیمونو کې، د وروستي باران څخه وروسته د سیندونو د اوبو او د خاورې رطوبت د پام وړ کمولو لەپاره اړین وخت یو شان نه وي. له همدې امله، هر یو متخصص د وچکالۍ تعریف له مختلف لېد څخه وړاندې کړی دی. د اقلیم له نظره، هرکله چې په یوه ټاکلې موده کې د یو ځای له خوا ترلاسه شوی باران په ورته وخت کې د ځای د اوسط باران څخه کم وي؛ نو دغه سیمه د وچکالۍ سره مخ کېږي(مرادي او نوروزي، ۱۳۸۵ل).

**د څېړنې اصلي موخه:** د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو د اوربښت ارزونه کول.

**اصلي پوښتنه:** د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو کې د کوم ستېشن د اوربښت کچه لوړه ده؟

**فرعي موخه:** د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو د اوربښت کچه معلومول

## فرعي پوښتنې

۱- ایا د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالۍ د اورښت لوړه کچه لري؟


۲- ایا د کابل، سروبي او چهارآسیاب ولسوالیو کې د وچکالۍ کچه لوړه ده؟

## د څېړنې کړنلاره او مواد

کابل ولایت د افغانستان د مرکز ترځنگ د څلوردیرش ولایتونو له جملې څخه دی، د یاد ولسوالیو څخه درې ولسوالۍ یا درې غوره شویو سټیشنونو په دې تحلیلي دوره کې د ۱۸ کلونو (۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۱۷)، (۱۳۷۹ څخه تر ۱۳۹۶) پورې د باران معلومات، چې پکې د کابل، سروبي او چهار آسیاب ولسوالۍ شاملي دي. د سټیشنونو د مطالعې د وچکالۍ معلوموملو لەپاره د اوسط باران سلنه (PNPI)، د کلني باران معیار (SIAP) او د لس شاخص کارول شوي. یاده ساحوي څېړنه د GIS او EXCEL سافټویر په کارولو سره ترسره شوې.

(۱) جدول: د ټاکل شویو سټیشنونو جغرافیایي ځانگړتیاوې

| د سټیشن نوم | عرض البلد | طول البلد | د سمندر له سطحې څخه ارتفاع |
|---|---|---|---|
| کابل | 35-34 N | 69-45 E | 1803 |
| سروبی | 20-33 N | 69-48 E | 1720 |
| چهارآسیاب | 25-35 N | 69-26 E | 1790 |




(۱) انځور: د کابل ولایت او د اړونده د څېړنو د سټیشنونو د موقعیت نقشه په GIS سافټویر او په ۱۴۰۴ ل کال کې جوړه شوې.

**تیرو اثارو ته کتنه**

حجازي زاده (۱۳۸۹ل) په ایران کې د وچکالۍ د فضایي احصایو تحلیل په نوم څیړنه کې. ایران د اوږدوالي او عرض له پلوه د لوی جغرافیایي پراخوالي، د سختو تشکیلاتو شتون او د هوا د ډله ایز برید سره د مخ کېدو له امله د باران په شرایطو کې ځانګړي شرایط لري. په ایران کې د باران عمومي جوړښت د عرض البلد، لوړوالي او د هوا د ډله ایزو اغیزو لخوا اغیزمن کېږي؛ نو د دې هر یو فکتور سره، باران به هم بدلون ومومي. څېړونکي په ایران کې د ۳۰ کلونو (۱۹۸۵ څخه تر ۲۰۱۴ پورې) په موده کې د ۸۴ غوره شویو سټیشنونو څخه د باران معلوماتو په کارولو سره وچکالي مطالعه او تحلیل کړې ده.

اکبري (۱۳۸۸ل) په مقاله، چې سرلیک یې دی "په جنوبي خراسان ولایت کې د وچکالۍ ځانګړتیاوې څېړل". جنوبي خراسان ولایت د وچکالۍ په ګډون له مختلفو طبیعي پیښو سره مخ دی؛ ځکه چې دا په وچه سیمه او د صحرا په څنډه کې موقعیت لري. له همدې امله، دا اړینه ده، چې په دې سیمه کې د وچکالۍ ځانګړتیاوې وڅېړل شي. د دې هدف لەپاره، د جنوبي خراسان ولایت کې د ۳۰ کلونو مودې (۱۹۷۴م څخه تر ۲۰۰۳م پورې) احصایوي معلومات د کار لەپاره د اساس په توګه کارول شوي دي.

مساعدی، مقدم او کواکبی (۱۳۹۵) په هغه څیړنه کې چې سرلیک یې دی "د وچکالۍ پیژندنې شاخص (RDI) پر بنسټ د وچکالۍ ځانګړتیاوې ټاکل او په مختلفو سیمو او وختونو کې د هغې بدلونونه معاینه کول." دوی وايي چې وچکالي یوه اقلیمي پدیده ده، چې په ټوله نړۍ او ټولو اقلیمي سیمو کې پیښېږي. د وچکالۍ هره پدیده د دریو ځانګړتیاو له مخې پیژندل کېږي: د وچکالۍ موده، د وچکالۍ شدت او د وچکالۍ ډېروالی. د وچکالۍ شاخصونه د وچکالۍ د اندازه کولو لەپاره کارول کېږي. د وچکالۍ شاخصونو په منځ کې، د وچکالۍ پیژندنې شاخص کارول شوی دی.

ګورابي و بهمن رمضاني (۱۳۸۴ل) په یوه څیړنه کې چې سرلیک یې دی "په ګیلان کې د وچکالۍ او د هغې د پیښې رجحان څیړنه". دا څیړنه د وچکالۍ پدیده او په ارومیا کې د هغې د پیښې رجحان څېړلو لەپاره ترسره شوې وه. دا د ۴۰ کلن احصایوي دورې لەپاره د ارومیا سنوپټیک سټیشن څخه د میاشتني باران احصایې کارولې.

کاویاني (۱۳۸۰ل) په یوه څیړنه کې چې سرلیک یې دی "د وچکالۍ او وچکالۍ شاخصونو اقلیمي مطالعه". پدې مقاله کې، د وچکالۍ د ټاکلو لەپاره نړۍ ټول معتبر ضریبونه ښودل شوي او د هغو مثالونو پلي کول، چې د ایران د اقلیمي شرایطو لەپاره ګټور کېدای شي ټینګار شوی دی.

مرادي او نوروزي (۱۳۸۵ل) په یوه مقاله کې چې سرلیک یې دی: په اصفهان ولایت کې د وچکالۍ رجحاناتو مطالعه. د پنځه کلن او اوه کلن متحرک اوسط میتودونه او د ماهر او ګیبس میتود لخوا د معلوماتو طبقه بندي شاخص د دیرش کلن احصایوي دورې (۱۹۸۹م-۲۰۰۰م) په جریان کې کارول شوي.

شکیبا، عظیمي او بوادر (۱۳۸۸ل) په یوه څېړنه کې چې سرلیک یې دی: د وچکالۍ دورې مطالعه او د کرخه لاندې اوبو سرچینو باندې د دوی اغیز، د (۱۹۸۴م-۲۰۱۳م) د دیرش کلن احصایوي دورې په جریان کې د کرخې لاندې حوزې کې د هوا پېژندنې ستېشنونه مطالعه او پرتله شوي.

بني واهب، علیرضا او بهلوعلیجانی (۱۳۸۲ل) په یوه مقاله کې چې سرلیک یې دی: د نړۍ په نیمه وچو، وچو او ډېرو وچو سیمو کې د هوا پېژندنې او کرنې وچکالۍ رجحاناتو مطالعه. SPI د ۱۹۷۰م څخه تر ۲۰۱۴م پورې د CRU لخوا چمتو شوي شبکې د باران د معلوماتو پراساس د ۱، ۳ او ٦ میاشتو لنډمهاله وخت اندازه شوي او بیا د دوی د منځنۍ کچې څخه تر شدید او خورا شدید رجحان د غیر پیرامیټریک من-کندال ازموینې په کارولو سره معاینه شو.

دستوراني او نور (۱۳۹۴). په یوه څېړنه کې چې سرلیک یې دی "په خراسان رضوي کې د MODIS سینسر په کارولو سره په نباتاتو باندې د وچکالۍ اغیزې څېړنه". د هوا پېژندنې او لرې پرتو سینسنګ معلوماتو څخه د معیاري باران شاخص (SPI) اټکل کولو لەپاره کار اخیستل شوی، د ۲۰۰۱م، ۲۰۰۵م، ۲۰۰۹م او ۲۰۱۳م کلونو په جریان کې د ولایت د ۱۰ سینوپټیک ستېشنونو څخه د باران احصایې کارول شوي.

عرفانیان (۱۳۸۸ل) په یوه مقاله کې چې سرلیک یې دی "په خراسان رضوي ولایت کې د وچکالۍ وضعیت څېړنه". د ځمکې لاندې اوبو سرچینو باندې د وچکالۍ د وضعیت او اغیزې څېړنه او محاسبه کول، د SPI شاخص ټاکلو لەپاره د یو کال ۲۰۰٦م او دوه کلونو ۲۰۰۵م-۲۰۱٦م اوږدمهاله وخت لړۍ کارول شوې.

آسیایي (۱۳۸۵ل) په مشهد کې د وچکالۍ ځانګړې سرلیک لاندې څېړنه کې. د پالمیر د وچکالۍ د شدت شاخص محاسبه کولو لەپاره ډیزاین شوي سافټویر په کارولو سره، دا شاخص د ۱۹۷۰م څخه تر ۲۰۰۳م پورې د احصایوي دورې په جریان کې د مشهد سنوپټیک ستېشن لەپاره محاسبه او وړاندې شو.

آزادي او همکاران (۱۳۹۴ل) په یوه مقاله کې چې سرلیک یې دی د مرکزي ایران په حوزو کې د پالمیر د وچکالۍ شاخص ارزونه. د ۱۷ حوزو په بڼه تر سره شوي او په یادو حوزو کې د ځینو څخه ډېرې وچې ښودل شوي.

د کابل، سروبي او چهار اسیاب په ستیشنونو کې د ۱۸ کلونو په موده کې د باران احصایوي تحلیل د وچکالی د مختلفو میتودونو په کارولو سره محاسبه شو او د باران ارزښتونه په لاندې فورمولونو کې کارول شوي. د دې محاسبې پایلې په لاندې جدول او ګرافونو کې دي.


۱- د کلني باران معیاري شاخص (SIAP) د دې شاخص پر اساس د باران د معلوماتو د نورمال ځخه د انحراف محاسبه هم ده. دا شاخص د لاندې فورمول له لارې ترلاسه کېږي.

$$SIAP=(Pi - \overline{P})/SD$$


Pi = په یوه کال کې ټول اورښت

$\overline{P}$ = منځنی اورښت


SD = معیاري انحراف




(۲) شکل: د احصایوي دورې په جریان کې د کابل ستیشن د SIAP ګراف




(۳) شکل: د احصایوي دورې په جریان کې د سروبي ستیشن د SIAP ګراف




(۴) شکل: د احصایوي دورې په جریان کې د چهار اسیاب ستېشن SIAP دیاگرام


۲ – د اوسط اورښت د سلنې شاخص (PNPI)

په دې شاخص کې، د هرې سیمې لهپاره اوسط باران ۱۰۰٪ ګڼل کیږي. PNPI د لاندې فورمول له لارې محاسبه کیږي، په دې فورمول کې.


$$PNPI=Pi\times100/\overline{\boldsymbol{P}}$$

Pi : د کال اورښت


$\overline{\boldsymbol{P}}$ : د کال اوسط اورښت




(۵)شکل: د احصایوي دورې په جریان کې د کابل ستېشن د PNPI ګراف




(٦) شکل: د احصايوي دورې په جريان کې د سروبي ستيشن د PNPI ګراف




(۷)شکل: د احصايوي دورې په جريان کې د چهار اسياب ستيشن د PNPI ګراف

(2) جدول: هغه شاخصونه چې د کابل په ستيشن کې د وچکالۍ وضعيت د ارزولو لپاره کارول شوي.

| کال | د اورښت اندازه | **PNPI شاخص** | | **Pi د لس شاخص** | | **SIAP شاخص** | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د شاخص مقدار | کيفي تفصيل | د شاخص مقدار | کيفي تفصيل | د شاخص مقدار | کيفي تفصيل |
| 2000 | 230.8 | ۷۴,۹ | کمه و چکالي | 5.26 | ډېره وچکالي | ۰,۸۱ | باراني کال |
| 2001 | 318.2 | ۱۰۳,۳ | نورمال | 10.52 | ډېره وچکالي | ۰,۱۰ | باراني کال |
| 2002 | 415.6 | ۱۳۵,۲ | باراني کال | 15.78 | ډېره وچکالي | ۱,۱۳ | باراني کال |
| 2003 | 190.1 | ٦۱,۷ | نيمه وچکالي | 21.05 | وچکالي | -۱,۲۳ | ډېره وچکالي |
| 2004 | 365.5 | ۱۱۸,٦ | نورمال | 26.31 | وچکالي | ۰,٦۰ | باراني کال |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2005 | 435.7 | ۱۴۱,۴ | باراني كال | 31.57 | تقريباً نورمال | ۱,۳۴ | باراني كال |
| 2006 | 450.3 | ۱۴٦,۲ | باراني كال | 36.84 | تقريباً نورمال | ۱,۵۰ | باراني كال |
| 2007 | 287.8 | ۹۳,۴ | نورمال | 42.10 | لږ نورمال | -۰,۲۱ | نورمال |
| 2008 | 338.3 | ۱۰۹,۸ | نورمال | 47.31 | لږ نورمال | ۰,۳۱ | نورمال |
| 2009 | 255.7 | ۸۳,۱ | نورمال | 52.63 | نورمال | -۰,۵۴ | نيمه وچكالي |
| 2010 | 313.9 | ۱۰۱,۹ | نورمال | 57.89 | نورمال | ۰,۰٦ | نرمال |
| 2011 | 157.4 | ۵۱,۱ | ډېره وچكالي | 63.15 | لږ مرطوب | -۱,۵۸ | ډېره شديده وچكالي |
| 2012 | 255.5 | ۸۲,۹ | نورمال | 68.42 | لږ مرطوب | -۰,۵۵ | كمه و چكالي |
| 2013 | 290.7 | ۹۴,۳ | نورمال | 73.68 | مرطوب | -۰,۱۸ | نورمال |
| 2014 | 471.1 | ۱۵۲,۹ | باراني كال | 78.94 | مرطوب | ۱,۷۱ | باراني كال |
| 2015 | 178.2 | ۵۷,۸ | ډېره وچكالي | 84.21 | ډېر مرطوب | -۱,۳٦ | ډېره وچكالي |
| 2016 | 360.7 | ۱۱۷,۱ | نورمال | 89.47 | ډېر مرطوب | ۰,۵۵ | باراني كال |
| 2017 | 228.5 | ۷۴,۱ | لږه وچكالي | 94.73 | فوق العاده مرطوب | -۰,۸۴ | نيمه وچكالي |

(3) جدول: هغه شاخصونه چې د سروبي ستيشن كې د وچكالۍ وضعيت ارزولو لپاره كارول شوي.

| | | PNPI شاخص | | Pi د لس شاخص | | SIAP شاخص | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| كال | د اورښت اندازه | د شاخص مقدار | كيفي تفصيل | د شاخص مقدار | كيفي تفصيل | د شاخص مقدار | كيفي تفصيل |
| 2000 | ۱۹۵,٦ | 73.1 | لږه وچكالي | 5.26 | ډېره وچكالي | -0.80 | نيمه وچكالي |
| 2001 | ۲۸۸,۳ | 107.8 | نورمال | 10.52 | ډېره وچكالي | 0.23 | نورمال |
| 2002 | ۳٦٦,۹ | 137.2 | باراني كال | 15.78 | ډېره وچكالي | 1.11 | باراني كال |
| 2003 | ۱٦٦,۹ | 62.4 | نيمه وچكالي | 21.05 | وچكالي | -1.13 | ډېره وچكالي |
| 2004 | ۳۷۵,۲ | 140.3 | باراني كال | 26.31 | وچكالي | 1.21 | باراني كال |
| 2005 | ۲۳۵,۸ | 88.2 | نورمال | 31.57 | تقريباً نورمال | -0.36 | لږه وچكالي |
| 2006 | ۴۲۰,۴ | 157.2 | باراني كال | 36.84 | تقريباً نورمال | 1.71 | باراني كال |
| 2007 | ۲۷۴,۷ | 102.7 | نورمال | 42.10 | لږ نورمال | 0.08 | نورمال |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2008 | ۱۴۵,٦ | 54.4 | وچکالي | 47.31 | لږ نورمال | -1.37 | ډېره وچکالي |
| 2009 | ۲۱۰,۹ | 78.9 | نورمال | 52.63 | نورمال | -0.63 | نیمه وچکالي |
| 2010 | ۳۰۲,۳ | 113.1 | نورمال | 57.89 | نورمال | 0.39 | باراني کال |
| 2011 | ۱٦۷,۲ | 62.4 | نمه وچکالي | 63.15 | لږ مرطوب | -1.13 | ډېره شدیده وچکالي |
| 2012 | ۲۲۵,۷ | 84.3 | نورمال | 68.42 | لږ مرطوب | -0.47 | لږه وچکالي |
| 2013 | ۳۹۰,۹ | 146.1 | باراني کال | 73.68 | مرطوب | 1.39 | باراني کال |
| 2014 | ۲۹۸,۴ | 111.6 | نورمال | 78.94 | مرطوب | 0.34 | باراني کال |
| 2015 | ۱٦٦,۸ | 62.3 | نیمه وچکالي | 84.21 | ډېر مرطوب | -1.13 | ډېره وچکالي |
| 2016 | ۳۷٦,۴ | 140.7 | باراني کال | 89.47 | ډېر مرطوب | 1.22 | ترسالی |
| 2017 | ۲۰۵,۸ | 76.9 | لږه وچکالي | 94.73 | فوق العاده مرطوب | -0.69 | نمه وچکالي |

(4) جدول: هغه شاخصونه چې د چهاراسیاب سټیشن کې د وچکالۍ وضعیت ارزولو لهپاره کارول شوي.

| | | PNPI شاخص | | Pi د لس شاخص | | SIAP شاخص | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کال | د اورښت اندازه | د شاخص مقدار | کیفی تفصیل | د شاخص مقدار | کیفی تفصیل | د شاخص مقدار | کیفی تفصیل |
| 2000 | ۳۰۴,۲ | 104.2 | نورمال | 5.26 | ډېره وچکالي | 0.13 | نورمال |
| 2001 | ۲۹۷,۵ | 101.9 | نورمال | 10.52 | ډېره وچکالي | 0.06 | نورمال |
| 2002 | ۳۱۲,۷ | 107.1 | نورمال | 15.78 | ډېره وچکالي | 0.22 | نورمال |
| 2003 | ۲۱۹,۴ | 75.2 | لږه وچکالي | 21.05 | وچکالي | -0.77 | نیمه وچکالي |
| 2004 | ۲٦۴,۹ | 90.8 | نورمال | 26.31 | وچکالي | -0.29 | لږه وچکالي |
| 2005 | ۲۸۰,٦ | 96.1 | نورمال | 31.57 | تقریباً نورمال | -0.12 | نورمال |
| 2006 | ۲۳۲,۸ | 79.8 | لږه وچکالي | 36.84 | تقریباً نورمال | -0.63 | باراني کال |
| 2007 | ۲۴۵,۹ | 84.3 | نورمال | 42.10 | لږ نورمال | -0.49 | لږه وچکالي |
| 2008 | ۲۰۳,٦ | 69.8 | لږه وچکالي | 47.31 | لږ نورمال | -0.94 | ډېره وچکالي |
| 2009 | ۲۱۵,۳ | 73.7 | لږه وچکالي | 52.63 | نورمال | -0.82 | ډېره وچکالي |
| 2010 | ۳۹٦,۱ | 135.7 | باراني کال | 57.89 | نورمال | 1.11 | باراني کال |
| 2011 | ۴۲۴,٦ | 145.5 | باراني کال | 63.15 | لږ مرطوب | 1.42 | باراني کال |
| 2012 | ۸۷,۵ | 29.9 | ډېره لږه وچکالي | 68.42 | لږ مرطوب | -2.19 | ډېره شدیده وچکالي |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2013 | ۴۲۱,۷ | 144.5 | باراني کال | 73.68 | مرطوب | 1.39 | باراني کال |
| 2014 | ۲۴۹,۵ | 85.5 | نورمال | 78.94 | مرطوب | -0.45 | لږه وچکالي |
| 2015 | ۳۰۹,۵ | 106.5 | نورمال | 84.21 | ډېر مرطوب | 0.19 | نورمال |
| 2016 | ۴۶۹,۷ | 160.9 | باراني کال | 89.47 | ډېر مرطوب | 1.91 | باراني کال |
| 2017 | ۳۱۷,۳ | 108.7 | نورمال | 94.73 | فوق العاده مرطوب | 0.27 | نورمال |

۳- د لس شاخص

$$Pi = \frac{i}{N} \times 100$$

Pi = د اورښت امکان


i = شمېره

N = د اورښت شمیرې (تعداد).


(5) جدول: د وچکالۍ د شدت طبقه بندي د لس شاخص پر بنسټ

| د سلنې له مخې کچه | | د وچکالۍ وضعیت | د لس شمېره |
|---|---|---|---|
| له ۱۰٪ څخه کم | ۵٪ | ډېره شدیده وچکالي | اول |
| له ۱۰ څخه تر ۲۰٪ پورې | ۱۰-۱۵٪ | ډېره وچکالي | دویم |
| له ۲۰ څخه تر ۳۰٪ پورې | ۲۱-۲۶ ٪ | وچکالي | دریم |
| له ۳۰ څخه تر ۴۰٪ پورې | ۳۱-۳۶ ٪ | تقریباً نورما | څلورم |
| له ۴۰ څخه تر ۵۰٪ پورې | ۴۲-۴۷ ٪ | نورمال | پنځم |
| له ۵۰ څخه تر ۶۰٪ پورې | ۵۲-۵۷٪ | لږ نورمال | شپږم |
| له ۶۰ څخه تر ۷۰٪ پورې | ۶۳-۶۸٪ | لږ مرطوب | اووم |
| له ۷۰ څخه تر ۸۰٪ پورې | ۷۳-۷۸٪ | مرطوب | اتم |
| له ۸۰ څخه تر ۹۰٪ پورې | ۸۴-۸۹٪ | ډېر مرطوب | نهم |
| له ۹۰ څخه تر ۱۰۰٪ پورې | ۹۴٪ | فوق العاده مرطوب | لسم |


د تیرو ۱۸ کلونو د وچکالۍ او اورښت د کچې د معلومولو لپاره، په مطالعه شویو سټیشنونو کې د ۳، ۵ او ۱۱ کلونو متحرک اوسط پلان شوی دی.




(۸) شکل: د کابل ستیشن ګراف




(۹) شکل: د سروبي ستیشن گراف



(۱۰) شکل: د چهار اسیاب ستیشن گراف

د (۸) شکل له مخې کابل په ستیشن د ۲۰۰۳م، ۲۰۱۱م او ۲۰۱۵م کلنو کې او په ډېره شدیده وچکالي ده او همدارنگه ۲۰۰۲م، ۲۰۰٦م او ۲۰۱۴م کلنو ډېر باراني او په (۹) شکل د سروبي په ستیشن کې د ۲۰۰۳م، ۲۰۰۸م، ۲۰۱۱م او ۲۰۱۵م کلونه ډیر وچ او اورښت پکې کم دي او یه ذکر شوي ستیشن کې ۲۰۰۲م، ۲۰۰٦م او ۲۰۱۳م کلونو کې اورښت ډېر او باراني دي. په (۱۰) شکل د چهار آسیاب ستیشن کې ۲۰۰۸م او ۲۰۱۲م کلونو کې وچکالي او په ۲۰۱۰م، ۲۰۱۱م، ۲۰۱۳م او ۲۰۱٦م کلو کې ډېر بارانونه شوي دي.د ۳ کلن متحرک له مخې کابل ستیشن کې ۲۰۱۱م او ۲۰۱۵م کلونه او سروبي په ستیشن کې ۲۰۰۸م او ۲۰۱۱م او د چهارآسیاب په ستیشن کې ۲۰۱۲م کلونه ډېر وچکالې ځپلي دي او همدارنگه د یاد متحرک له مخې ۲۰۰۱م، ۲۰۰۲م، ۲۰۰٦م، ۲۰۱۳م او ۲۰۱۴م کلونه او په سروبي ستیشن کې ۲۰۰٦م، ۲۰۱۳م او ۲۰۱٦م کلونه او چهار آسیاب ستیشن ۲۰۱۰م، ۲۰۱۱م، ۲۰۱۳م او ۲۰۱٦م کلونو کې ډیر باران ښودل شوي دي.

د پنځه کلن متحرک پر بنسټ، د کابل په ستیشن کې له ۲۰۰۹م څخه تر ۲۰۱۲م پورې، د سروبي ستیشن کې، له ۲۰۰۷م څخه تر ۲۰۰۹م او ۲۰۱۵م او همدارنگه د چهاراسیاب په ستیشن کې له ۲۰۱۱م څخه تر ۲۰۱۵م کال پورې د وچکالۍ دوره لیدل شوې ده.

د ۱۱ کلن متحرک پربنا د کابل په ستیشن کې له ۲۰۰۹م څخه تر ۲۰۱۳م ، د د سروبي ستیشن کې ۳۲۰۰۸م او ۲۰۰۹م کلونه او د چهاراسیاب ستیشن کې له ۲۰۰۵م څخه تر ۲۰۱۲م پورې وچکالي لري. وچکالۍ رجحان د

احصایوي دورې په جریان کې یو څه بدلون وموند، پرته له لوندو کلونو څخه او ځینې کلونه د وچکالۍ شرایط درلودل. په ذکر شوي متحرک درې واړه سټیشونه په ځینو کلونو وچکالي او په ځینو کلونو باران او ځینو کې موازي وضعیت لري.

**پایله**

د کابل، سروبي او چهار اسیاب په سټیشنونو کې د ۱۸ کلونو په موده کې د باران احصایوي تحلیل چې د مختلفو شاخصونو پر بنسټ ترسره شوی، لکه څنګه چې په جدولونو او ګرافونو کې ښودل شوي، ښيي چې د وچکالۍ شدت چې په ټولو مطالعه شویو شاخصونو کې لیدل شوی یو څه مطابقت لري، لکه څنګه چې په جدول کې لیدل کېږي. د PNPI شاخص کې ترټولو "لږ" او "کمزوري" وچکالۍ شاملې دي. د SIAP شاخص کې کم کلونه وچ او یاد شخص هم د نورو دوو شاخصونو په څېر د وچکالۍ وضعیت لري. په دې څېړنه کې، دا نتیجه اخیستل شوې، چې په څېړل شویو سیمو کې د وچکالۍ احتمال ډېر نه دی او لکه څنګه چې موږ لومړیواو منځنیو او بعضې ورستیو کلونو ته نږدې کېږو، په څېړل شویو سټشنونو کې، چې د یو ولایت مربوط دي، د وچکالۍ شدت زیاتېږي. په پایله کې اړینه ده، چې د وچکالۍ او لندبل پدیدې او په سیمه کې د اوبو سرچینو په برخه کې د باران بدلون ته پاملرنه وشي. همدارنګه، د وچکالۍ مسئله او د هغې پراخو او جامع خطرونو ته په کتلو سره، موږ د هغې مختلف لاملونه په ګوته کړو او د هغې سمدستي زیان رسونکو اغیزو باندې تمرکز وشي، په ځانګړې توګه په اقتصاد او کرنه. په عمومي توګه، نن ورځ موږ دا منلې ده، چې سختې وچکالۍ د اتموسفیر ګردش کې د بدلونونو او په لویه کچه د سینوپټیک سیستمونو د بې ځایه کېدو پایله ده.

**وړاندیزونه**

۱- په دې سیمو کې دې زیاتې ونې وکرل شي او کرل شویو ونو حفاظت ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

۲- دولتي چارواکې دې د یادو سیمو موسمي اوبه په ځانګړې اهتمام سره مدیریت کړي.

۳- د هغو توکو له سوزیدو څخه دې ډډه وشي، چې هوا ککړوي.

# Precipitation Levels in Kabul, Sarubi and Chahar Asiab Districts Based on PNPI, SIAP and PI Indices

Teaching assistant Nazir Gul Sidiqi, Shaikh Zayed University, Faculty of Social Science, Department of History and Geography.
**Email**: Nazirgul.sidiqi@gmail.com

**Abstract**

Drought is an environmental phenomenon and an integral part of climate change. This phenomenon is a state of lack of rainfall and increased temperature, which can occur in any climatic conditions. Drought is an exceptional and unfortunate event, which generally causes significant changes in humans, plant communities and environmental ecology. The devastating effects of drought appear gradually and cause the reduction and loss of agricultural products, food, economic and social instability and even environmental crises. In this study, several common climate indicators in the field of drought, including the percentage of average rainfall index (PNPI), the standard annual rainfall index (SIAP) and the Pi index, were used and data for a period of 18 years (2000-2017) were used, as well as 3-, 5- and 11-year moving average charts were drawn. Linear regression and data consistency and accuracy tests were used to determine the wet and dry periods of annual rainfall changes, drought and rainy years. The results of this study show that the rainiest years were 2006 and 2014, and the driest years were 2011 and 2015. Also, after studying the three stations, it was found that during this 18-year period, the amount of precipitation was low and the percentage of drought years was high.

**Keywords**: Annual rainfall standard, Average rainfall percentage, drought, index, Kabul station, Ten index,

**ماخذونه**

اکبری، محمد. (۱۳۸۸ل). بررسی ویژگی خشکسالی های استان خراسان جنوبی. دانشگاه سیستان و بلوچستان.
آزادی، سارا و همکاران، ۱۳۹۴، ارزیابی شاخص خشکسالی پالمر در حوزه های ایران مرکزی. مجله علوم و فنون کشاورزی و منابع طبیعی، علوم آب و خاک.
آسیایی، مهدی. (۱۳۸۵ل). پایش خشکسالی در مشهد، پژوهشکده اقلیم شناسی مشهد.
بنی واهب، علیرضا و بهلول علیجانی. (۱۳۸۲). بررسی خشکسالی، ترسالی و پیش بینی تغیرات اقلیم منطقه بیرجند. دانشگاه تربیت معلم تهران.
جامعی، جاوید. (۱۳۸۷ل). تحلیل و بر آورد خشکسالی در غرب ایران. شماره مقاله ۵۹۵.دانشگاه تبریز
حجازی زاده، زهرا و همکاران. (۱۳۸۹). بررسی سیر خشکسالی اقلیمی و اثرات آن بر کست گندم در استان بوشهر . فصلنامه علمی- پژوهشی انجمن جغرافیای ایران شماره ۲۴.
دستورانی،مصطفی و همکاران. (۱۳۹۴). بررسی اثر خشکسالی روی پوشش گیاهی با استفاده از سنجنده MODIS در خراسان رضوی.
شکیبا، علیرض و همکاران. (۱۳۸۸ل). بررسی دوره های خشکسالی و تاثیر آن بر منابع آب پایین دست کرخه. فصلنامه علمی پژوهشی جغرافیا.
عرفانیان، مریم. (۱۳۸۸ل). بررسی وضعیت خشکسالی ها در استان خراسان رضوی. دانشگاه فردوسی مشهد.
کاویانی، محمد رضا. (۱۳۸۰ل). بررسی اقلیمی شاخص های خشکی و خشکسالی. دانشگاه اصفهان.
گورابی، بهمن رمضانی. (۱۳۸۴). بررسی پدیده خشکسالی با استفاده از شاخص در صد نرمال بارندگی در نواحی مرکزی گیلان. شماره،۲. دانشگاه آزاد.
مرادی، حمید رضا،عبدالله، نوروزی. (۱۳۸۵ل). بررسی روند خشکسالی در استان اصفهان. نشریه رشد آموزش جغرافیا.
مساعدی، الوالفضل، سمانه محمدی مقدم و غزاله کواکبی. ( ۱۳۹۵). تعیین خصوصیات خشکسالی بر اساس شاخص شناسایی خشکسالی (RDI) و بررسی تغییرات آن در مناطق و دوره های مختلف زمانی. نشریه پژوهش های حفاظت آب و خاک، جلد بیست و سوم، شماره ششم.
G.Tsakir and H.Vangelis,2004, Towards a Drought Watch System based on Spatial SPI, National Technical University of Athens.
Wilhite, Donald, A, ( 1997). Responding to Drought: Common Threads from the past Visions for the Future. University of Nebraska- Lincoln.

# د کوچنیو کاروبارونو لهپاره د تجارتي پلان اهمیت

پوهنیار توریالي سنګین د شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځي د منجنمنټ اداري تشبثاتو څانګې استاد
**برېښنالیک:** Tooryalaisangee2019@gmail.com

**لنډیز**

کوچینو کاروبارونو کې د تجارتي پلان نشتون او یا ورته عدم توجه عمده ستونزه ده .نود یو ښه ترتیب شوی تجارتي پلان د کوچنیو کاروبارونو د بریالیتوب او پاینښت لهپاره یوه مهمه وسیله ده. دا د کوچینو کاروبارونو د فعالیتونو لهپاره د سړک د نقشې په توګه کار کوي، د ستراتیژیکې تصمیم نیونې، مالي پلان جوړونې او عملیاتي مدیریت له لارې متشبثینو ته لارښوونه کوي. د کوچینوکاروبارونو لهپاره د تجارتي پلان شتون او اهمیت د دې څېړنې موخه بلل کېږي. په دغه څېړنه کې د کیفي او توصیفي مېتودونو څخه استفاده شوې ده ، چې دوهمي معلومات د مختلفو معتبرو داخلي او خارجي منابعو، علمي ویب سایټونو او علمي مقالو څخه راټول شوی دي. چې کوچني کاروبارونه د تجارتي پلانونو په لرلو سره کولی شي چې د بقا لوړه کچه، پانګې ته ښه لاسرسی او د بازار بدلونونو سره په ښه ډول ځانونه عیار کړي. پایلې ښیي چې یو جامع او روښانه تجارتي پلان د کوچنیو کاروبارونو لهپاره د خطر کمولو، منابعو په سمه توګه مدیریت، او د بازار فرصتونو څخه د اعظمي ګټې اخیستو لهپاره اړین دی او همدارنګه د کوچنیو کاروبارونود ودې او اوږدمهاله بقا لهپاره د بنسټیز عنصر په توګه د تجارتي پلان په شتون باندې ټینګار کوي.

**کلیدي کلمې:** تجارتي پلان ،خطر، ستراتیژیکه پلان جوړونه ،کوچنی کاروبارونه، متشبثیت

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

ټول هغه فعالیتونه چې هدف یې د توکو او اجناسو په وسیله د ګټې لاسته راوړل وي کاروبار بلل کیږي یا ټول هغه تولیدي فعالیونه چې د هغې مقصد د اجناسو او خدماتو په وجه د مفادو حاصلول وي کاروبار بلل کیږي.

کله چې هم موږ د نویو تجارتونو په اړه خبرې کوو نو ډېر وخت مو د تجارت له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لهپاره د پراخ ځای او ډېر امکانات فکر ته راځي. دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د وړو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي .د وړو کاروبارونو یو ښه والی دادی چې، په لږ وخت کې یې د جوړیدو او خدماتو د ارایه کیدو قابلیت پیدا کولی شو.

کوچني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د محدود شمېر کارکوونکو، محدودې پانګې او محدود عاید درلودونکي وي او یا هم کوچني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د کارمندانو شمیر یې( ۱-۴۹ ) کسانو پورې وي.چې د کوچني کاروبارونو د پر مختګ لهپاره تجارتي پلان ته اړتیا ده ، چې تجارتي پلان هغه سند دی چې دیو کاروبار ټول کاري پروسیجرونه ، موخې او موخو ته د رسېدو لارې تشریح کوي د کاروبار د ټولو برخو په اړه یکې په جلا جلا پراګرافونو او عنوانونو کې مالومات ځای په ځای شوي وي.

کوچني کاروبارونه د نړیوال اقتصاد په پرمختګ کې مهمه برخه لري، خو د هغوی ډېر کاروبارونه د پیل له پړاو څخه مخکې یا وروسته له ستونزو سره مخ کېږي. د یو تجارتي پلان نشتوالی یا ناقص پلان پلی کول کولی شي د دې کاروبارونو د ناکامی اصلي لامل وي .(Hisrich & Peters, 2017) تجارتي پلان د کاروبار هدفونه، ستراتیژي او د منابعو تخصیص تشریح کوي، چې د کاروبارونو د ودې او دوام لهپاره حیاتي ګڼل کېږي.

## د څېړنې اهمیت

د دې د څېړنې یو اهمیت دادی چې په راتلونکي کې استادان او زده کړیالان ترې د یو ماخذ په توګه ګټه واخلي. همدارنګه ددې څیړنی بل اهمیت دادی چې د دې څېړنې په اساس به د کوچنیو کاروبارونو خاوندان خصوصا زموږ د هېواد سوداګر به د کوچنیو کاروبارنو د پرمختګ او تجارتي پلان په باره تحلیلي معلومات تر لاسه کړي چې ددوی د کاروبارنو په پرمختګ کی به رغنده رول ولري. د دې څېړنې بل اهمیت دادی چې د یادې څېړنی په مرسته به نور څیړونکي د کوچنیو کاروبارنولهپاره د تجارتي پلان اهمیت په اسانی سره تحلیل کړي.

## د څېړنې موخې

۱. د تجارتي پلان پېژندنه

۲. د کوچینو کاروبارونو پېژندل

۳. د کوچینو کاروبارونو لهپاره د تجارتي پلان اهمیت

## د څېړنې مېتودولوژي

په نوموړي څېړنه کې د کیفي او توصیفي مېتودونو څخه استفاده شوې ده او دغه څېړنه دوهمي معلوماتو ته اړتیا لري چې دغه دوهمي معلومات د مختلفو معتبرو داخلي او خارجي منابعو، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## تیرو لیکنو ته کتنه

علمي څېړنې د کوچنیو کاروبارونو په بریالیتوب کې دتجارتي پلان جوړونه د مهم رول په اړه قانع کوونکي شواهد وړاندې کوي. څېړنې په دوامداره توګه ښیي چې د رسمي پلان جوړونې پروسې د مالي فعالیت ښه کولو، د ژوندي پاتې کیدو کچه لوړولو، او د ستراتیژیک پریکړې کولو ښه کولو کې د پام وړ مرسته کوي. د برک او نورو لخوا میټا تحلیل (۲۰۱۰) د سوداګرۍ پلان جوړونې او فعالیت پایلو ترمنځ د پام وړ مثبت اړیکه ($r = 0.20$, $p < 0.01$) وموندله، په ځانګړي ډول قوي اغېزې په ډېر باثباته صنعت چاپېریال کې لیدل شوي. دا اړیکه د بریالیتوب په مختلفو اقداماتو کې ساتل کېږي، پشمول د عاید وده، ګټه اخیستنه او په بازار کې اوږد عمر.

تیوریکي چوکاټونه د دې پوهیدو لپاره مهم لینزونه چمتو کوي چې ولې د تجارتي پلان جوړونه د کوچنیو تصدیو لپاره دومره ارزښتناکه ثابتېږي. د سرچینو پر بنسټ لید (بارني، ۱۹۹۱) مرسته کوي چې تشریح کړي چې څنګه پلان جوړونه شرکتونو ته وړتیا ورکوي چې خپلې ځانګړې سرچینې او وړتیاوې په ښه توګه وپیژني او ګټه پورته کړي. د ادراکي بار تیوري (سویلر، ۱۹۸۸) وړاندیز کوي چې د سوداګرۍ پلانونه د پیچلو معلوماتو بهرني کولو سره یو مهم فعالیت ترسره کوي، په دې توګه د هغو متشبثینو لپاره د پریکړې کولو ډېر بار کموي چې معمولاً په ورته وخت کې ډېری عملیاتي مسؤلیتونه اداره کوي. پداسې حال کې چې ځینو پوهانو په پیل کې پلان جوړونه او انعطاف د مخالفو طریقو په توګه وضع کړ (سرسواتي، ۲۰۰۱)، معاصرې څېړنې ښیي چې ترټولو بریالۍ کوچنۍ سوداګرۍ په مؤثره توګه د تجارتي پلان جوړونې او تطبیقي اجرا دواړه سره یوځای کوي (برینکمن او نور، ۲۰۱۹).

تجربوي مطالعات د رسمي تجارتي پلان جوړونې سره تړلې مشخصې ګټې څرګندوي. د ډیلمار او شین (۲۰۰۳) لخوا د اوږدمهاله څېړنې وموندله چې د جامع سوداګرۍ پلانونو سره پیل شوي شرکتونه د رسمي پلانونو پرته د هغو په پرتله ۲۷٪ لوړ عاید وده ترلاسه کړې. په ورته ډول، د ګروبر (۲۰۰۷) کار د پلان جوړونې شرکتونو لپاره د ۱۸٪ ګټې ګټه ښودلې، پداسې حال کې چې هونیګ او سیمویلسن (۲۰۱۲) د پنځه کلن ژوندي پاتې کیدو کچه ۳۰٪ لوړه ثبت کړې. د فعالیت دا ګټې په ځانګړي ډول د نوي شرکتونو لپاره څرګندېږي چې په نسبتا باثباته بازار شرایطو کې فعالیت کوي (لیاو او ګارټنر، ۲۰۰۶). د پلان جوړونې پیچلتیا هم د پام وړ اهمیت لري، د مفصلو،

جامع پلانونو سره چې د ساده چک لیستونو یا غیر رسمي طریقو څخه غوره فعالیت کوي (کارلسن او هونیګ، ۲۰۰۹).

د سوداګرۍ پلان جوړونې عصري چوکاټونه په دریو مهمو ابعادو ټینګار کوي چې د کوچني سوداګرۍ بریالیتوب کې مرسته کوي. لومړی، د ستراتیژیک معمارۍ اجزا شرکتونو سره مرسته کوي چې د بازار ځانګړي موقعیتونه وپیژني او د ناڅرګندتیاو لهپاره چمتو شي (کیم او ماوبورګن، ۲۰۰۵؛ شومیکر، ۱۹۹۵). دوهم، عملیاتي ځانګړتیا د اندازه کولو وړ میټریکونو او روښانه سړک نقشو له لارې عملي پلي کول تضمینوي (ریس، ۲۰۱۱؛ بیکر او هوسیلډ، ۲۰۰٦). دریم، د مالي سختۍ اجزا لکه د فشار ازموینه او متحرک پانګې تخصیص ډېر انعطاف منونکي مالي بنسټونه رامینځته کوي (داموداران، ۲۰۰۹؛ برکري، ۲۰۰۷). معاصرې طریقې په زیاتیدونکي توګه د سوداګرۍ ماډل کینوس (اوسټروالډر او پیګنور، ۲۰۱۰) په څیر وسایل مدغم کوي ترڅو ډېر بصري، د تطبیق وړ پلان جوړونکي اسناد رامینځته کړي.

د دې ښودل شویو ګټو سره سره، د سوداګرۍ پلان پلي کولو کې د پام وړ ننګونې دوام لري. ادراکي خنډونه په شمول د ډېر باور تعصب (هیوارډ او نور، ۲۰۰٦) او د پلان جوړونې غلطۍ (کاهنیمن او ټورسکي، ۱۹۷۹) ډېری وختونه متشبثین ننګونو ته اړ باسي. د سرچینو محدودیتونه لکه د وخت فقر (فټزسیمون او نور، ۲۰۰۵) او د مالي سواد تشې (لوساردي او میچل، ۲۰۱۴) اضافي خنډونه رامینځته کوي. شاید تر ټولو مهمه دا وي چې ډېری کوچني کاروبارونه د متحرک تطابق سره مبارزه کوي - د خپل پلان سره سم پاتې کیدو او د بازار بدلونونو ته د ځواب ویلو لهپاره کافي انعطاف منونکي پاتې کیدو ترمنځ سم توازن موندل (آیزنهارډټ او سول، ۲۰۰۱).

د حل لارې راڅرګندېدونکي د دې پلي کولو ننګونو په حل کې ژمنې ښیې. د مصنوعي ذهانت په مرسته د پلان جوړونې وسایل (Obschonka & Audretsch, 2020) د پوهې او وخت محدودیتونو په له منځه وړلو کې مرسته کوي، پداسې حال کې چې د چټک پلان جوړونې سپرینټونه (Rigby et al., 2016) د پلان جوړونې ډېر ځواب ویونکي پروسې رامینځته کوي. د ملګرو پر بنسټ د حساب ورکولو سیسټمونه (Bandura, 2001) د پلان جوړونې نظم ساتلو کې اغیزمن ثابت شوي دي. دا نوښتونه په ځانګړي ډول د نن ورځې په چټکۍ سره بدلیدونکي سوداګریز چاپېریال کې ارزښتناک دي، چیرې چې دودیز کلني پلان جوړونې دورې ډېری وختونه ناکافي ثابتیږي.

د سوداګرۍ پلان جوړونې په ادبیاتو کې ډېرې مهم تشې پاتې دي. لومړی، د ډیجیټل اصلي پلان جوړونې طریقو په اړه نسبتا لږ څېړنه شتون لري چې په ځانګړي ډول د ای کامرس پانګونو لهپاره جوړه شوې ده. دوهم، د پلان جوړونې اغیزمنتوب کې د کلتوري کلتوري توپیرونو نورو څېړنو ته اړتیا لري. دریم، د سوداګرۍ پریکړې کولو او بلاکچین فعال شوي سمارټ سوداګرۍ پلانونو ته د عصبي ساینس غوښتنلیکونو په څیر راڅرګندېدونکي

ساحې د ژمنې مگر کم سپړل شوي څېړنې لارښوونې استازیتوب کوي. په پای کې، د هایبرډ فزیکي-ډیجیټل سوداگرۍ ماډلونو وده د نوي پلان جوړونې چوکاټونو ته اړتیا لري چې کولی شي دا پیچلې عملیاتي جوړښتونه ځای په ځای کړي.

**کاروبار مفهوم او پیژندنه**

د بشر د پیدایښت له ورځې څخه انسانان د ژوندانه د پرمخ بېولو او ښه کولو لهپاره هڅه او هاند کوي، تر څو خپل د ضرورت وړ اجناس او خدمات ترلاسه کړي او خپل ژوند ته پایښت او بقا ورکړي؛نو دا چې بشري ټولنه دغه ډول اجناسو او خدماتو ته اړتیا لري مجبور دي چې د دغو اجناسو او خدماتو د ترلاسه کولو لهپاره یوه اندازه عواید ولري چې د عوایدو د ترلاسه کولو په پار کې انسانان بېلابېل فعالیتونه سرته رسوي او ددې هڅو او کوښښونو په لړ کې د بشري ټولنې په ژوندانه کې د پام وړ بدلونونه رامنځته شوي دي او په نتیجه کې بېلابېل کاروبارونه راټوکېدلي دي،مثلاً یو کس دی په مستقیم ډول سره خپل شغل ځانته انتخابوي او بل چاته په دې کې اړتیا نلري لکه: خیاطي،نجاري،مستریتوب او داسې نور. او ځینې نور کسان بیا داسې شغل ځانته انتخابوي چې یو بل شخص پورې د ده دغه فعالیتونه تړلي وي لکه: یو کس د شرکت مالک سره د خق الزحمې په بدل کې کار کوي او یا داسې کس چې د دولتي سکتور سره د یو مامور او کارمند په حیث کار کوي او خپل عواید لاسته راوړي ترڅو د اړتیا وړ شیان او خدمات ترلاسه کړي، د اقتصادي ادبیاتو له نظره د کاوربار ( Business ) معنا د مصروفیت د حالت څخه عبارت دی؛خو په حقیقت کې د کاروبار معنا عبارت له ټول هغه کارونو څخه دی چې د اجناسو او خدماتو د تولید اوتوزیع پورې اړه ولري اود گټې د لاسته راوړلو په مقصد د مثال په ډول یو دهقان چې پټی کري، یو ماهي نیونکی چې ماهي نیسي،یو صنعتگر چې خام مواد په نیمه یا تمام شوي اجناسو بدلوي یواځنی مقصد د هغه دا ده چې هغه گټه ترلاسه کړي.

د کاروبار تعریف: د کاروبار اصطلاح خورا زیات تعریفونه لري چې له ځینو څخه یې په لاندي ډول یادونه کوو: ټول هغه فعالیتونه چې هدف یې د توکو او اجناسو په وسیله د گټې لاسته راوړل وي کاروبار بلل کیږي. ټول هغه تولیدي فعالیونه چې د هغې مقصد د اجناسو او خدماتو په وجه د مفادو حاصلول وي کاروبار بلل کیږي.ټول هغه فعالیتونه او هڅې چې د شتمنۍ د پیداکولو په پار ترسره کیږي کاروبار بلل کیږي. ټول هغه فعالیتونه چې بشري ټولنه د هغې په وسیله د ژوند ضرورتونه رفع کوي کاروبار بلل کیږي. کاروبار هغو کړنو او فعالیتونو ته ویل کیږي چې موخه یې د گټې لاسته راوړل وي خو گټه یې له مخکې ځانگړې شوي نه وي. دنړۍ مشهورو اقتصادپوهانو هم د کاروبار له پاره بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي چې له ځینو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو: L- H Haney-له نظره: کاوربار له انساني فعالیتونو څخه عبارت دی چې د شتمني د اماده کولو

(تهیه کولو) لەپاره د اخیستلو او خرڅلاو په ذریعې سره ترسره کیږي. L- H Haney. (د کاروبارونو د پرمختګ مدریت،۲۰۱۳)

د Urwick له نظره: کاوربار له هغه فعالیتونو څخه عبارت دی چې اجناس او خدمات کوم چې د ټولنې غړي ورته ضرورت لري جوړوي او توزیع کوي او د ټولنې غړي د هغه اجناسو خواهش،اخیستلو او د هغه په مقابل کې د قیمت د تادیه کولو توانایي لري. Urwick (د کاروبارونو مدیریت،2015)

R.N.Owenله نظره: کاروبار د ټولو هغه تجارتي او صنعتي فعالیتونو څخه عبارت دی کوم چې د ګټې ترلاسه کولو لەپاره خلکو ته اجناس او خدمات تهیه کوي. R.N. Owen (کاروبار مدیریت ستراتیژی،2017)

په عمومي ډول ویلی شو چې د مفادو د لاسته راوړلو له پاره هر ډول فعالیت اختیارول کاروبار بلل کیږي.خو دا خبره باید په یاد ولرو چې په کاروبار کې د انسان یوازې هغه فعالیتونه شاملیږي چې د اخلاقي او قانوني غوښتنو سره سمون ولري همدارنګه د ممنوع اجناسو کاروبار لکه قاچاق د اجناسو ذخیره کول او داسې نور په کاروبار کې نه شاملیږیاو په ټولیز ډول سره کاروبار دلاندې موخو د ترلاسه کولو لەپاره ترسره کیږي: ګټه: ټول کاروبارونه او فعالیتونه چې ترسره کیږي د هغوی لومړنی او اساسي موخه د مفادو لاسته راوړل وي،هغه کاروبار چې په هغه کې متشبث ګټه ونلري لاس نه پورې کوي ځکه ګټه ده چې د فعالیتونو د پراختیا د تشویق سبب کرځي او بشري ټولنه کاروبار ته هڅوي.که چېرته خلکو ته دګټې توقع نه وي؛نو هغوی د کاربار شروع کولو متعلق بلکل فکرهم نکوي. دکار پیدا کول او د بېکارۍ مخنیوی: دکاروبار دوهمه اساسي موخه د کار لەپاره زمینه برابرول او بېکارۍ سره مخنیوی کول دي،ځکه دکاروبار شروع کولو سره نه یوازې سرمایدار یا د کاروبار څښتن ته کار پیداکیږي بلکې ددې نه نورو خلکو ته هم دکار موقع برابریږي. دپانګې اچونې لەپاره زمینه برابرول: دکاروبار دریمه موخه په یو هېواد کې د پانګونې زیاتوالی دی چې دپانګه اچونې لەپاره موقع او فرصتونه برابروي دا د کاروبار په وسیله خلکو ته دخپلو جمع شویو پیسو لەپاره دپانګه اچونې لەپاره موقع هم برابریږي. دودیال، محمد بشیر ( ۱۳۸۲. )افغانستان کی صنایع او په ملی اقتصاد کی دهغو ونډه

**کوچنې( small)کاروبارونه**

کله چې هم موږ د نویو تجارتونو په اړه خبرې کوو نو ډېر وخت مو د تجارت له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لەپاره د پراخ ځای، او ډېر امکانات فکر ته راځي. دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د وړو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي .د وړو کاروبارونو یو ښه والی دادی چې، په لږ وخت کې یې د جوړېدو او خدماتو د ارایه کیدو قابلیت پیدا کولی شو. کله چې هم یو څوک دنده له لاسه ورکړي نو لومړی ځل حس کوي چې اړتیا ده تر څو خپل یو وړوکی کارو بار را پیل کړي ډېری خلک به تاسې لیدلي وي چې د دندې له لاسه ورکولو وروسته ځان ته د تسلۍ په پار وایي چې، که نور نه شو یو وړوکی کارو بار به را پیل کړم یانې دا یوه تکیه ګاه غوندې

گڼلی شو نوره نړۍ کې د وړو کاروبارونو لەپاره په دولتي او خصوصي کچه اداري کارکوې او د ملاتړ او پایښت په پار ورسره مرستې کوي څکه هغوی په دې پوهیږي چې واړه تجارتونه باالاخره په سترو تولیدي او خدماتي کمپنیو بدلیږي . همدې اهمیت ته په کتلو د ملگرو ملتونو اداري د وړو او متوسطو کاروبارونو د ملاتړپه موخه د جون ( ۲۷ ) مه نیټه نړیواله ورځ اعلان کړیده .

د کوچنیو کاروبارونو تعریف:کوچني کاروبارونه هغه دي کاروبارونه دي چې د محدود کاروکوونکو، محدودې پانگې او محدود عاید درلودونکي وي او یا هم که لږ یې نور هم مشخص کړو کوچني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د کارمندانو شمیر یې( ۱-۴۹ ) کسانو پورې وي. دغه ډول کاروبار لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او غټې پانگونې په پرتله لږ وي .په بریتانیه کې د ۲۰۱۴ میلادي کال د یوې څیړنې له مخې د بریتانیه اقتصاد ( ۸ ، ۴۹ ) فیصده په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو باندې روان دی

واړه کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې په فردي ډول یاهم په ټولنیز ډولتولیدات او خدمات ارایه کوي، لږې سرمایې ته اړتیا ولري او عایدات یې لږ وي همدارنگه کم کارمندان ولري .نو دې ډول کاروبارونو ته موږ کوچني تجارتونه ویلی شو .پدې ډول تجارتونو کې پانگوال ،د تولید او خدماتو وړاندې کوونکی ،صلاحیت او مسؤلیت لرونکی او باالاخره مالیه تادیه کوونکی هماغه یو نفر د کاروبار مالک وي .یا هم له هغه وړو کاروبارونو څخه عبارت دی چې کلني عواید ، تولیدات او مالیه یې کمه وي او په کار لگیا کسان یې هم کم وي چې له پنځلسو زیات نه وي . درد عبدالرحمن ، سراتیژیک مدیریت ،۱۳۹۷،ص.۸۸-۸۹

**د تجارتي پلان پېژندنه**

هر کاروبار ته ښایي چې د خپلو محدودیتونو په نظر کې نیولو سره خپل چاپېریال ته په کتو یوتجارتي پلان جوړ او پلی کړي ،دا چې کاروبار د هر ډول جوړښت درلودونکی وي هغه بهتجارتي پلان ته اړتیا لري که هغه انفرادي کاروبار وي که شراکت وي او که کمپنۍ وي.

**تجارتي پلان**

تجارتي پلان هغه سند دی چې دیو کاروبار ټول کاري پروسیجرونه، موخې او موخو ته د رسېدو لارې تشریح کوي د کاروبار د ټولو برخو په اړه پکې په جلا جلا پراگرافونو او عنوانونو کې مالومات ځای په ځای شوي وي.

**د تجارتي پلان ځانگړنې**

تجارتي پلان د یو کاروبار تگلاره په روښانه بنه بیاتوي.

دیو کاروبار دمالي اړتیاوو او عوایدو په اړه واضحه او حقیقي وړاندوینه کوي.

دیو کاروبار ممکنه پېرودونکي او هدف کړل شوی مارکیت ( (Target Marketروښانه کوي.

دیوي صنعتي ساحې او په ساحه کې د کاروباری سیالاتو په اړه پوره مالومات ارایه کوي.

دیو کاروبار دمدیریت دیو اغیزمن ساختار تشکیل) بیانوونکی وي.
ښه تجارتي پلان باید په ۵۰ مخونو کې ځای په ځای شوی وي، البته به کمو مخونو کې پلان ترتیبول کمال دی.
دحساسوتجارتي خطراتو تعینوونکی وي کوم چې په راتلونکې کې یو کاروبار تهدیدوي.
دمالي سرچینو داستعمال د ځایونو په اړه دیو کاروبار د پیل او پای په اړه پوره مالومات ارایه کوي.
تجارتي پلان د یو کاروبار یوه واضحه او ښه پایله یانې لنډیز لري.

**د تجارتي پلان ساختار او بنسټیز عناصر**

تجارتي پلان یوه ځانګړی بنه او جوړښت لري دهمدې جوړښت په تکمیلبدو سره کاروبار هم د پرمختګ پر لور حرکت ،کوی د تجارتي پلان په سمه توګه لیکل او طرحه کول ددې سبب ګرځي چې یو کاروبار پرې پرمختګ وکړي په دې پلان کې د کاروبار ټولې برخې منعکسې شوي دي او د ټولو برخو لپاره جلا ستراتیژې ګانې او تخنیکونه وړاندې کوي خو په مجموع د کاروبار موخې لاسته راوړل شي، یوتجارتي پلان د لاندې عناصرو درلودونکی وي:

۱. اجرنیوي لنډیز
۲. تولید او خدمت
۳. د مدیریت تیم
۴. بازار او سیالي
۵. بازار موندنه او خرڅلاو
۶. کاروباری سیستم او سازمان
۷. وخت بندي . درد عبدالرحمن ، سراتیژیک مدیریت ،۱۳۹۷،ص.۸۸-۸۹

**کوچینو کاروبارونو لپاره د تجارتي پلان اهمیت**

په ټوله کې، تجارتي پلان د کوچنیو کاروبارونو لپاره د بریا بنسټ جوړوي. دا نه یوازې د خطرونو کمولو وسیله ده، بلکې د سوداګرۍ د ودې او نوښت لپاره لارښود هم دی. د مقالې له تحلیل څخه څرګندېږي چې کاروبارونه باید په منظم ډول خپل پلانونه تازه کړي، ترڅو د بازار د بدلونونو سره ځان برابر وساتي. په پای کې، د کوچنیو کاروبارونو مالکینو ته مشوره ورکول کېږي چې د پلان جوړونې بهیر کې مسلکي مرسته ترلاسه کړي او د پلان عملي کولو لپاره کافي منابع ځانګړي کړي.

**پایله اخېستنه**

دا څېړنه په پای کې ښیي چې ښه تنظیم شوي تجارتي  پلانونه د کوچنیوکاروبارنو د بقا کچه، مالي فعالیت او ستراتیژیکې تصمیم نیونې کچه  د پام وړ لوړوي. شواهد ښیي چې د تجارتي پلانونو سره سوداګرۍ د ۲۲٪ لوړ ژوند کچه او ۱۹٪ ډېر عاید وده ترلاسه کوي، پداسې حال کې چې د تمویل په خوندي کولو کې ۳۰٪ ډېر بریالي وي. په هرصورت، دا ګټې په مناسب پلي کولو، منظم تازه معلوماتو، او د بازار شرایطو سره تطابق پورې اړه لري. موندنې د کوچنیو سوداګرۍ لهپاره د متحرک پلان جوړونې پروسې رامینځته کولو اړتیا ټینګار کوي چې جوړښت د انعطاف سره متوازن کوي، پداسې حال کې چې د سرچینو محدودیتونو او اجرا کولو تشو په څیر عام ننګونو باندې بریالي کېږي. راتلونکې څېړنه باید د ډیجیټل پلان جوړونې وسایل او د کلتوري غوښتنلیکونه وپلټي ترڅو د سوداګرۍ چاپېریالونو په پراختیا کې د پلان جوړونې اغیزمنتوب نور هم لوړ کړي.

**وړاندیزونه**

۱. کوچني کاروبارونه  زموږ د پرمختیایي هېواد لهپاره د راتلونکي اقتصادي پرمختګ اساس جوړوي، په کار ده چې د یو شمیر مهارت لرونکو حرفوي او مسلکي متشبثسنو د روزنې لهپاره حرفوي ښوونځي جوړ او دوی به له حرفوي زده کړو وروسته کوچني کاروبارونه شروع کړي چې د خپل ځان او هېواد لهپاره به ګټور تمام شي.
۲. باید میډیا د کورنیو تولیداتو لهپاره اشتهارات وکړي او دوی سره د بازار موندنې برخه کې مرسته وکړي.
۳. ډېره مهمه ده چې  ګمرکونه د هغو اجناسو د واردولو  مخه ونیسي  کوم چې دلته د هېواد دننه تولیدېږي ځکه چې د کوچنیو کاروبارونو او  کورنیو صنایعو ملاتړ کول  د دولت مهمه دنده ده.
۴. د داخلي تولیداتو د تشویق لهپاره دولت مکلف دی چې د وارداتي توکو د مخنیوي لهپاره ځانګړې پالیسۍ تیارې او عملي کړي تر څو داخلي تولیدات تقویه شي.
۵. د کوچنیو کاروبارونو د پانګې په برخه کې جدي پاملرنه تر سره شي او ذیدخل ارګانونه دې کوچنیو کاروبارونو ته د پانګې د سرچینو په برابرولو کی ژر تر ژره جدي مرسته وکړي.
۶. کوچنیو کاروبارونو خاوندان دې هم د خپل کاروبار د پرمختګ لهپاره نوي تجارب  زده او په لاره دې واچوي تر څو کاروبارونه یې پرمختګ وکړي.

# The Importance of a Business Plan for Small Businesses

Teaching Assistant،Tooryalai Sangeen, Shaikh Zayed university, faculty economic, deportment of business administration.
**Email**: tooryalaisangeen2019@gmail.com

**Abstract**

The lack of a business plan or its inattention is a major problem in small businesses. Therefore, a well-developed business plan is an important tool for the success and sustainability of small businesses. It acts as a roadmap, guiding entrepreneurs through strategic decision-making, financial planning, and operational management. The existence and importance of a business plan for small businesses is the purpose of this study. This study used qualitative and descriptive methods, with secondary data from various reliable internal and external sources, academic websites, and academic articles. With comprehensive plans, small businesses can have a higher survival rate, better access to capital, and better adapt to market changes. The results show that a comprehensive and clear business plan is essential for small businesses to reduce risk, manage resources properly, and maximize market opportunities, and also emphasizes the existence of a business plan as a fundamental element for the growth and long-term survival of small businesses.

**Keywords**: business plan, risk, strategic planning, small businesses, entrepreneurship

**اخځلیکونه**

دودیال، محمد بشیر ( ۱۳۸۲.) افغانستان کی صنایع او په ملی اقتصاد کی دهغو ونډه .د کابل پوهنتون د معلوماتومرکز، د اریک گرځنده کتابونو خپرونی ، کابل.

دودیال، محمد بشیر ( ۱۳۹٦. ) صنعتی اقتصاد .درسی کتاب -یار خپرندویه ټولنه:خوست–افغانستان.

درد، عبدالرحمن ،(۱۳۹۷)، ستراتیژیک مدیریت دوهم چاپ ، ختیځ خپرندویه ټولنه جلال آباد.

Frank, R. Bert. (2010), Principles of Economics. McGraw-Hill Irwin. USA.

Mankiw, N. (2005) Principles of Economics (6th edition: Harvard University USA

Stewart, W, H. (1978), What is Industrial Economics, MacMillan Education UK.

Symeonidis, W. (2011), Industrial Economics, The London school of Economics and Political Sciences (LSE) print. EC3099,2790099

www.carpetour.com/fa/index

Investopedia

**انترنیټ سایټونه**

- ✓ نړیوال بانک (https://www.worldbank.org)
- ✓ ویبسایټ ریسرچ گیټ (/https://www.researchgate.net)

# کم مهر د اسلام له نظره

مفتي سيدالرحمن سعيد، احمدشاه ابدالي د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسه، اسلامي ثقافت استاد.
**برېښنالیک:**Sayid.rahman687@gmail.com

**لنډیز**

مهر د خاوند پر غاړه د مېرمنې یو لازمي مادي حق دی، چې د نکاح په مقابل کې يې تاکل د انساني طبعت يوه غوښتنه ده او د بشري نوعيت په منځته راتگ سره پيل شوې تر ننی عصر پورې مروجه طريقه ده او تر قيامته پورې به روانه وي، نو د مهر اړوند يوه مستحبه طريقه د مهر کموالی دی. د دې مقالې اصلي موخه مسلمانان به د کم مهر د ارزښت او فوائدو څخه د اسلامي شريعت په رڼا کې خبر شي، لوستونکي به د کم مهر له حکمت او فلسفې څخه مثبت تأثر واخلي. ددې څېړنې په تگلاره او مېتود کې ویلی شو چې دغه یوه کتابتوني څېړنه ده، د قرآن کريم د ايتونو په ترجمه کې له کابلي تفسير څخه استفاده شوې ده، د همدې علمي مقالې لهپاره يوازې د حنفي مذهب په کتابونو اکتفاء نه ده شوې، بلکې د اړتيا پر وخت د نورو مذهبونو کتابونو ته هم رجوع شوې ده، د اړتيا پر وخت مې له معتبرو ويب سايټونو څخه هم استفاده کړې ده. او په وروستی پایله کې کم مهر د اسلام له نظره مستحب او غوره بلل شوی دی، د مهر لوړوالی د تولنې لهپاره اقتصادي ستونزې پيدا کوي او د نکاح د سختوالي لامل جوړيږي، کم مهر د خاوند او مېرمنې تر منځ د مينې، باور او خوښۍ لامل جوړيږي.

**کلیدي کلمې:** ارزاني، بخښنه، حکمت، فلسفه، کم مهر او مناسب مهر.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

اما بعد: الله تعالی د انسانانو نسل تر قیامته د ازدواج له طریقه باقي او روان ګرځولی دی، دا هم ښکاره خبره ده، چې الله تعالی د انسانانو تر منځ د ازدواج عادت او حکم د انسانانو د پیدایښت سره سم رانازل کړی دی، خو د ازدواج لپاره الله تعالی ځانګړې طریقه او حکمونه د خپل وروستي پیغمبر په ژبه او عمل سره بیان کړي دي ترڅو، چې امت یې په خرج او تکلیف کې پرې نه وځي، چې له جملې څخه یې د مهر حکم هم دی. په نکاح کې د اسلامي امت مجتهدینو مهر په یوه خوله د ایاتونو او استدلالاتو په رڼا کې لازم بللی دی، خو دا چې اسلام د هر شي لپاره خپله اندازه او حق ټاکلی دی، نو مهر هم یوه داسې حقوقي واجبه ده، چې اسلام یې د کم والي لپاره اندازه ټاکلې ده او د ټولنې له تحمل پورته ډېروالی یې غندلی دی، که زیر شو په اوس وخت کې په مهر او د ازدواج په نورو برخو کې زیادت او مصارف د ټولنې د ډېرو افرادو د تحمل څخه وتلي دي، نو ومې غوښتل، چې خپله علمي مقاله د مهر په کم والي د اسلام له نظره ولیکم، تر څو چې ټولنه د مهر کموالی د اسلام له نظره وپېژني او ټولنه د هغو کړوانو څخه خلاصه شي، چې د مهر لوړوالي له امله رامنځته شوي دي او د ټولنې وګړي د کم او مناسب مهر حکمتونو او فلسفې وپېژني تر څو، چې په ټولنه کې ازدواجي ستونزو په حل کې ښه بصیرت پیدا کړي.

**د مهر لغوي او اصطلاحي پیژندنه: د مهرلغوي پیژندنه:** مهر، چې د جمعې صیغه یې مهوراو مهورة راځي په لغت کې هر هغه څه ته ویل کیږي چې د خاوند لخوا د ازدواجي تړون په بدل کې مېرمنې ته ورکول کیږي [ ۱: ۳۴۱].

**د مهر اصطلاحي پیژندنه:** د مهر په اصطلاح کې په بېلا بېلو الفاظو سره تعریفونه شوي، چې تقریبًا مفهوم یې یو دی دحنفي مذهب له علماوو څخه یې البابرتي رحمه الله داسې تعریف کوي: **وَالْمَهْرُ هُوَ الْمَالُ يَجِبُ فِي عَقْدِ النِّكَاحِ عَلَى الزَّوْجِ فِي مُقَابَلَةِ مَنَافِعِ الْبُضْعِ، إمَّا بِالتَّسْمِيَةِ أَوْ بِالْعَقْدِ.** ژباړه: مهر هغه مال ته ویل کیږي، چې د نکاحي تړون پر اساس او یا د ځانګړي یادونې پر اساس په خاوند لازمیږي.

چې د مهر، صداق، نحله، فریضه، حباء علائق، عطیه، صدقه او عقر په نومونو سره یادیږي [۷: ۳۱۶][۵: ۱۰۲] .

**د مهر فرضیت شواهد د قرآن کریم په رڼا کې:** د مهر د فرضیت او په پوره صداقت سره د هغې د تأدیې په اړه قرآني ایتونه وجود لري، چې د بېلګې په ډول یې څو ایتونه دلته راوړل شوي دي:

الله تعالی فرمایلي دي:{ وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً }{النساء: ٤}، ژباړه: او تاسې (خپلو) ښځو ته د دوی مهر په خوشالۍ سره ورکوئ (چې د الله له طرفه پر تاسې فرض شوی دی).

بل ځای الله تعالی فرمایي :{وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ }{النساء:۲۴}، ژباړه: او تاسې ته(ټولې) هغه ښځې، چې پرته له دوی( مخکې یادې شوې حرامې ښځو) څخه دي حلالې کړی شوې دي (په دې شرط) چې تاسې هغو په خپلو مالونو (چې مهر دی) طلب وکړئ.

الله تعالى فرمايي: { فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً} {النساء: ۲۴}.

ژباړه: پس له دې( منکوحه ښځو ) څخه له کومو څخه چې تاسې په نکاح کولو سره ګټه واخیسته، نو هغوی ته خپل مهرونه د فرضیت په حالت کې ورکړئ.

**د محمد(صلی الله علیه وسلم) په ویناوو کې د مهر یادونه**

د مهر یادونه په مبارکو نبوي احادیثو کې هم شوې ده، لکه څرنګه چې بني علیه السلام فرمایي. په یو حدیث کې راځي: **في حديث معقل بن سنان الأشجعي: أن رجلًا تزوج امرأة، ولم يسم لها مهرًا، وتوفي عنها، فقال النبي ﷺ : لها مهر نسائها، لا وكس، ولا شطط، وعليها العدة، ولها الميراث.** ژباړه: د معقل بن سنان الاشجعي په حدیث کې راځي: بې شکه یو سړي د یوې ښځې سره نکاح وکړ، چې مهر یې ورته ونه ټاکه او دی وفات شه، نو نبي علیه السلام وویل د دې لهپاره ( کورنی) د ښځو په څېر مهر (مهر مثل) دی، چې کم او زیات به نه وي او پرې عدت لازم دی او میراث د دې حق دی.

**د مهر حکم:** مهر د نکاح او نکاحي منافع اخیستلو په مقابل کې د مېرمنې یو ثابت او لازم حق دی، که څه هم د نکاح لهپاره شرط یا رکن نه دی بلکې د مېرمنې له هغو حقوقو څخه یو واجب حق شمیرل کېږي کوم چې د نکاح په تړون سره یا د نکاحي منافعو په لاسته راوړلو سره پر خاوند لازم او ثابت ګرځي؛الله تعالى فرمايي: **وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ }{النساء:۲۴}**

ژباړه: او تاسې ته(ټولې) هغه ښځې، چې پرته له دوی( مخکې یادې شوې حرامې ښځو) څخه دي حلالې کړی شوې دي (په دې شرط) چې تاسې هغو په خپلو مالونو (چې مهر دی) طلب وکړئ. د همدې ایت شریف او داسې نور قراني ایتونو په رڼا کې مهر د مېرمنې لازم او ثابت حق ګڼل کیږي.[۴: ۳۱۶]، [۱۵: ۲۷۴].

البته د مهر ټيټوالی او کموالی راتلونکي حدیثونو ته په کتلو سره مستحب او ښه کار دی او بر خلاف یې د مهر له اندازې لوړوالی مکروه بلل شوی دی [ ۲۰: ۲۱۱].

**د کم مهر په نبوي حدیثونو کې غوره والی:** دا چې الله تعالى انسان یو ډېر ښکلی، قیمتي او د کرامت وړ مخلوق پیدا کړی دی الله تعالى فرمايي: {**وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا } [الإسراء: ۷۰]**. ژباړه: او خامخه موږ ډېر عزت ورکړی دی اولاده د آدم ته او سواره کړي مو دي دوی پر سپرلیو باندې په وچه بحر کې او روزي مو ورکړې ده دوی ته له پاکو شیانو او غوره کړي مو دي دوی پر ډېرو له هغه چا چې پیدا کړي مو دي په غوره کولو سره. بل ځای الله تعالى فرمايي: **{وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا } [النساء: ۲۰]**. ژباړه: حال داچې ورکړي مو وي یوې د دوی ته ډېر مال، نو

مه اخلی تاسې له هغه مال نه هېڅ شی. د همدې ایت په رڼا کې فقهاوو حکم کړی، چې په شریعت مبارکه کې د مهر لهپاره لوړ حد نه دی ټاکل شوی [۵: ۱۰۲]، [۲۲: ۱۶۰].

خو بلې خوا فقهاوو رحمهم الله کم مهر د اسلام له نظره یو ښه او مستحب کار بللی دی، چې په بېله بېلو حدیثونو او روایتونو کې ثابت دی او د ډېر خیر او برکت لامل بلل شوی دی، د دې پر خلاف د مهر زیاتوالی، چې په ټولنه دروند تماميږي غیر مطلوب گرځېدلی دی. [۲۲: ۱۶۲] په نبوي حدیثونو کې یې به پېلابېلو الفاظو سره غوښتنه شوې ده د بېلگې په ډول: عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: أعظم النساء بركة أيسرهن مؤنة [۳: ۱۴۵]. ژباړه: عائشة رضي الله عنها روایت کوي چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: په مېرمنو کې تر ټولو ډېره د برکت واله تر ټولو د کم مهر واله مېرمن ده.

**عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { خَيْرُ الصَّدَاقِ أَيْسَرُهُ } [۱۲: ۲۲۴].**

ژباړه: عقبه بن عامر رضي الله تعالی عنه ویلي دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تر ټولو ښه مهر تر ټولو کم مهر دی.

حاکم او بیهقي یو بل حدیث داسې رانقل کړی دی: **عن عروة بن الزبير، عن عائشة رضي الله عنها، أنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « من يمن المرأة أن يتيسر خطبتها، وأن يتيسر صداقها، وأن يتيسر رحمها » قال عروة: « يعني يتيسر رحمها للولادة » قال عروة: « وأنا أقول من عندي: من أول شؤمها أن يكثر صداقها». « هذا حديث صحيح على شرط مسلم ، ولم يخرجاه» [۹: ۱۹۷] [۶:۲۳۵].**

ژباړه: عروه چې له عایشه رضي الله تعالی عنها څخه یې روایت کړی وایي چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: د مېرمنې له نیکمرغیو څخه دا دي: چې د نکاح پیلیزې/ وړاندیز یې اسانه وي، مهر یې کم وي او بچیان په اسانۍ سره راوړي. عروه وايي: ( د ښځې) تر ټولو لومړی سپېرتوب د مهر لوړوالی دی.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي عُيُونِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا قَالَ قَدْ نَظَرْتُ إِلَيْهَا قَالَ عَلَى كَمْ تَزَوَّجْتَهَا قَالَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ كَأَنَّمَا تَنْحِتُونَ الْفِضَّةَ مِنْ عُرْضِ هَذَا الْجَبَلِ مَا عِنْدَنَا مَا نُعْطِيكَ وَلَكِنْ عَسَى أَنْ نَبْعَثَكَ فِي بَعْثٍ تُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَبَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي عَبْسٍ بَعَثَ ذَلِكَ الرَّجُلَ فِيهِمْ [۱۷: ۱۴۳].**

ژباړه: ابوهریره رضي الله تعالی عنه وایي: یو سړی نبي علیه السلام ته راغلو ورته ویې ویل: ما د انصارو یوه ښځه په نکاح کړې ده. نبي علیه السلام ورته وویل: ایا کتلي دې ده؛ د انصارو په سترگو کې لږ مشکل(وړکوالی /شینوالی/ د اوښکې بهیدل) دي. سړي وویل: هو! کتلي مې ده. نبي علیه السلام وویل: په څو دې په نکاح کړې ده. سړي وویل: په څلورو اوقیو باندې. نبي علیه السلام ورته وویل: په څلورو اقیو باندې، تاسې

لکه چې د دې غره څخه سپین زر راوباسئ، زما سره څه شی نشته چې دریې کړم، خو زر ده چې په یوه سریه کې به دې ولیږم، له هغې څخه به (د غنیمت برخې په اخیستلو سره) څه تر لاسه کړې، بني علیه السلام بني عبس ته یوه ډله واستوله چې دا سړی هم پکې و.

د امام نووي د همدې حدیث مبارکه مقصد داسې بیان وي: **وَمَعْنَى هَذَا الْكَلَامِ كَرَاهَةُ إِكْثَارِ الْمَهْرِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى حَالِ الزَّوْجِ [۲۰: ۲۱۱]**. ژباړه: په مهر کې د خاوند اقتصادي حالت څخه نامناسب لوړوالی مکروه دی.

په دې دواړو حدیثونو کې نبي علیه السلام د مهر لږوالی په نکاح کې د خیر او برکت سبب بللی دی، خیر او برکت دواړه داسې کلمې دي، چې په ډېرو سترو مفاهیمو دلالت کوي، د دنیا نیکبختي او اخرت کامیابي په خپل مفهوم کې رانغاړي.

د مهر د لوړوالي د شناعت او بدۍ په اړه حضرت عائشه رضي الله تعالی عنها داسې صراحت کوي: **وَأَنَا أَقُولُ: مِنْ شُؤْمِ الْمَرْأَةِ كَثْرَةُ صَدَاقِهَا**. یعنې د مېرمنې له سپېره توب څخه تر ټولو لومړی د مهر لوړوالی دی [۱۴: ۱۸۶].

همداسې یادونه د فیض القدیر لیکوال له عروه رحمه الله څخه داسې رانقل کړې ده: **قال عروة أول شؤم المرأة كثرة صداقها**. یعنې د مېرمنې له سپېره توب څخه تر ټولو لومړی د مهر لوړوالی دی.[۱۹: ۱۳]

باید ووایم، چې په نکاحونو کې اساني راوستول د اسلامي حکومت له وجائبو څخه ده، الحمد لله چې په اوس وخت کې اسلامي امارت همدې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

**کم مهر د فقهاوو له نظره:** مهر چې د ښځې له مادي حقونو څخه د ازدواج په مقابل کې ثابت حق دی په شریعت مطهره کې د ټولو فقهاوو په اند د مهر نهایي حد نه دی ټاکل شوی [۱۵: ۲۷۶] ځکه چې کوم شرعي دلیل پکې وجود نلري، بلکې پر خلاف یې دا ایت مبارکه دلالت کوي: { ... **وآتيتم إحداهن قنطاراً، فلا تأخذوا منه شيئاً**} **[النساء: ۲۰]**. ژباړه: حال داچې ورکړي مو وي یوې د دوی ته ډېر مال، نو مه اخلئ تاسې له هغه مال نه هېڅ شی.

حضرت عمر رضي الله تعالی عنه په ممبر باندې خلکو ته وویل: د ښځو په مهرونو کې لوړوالی مه کوئ؛ ځکه که دا لوړوالی په دنیا کې کوم عزت وی یا د قیامت لهپاره کومه پرهیزګاري وی، نو نبي علیه السلام سره ډېر مناسب و، هغه د خپلې مېرمنو او لوڼو لهپاره د سپنو زرو له دولس اوقیې څخه لوړوالی نه دی کړی، نو چا چې له څلور سوه درهمو څخه لوړوالی وکړ هغه لوړه اندازه به په بیت المال کې وګرځوم. د ممبر څخه له راښکته کیدو وروسته یوې قریشي ښځې ورته وویل: دا حق نلري. حضرت عمر وویل: ولې؟ ښځې وویل: ځکه الله تعالی فرمایي: {**وآتيتم إحداهن قنطاراً فلا تأخذوا منه شيئاً**، } **[النساء: ۲۰]** . ژباړه: حال داچې ورکړي مو وي یوې د دوی ته ډېر مال، نو مه اخلئ تاسې له هغه مال نه هېڅ شی.

حضرت عمر وویل: ښځه په حقه ده او سړی( عمر ) خطا دی. بیا یې وویل: خدایه! ښښنه وکړې، ټول خلک له عمر نه ښه پوهیږي. له دې وروسته بیا ممبر ته وخته او خپل لومړنی حکم یې لغو اعلان کړ [۱۳: ۴۹۴].
خو یاد شویو حدیثونو ته په کتلو سره په مهر کې ارزاني کول او ټیټوالی(کم مهر) سنت بلل شوی دی [۱۱: ٦٧٦٤].
د مهر کم مقدار په اړه د فقهاوو څخه بېل بېل ویناوې رانقل شوي دي، چې په لنډ ډول مې راخیستي دي: د حنفیه وو په اند د مهر کم مقدار لس درهمه دی؛ حدیث کې راځي: **عَنْ جَابِرٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – أَنَّهُ قَالَ: «لَا مَهْرَ دُونَ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ» [۶: ۱۳۳]**. ژباړه: جابر رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له لسو درهمو څخه کم مهر نه صحیح کیږي. **وَعَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ – أَنَّهُمْ قَالُوا: لَا يَكُونُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ [۱۵: ۲۷۶]**.
ژباړه: د حضرت عمر، حضرت علي او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنهم څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: مهر له لسو درهمونو څخه کم نه وي او همدا ډول د غله په حد باندې قیاس کوي، چې په غله کې له یو دینار یا لسو دراهمو څخه په کم شي غله کولو سره د غله حد نه تطبیق کیږي، اما د دې پر خلاف که کوم حدیثونه راغلي دي دوی هغه حدیثونه په مهر معجل باندې تحمیلوي [۱۵: ۲۷۵] [۵: ۱۰۱].
حنفي علماوو د شوافعو په مقابل کې یو بل دلیل داسې وای: کله چې د مهر په اندازه کې اختلاف شو، نو په یقین باندې( چې هغه لس درهمه دی) عمل کول غوره او اولی دي [۱۵: ۲۷٦].
د مالکیه وو په اند د مهر کمه اندازه د یو دینار څلورمه برخه ده یا سوچه او خالص د سپینو زرو درې درهمه ده، چې دا مقدار د دوی په اند د غله د حد لهپاره هم ټاکل شوی دی او په همدې باندې د مهر کمه اندازه هم قیاس شوې ده، چې د ښځې د شرف ساتلو لهپاره همدا قیاس کوي[۸: ۴۱۳] [۱۱: ٦٧٦٤].
د شوافعو او حنابله وو په اند د مهر لهپاره کم مقدار نشته، هر شی چې د بیع لهپاره وړ وي او مال وي که لږ وي او ډېر بس پوره مهر کیدلی شي. دوی هم د ځان سره دلیلونه لري د بېلګې په ډول: الله تعالی فرمایي: {وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا **وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ} [النساء:۲۴]** ژباړه: : او تاسې ته(ټولې) هغه ښځې، چې پرته له دوی( مخکې یادې شوې حرامو ښځو) څخه دي حلالې کړی شوې دي (په دې شرط) چې تاسې هغو په خپلو مالونو (چې مهر دی) طلب وکړئ. ځکه چې دلته په ایت مبارکه کې مال په مطلق ډول یاد شوی دی هغه که لږ وي او ډېر.
همدا ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «التمس ولو خاتماً من حدید» یعنې په مهر کې که څه هم اوسپنیزه گوتمۍ وي ورکړه؛ نو اوسپنیزه گوتمۍ خو ډېر کم قیمت لري.
ځینو نورو مجتهدین فقهاوو رحمهم الله بېلابېل قولونو کړي دي: نخعي رحمه الله یې څلوېښت درهمه، ابن شبرمه یې پنځه درهمه، اوزاعي یې یو درهم او د قیراط ربعه د مهر کمه اندازه بولي **[١٦: ٥٣٣]**.

**عن ابن عمر أن عمر بن الخطاب رضى الله تعالى عنه خطب الناس فقال يا أيها الناس لا تغالوا مهر النساء فإنها لو كانت مكرمة لم يكن منكم أحد أحق بها ولا أولى من النبي صلى الله عليه وسلم ما أمهر أحدا من نسائه ولا أصدق أحدا من بناته أكثر من اثنتي عشرة أوقية والأوقية أربعون درهما فذلك ثمانون وأربع مائة درهم وذلك أغلى ما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أمهر فلا أعلم أحدا زاد على أربع مائة درهم [۱۰: ۲۱۱].**

ژباړه: له عبدالله ابن عمر څخه روایت، چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه خلکو ته بیان کاوه، نو ویې ویل: اې خلکو! د ښځو په مهرونو کې لوړوالی مه کوئ؛ ځکه چې که دا عزت وی، نو له نبي علیه السلام څخه هېڅوک ډېر حقدار نه و، هغه له دولسو اوقیو څخه زیات مهر د خپلې مېرمنو او لونو لهپاره نه دی ټاکلی ( چې هر او قیه څلوېښت درهمه کیږي، نو جمله به څلور سوه اتیا درهمه شي) دا نهایي حد د مهر و، ما ته نه ده معلومه چې یو چا دې له لسو اوقیو څخه زیات مهر ټاکلی وي. د عمر رضي الله تعالی عنه له همدې خبرې څخه په استثناء سره نبي علیه السلام بي بي مبارکه أُمّ حَبِيبَة رضي الله تعالی عنها ته څلور زره درهمه مهر ټاکل شوی دی [۱۳: ۱۳۵].

**د اوسني وخت سره مناسب مهر:** دا یوه واضحه او ښکاره خبره ده، چې هر څومره انساني سلسله د وخت او زماني په تیریدلو سره غځیږي، نو همدومره پیسې ډېریږي او په ضمن کې د اجناسو نرخونه هم لوړیږي، نو همدا ډول د مېرمنو مهرونه هم د وخت په تیریدلو سره لوړیږي، ځکه چې د مهر په پیسو سره ډېر وخت د مېرمنې د واده تجهیزات اخیستل کیږي، لهذا هغه مقدارمهرونه، چې لږ وړاندې زمانه یې د واده تجهیزاتو لهپاره کفایت کاوه اوس زمانه کې هغومره مقدار کفایت نه کوي، لهذا باید ووایم، د ځای، زمانې او د زوجیونو د اقتصادي حالاتو سره مناسب مهر که وټاکل شي، نو دا به مناسب مهر وي، لکه څه ډول چې امام نووي رحمه لله د پوره تحقیق څخه وروسته داسې تصریح کړې ده: **وَمَعْنَى هَذَا الْكَلَامِ كَرَاهَةُ إِكْثَارِ الْمَهْرِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى حَالِ الزَّوْجِ [۲۰: ۲۱۱].**

ژباړه: د همدې بحث مقصد دا دی، چې د خاوند له اقتصادي حالت څخه د مهر لوړ ټاکل مکروه دي.

همدا ډول د کویت د علماوو نظر هم داسې دی: **الأولى أن يعدل الزوجان.**

ژباړه: باید چې مهر د زوجیو د حالت مناسب وټاکل شي [۲۲: ۱۶۲].

**له ټاکلو څخه وروسته د مهر کموالی:** دا چې ښځه د خپل مهر په کامله معنا سره واکداره او مالکه ده، په بشپړ ډول پکې تصرف لرونکې ده الله تعالی فرمایلي دي: **{فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا }** ژباړه: نو که راضي شوې دا ښځې تاسې ته په بخښنه د کوم شي له دې مهر څخه په خوشحالۍ سره د نفس خپل، نو خورئ تاسې دغه شی په داسې حال کې چې خوندوره حلاله بې ضرره وي.

د حنفیه وو په اند که د مېرمنې مهر درهم، دینار( پیسې) ټاکلی شوی و، نو مېرمن دا واک لري، چې خپل مهر کم کړي او یا یې په پوره ډول وبخښي تر دې، چې که یو چا په دې شرط نکاح وکړل، چې یو څه برخه د مهر به

راته بخښې دا هم صحت لري؛ ځکه د مېرمنې حق دی، نو کولای شي، چې کم يې کړي که څه هم د خاوند له مرګ یا د باین طلاق څخه وروسته وي [۲۲: ۱۶۳][۱۸: ۳۴۳].

دوی صراحت کوي، چې د مېرمنې ولي (قریب خپلوان) دا حق نلري، چې ددې له مهر څخه کومه برخه وبخښي؛ ځکه که مېرمن وړه وه، نو دا بخښنه باطله ده او که بالغه وه، نو دا بخښنه ددې په اجازه پورې موقوفه او تړلې ده[۵: ۱۱۳]. البته حنفيه وو دا شرط یاد کړی دی، چې مېرمن به د بخښې پر وخت په مرګوني ناروغۍ سره نه وي ناروغه، خو که مېرمن په باین طلاق سره طلاقه شوي وي او عدت يې هم تېر شوی وي، نو بيا خير دی کولای شي، چې په مرګوني ناروغۍ کې هم د مهر څه برخه کمه کړي يعنې خاوند ته يې وبخښي [۲۲: ۱۳۶].

حنفيه وو دا شرط هم لګولی دی، چې بخښنه به د مېرمنې په خوښه وي، نو که د خاوند او بلې خوا ورباندې جبر وشو او جبري بخښنه يې وکړه دا صحت نلري [۲۱: ۳۱۳].

**د مهر د کم والي فلسفه او حکمت:** د مهر کموالی/ ټيټوالی له حکمتونه او فلسفو څخه ډک دی چې په لنډ ډول يې ما يادونه کړې ده:

۱- که مهرونه کم نشي، نو د نکاحګانو کول به سخت شي، چې له امله به يې ډېر ځوانان او پېغلې له نکاحګانو څخه محرم شي، په پايله کې به اخلاقي او ټولنيز ګڼ مفاسد رامنځ ته شي؛ نو د مهر کموالی (ټيټوالی) همدې مفاسدو لهپاره مخنوی کوي، د فقهي قاعدې: (سد الذرائع) پر اساس د مفاسدو مخنوي لازم او واجب دی [۳۳].

۲- که مهر کم او ټيټ وټاکل شي، نو د خاوند او کورنۍ لخوا به يې د مېرمنې او د مېرمنې له کورنۍ سره الفت او مينه، محبت زيات وي، کوم حسد او ګيلې به منځ ته نه راځي برعکس که د مهر د لوړوالی له امله خاوند او کورنۍ يې وځورول شي، خدای مه کړه حسد او نفرتونه به رامنځ ته شي؛ حضرت عمر رضي الله تعالی فرمايي: «وإن الرجل ليغلي بصدقة امرأته حتى يكون لها عداوة في قلبه. **[۲: ۴۱]** ژباړه: بې شکه په ځينو سړيو د مېرمنې مهر دومره لوړ وټاکل شي، چې بيا يې د مېرمنې سره په زړه کې دوښمني پيدا شي.

۳ – د مهر په ټيټوالی سره به د نجونو او هلکانو د رواني ناروغيو د رامنځته کيدلو مخنيوی وشي، چې د فشار، ناهيلو او مايوسيو له امله رامنځته کيږي.

۴ – بالفرض که د مهر لوړوالی ځينې فوايد ولري، خو د مهر لوړوالی، چې کوم ضررونه لري هغه ببخې زيات دي او بلې خوا ته د شريعت مطهره يوه کلي قاعده ده( درء المفاسد مقدم على جلب المصالح) يعنې د مفاسدو مخنيوی د مصالحو په لاسته راړولو مقدم دی، نو بايد چې همدې لږو فوايدو ته ونه کتل شي او مهر لوړ ونه ټاکل شي.[۲۳]

۵ – زما په فکر که د شريعت مطهر له حکمونو څخه د مهر ټيټوالي او داسې نورو حکمونو ته پاملرنه وشي، نو د فراري نکاحګانو مخنيوی به وشي، جينۍ، ځوان او د دواړو کورنۍ به راتلونکې ژوند د عزت ژوند ولري.

٦ – همدا ډول که کم مهر وټاکل شي، نو خاوند او کورنۍ به یې د غربت څخه وساتل شي، چې په راتلونکي کې به مېرمن او خاوند دواړه د ښه د ژوند لرونکي واوسیږي.

**وروستۍ پایله:** کم مهر د اسلام له نظره مستحب او غوره بلل شوی دی، د مهر لوړوالی د ټولنې لەپاره اقتصادي ستونزې پیدا کوي او د نکاح د سختوالي لامل جوړیږي، کم مهر د خاوند او مېرمنې تر منځ د مینې، باور او خوښۍ لامل جوړیږي، مهر د مېرمنې یو مادي حق دی په خپله خوښه پکې تصرف کولای شي، مناسب مهر په اوس وخت کې د شرائطو برابر د زماني او ځای په توپیر سره د خاوند اقتصادي حالت ته په کتو سره غوره بلل کیږي او کم مهر په ټولنه کې د ازدواجي ستونزو له منځه وړلو او کمښت تضمین کوي.

**وړاندیزونه:** لازمه ده، چې پر وخت د ټولنې ستونزې درک کړل شي او پر حل یې د ټولنې مسؤلین لازم اقدام وکړي لهذا یو څو وړاندیزونه په لاندې ډول کوم:

١ – د مهر په اړه دې عامه پوهاوی په ټولنه کې لازیات شي هغه داسې، چې علماء دې د ممبرونو او رسنیو له لارې خلکو ته د کم مهر ارزښت، دیني فضیلتونه او ټولنیزې کتې بیان کړي.

٢- د نکاح د اسانتیا لەپاره دې هڅې نورې هم ګړندۍ شي هغه داسې، چې کورنۍ دې دېته وهڅول شي، چې د لوړ مهر پر ځای مناسب مهر ټاکنه دود کړي تر څو چې په ټولنه کې نکاحونو ته لاس رسی اسانه شي او د ناوړه دودونو او فعالیتونو مخنیوی وشي.

٣- حکومت دې د واده اړوند اسلامي احکام، د مهر حقوق او د کم مهر فضیلت په اړه ځانګړي ورکشاپونه جوړ کړي تر څو چې په دې اړه د شرعي اصولو عامه پوهاوی په ټولنه کې رامنځ ته شي.

۴ – حکومت او ټولنیز مشران او دیني علماء دې د کم مهر دودولو لەپاره ځانګړي پالیسۍ جوړې کړې، چې په نتیجه کې کورنۍ یو داسې ښه تأثر واخلي، چې د اسلام له اصولو سره سم مناسب مهر دود شي.

۵ – د ټولنیزو دودونو د اصلاح هڅه دې وشي، د مهر لوړوالی یو داسې دود دی، چې په نتیجه کې یې د ټولنې خلک په ډول، ډول ستونزو او ناوړه اقداماتو کې واقع کړي دي، نو د ټولنې مخکښ غړي دې د مهر په شمول د ټولو نامناسبو نکاحي دودونو د اصلاح هڅې وکړي.

٦ – خطبیبان دې په خپلو خطبو کې په دې اړه د اسلامي امارت پیغام خلکوته ورسوي.

# The Concept of Minimal Mahr in Islam

Mufti Sayid Rahman Saeed of Islamic Culture, Ahmad Shah Abdali institute of Higher Education
**Email:** Sayid.rahman687@gmail.com

## Abstract

Mahr is a fundamental financial entitlement of the wife, which is a legal obligation upon the husband. Its stipulation as an essential component of the marriage contract corresponds with human nature. It has been an established tradition since the dawn of civilization, remains an integral practice in contemporary society, and will persist indefinitely. A highly encouraged approach in Islamic teachings is to maintain Mahr at a reasonable and modest level. This article seeks to enhance readers' understanding of the significance and advantages of a reduced Mahr, ultimately fostering a societal norm where affordable Mahr becomes widely accepted.

In composing this study, I have drawn upon the works of both classical Islamic jurists and contemporary scholars. Taking into account temporal and spatial variations and aligning with appropriate conditions and the husband's financial capability, the reduction of Mahr is considered an advisable and meritorious practice. Implementing this approach can alleviate numerous socio-economic burdens stemming from exorbitant Mahr expectations. Prophetic traditions underscore that a modest Mahr contributes to the prosperity and stability of marriage, embodying profound wisdom and socio-religious benefits.

**Keywords:** Economic Feasibility, Generosity, Jurisprudential Wisdom, Ethical Philosophy, Mahr, Modest Mahr, Equitable Mahr.

**ماخذونه**

قرآن کريم

١ - أبو حبيب، سعدي. (١٤٠٨ هـ = ١٩٨٨ م). القاموس الفقهي، ط:٢، سوريه، دمشق: دار الفكر.

٢ - ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني.(١٤١٩هـ-١٩٩٨ م). مسند احمد، ج١، تحقيق: السيد أبو المعاطي النوري، بيروت: عالم الكتب.

٣ - ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني.(١٤١٩هـ-١٩٩٨ م). مسند احمد، ج٦، تحقيق: السيد أبو المعاطي النوري، بيروت: عالم الكتب.

٤ - ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد. (ب، ت). فتح القدير، ج ٣، دار الفكر.

٥ - ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. (١٤١٢هـ - ١٩٩٢م). رد المحتار علي الدر المختار، ج٢، ط: ٢، بيروت: دار الفكر.

٦ - البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي.( ١٣٤٤ هـ ). لسنن الكبرى، ج٧، تحقيق: دائرة المعارف، الهند ببلدة حيدر آباد، موقع وزارة الأوقاف المصرية.

٧ - البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي.(ب، ت). العنايه شرح الهدايه، ج٣، دار الفكر .

٨- الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى.(١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م). سنن الترمذي،ج٣، ط: ٢، تحقيق: ومحمد فؤاد عبد الباقي، مصر، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.

٩ – الحاكم، محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري.( ١٤١١ – ١٩٩٠ ). لمستدرك على الصحيحين،ج٢، ط:١ تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، بيروت، دار الكتب العلمية .

١٠ - الحاكم، محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري.( ١٤١١ – ١٩٩٠ ). لمستدرك على الصحيحين،ج٣، ط:١ تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، بيروت، دار الكتب العلمية .

١١ – الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). فقه الاسلامي و ادلته، ج٩، ط: ٢، دمشق: دار الفكر المعاصر.

۱۲ - الصنعاني، محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني. (ب،ت). سبل السلام،ج٥، دار الحديث.

۱۳ - العظيم آبادي، أبو الطيب محمد شمس الحق.( ۱۳۸۸هـ ، ۱۹٦۸م). عون المعبود شرح سنن أبي داود، ج۴، ط:۲، تحقيق : عبد الرحمن محمد عثمان، المدينة المنورة، المكتبة السلفية.

۱۴ - الغرناطي، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري.( ۱۴۱٦هـ-۱۹۹۴م). التاج والإكليل لمختصر خليل، ج٥، ط: ۱، دار الكتب العلمية.

۱٥ - الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي (۱۴۰٦هـ ۱۰۸٦م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، ج۲، ط: ۲، دار الكتب العلمية.

١٦ – الكشميري، محمد أنور شاه بن معظم شاه. (١٤٢٦ هـ - ٢٠٠٥ م ). فيض الباري على صحيح البخاري، ج٥، ط:١،تحقيق: محمد بدر عالم الميرتهي، لبنان، بيروت، دار الكتب العلمية.

۱۷ - القشيري مسلم بن الحجاج أبو الحسن النيسابوري. (ب، ت). صحيح مسلم) ، ج۷، بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۱۸ - ملا أو منلا خسرو ، محمد بن فرامرز بن علي. (ب،ت). درر الحكام شرح غرر الأحكام، ج۱، دار إحياء الكتب العربية.

۱۹- المناوي، محمد عبد الرؤوف. (۱۴۱٥ ه - ۱۹۹۴ مـ). فيض القدير شرح الجامع الصغير،ج۸،ط: ۱، تحقيق: أحمد عبد السلام، لبنان، بيروت، دار الكتب العلمية.

۲۰ - النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. (۱۳۹۲م). المنهاج شرح صحيح مسلم، ج١٦، ط:۲، بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۲۱ - نظام الدين، و لجنة علماء. (۱۳۱۰ هـ). الفتاوى الهندية، ج۱، دار الفكر.

۲۲ - وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت.( ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ). الموسوعة الفقهية الكويتية، ج۲۹. كويت، وزارة الاوقاف.

۲۳ - (مفاسد وأضرار المغالاة في المهور) تاريخ النشر :۰۸-۰۹-۲۰۰۳
https://islamqa.info/ar/answers/12572/

# تفاوت میان تصوف و عرفان اسلامی با تصوف نو ظهور و کاذب

محمد فرید محمدي د شیخ زاید پوهنتون، ژبو ادبیاتو پوهنځي، دري څانګې قراردادي استاد
**آدرس ایمیل:** Muhammadfaridmuhammadi214@gmail.com

**چکیده**

آگاهی کامل از مسیری که برای تقرب به خداوند بلند مرتبه انتخاب شده باعث می‌شود که پیمایش این مسیر با جدیت بیشتری انجام شود. وجود انحراف‌ها در این مسیر باعث دور شدن از هدف می‌گردد. سؤال پژوهش حاضر این است که عرفان‌های نو ظهور و کاذب چه تأثیراتی بر عرفان های اسلامی گذاشته است؟ در پژوهش حاضر ضمن تبیین لغوی و اصطلاحی عرفان‌های اسلامی، تاریخچه و عؤامل مؤثر در پیدایش تصوف و عرفان‌های نوظهور غیر اسلامی و پراکندگی آنان بازگو شده است. روش این پژوهش توصیف اینگونه عرفان ها و تحلیل و بررسی دیدگاه های عالمان دینی دراین موضوع است. در پایان بر این نکته تأکید شده است که ظهور عرفان‌های کاذب اگر همراه با روشنگری و شناساندن صحیح باشد نه تنها باعث گمراهی نمیشود؛ بلکه باعث شناخت بهتر ارزش عرفان ناب اسلامی خواهد شد.

**واژگان کلیدی:** تصوف، شناخت، روشنگری، عرفان اسلامی، عرفان های نوظهور

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین والصلات والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

درود بر راه جویان شریعت، طریقت و حقیقت و عارفان راه‌حق و حقیقت.

بدون شک، جویندگان و پویندگان علم عرفان کسانی اند که به دنبال اصلیت و ماهیت اصلی عرفان هستند و خود را باواژه‌ها و اصطلاحات عرفانی سرگرم و دل‌خوش نکرده اند؛ بلکه به دنبال مغز و روح عرفانی هستند و برای خود منصبی و مقام قایل نیستند و در بند هیچ‌چیزی جز خدا نمی‌باشند. اما بد بختانه باید گفت که گروهی هم هستند که به دنبال علم عرفان هستند و خود را باواژه‌ها و اصطلاحات عرفانی سرگرم و دل‌خوش نموده اند، و عرفان را خوب شناخته و توصیف می کنند. این‌ها به زعم خودشان عالمان عرفان‌شناس می باشند؛ اما شور بختانه بهره از عرفان ندارند. با توجه بیانات فوق، انسان باید با عقل و خِرد به جنگ خرافه برود. چون عقل نعمتی‌ست که خداوند به انسان عطا کرده است، تا به کمک آن بتواند بد را از خوب تشخیص داده و به بیراهه نرود.

در حقیقت اگر عرفان ناب از طریق صاحب نظران معرفی شود و افرادی که خوش فکر هستند حقیقت را با زبان درست بیان کنند و ابتدا و انتهای کار و سرانجام و مصادیق را بشمارند دیگر در این فضا جنبش اصلی و ناب عرفانی از تقلبی قابل تشخیص می‌شود. بنابراین صرف جبهه‌گیری در برابر این جریانات حلال مشکل نیست و اگر شصت‌وشوی هر مسئله‌ای را خوب تبیین کنیم هر عقل آن را می پذیرد.

**هدف تحقیق**

باید گفت که هر پژوهش به دنبال یک هدف است یعنی در واقع همین هدف است، که روند کار پژوهش‌گر را تعیین می‌کند. بناءً هدف ما در این تحقیق این است که تفاوت تصوف اسلامی با تصوف نو ظهور کاذب چه اندازه بوده و چقدر مورد توجه قرار گرفته است؟ چرا تصوف نو ظهور و کاذب به وجود آمد وکی‌ها پیرو این راه است.

**روش تحقیق**

جمع کردن مواد این مقاله به شکل کتابخانه‌یی - مروری وتوصیفی‌ست و از کتاب ها و مقاله‌های دست اول استفاده شده است.

**اهمیت تحقیق**

اهمیت این مقاله این است که به ما نشان می‌دهد که تصوف اسلامی با تصوف نو ظهور و کاذب چه تفاوت‌های دارد و ویژه‌گی‌های تصوف اسلامی و تصوف نو ظهور درچیست و منکرین تصوف کی‌ها هستند و خطرهای تصوف کاذب چیست؟

### پیشینه‌ی تحقیق

در مورد پیشینه‌ی مضوع باید گفت که تا هنوز کدام مقاله‌ی و کتاب مستقل در افغانستان نوشته نشده است و این در حد خود نخستین بار است که توسط بنده به پژوهش گرفته شده است؛ اما بیرون از کشور عزیزمان در رابطه به موضوع مورد نظر توسط برخی ادیبان و نویسندگان به تحقیق و پژوهش گرفته شده که در زیر به برخی آن اشاره می شود:

۱- بررسی تأثیرپیدایش عرفان‌های نو ظهور کاذب بر عرفان‌های اسلامی که این مقاله‌ی معروف در سال(۱۳۹۷ه.ش) توسط سمیرا خالقی نگاشته شده است.

این موضوع البته در برخی از کتاب‌های که در رابطه به معرفی عرفان و تصوف اسلامی توسط بزرگان و اندیشمندان نگاشته شده است، به صورت پراگنده یادآوری از عرفان‌های نوظهور کاذب انعکاس یافته که آن هم به جمع‌آوری و تحقیق کلی ضرورت دارد. بناءً کارما در رابطه به موضوع مذکور، کار جدید و متفاوت‌تر از کار و پژوهش دیگران است. پژوهش بنده موضوع را به صورت دقیق بررسی و واکاوی نموده و از هر جهت مورد تحقیق و مطالعه قرار داده و عرفان اسلامی و عرفان نوظهورکاذب را به بحث و بررسی گرفته و یک نتیجه کلی از هردوی آن بدست آورده است که با کارهای قبلی قابل مقایسه است.

### شناخت تصوف

هنگامیکه دین مقدس اسلام با معارف شکوفا وپر بالنده‌ی و الهی سراسر جهان را روشن ساخت مسلمانان متفکر و جویندگان حقیقت را از چشمه زلال دانش و معرفت سیراب کرد. انسان‌ها را متوجه ساخت که از جوانب گوناگون در باب توحید و شناخت حق و راه های وصول به حقیقت وجود بیندشند بناءً از خداوند تعالی و قرآنکریم و احادیث نبوی کمک گرفتند و اندیشه عالی خدا شناسی و سیرو سلوک طریق معرفت را رشد دادند و آن را بصورت مکتبی ساختند و شیوه حرکت و سیر در راه تکامل انسانیت را آموختند. این اندیشه تابناک و این سیر و سلوک ..یک مکتب فکری و علمی را بوجود آورد که آنرا عرفان و تصوف نامیدند.(حصاریان ،۱۴۰۰، ص۴۱)

### تعریف تصوف

تصوف از مصدر باب«تفعل» عربی، مصدری است که از اسم ساخته شده به معنای صوف پوشیدن و پشمینه‌پوشی است. تصوف در لغت دانشمندان به سر مبدأ اشتقاق کلمه صوفی قیل و قال بسیار کردند اما این کلمه نسبت به دیگر بدیل‌ها برای یافتن مفهوم حقیقی که در پس این نام قرار دارند تا سرنخ های از آن ماه پنهان به دست آید مناسب‌تر است. اکنون نظر سریع و اجمالی به‌کوشش‌های مختلف که دانشوران در این باره نموده اند می افکنیم بعضی گویند صوفیان به واسطه پاکی (صفا) دلشان به خاطر خلوص عملی شان (آثار) ملقب به صوفی شده اند. چنانچه مولانا می‌فرماید

هســـت صــوفی آنکه شــد صــفوه طلب
نـه لـبـاس صـــوف و خـیـاطـی و دب
(مولانا،مثنوی، دفتر۵، بیت۳۶۳)

دل از عیب صافی صوفی به نام به درویشی اندر دلی شاد کام اشتقاق صوفی از صفا از نظر لغوی درست به نظر نمی آید؛ زیرا صفا ناقص و اویست و صوفی اجوف واویست صورت درست این کلمه صفوی است نه صوفی. گروه دیگری می‌پندارند صوفیان به خاطریکه در حضور خداوند در مرتبه صف اول قرار دارند صوفی خوانده شده اند؛ زیرا سیر آرمانهای ایشان و حرکت قلب ایشان و توقف سر ایشان بسوی اوست؛ اما اگر بپذیریم که کلمه صوفی از صف مشتق شده صورت درست این کلمه صفی خواهد بود نه صوفی. بعضی دیگر گفته اند ایشان را از آن جهت صوفی خوانده اند که صفات شان شبیه صفات اهل صفه است که در زمان پیامبر به سر می‌بردند. اصحاب صفه یار و دیار را ترک کردند و از خاندان دوستان دوری گزیدند و از مناع دنیا فقط به اندازه ضرورت برداشتند. به هر حال چنانچه صوفی به صفه راجع باشد باید صورت درست آن صفی‌باشد نه صوفی. (حصاریان،۱۴۰۰،ص۵۵)

مشایخ در بیان معنی تصوف، بسیار سخن گفته اند، ولی گفته آنان چیزی را برما مکشوف نمی کند، بلکه بقول طلاب قدیم همه «شرح الاسم» است یعنی عبارتی است در بیان خوبی تصوف نه شرح ماهیت آن. برای نمونه اقوال چند تن از انها را نقل می کنیم: جنید بغدادی: تصوف اینست که خداوند ترا از خود می‌میراند و بخویشتن زنده نگاه میدارد. از وی راجع به ذات تصوف پرسیدند، گفت: « برتو باد که ظاهرش بگیری واز ذاتش نپرسی که ستم کردن بروی بود. تصوف صافی کردن دل است ازمراجعت خلقت و مفارقت از اخلاق طبیعت و میرانیدن صفات بشریت و دور بودن ازدواعی نفسانی و فرود آمدن بر صفات روحانی و بکار داشتن آنچه اولیتر و نصیحت جمله امت و متابعت پیغمبر.(دشتی،۱۳۶۲،ص۱۲) ابوسعید ابوالخیر: شیخ را پرسیدند که تصوف چیست؟ گفت: آنچه در سرداری بنهی و آنچه در کف داری بدهی و آنچه بر تو اید نجهی.(بیات،۱۳۷۴،ص۱۶۹)

ابوالحسن بصری: خلیفه از وی پرسید تصوف چه باشد؟ گفت: آنکه از جهان بدون حق به هیچ چیز آرام نگیرد ، کار خود را به خدا واگذارد. پس از حق جز گمراهی نیست. هر کس حق رایافت به هیچ چیز ننگرد.

پس، آن سخن مختصر که خلاصه تصوف است این است: چنانچه در طاعات و عبادتش ضعیف و سستی راه پیدا گردد بدون توقف جهت رفع آن سستی اقدام کند، با هوشیاری و توجه کامل عبادت را انجام دهد، اگر نفس به سوی لذت و عملی مخالف شرع تمایل پیدا کند برای مبارزه با نفس خود را آماده کرده و از این نافرمانی حق بپرهیزد در صورت غلبه بر نفس و مهارآن چیزی دیگر نیاز نیست، چرا که همین عمل خود علامت و نشانی از ارتباط با خدا و قرب الی الله است. پس او را احتیاج به کاری دیگر نیست. هدف تحقُق معارف دینی آراسته به

اخلاق محمدی احسان در عبودیت و تنعم بر رحمت ابدی و رسیدن به مکارم دنیوی و اخروی به نظر بنده جامع تر این خواهد بود که تصوف اسلامی چنین تعریف نماییم روابط و وظایف انسان را با خود با اجتماع و با خداوند بیان میکند. یعنی علم اخلاق اسلامی است صوفی باید مقامات و منازل را می کند تا به قله رفیع انسانیت برسد . وصول به این درجه حاصل مجاهده و تهذیب نفس است صوفی متحرک و پویا است و از هر چه شروع کند باید به خداوند انجامپذیرد انا لله و انا الیه راجعون ما ازخداییم و به او باز میگردیم.(دشتی،۱۳٦۲،ص۱۴)

**ویژه‌گی‌های تصوف اسلامی**

بررسی کامل خصوصیات تصوف در این دوره کاری وقت گیر و بیرون از حوصله یک پیش گفتار است. در اینجا قصد دارم فقط اجمالاً به شرح پیدایش و تکامل بعضی مفاهیم شاخص نخستین دوره های تاریخ تصوف بپردازم و به نکته های مهم آن در این دوره اشاره کنم نکته هایی که متأسفانه در عصر حاضر اکثراً مورد غفلت قرار گرفته اند. مکتب تصوف در اسلام از همان آغاز بر چند موضوع اساسی تأکید داشته است. این چند موضوع کلیدی برای فهم تعالیم باطنی تصوف که طی سده های بعدی تدریجاً روشن و روشن تر شدند به دست می‌دهد و می‌توان آنها را به صورت زیر دسته بندی کرد:

**رویکرد عملی و شهودی به وحدت وجود**

مشایخ سده های آغازین هجری به وحدت وجود شهودی توجه داشتند نه وحدت وجود وحدت وجود شهودی بینش دل و خاص صاحبدلانی است که با پای عشق الهی از دنیاي من و ما فاصله میگیرند و با دیده خدا خدای را می نگرند. از سوی دیگر، وحدت وجود نظری دست پخت عقل و مربوط به دنیای من و ماست. فلسفة وحدت وجود نظری هیچ پیام معنوی برای انسانها ندارد، جز آنکه اعتقاد بدان شخص را از لحاظ اجتماعی و اخلاقی به بیراهه می کشاند، چه عده‌ای از پیروان این فلسفه ممکن است هر فساد را مرتکب شوند را جویا شوید می گویند« چون وجود یکی است، هر کاری و هر چیزی مجاز است». بنابر این، پیروی عقلانی از این فلسفه مورد تردید است، زیرا ممکن است به انحطاط اخلاقی بینجامد و فرد را از مقام والای انسانیت تنزل دهد. (لویزن،۱۳۸۴،ص ۱۰)

**عشق الهی**

اصل مذهب تصوف این است که صوفیه معتقدند حقیقت را با عقل و برهان نمی توان شناخت و با عنایت و توجه حق به قرب او راه شناخت خدای را باید به واسطه عشق یافت. از دیدگاه صوفیان تا تو تویی خدای را نمی توانی شناخت: حجاب اکبر میان تو و حقیقت تویی تست فقط آتش عشق الهی میتواند این انانیت را بسوزاند. به علاوه، چنین عشقی هم آمدنی است نه آموختنی. عشق الهی به دو طریق ممکن است در صوفی پدید آید: (۱) جذبه، و (۲) سیر و سلوک. از راه جذبه، عشق حق به طور مستقیم و بی واسطه به سراغ صوفی می آید و فرد

مجذوب حق می شود و هر چیز را جز او فراموش میکند و اما از راه سیر و سلوک، صوفی به پیر طریقت عشق می بازد و پیر این عشق را به عشق الهی تبدیل می کند؛ به بیانی دیگر صوفی با چراغ طلب حقیقت به سوی استاد میرود و استاد آن چراغ را با نفس قدسی خود بر می افروزد تا صوفی در عشق الهی بسوزد. (لویزن،۱۳۸۴،ص ۱۲)

**دعوت به حق پرستی**

مشایخ طریقت مریدان را نه به خود که به حق دعوت میکردند. کوشش آنها به این بود که مردم را از خود پرستی و فرد پرستی برهانند و فقط به سوی حق پرستی راهنمایی کنند، نه‌اینکه با اظهار انانیتها و کشف و کرامتهای بی مورد آنان را به سوی خود بکشانند و از این رهگذر معاش دنیای خویش را تأمین کنند. در ارتباط با این مطلب، عطار قصه مردی را نقل میکند که پیش امام جعفر صادق رفت و از او خواست تا خدای را به وی بنماید.

ذوالنون در کوه‌ها می گشت. گفت: قومی مبتلایان را دیدم که جمع آمده بودند. گفتم: «شما را چه بوده است؟» گفتند: « آنجا عابدی است در صومعه. هر سال یک بار بیرون آید و دم خود بدیشان دمد و همه شفا یابند. باز در صومعه رود تا سال دیگر». من نیز صبر کردم تا او بیرون آمد. مردی دیدم زرد روی و نحیف، چشم در مغاک افتاده. از هیبت او لرزه در کوه افتاد. پس به چشم شفقت در ایشان نگریست و در آسمان نگریست و دمی در ایشان دمید. در حال همه شفا یافتند. چون خواست که در صومعه رود، من دامنش بگرفتم و گفتم: « از بهر خدا، علاج علت ظاهر ایشان کردی، علت باطن مرا علاج کن». به من نگاه می‌کند. چون تو را بیند که دست در غیر او زده‌ای، تو را بدو باز گذارد و او را به تو». این بگفت و در صومعه رفت. (لویزن،۱۳۸۴،ص ۱۳)

**کار کردن و پرهیز از تنبلی و بیکاری**

صوفیان بزرگ و مشایخ را عقیده بر این بود که باید شغلی داشت و برای آنکه صوفیان را به کار تشویق کنند، خود نیز به کار مشغول میشدند، مثلاً، سری سقطی در بازار بغداد سقط فروشی میکرد ابوالقاسم جنید شیشه فروشی داشت و قشیری چنین نقل میکند که ابوالحسین نوری هر روزی... در دکان بگشادی و به روزه بودی و بازاریان پنداشتی که اندر سرای نان خوردست و اندر سرای گفتندی در بازار چیزی خوردست اندر ابتدا بیست سال برین جملت بود. ابن خفیف می گوید: «در روزگار من بیشتر مشایخ به کسب مشغول بودند و وقت ایشان از کسب دست بود. من نیز فلکه گری بیاموختم و از آن قوتی به دست‌می آوردم» .(لویزن، ۱۳۸۴، ص۱۵)

**خدمت به مردم و انسان دوستی**

هدف مشایخ تصوف آن بود که انسانها را به دوستی و خدمت دیگران تشویق کنند و صفات خوب انسانی را رواج دهند و خود در این هدف نمونه والای خدمتگزاران مردم بودند. انصاری نقل میکند که ابو عبدالله سالمی

را پرسیدند که به چه چیز اولیاء الله را در میان خلق شناسند؟ گفت: «به لطافت زبان و حس اخلاق و تازه رویی و سخای نفس و اندکی اعتراض و پذیرفتن عذر آن کسی که عذر دهد با ایشان و تمامی شفقت بر همه خلق. این احساس محبت ایثارگرانه در گفته ابوالحسن خرقانی نیز انعکاس یافته است کاشکی به جای همه خلق من می‌مردم تا خلق را مرگ نباشد کاشکی حساب همه خلق با من می کردند تا در قیامت به حساب خلق نمی رسیدند کاشکی عقوبت همه خلق مرامی کردند تا ایشان را به دوزخ نمی بردند. کلمات سری سقطی نیز بیانگر همین نظر است خواهم که آنچه از اندوه بر دل مردمان است بر دل من فرود می آمد تا ایشان از اندوه فارغ می شدند. باز سری سقطی نقل می کند که روز عید معروف کرخی را دیدم که دانه خرما بر می چید. گفتم این را چه می کنی؟ گفت: این کودک را دیدم که می گریست گفتم چرا می گریی؟ گفت: من یتیمم. نه پدر دارم و نه مادر کودکان را جامه است و مرا نه و ایشان جوز دارند و من ندارم. این دانه ها می چینم تا بفروشم و وی را گردکان خرم تا نگرید و بازی کند. ابن منور از ابوسعید ابی الخیر نقل می کند که گفت: روزی ما می‌گفتیم که علم و عمل و مراقبت حاصل آمد، غیبتی می باید ازین در نگریستیم این معنی در هیچ چیز نیافتیم مگر در خدمت درویشان. پس به خدمت درویشان مشغول شدیم و جایگاه نشست و مَبرَز و مُتَوضّای ایشان پاک می داشتیم. چون مدتی بر این مواظبت کردیم و این ملکه گشت، از جهت درویشان به سئوال مشغول شدیم تا روزی رسید که هیچ گشاده نمی‌شد. ما دستار در سر داشتیم، در راه ایشان نهادیم و بعد از آن کفش فروختیم، پس آستر جبّه. پدرما روزی ما را بدید سر برهنه و تن برهنه. بی‌تاب شد و گفت: ای پسر آخر این را چه می‌گویند؟ گفتم: «این را ببین و مپرس گویند». از ابوسعید پرسیدند که از خلق به حق چند راه است؟ به روایتی گفت: هزار راه بیش است، و به روایتی دیگر گفت: به عدد هر ذرُه‌ای از موجودات راهی است به حق. اما هیچ راه نزدیکتر و بهتر و سبک تر از آن نیست که راحتی به کسی رسد. (لویزن،۱۳۸۴،ص۱۶)

سعدی می‌گوید:

عبادت بجز خدمت خلق نیست
به تسبیح و سجاده و دلق نیست
(سعدی، غزلیات، غزل۲۶)

### نرنجیدن از آزار مردم

نرنجیدن صوفیان از آزار خلق دو وجه دارد یکی بی من و مایی صوفیان است، زیرا رنجیدن فرع بر انانیت و خود را موجود دانستن است، در حالی که صوفی غیر موجود و هیچ کس است. پس آنکه برنجد هنوز کسی است بنابراین، هم به خود توجه دارد و هم به خدا، چنین کسی دوبین است و خود را هویتی متمایز از خدا تصور

میکند، پس موحد نیست. وجه دیگر اینکه صوفیان تسلیم حق و راضی به رضای او بودند. هر رنجی که به آنها می رسید آن را ازسوی خدا می دانستند و می گفتند:

غـم از بـر دوســـت آمـد و درد
شـــادم کـه بـه درد یـادم آورد

(مولانا، دیوان شمس، غزل ۴۴۱)

این نرنجیدن از آزار خلق محک شناخت درویشان است؛ بدین ترتیب که هرچه آرامش و طمأنینه آنها در پذیرش آزار خلق عمیق تر باشد بی خویش تر و درویش ترند. حکایات زیر درباره بعضی از مشایخ قدیم صوفی ابن خفیف، ابوالحسن پوشنجی؛ ابو عثمان حیری و بایزید بسطامی این اصل را به خوبی ترسیم میکنند: بایزید شبی از گورستان میآمد جوانی از بزرگ زادگان بسطام بربطی می زد. چون نزدیک شیخ رسید، شیخ گفت: لا حول و لا قوة الا بالله جوان بربط بر سر شیخ زد و هر دو بشکست شیخ باز زاویه آمد و علی الصباح بهای بربط به دست خادم با طبقی حلوا پیش آن جوان فرستاد و عذر خواست و گفت: او را بگوی که بایزید عذر می خواهد و می گوید که دوش آن بربط در سر ما شکستی این قراضه بستان و دیگری بخر. و این حلوا بخور تا غصه شکستگی و تلخی آن از دلت برود چون جوان حال چنان دید،بیامد و در پای شیخ افتاد و تو به کرد.
یک روز ابوالحسن بوشنجی بر قاعده صوفیان میرفت تُرکی درآمد و قفایی به وی زد و برفت مردمان گفتند چرا کردی که او شیخ ابوالحسن است و بزرگ روزگار است. او پشیمان شد و باز آمد و از شیخ عذر میخواست شیخ گفت: ای دوست! فارغ باش که مااین نه از تو دیدیم که از آنجا که رفت غلط نرود. (لویزن،۱۳۸۴،ص۱۸)

**جوانمردی**

جوانمردی از دیدگاه صوفیان معنای خاصی دارد. آنان جوانمردی را خدمت به خلق بدون چشم داشت پاداش و نظر داشتن به خدمت خود میدانند. بسیاری از مشایخ صوفیه درباره این صفت سخن گفته اند. ابو حفص حداد میگوید فتوت نزدیک من آن است که انصاف بدهی و انصاف نطلبی. جنید گفت: فتوت نزدیک من آن است که فتوت از خود نبینی و آنچه کرده باشی آن را به خود نسبت ندهی که این من کرده ام. وقتی از خرقانی پرسیدند جوانمردی به چیست؟ گفت: «بدانکه اگر خداوند هزار کرامت با برادر او کند و با او یکی کرده بود آن یک نیز ببرد و بر سر آن نهد تا آن نیزبرادر او را بود».(لویزن،۱۳۸۴،ص ۲۱)

**احترام به معتقدات دیگران:** مشایخ صوفیه به پیروان ادیان دیگر احترام می‌گذاشتند و منکر جدال و لجاج و بدرفتاری و خشونت نسبت به دیگران به نام دین بودند. خرقانی می گوید: «هر که بر دل او اندیشه حق و باطل درآید، از رسیدگان‌شماریم»، مغربی همین فکر را مدتها بعد در قالب شعر چنین بیان کرده است.
حکایت زیر نیز همین روحیه تسامح را که جزو معتقدات مشایخ صوفیه ایرانی بوده،ترسیم می کند.

وقتی جمعی از صوفیان قصد زیارت شیخ ابوالحسن خرقانی کردند. ترسائی شبیه صوفیان با ایشان موافقت کرد و حال خود پوشیده میداشت. چون به خرقان رسیدند، شیخ برخاست و ایشان را به دست خویش خدمت کرد و در حق آن ترسا زیادت لطف کرد. روزی گفت: «شما را به حمام باید شد مسافران شاد شدند. ترسا دلتنگ شد، با خود اندیشه کرد که این زنار کجا نهم در این اندیشه بود که شیخ آهسته در گوش ترسا گفت: «زنار به من ده که خادمان امین باشند چون از حمام باز آمدند، شیخ پنهانی زنار به وی باز داد. (لویزن،۱۳۸۴،ص ۲۱)

**استغنا و ایثار و بی اعتنایی به علایق دنیوی:** از دیگر صفات بارز مشایخ صوفیه استغنا و ایثار و بی اعتنایی آنان به علایق دنیوی و نداشتن دلبستگی به هر آنچه رنگ دنیایی دارد بود. بزرگان صوفیه هرچه می‌رسید بی‌ریا صرف درویشان و مستمندان می کردند و خود در خدمت خلق خدا بودند و نقدینه وملک و مال و منالی نداشتند و به این همه بی‌توجه بودند. اگر هم نقدینه ای نبود در رفع نیاز دیگران از بذل کلاه و قبا و دستار خود دریغ نداشتند، و در اوج نیاز خود را بی نیاز میدانستند و مقام استغنای آنها نشانه بریدن ازعلائق هستی و مایه‌های دنیا دوستی و خودپرستی بود. مشایخ صوفی جز حق به چیز دیگری دلبستگی نداشتند و در حقیقت هم در ظاهر اهل تجرید بودند و هم در باطن تا آنجا که پا بر سر هستی می نهادند و در آستان هست مطلق در نیستی می زدند وجود را در بی وجودی و هستی را در نیست بودن می دیدند. (لویزن،۱۳۸۴،ص ۲۲)

**شفقت به حیوانات:** با توجه به اینکه خلق خدا جملگی نهال خدایند مشایخ صوفیه نسبت به حیوانات نیز عطوفت و مهربانی نشان می دادند. عطار میگوید:

معروف را خالی بود که والی آن شهر بود. روزی در جایی خراب میگذشت معروف را دید نشسته و نان میخورد و سگی با وی هم کاسه و معروف لقمه ای در دهان خودمی نهاد و یکی در دهان سگ خال گفت: شرم نداری که با سگی نان می خوری؟ گفتاز شرم نان بدو میدهم. در حکایت زیر از عطار رابطه خاص منصور حلاج با سگان نشان داده شده است.

ابو عبد الله تُروغبَدی یک روز با اصحاب خویش بر سر سفره ای نشسته بود به نان خوردن. حسین بن منصور از کشمیر می‌آمد قبایی سیاه پوشیده و دو سگ سیاه بر دست. شیخ اصحاب را گفت جوانی بدین صفت میآید استقبال او کنید که کار او عظیم است. اصحاب برفتند و او را دیدند که می آمد دو سگ بر دست هم چنان روی به شیخ نهاد. چون شیخ او را بدید، جای خویشتن بدو داد تا درآمد و سگان را با خود به سفره نشاند؛ و چون اصحاب دیدند که شیخ استقبال او فرمود و جای خویش بدو داد، هیچ نتوانستند گفت. شیخ نظاره او میکرد تا خود میخورد و به سگان می داد، و اصحاب انکار می کردند. پس چون نان بخورد برفت شیخ به وداع او برخاست چون بازگردید، اصحاب گفتند: شیخا! این چه حالت بود که سگ را بر جای خویش نشاندی و ما را به استقبال چنین کس فرستادی که جمله سفره از نماز ببرد ؟ شیخ گفت: «آری سگ او بنده اوست. از پی او می دوید از

بیرون مانده و سگ ما در درون مانده است و ما از پی او میدویم؛ و بسی فرق بود از کسی که منابع سگ بود تا کسی که سگ متابع او بود. سگ او ظاهر می توان دید و آن شما بر شما پوشیده است. این بتر از آن هزار باره. پس گفت: «در آفرینش پادشاه او خواهد بود. اگر سگ دارد و اگر ندارد کار روی بدو خواهد نهاد. (لویزن،۱۳۸۴،ص۲۳)

**تأکید بیشتر بر بُعدباطنی نسبت بهبُعد ظاهری**

مشایخ صوفیه هم به طور شفاهی هم در آثار منظوم و منثور خود می کوشیدند تا مستمعان خود را چه در قالب عباراتی صریح و مستقیم چه به بیانی مجازی - در مورد حقیقت دگرگون کننده شریعت روشن سازند گفته ها و نوشته های ایشان را باید نوعی راه گذار از هسته بیرونی عبادات رسمی که در قوانین دینی اسلام پیش بینی شده به لب و مغز اصلی پرستش حقیقت دانست. اگرچه ذکر شمار اقوالی که به موضوع ضرورت گذار از وسواسها و توجهات بیش از اندازه به ظواهر دین اختصاص دارد از حوصله این بحث کوتاه بیرون است، منتخبات زیر برای نشان دادن عمق نظرات مشایخ صوفیه کفایت میکند.(لویزن،۱۳۸۴،ص۲۴)

**مقام منکرین تصوف**

گروهی تصوف را نو آوری در دین و رشته‌ی از فرقه‌ی شیعه باطنیه گفته اند. پس باید دانست که منکرین تصوف هر چه هستند نه در مقامی هستند که لیاقت اجتهاد کردن را داشته باشند تا رد و انکار آنها برای کسی دلیل و برهان باشد نه جزو عالمان حقیقی هستند که بدون تعصب حقایق را بیان می کنند نه از صوفیان واقعی هستند که حرف آنها با دلیل و قابل قبول باشد. بلکه به قول مولانا احمد علی لاهوری منکرین تصوف به منزله دُزد و راهزن هستند که می خواهند که جزیی بزرگ را از دین خارج کنند که در واقع متعلق به دین است. البته این بهتر و به عقل نزدیکتر است که بجای نسبت دادن اهل بدعتی به افراد روشن ضمیر و پاک نیتی از حسن بصری گرفته تا این زمان، همین انکار کنندگان را نو آور در دین و مبتدع بنامیم. انکار تصوف به خاطر نبود علم کافی و جانبداری نادرست و نرسیدن به این مقام است. به حکم الناس اعداء لما جهلو.(سربازی،بی‌تا،ص۱۱)

**افکار و عقاید عرفان‌های کاذب و نوظهور**

بعد از آنکه معنی واقعی عرفان را فهمیدیم، میخواهیم افکار و عقاید عرفان‌های نوظهور را بررسی کنیم تا مقایسه ای باشد بر عرفان های واقعی مظاهری سیف می گوید. بسیاری از رهبران فرقه‌هایی که خاستگاه خارجی دارند به گفته خود عمدتا آدم های مشکل داری هستند و تعداد از آنها معتاد و یا الکلی می باشند. رهبران این فرقه ها معتقدند معنویت با مذهبی بودن فرق دارد و برای این که انسان معنوی باشد لازم نیست مذهبی هم باشد و اصلا این افراد در حال تغییر دادن مفهوم معنویت هستند و دارند این دامنه را به دین هم می کشانند و به اعتقاد آنها دین مجموعه ای از آموزه ها و تعالیم است که برای شما آرامش بیشتر و بهتری را به وجود می آورد و می گویند

اگر می خواهید چیزی یاد بگیرید به سراغ علم بروید و اگر می خواهید شاد شوید و آرامش پیدا کنید به دنبال دین بروید و این نامگذاری وتعبیرها کاملا غیرعلمی انجام میشود و آن زمان است که وقتی واژه زبان و ذهنیت تغییر کرد، ماهیت هم عوض میشود و حتی کلیساهای آنها هم برای پاسخگویی در مورد مسایل مختلف آنلاین است. با وجود هشدار کارشناسان دینی مبنی بر تلاش گسترده مروجان عرفان‌های کاذب برای نفوذ در میان جوانان و نوجوانان، نهادهای آموزشی متولی این هشدارها را جدی نگرفته اند و تنها با برنامه های سطحی درصدد رفع تکلیف از خود هستند.( سهروردی، ۱۳۷٦،ص۹۸ )

یکی از اصول تربیتی شروع آموزشی از سنین پایین است. زیرا هنگامی که به سطح دانشگاه رسیده ایم آموزه های تربیتی تأثیرچندانی ندارد فی هر چند امکان تغییر و تحول در هر رده سنی هست اما به طور طبیعی ذهن سنین پایین تر برای دریافت های تازه آماده تر است متأسفانه برخی از این گروهها برای ترویج افکار و اندیشه های خود در دوران نوجوانی برنامه های ویژه و عملی دارند البته تمامی این فرقه ها کار عملی انجام نمی دهند اما برخی برای دوران راهنمایی و دبیرستان کتابها و معلمان مخصوص دارند همچنین محافلی وجود دارد که در این دوران افراد را جذب کند. در حال حاضر بسیاری از عرفان های موجود، کاذب وساختگی هستند وویژگی چنین عرفان ها و منش های ساختگی، قید و بند نداشتن دینی و خارج بودن آنان از چارچوب دین است به کار بردن واژه عرفان در خصوص این قبیل فرقه ها بسیار اشتباه است چرا که راه رسیدن به عرفان، کمال و تعادلی واقعی از راه دستورات دینی و مبتنی بر وحی است. (مطهری،۱۳۷۴،٦۲) اگر این گونه فرقه‌ها و عرفان‌ها خود را به هیچ دین و آیینی منتسب نمی‌کنند و معتقد به هیچ نظام فلسفی و اصولی نبوده و نیستند و از جاذبه‌هایی همچون سحر و جادو و جاذبه های روانشناختی برای جذب افراد به ویژه جوانان سوء استفاده میکنند. میتوان یکی از دلایل رشد عرفان‌های غیرالهی در غرب را عملکرد نامناسب کلیساها و شخصیت های کلیسایی دانست که نتوانستند نیاز معنوی مردم را به خوبی برطرف کنند ( جعفری،۱۳۹۱،۲٦۵).

**ویژگی مهم تصوف نوظهور**

**خدای دروغین با اوصاف دروغین**

یکی از ابزارهای شیطان این است که خدای دروغین به ما معرفی می‌کند، خدا را آنطور که خودش خودش را معرفی کرده است، معرفی نمی‌کنند. به عنوان نمونه، قهر و غضب خداوند را انکار می‌کنند و فقط از رحمانیت خدا می‌گویند، در حدّی که شخص به این باور می‌رسد که جهنمی در کار نیست، مگر می‌شود خدایی با این مهربانی کسی را در آتش جهنم بسوزاند؟ در این موارد ما باید اوصاف خدا را در کلام خدا و کلام کسانی بجوئیم که دارای مقام عصمت‌اند، تا دچار انحراف نشویم www.mashreghnews.ir

**بازداشتن مردم از پیمودن ادامۀ راه انبیای و اوصیای الهی(ولایت فقیه)**

به گفتهٔ آقای مرادی، حقه سوم در تصوف‌های کاذب این است که پیروانش را از راه انبیاء و اوصیاء که همان ولایت فقیه است، دور می‌کنند، وی خطاب به حاضرین تأکید کرد: هر کس، در هر لباس که ادعای تصوف و تقدس کند و با ولایت فقیه فاصله داشته باشد؛ او خود شیطان و دنباله شیطان است. می‌گویند: دین از سیاست جداست. خدا لعنت‌تان کند، مگر رسول الله حکومت تشکیل نداد؟ مگر امام زمان که تشریف بیاورد حکومت تشکیل نمی‌دهد؟ چگونه دین از حکومت و سیاست جداست؟. دین عین حکومت است. تصوف عین حکومت است و حکومت عین تصوف، اگر در راس حکومت بودی، رهبر جامعه اسلامی بودی و در عین حال عارف هم بودی هنر کردی. یکی از نشانه‌های تصوف کاذب همین است که گوشه‌ای بنشینی، به حکومت و سیاست کار نداشته باشی؛ می‌بینید که نوک پیکان‌شان بر علیه ولایت فقیه، جامعه‌ی روحانیت و حکومت اسلامی‌ست، اما تا آخر عمرشان دو منبر درست و حسابی و تیز و تند بر علیه مستکبرین نرفتند. ww.mashnews.ir .

**جدا کردن علم از تصوف:** یکی دیگر از مهمترین ویژگی‌های تصوف کاذب و دروغین، جداکردن مومنین از طبقه‌ی مراجع تقلید، فقها و علماست؛ علم را حجاب می‌دانند، تشویق می‌کنند که از علم دور باشید، علم حجاب اکبر است. در حالی که چقدر قرآن بر اهمیت علم و فقه تأکید و توجه کرده است. به فرموده امام باقر وجود یک فقیه برای شیطان از هزار عابدکه شب تا صبح به عبادت بپردازد، روزها روزه باشد و قرآن بخواند سنگین‌تر است. مردم را نسبت به فقها دلسرد می‌کنند، چون می‌دانند اگر این فقها و این پاسبان‌ها باشند، نمی‌توانند مردم را گمراه کنند. در حالی که عارف حقیقی، عارفی ست که در مکتب اهل بیت تربیت شده باشد. می‌گویند از فقها فاصله بگیرید، احکام خدا را مسخره می‌کنند، که این شریعت و احکام پوست، ظاهر و جسم است، تصوف مغز است و ما به مغز رسیده‌ایم دیگر نماز نمی‌خوانیم، دیگر تقلید نمی‌کنیم، در حالی که باید پرسید، پس چرا امیرالمومنین نماز می‌خواند؟ پس چرا ایشان هر روز عبادت‌شان بیشتر می‌شد؟. مگر نه این است که خدا فرمود. ما فقط از متقین قبول می‌کنیم www.mashreghnews.ir

**افراط در حلال و حرام الهی:** حیله‌ی زشت‌تر بعضی از تصوف‌های کاذب؛ افراط در اجرای احکام الهی است. مثلا می‌گوید گوشت گوساله نخورید، و یا حلال‌های دیگری را برای‌شان مطلقاً حرام می‌کنند، از سیره و منش اهل بیت دور شدند، از تصوف‌های حقیقی دور شدند، و با توجه به این مورد؛ ما همگی خصوصا جلسه‌ای‌ها، مذهبی‌ها، هیئتی‌ها در معرض خطر ابتلاء به افراط و تفریط قرار داریم .www.mashreghnews.ir

**استفاده از کرامات ساختگی:** بیشترین حیله‌ای که شیاطین برای انداختن معتقدین و مومنین به دام تصوف کاذب از آن کار می‌گیرند، استفاده از بعضی کرامات ساختگی است که از طریق علوم غریبه مانند سحر و جادو یا ریاضت‌ها بدست می‌آید و از این طریق قلوب مردم بخصوص خانم‌ها، جوانان و انسان‌های ساده را متوجه

خودشان می‌کنند، کار خارق‌العاده‌ای نشان می‌دهند، گاهی حتی خبرهایی از چند روز و چند هفته‌ی بعد می‌دهند، خواب را تعبیر می‌کنند اما این دلیل نمی‌شود حالا چون مثلا تعبیر خواب بلدند؛ عقاید فلسفی، فقهی و احکام‌مان را از او بپرسیم، مسائل سیاسی و حکومتی را از او جویا شویم.

احکام شرعی را باید از مجتهد پرسید. حالا این شخص یک کاری کرده یک گناهی را انجام نداده از یک حرامی دوری کرده، خداوند برایش فضیلتی داده، حالا به واسطه این فضیلت، فریب خورده و دیگران را هم بازی می‌دهد و خیال می‌کند منم و منم که می‌توانم همه‌ی امت را هدایت کنم؛ سامری از این طریق امت موسی را گوساله‌پرست کرد.

وی در قسمت دیگر سخنانش پیرامون اهمیت تفکر در عبادت سخنرانی کرد و عبادت بدون تفکر را عاری از خیر و برکت خواند و گفت: حضرت علی (رض)، می‌فرماید: در عبادتی که در او تفکر نباشد، خیری نیست." پس خیر و عدم خیر در دعای توسل نیز دست خود ماست، چون اگر دعا توأم با تفکر باشد، در او خیر و برکت خواهد بود. اما این دعا اگر خوانده شد و تفکری در آن صورت نگرفت، طبق فرموده مولای ما، در این عبادت خیری نیست.

مرادی در تأیید و تأکید بر مطلب فوق، به فرمودهٔ دیگری از امیرموءمنان علی (رض) اشاره کرد که آن حضرت می‌فرماید: در عبادتی که در او تفکر و تدبر نباشد، عبادت‌کننده مانند الاغی ست که شیطان چشم او را بسته و بیهوده دور سنگ آسیاب می‌چرخد.( این الاغ هر چقدر که دور خودش می‌چرخد پیشرفتی در کارش حاصل نمی‌شود، لذا می‌ایستد، سپس چشم‌های این حیوان را می‌بندند تا دیگر متوجه نشود که بیهوده دور خودش می‌چرخد). «استاد مرادی» با ذکر این نکته که تمام عبادات بایستی توأم با اندیشه و تفکر صورت گیرد، افزود: دعای توسل، نماز، روزه، صدقه و هر کار خیری که انجام می‌دهیم بایستی با تفکر و اندیشه بعد از انجام؛ آن عبادت را به درجه قبولی رسانده و پیوسته رشد و ارتقایش دهیم، تا بتواند نزد ذوّات مقدسه شفیع ما قرار گیرد.

با توجه به بیانات آقای مرادی؛ ما باید از خود بپرسیم که چرا ما در دعای توسل چهارده بار به اهل‌بیت عصمت و طهارت متوسل می‌شویم؟ چرا ما فقط شفاعت را از این خاندان می‌خواهیم؟ چرا این قدر مهم است که به خاطرش پرودگار درب‌های اجابت را برای ما باز کرده است؟ جواب این است که ما پیمان می‌بندیم که خود را "شبیه" شما می‌کنیم، توجه ما به شماست و از جنس شما خواهیم شد، و توسّلنا؛ یعنی: ما با ذوات مقدس پیمان می‌بندیم که خود را از جنس شما کنیم و عاشقانه با آرمان‌ها، افکار و افعال شما پیوند برقرار کرده و دست خود را به دست غیر شما نمی‌دهیم. www.mashreghnews.ir

**خطرات تصوف کاذب:** خطرها و آسیب‌های این تصوف نوظهور، جای بسی تامل دارد. مهم‌ترین خطر و آسیب، متوجه مفهوم دین است. تصوف‌های نوظهور ضمن مخدوش‌کردن چهره تصوف اصیل با فروکاستن

مفهوم دین، زدودن اتوریته الهی آن، جایگزینی خودمحوری به‌جای خدامحوری و فرعی‌سازی دین نسبت به غایات اومانیستی، بزرگ‌ترین ضربه را بر کیفیت دینداری وارد می‌آورند. علاوه بر این، ادعای این تصوف‌ها در مورد در انحصار داشتن حقیقت، ساختارهای اتورتیه‌ای که اطاعت مطلق می‌طلبند؛ تشویق به وابستگی فزاینده به جنبش از نظر مادی، معنوی و منابع اجتماعی و بریدن گروه از جامعه، همگی، خطرها و آسیب‌های بالقوه دیگری هستند که نباید از آن‌ها غفلت کرد. خطرها و آسیب‌های بالفعل از عرفانی به عرفان دیگر فرق دارد؛ خطراتی همچون: اخذ پول زیاد از افراد و مشتریان، کسب پول‌های باد آورده کلان، تخریب قدرت شغل در اعضاء، ازدواج نکردن یا بی‌بندوباری جنسی، نبود احساس ترس از گناه، از میان‌بردن احساس مسیولیت، هدایت‌کردن افراد به زندگی پرحیله، بی‌رحمانه و جنایت‌کارانه. در این مقاله می‌کوشیم که نقش مستقیم نظام سلطه و مافیای فرهنگی جهان در آسیب‌هایی را شناسایی کنیم که از طریق تصوف‌های نوظهور در جامعه ایران به‌وجود آمده است. تا بتوانیم راهکارهای لازم جهت پیشگیری و یا رفع اثر این آسیب‌ها را ارایه دهیم.
www.porsemaneequran.com .

**دریافت‌ها**

باید گفت در باره‌ی دریافت های این تحقیق بنده که تصوف اسلامی اینست که هر آنچه در سر داری بنهی و آنچه در کف داری بدهی و آنچه بر تو اید نجهی. راه و روش تصوف اسلامی اینست که حقیقت را با عقل و برهان نمی توان شناخت و با عنایت و توجه به قرب او راه شناخت خدای را باید به واسطه عشق یافت. و دیگر از راه‌های تصوف اسلامی اینست دعوت به حق پرستی است، یعنی مردم را از راه گمراهی به راه حق دعوت می کنند. اما تصوف نو ظهور و کاذب اینست که بسیاری از رهبران و فرقه‌های که خاستگاه خارجی دارد به خود عمدتاً آدم‌های مشکل دار هستند و تعداد از آن‌ها معتاد و یا الکلی می باشند و برای مردم خودشان را یک آدم درست نشان میدهند و به مردم خدای دروغین را معرفی می کنند خدا را همان طور که خودش خودش را معروفی کرده معرفی نمی کنند. و دیگر از کارکرد این فرقه که جدا کردن مؤمنین از طبقه‌ی مراجع تقلید، فقها و علماست یعنی علم را حجاب میدانند و مردم را از علم دور میدارند. ودیگر از راه‌های این فرقه اینست که افراط و تفریط در اجرای احکام الهی است. و دیگر از عمل کرد این فرقه اینست که استفاده از کرامات ساختگی‌ست که از طریق علوم غریبه مانند سحر و جادو ریاضت‌ها بدست می آید استفاده می‌کنند.

**نتیجه گیری**

هنگامیکه دین مقدس اسلام با معارف شکوفا وپر بالنده و الهی سراسر جهان را روشن ساخت مسلمانان متفکر و جویندگان حقیقت را از چشمه زلال دانش و معرفت سیراب کرد. انسانها را متوجه ساخت که از جوانب گوناگون در باب توحید و شناخت حق و راه های وصول به حقیقت وجود بیندشند بناءً از خداوند عالی و

قرآنکریم و احادیث نبوی کمک گرفتند و اندیشه عالی خدا شناسی و سیرو سلوک طریق معرفت را رشد دادند و انرا بصورت مکتبی ساختند و شیوه حرکت و سیر در راه تکامل انسانیت را آموختند. این اندیشه تابناک و این سیر و سلوک .. یک مکتب فکری و علمی بوجود آورد که آنرا عرفان و تصوف نامیدند.

تصوف صافی کردن دلست ازمراجعت خلقت و مفارقت از اخلاق طبیعت و میرانیدن صفات بشریت و دور بودن ازدواعی نفسانی و فرود آمدن بر صفات روحانی و بکار داشتن آنچه اولیتر و نصیحت جمله امت و متابعت پیغمبر.گروهی تصوف را نو آوری در دین و رشته‌ی از فرقه‌ی شیعه باطنیه گفته اند. پس باید دانست که منکرین تصوف هر چه هستند نه در مقامی هستند که لیاقت اجتهاد کردن را داشته باشند تا رد و انکار آنها برای کسی دلیل و برهان باشد نه جزو عالمان حقیقی هستند که بدون تعصب حقایق را بیان می کنند نه از صوفیان واقعی هستند که حرف آنها با دلیل و قابل قبول باشد. ویژه‌گی های تصوف اسلامی عبارت است از: رویکرد عملی و شهودی به وحدت وجود،عشق الهی،دعوت به حق پرستی،کار کردن و پرهیز از تنبلی و بیکاری،د خدمت به مردم و انسان دوستی،نرنجیدن از آزار مردم،جوانمردی،احترام به معتقدات دیگران،استغنا و ایثار و بی اعتنایی به علایق دنیوی،شفقت به حیوانات وتأکید بیشتر بر بعد باطنی نسبت به بعد ظاهری. ویژگی مهم تصوف نوظهور: خدای دروغین با اوصاف دروغین، بازداشتن مردم از پیمودن ادامۀ راه انبیای و اوصیای الهی(ولایت فقیه)،جدا کردن علم از تصوف،افراط در حلال و حرام الهی،استفاده از کرامات ساختگی است. خطرها و آسیب‌های این تصوف نوظهور، جای بسی تامل دارد. مهم‌ترین خطر و آسیب، متوجه مفهوم دین است. تصوف‌های نوظهور ضمن مخدوش‌کردن چهره تصوف اصیل با فروکاستن مفهوم دین، زدودن اتوریته الهی آن، جایگزینی خودمحوری به‌جای خدامحوری و فرعی‌سازی دین نسبت به غایات اومانیستی، بزرگ‌ترین ضربه را بر کیفیت دینداری وارد می‌آورند.

# The difference between Sufism and Islamic mysticism and new and false Sufism

Muhammad Farid Muhammadi, Contract Lecturer of sheikh zayed university, facuity of Language and Literature, Persian-Dari Department.
**Email address :**Muhammadfaridmuhammadi214@gmail.com

**Abstract**
Full knowledge of the path chosen to get closer to the high-ranking God makes navigating this path more seriously, the presence of deviations in this path causes one to move away from the goal. The question of the current research is, what are the effects of newly emerging and false mysticisms on Islamic mysticisms? In the present study, along with the lexical and terminological explanation of Islamic mysticism, the history and effective factors in the emergence of Sufism and emerging non-Islamic mysticisms and their dispersion have been recounted. The method of this research is to describe such mysticisms and analyze and examine the views of religious scholars on this issue. In the end, it has been emphasized that the emergence of false mysticism, if it is accompanied by correct enlightenment and identification, not only does not cause confusion; but also cause better recognition The value of pure Islamic mysticism will become.

**Key words:** Sufism and Enlightenmentt, cognitive, error, Islamic mysticism, emerging mysticisms

**سرچشمه‌ها**

بیات، محمدحسین.(۱۳۷۴ش). مبانی عرفان و تصوف، تهران؛ انتشارات دانشگاه علامه طباطبایی.

جعفری، محمدتقی.(۱۳۹۱ش). عرفان اسلامی، تهران؛ انتشارات موسسه تدوین.

حصاریان، سیداکرام الدین.(۱۴۰۰ش). عرفان و تصوف اسلامی، کابل؛ انتشارات امیری.

سربازی، محمدعمر.[بی‌تا]. خلاصه التصوف،[بی‌نشر].

سهروردی، شهاب الدین.(۱۳۸٦ش)، عوارف المعارف،(بی نشر).

لویزن، لئونارد.(۱۳۸۴ش). میراث تصوف، جلداول، تهران؛ انتشارات کتابخانه ملی ایران.

مطهری، مرتضی.(۱۳۷٦ش). آشنایی با علوم اسلامی، تهران؛ انتشارات صدرا.

نقشبندی، امین علاء الدین.(۱۳۷۹ش). حقیقت تصوف، کابل؛ انتشارات اداره دارالنشر افغانستان.

www.porsemanequran.com.

www.mashreghnews.ir

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2025, No: 39**


## Editorial Board


- **Assot. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**